د افغانستان اسلامی جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

د خصوصي پوهنتونو ریاست

سلام پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام


# په اسلامي شریعت او د افغانستان په قوانینو کې د نسب د حق ثبوت

د ماسترۍ رساله


محصل: محمد شریف (صداقت)

لارښود استاد : پوهنوال دوکتور عبد الباقي (امین)



کال: ۱۳۹۷ هـ ش - ۱۴۳۹ هـ ق

د افغانستان اسلامی جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام  پوهنتون

د شرعیاتو او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# په اسلامي شریعت او د افغانستان په قوانینو کې د نسب د حق ثبوت

## د ماسترۍ رساله

محصل: محمد شریف (صداقت)

لارښود استاد : پوهنوال دوکتور عبد الباقي (امین)

کال : ۱۳۹۷ هـ ش ـ ۱۴۳۹ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارتمنټ

### د ماسترۍ بورډ

# تــصـدیـق نـــامــــه

ښاغلی محمد شریف د عبد المحمد زوی د ID: Sh-msf-96-269 نمبر لرونکی، د فقه اوقانون د پنځمې دورې محصل د ماسترۍ دورې رساله چې عنوان يې: په اسلامي شريعت او د افغانستان په قوانينو کې د نسب د حق ثبوت دی، د پنجشنبې ورځ په ۱۳۹۸/۴/۲۷ هـ ل نېټه يې په برياليتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د 95 (نمرو په عدد) نوي نمرو (نمرو په حروفو) مستحق وګرځيد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| ګڼه | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور رفیع الله عطاء | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور نجیب الله صالح | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور عبد الباقي امين | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر ..................... علمی مرستیال .....................

# ډالۍ

زه خپله دا لیکنه د مینې او مهربانۍ هغه سترې هستي ته چې د هغې له قدردانۍ څخه ژبه عاجزه ده ، او الله رب العلمین یی منزلت ډیر اوچت کړی دی ، (او جنت یي د هغې تر پښو لاندي ګرزولی دی زما مور ته).

الله رب العزت د ورته د صحت او عافیت په جامو کی اوږد عمر ورکړي.

او خپل مهربان پلار ته چې زما په روزنه او ښونه کې يې له ما سره زيات شمير ستنوزې ګاللي دي الله ﷻ د ورباندې ورحميږي.

او هم يې ورڼو ، خويندو ، دوستانو او ملګرو ته ډالۍ کوم.

✳ ✳ ✳ ✳ ✳

# مننليک

د الله رب العلمين شکر ادا کوم چې له ما سره يې د دي ليکنې په سرته رسولو کې يې ماته توفيق راکړ. او بيا د دې حديث پر بنسټ **(لَا يَشْكُرُ اللهَ مَنْ لا يَشْكُرُ النَّاسَ )**.([1]) ژباړه: د الله څخه مننه نشي کولای ، ځوک چې له خلکو مننه نه کوي.

له خپل عالي قدر او محترم استاذ ، دکتور ، عبدالباقی " امين " څخه يوه نړی مننه کوم چې له ما سره يې د دې خيړنې په سرته رسولو کې د لارښود استاد په حيث ، سره له ډيرو مصروفيتو ، زياته همکاري وکړه ، او له خپلو علمي فيوضاتو څخه يې برخمن کړم. نو له الله تعالی څخه ورته د دنيا او آخرت د نيک مرغۍ او کاميابيۍ غوښتونکی يم.

او بيا له هغو ټولو استاذانو څخه مننه کوم چې زه يې د ماسترۍ دورې د درسی لړی په ترڅ کې له خپلو علمي پانګو څخه برخمن کړی يم.

او هم په ټوله کې د سلام پوهنتون له ټولو استاذانو څخه مننددوی يم.

*****

1) - البخاري،محمد بن إسماعيل، **الأدب المفرد بالتعليقات**، رقم الحديث ۲۱۸.

## لنډیز

دا څېړنه د ماسترۍ درجې دلاسته راوړلو په موخه ترسره شوي ، په نوموړې څېړنه کې کوښښ شوی چې د نسب اړوند موضوع په پوره توګه وڅېړل شي نو د همدې موخې لپاره څېړنه په څلورو څپرکو ویشل شوې ده ، چې په لومړي څپرکي کې د نسب تعریف ، ارزښت ، نسب ته د شارع پاملرنه ، او ته نسب شرعي او قانوني پاملرنه بیان شوی دی. په دویم څپرکي کې د نسب د ثبوت شرعي دلائل لکه صحیح نکاح ، فاسده نکاح ، باطله نکاح ، او په دغه دریو شرعي دلائلو سره نسب په اتفاق د علماء ثابتیږي. او همداراز لکه قرعه ، او قیافه چي ددي په اړه د علماؤ تر منځ اختلاف موجود دی چې آیا په قرعه او قیافه سره نسب ثابتیدلای شي او که نه. او علمي دلائل لکه د وینې د ګروپونو ټیسټ ، په اوسنۍ زمانه کې د وینې د ګروپونو ټیسټ هم د نسب د ثبوت لپاره کارول کیږي ، او علماء په دي باور دی چې د وینې د ګروپونو ټیسټ د نسب د نفې لپاره دلیل جوړیدلای شي نه د اثبات لپاره ، او لکه وراثي بصمه (میراثي نښې او نښانې) چې په اوسنۍ زمانه کې د نسب د ثبوت او نفې لپاره ترینه کار اخستل کیږي او د اکثره علماؤ په اند دنسب د ثبوت او نفې لپاره دلیل جوړیدلای شي ،څېړل شوي دي. په دریم څپرکي کې صناعي تلقیح چې په اوسۍ زمانه کې له اولاد څخه زیاتره محروم کسان له دي څخه کار اخلی چې روا او نا روا بڼې لري دغه بڼې یې او د هغې له لارې د زږیدلي ماشوم نسب تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. او په څلورم څپرکي کې بیا له یوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي اعضاؤ د لیږد په اړه معلومات او د کارونې حکم یې ، او د بشري او علاجي استنساخ په اړه معلوات او حکم یې ، او د بشري استنساخ په پایله کې د زږیدلي ماشوم نسب تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

## سریزه

**إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَهْدِيهِ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُه. ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴾.**([1]) **﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾.**([2])

**﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلا سَدِيدًا * يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا ﴾.**([3]) **امابعد:** په دې کې هېڅ شک نشته چې کوم نعمتونه الله جَلَّ جَلالُهُ په مونږ لورولي دي ، په هغو کې زموږ لپاره زياتې ګټې نغښتې دي ، چې د دغو نعمتونو له ډلې څخه ، نسب هم يو لوی الهي نعمت دی, له همدې کبله چې د نسب ارزښت ډېر زيات دی ، د تنظيم او ساتنې لپاره يې په خپله الله جَلَّ جَلالُهُ اصول او ضوابط ټاکلي دي, او دې ته يې جدي پاملرنه کړې ده او همدا راز د نسب په معلومېدلو او خوندي کېدلو کې زمونږ لپاره زياتې ګټې نغښتې دي ، چې ځينې يې مادي او ځينې نورې يې بيا په دې نړۍ کې زمونږ شخصيت پياوړی کوي او زمونږ عزت او آبرو را خوندي کوي. لکه څرنګه چې پوهيږو چې الله جَلَّ جَلالُهُ د انسانانو د دنيا او آخرت د سمون لپاره يو کامل شريعت رالېږلی دی چې د ژوند ټولې چارې يې تنظيم کړې دي او له دغو چارو څخه يې مهمه د نسب ثبوت هم ده. نو مې وغوښتل چې د ماسټرۍ د رسالې موضوع( **په اسلامي شر يعت او د افغانستان په قوانينو کې د نسب د حق ثبوت)** تر سرليک لاندې وليکم.

### د موضوع اهميت:

د نسب موضوع يوه مهمه موضوع ده ، ځکه چې له ايمان څخه پرته د انسانانو ترمنځ له ټولو اړيکو څخه د نسب اړيکه زياته مهمه ده ، او د دې موضوع اهميت له قرآن کريم او صحيحو احاديثو څخه معلو مېږي ، د بېلګې په ډول الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي:

﴿ الَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُون ﴾.(4) ژباړه: هغه کسان چې ماتوي عهد د الله جَلَّ جَلالُهُ وروسته له ټينګوالي يې ، او پرې کوي هغه څه چې الله جَلَّ جَلالُهُ ورباندې امر کړی ، د دې چې پيوسته د کړای شي ، او خرابی کوي په ځمکه کې ، دغه کسان همدوی دي تاوان يان.

---

[1] - سورة ، آل عمران ، آية ، 102.

[2] - سورة ، النساء: آية ، 1.

[3] - سورة ، الأحزاب: آية ، 70 ، 71.

[4] - سورة ، البقرة: آية ، 27.

په دغه آيت کريمه کې الله جَلَّ جَلالُهُ هغه کسان له مفسدينو څخه شمېرلې ، چې د نسب او خپلوۍ د ربښې خيال نه ساتي او پريکوي يې. او زياتره مفسرين په دې باور دي چې د ﴿... وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ... ﴾ څخه د خپلوۍ پرېکول مراد دي. لکه څرنګه چې علي الصابوني په دې اړه فرمايي: (من صلة الأرحام والقرابات).(1) ژباړه: د رحمونو او خپلويو له ټينګوالي څخه.

او همدا راز رسول الله وايي: «الرَّحِمُ ، مَنْ وَصَلَهَا وَصَلَهُ اللَّهُ ، وَمَنْ قَطَعَهَا قَطَعَهُ اللَّهُ». (2)

ژباړه: رحم ، چا چې دا وصل کړ الله جَلَّ جَلالُهُ به يې (له خپل رحمت سره ) وصل کړی. او چا چې دا پرې کړ الله جَلَّ جَلالُهُ به يې (له خپله رحمته ) پرې کړي.

همدا راز اسلامي شريعت د نسب ساتنه له پنځه ګونو ضرورياتو څخه يو ضرورت ګرځولی. او د افغانستان مدني قانون هم د نسب د تنظيم لپاره ځانګړي احکام په نظر کې نيولې دي.

**د موضوع د غوره کولو لاملونه:**

د هر کار تر سره کول ځانګړي لاملونه او اسباب لري ، د دې موضوع د غوره کولو اسباب او لاملونه په لاندې ډول دي:

1 ـ دا چې مونږ په اوسنۍ زمانه کې ګورو چې ځينې هغه هيوادوال چې د بچيانو د نه زېږېدو له ستونزې سره مخ دي او د بچيانو د لاس ته راوړلو په موخه هند يا کوم بل هېواد ته د تداوۍ لپاره ځي ، چې تر څو يې اولادونه پيدا شي ، له بله اړخه دا کار د ټولنې د وګړو لخوا د ېېلا ېېلو غبرګونونو سره مخ دي او په دې اړه بېلابېل سوالونه را پيدا شوي ، خو په ټوله کې ويلی شم چې د نومو‌ړي کار په پايله کې د زېږېدلو ماشومانو نسب په ټولنه کې تر شک لاندې دي ، نو مناسب مې وبلله چې په دې اړه يوه داسې څېړنه وکړم چې نومو‌ړو پوښتنو ته ځوابګو وي.

2ـ دا چې په اوسنۍ زمانه کې ګورو چې زياتره ماشومان په زېږنتونونو کې زېږېږي او ځينې وخت د ماشومانو په سر د دوی د اولياؤ تر منځ شخړې او لانجې را منځ ته کېږي او د دې شخړې او لانجې د حل لپاره ځينې وخت د وينې د ګروپونو او د وراثي بصمې د څېړلو څخه استفاده کېږي چې د اعتبار په اړه يې پوښتنې را ولاړېږي.

نو پورتنيو مطالبو ته په کتو سره مې وغوښتل چې په پښتو ژبه کې يوه داسې ليکلنه وکړم چې ياد شوي مسائل پکې تر هر اړخېزې څېړنې لاندې نيول شوي وي.

---

[1] - مُحَمَّد علي الصابوني ، **صفوة التفاسير** ، ج ___1 ، ص ___ 38.

[2] - أحمد بن مُحَمَّد بن حنبل ، **مسند الإمام أحمد بن حنبل** ، شماره ، 24336.

**د ليکنې اهداف او موخې:**

دا يو څرګنده حقيقت دی چې هر کار ځانګړې موخې او اهداف لري ، همدا ډول هره ليکنه هم ځانته اهداف او موخې لري ، زما د ليکنې اهداف او موخې دا دي:

**لومړی:** د ماسترۍ په مرحله کې محصل په دې مکلف دی ، چې د علمي او تحصيلي دورې په پای کې په يوه علمي موضوع باندې کار وکړي ، ما د دغه علمي او تحصيلي دورې د پايليک ليکلو لپاره همدغه موضوع وټاکله تر څو په دې اړوند ليکنه وکړم.

**دويم:** دا چې را ته معلومه شي چې نسب په اسلام کې څومره ارزښت لري او د نسب د ثبوت لپاره يې کوم دلائل په نظر کې نيولي دي او معاصر علوم د نسب د ثبوت او نفې په برخه کې کومې اغېزې لري.

**دريېم:** دا چې په دې ليکنې سره زما علمي تجربه او معلومات زيات شي او پخپله ملي ژبه کې خپلو هېوادوالو ته يو ناچېز خدمت تر سره کړم.

**د څېړنې د تر سره کولو کړنلاره:**

د دې څېړنې د ترسره کولو لپاره ما له لاندې کړنلارو څخه کار اخستی دی:

ـ وصفي کړنلاره ، د موضوع اړوند معلومات مې له اړوندو سرچينو څخه را ټول کړي دي.

ـ تحليلي کړنلاره ، د موضوع د اړوندو مسائلو هر اړخيزه څېړنه مې د اسلامي شريعت ، د افغانستان د مدني قانون او د افغانستان د شيعه وګړو دشخصي احوالو قانون ، طبي او تکنالوژي وسائلو له اړخه په تفصيل سره څېړلي او يو له بل سره مې پرتله کړې ده .

ـ لکه څرنګه چې د اسلامي شريعت لمنه ډېره پراخه ده نو ما يوازې د حنفي ، مالکي ، شافعې ، او حنبلې فقهې څخه کار اخستلی دی.

ـ د موضوع اړوند زياتره مواد له اصلي سرچينو څخه را اخيستل شوي دي.

ـ د معاصرو سرچينو څخه په پراخه پيمانه استفاده شوې ده.

ـ د وضعي قانون مواد د خپل انساني او بشري توان سره سم تحليل شوي دي.

ـ په ليکنه کې مې د علمي بحث د ليکنې اسلوب د خطې موافق ذکر کړي چې په لاندې ډول دي:

ـ په څپرکو ، مبحثونو ، مطلبونو او ځيې وخت په فروعو باندې د ليکنې وېشل.

ـ معلومات په دقيق او ثقه ډول راوړل شوي او د هر قول نسبت خپل وينا کونکي ته شوی دی او د منابعو سرليک او د هغه ليکوال چې مونږ يې پېژندنه ترلاسه کړی لنډه پېژنده يې په پای ورقه کې ليکل شوي ، او د کوم ليکوال د پېژندنه په اړه مو چې معلومات ندي تر لاسه کړي هغه پاتی دي ،او د سرچينو تفصيلي معلومات د سرچينو په لړ ليک کې ذکر شوي.

ـ د قرآني آيتونو نسبت مربوطه سورت ته شوی او ژباړه يې د شيخ عبدالسلام رستمي له مختصر تفسير څخه ترسره شوې ده.

ـ د موضوع اړوند حديثونه هم له صحيحينو څخه او هم د احاديثو د نورو معتمدو مصادرو څخه رانقل شوي دي ، او کوم احاديث چې له صحيحينو څخه را نقل شوي او يا د احکامو اړوند نوي د هغه د صحت

او عدم صحت په اړه څه ندي ویل شوي خو له دې پرته د نورو احادیثو د صحت درجه په لنډه توګه بیان شوې ده.

ـ د ترقیم مناسبې علامې له اصولو سره سم راوړل شوې دي.

ـ په هره موضوع کې د هغې موضوع اړوند کتابونو ته مراجعه شوې ده. په هغو مواردو کې چې ترجیح ذکر شوې ده هغه زیاتره خپله د څېړونکي اند او نظر دی.

**د لیکنې پر مهال ستونزې او مشکلات:**

دا یو روښانه حقیقت دی چې انسان ډېر کمزوری او ناتوانه مخلوق دی ، نو د ژوند په هر ډګر کې به خامخا له ځېنو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کېږي ، هغه ستونزې او مشکلات چې د دې لیکنې پر مهال زه ورسره مخ شوی یم لاندې ستونزې او مشکلات دي.

ـ د اقتصادي ستونزو او مشکلاتو له امله د مصادرو او مراجعو کموالی او هغې ته نه لاس رسی ، ځکه چې زمونږ په هېواد کې هر شخص په دې نه توانېږي چې ځانګړی کتابتون ولري ، او په هېواد کې چې کوم کتابتونونه دي ، په هغو کې ډېری هغه کتابونه چې مونږ ورته اړتیا لرو نه موندل کېږي ، او که پیدا هم شي تر لاسه کول یې ستونزمن کار دی ، ځکه زمونږ په ټولنه کې د کتاب د ورکړې فرهنګ تر څو یو مسلمان ور څخه ګټه پورته کړي ډېر کم رنګه دی ، په همدې ډول انټرنیټ او ټکنالوژۍ ته هم مونږ ډېر لږ لاس رسی لرو.

ـ دا چې د اسلام د مبارک دین اړوند زیاتره معلومات په عربي ژبه دي او د نسب د اثبات موضوع هم همدا ډول ده ، نو د بېلابېلو کتابونو څخه د موضوع اړوند متفرق معلومات را ټولول او منظم کول او پښتو ژبې ته را ژباړل هم لویه ستونزه وه.

ـ دغه موضوع مقایسه وي او پرتله ییزه لیکنه ده د قانون د موادو تحلیل هم یو له هغو ستونزو څخه ؤ چې زه ور سره مخ شوی یم.

ـ د دغه څېړنې زیاتره موضوع ګانې طبي دي ، او زه له طبي اصطلاحاتو سره آشنا نه وم ، نو په دغه اصطلاحاتو ځان پوهول یوه بله لویه ستونزه وه.

**د موضوع اړوند پخوانۍ لیکنې:**

د نسب د ثبوت په اړه که مونږ د پخوانیو فقهاؤ او علماؤ لیکنو ته وګورو نو زیاتره علماؤ د نسب د ثبوت اړوند مسائل په ځانګړی باب یا فصل کې تر څیړنې لاندې نیولې دي.

خو د مخکنیو فقهاؤ لیکنې ډېرې خورې ورې دي ،او د دې موضوع ټول مواد په یوه ځای او یو کتاب کې نه موندل کېږي.

همدارنګه زما د معلوماتو سره سم تردې مهاله د( **په اسلامي شریعت او دافغانستان په قوانینو کې د نسب د حق ثبوت** ) تر سرلیک لاندې کومه مستقله رساله په پښتو ژبه کې نه ده لیکل شوې ، او که لیکل شوې هم وي چاپ شوې نه ده او په کتاب پلورنځیو کې نه موندل کېږي.

خو په عربي ژبه کې د نسب په اړوند موضوعاتو باندې زيات شمير ليکنې شوې دي د بېلګي په ډول:
ــ اثبات النسب بين الشريعة و مستجدات العصر ، د عمران عا ئشې ليکنه.
ــ اثبات النسب باالوسائل العلمية ، د لينة بنت دادة ليکنه.
ــ البصمة الوراثية ومدى مشروعية استخدامها فی النسب والجناية ، د عمر مُحَمَّد السبيل ليکنه.
او داسې نور.

**د څېړنې پوښتنې:**

1- آيا په اسلامي شريعت او د افغانستان په قوانينو کې د نسب ساتنې ته پاملرنه شوې او کنه نه ؟

2- اسلامي شريعت او او د افغانستان په قوانينو د نسب ثبوت لپاره کوم شرطونه په نظر کې نيولې دي ؟

3- په اسلامي شريعت او او د افغانستان په قوانينو کې د نسب د ثبوت لپاره کوم دلائل معتبر بلل شوي دي ؟

4- آيا د وينې د ګروپونو د څېړلو پايلې د نسب دثبوت او نفې په برخه کې کوم اثر لري او که نه ؟

5- د وراثي بصمې له لارې د نسب ثابتول او نفې کول څه حکم لري ؟

6- د صناعي تلقيح له لارې د زېږېدلی ماشوم نسب چا ته منسوبېږي ؟

په دې ليکنه کې پورته ذکر شوو پوښتنو ته په مستند او مستدل ډول ځوابونه ويل شوي او ان شاء الله ليکنه به د لوستونکو لپاره د قناعت وړ او د څېړنې د اصلي موخې څرګندونکې وي.

**د څېړنې ستونزې:**

د څېړنې د ستونزو په هکله بايد ووايم چې په اوسنۍ زمانه کې د نسب د ثبوت موضوع زياته پراخه شوې ده ، ځکه چې د طب او تکنالوژۍ له برکته د انجاب(دحمل اخستلو لپاره) بېلابېلې لارې کارول کېږي ، او د بېلابېلو طبي کړنو له لارې ماشومان دنيا ته راځي ، او د شرعي حکم په اړه يې يو شمير پوښتنې را ولاړېږي او له بلې خوا په پښتو ژبه کې په دې اړه کومې ځانګړې ليکنې هم ندي شوي ، نو د دې موضوع په پوره توګه څېړنه کول يو ډول ستونزمنه ده ، له بلې خوا زياتره موضوعات يې له طب سره تړاو لري کوم چې زه ورسره نابلده وم.

**د څيړنی لپاره کاری پلان :**

دڅېړنې دترسره کولو لپاره له لاندې پلان څخه کار اخستل شوي دي:

**لومړی څپرکی: د نسب تعريف، مور او پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت، او ارزښت يې**

**لومړنی مبحث: د نسب تعریف**

لومړی مطلب: د نسب لغوي تعريف

دویم مطلب: د نسب فقهي تعريف

دریم مطلب: د نسب قانوني تعريف

څلورم مطلب: د نسب اړوند الفاظ

**دويم مبحث: مور او پلار ته د ماشوم د نسب څرنګوالی**

لومړی مطلب: مور ته د ماشوم نسب

دويم مطلب: پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت

**درېيم مبحث: د نسب ارزښت، نسب ته د شارع توجه، او د نسب شرعي او قانوني ملاتړ**

**لومړی مطلب:** د نسب ارزښت او نسب ته د شارع توجه

**دويم مطلب:** د نسب د ساتنې شرعي او قانوني ملاتړ

**دويم څپركې د نسب د ثبوت لپاره شرعی او قانونی دلیلونه**

**لومړی مبحث: د فراش اړوند دلیلونو سره د نسب ثبوت**

**لومړی مطلب:** صحيح نكاح

**دويم مطلب:** په فقهه او قانون كې د واده اركان

**درېيم مطلب:** په فقه او قانون كې د واده شرطونه

**څلورم مطلب:** په غير صحيح واده سره د نسب ثبوت

**دويم مبحث: په عامو د لائلو سره د نسب ثبوت**

**لومړی مطلب:** په اقرار او ګواهۍ سره د نسب ثبوت

**دويم مطلب:** په قيافې او وراثي بصمې سره د نسب ثبوت

**درېيم مطلب:** د وينې ټسټ او وراثي بصمې سره د نسب ثبوت

**دريم څپركې: د صناعي تلقيح په پايله كې د ماشوم د نسب ثبوت**

**لومړی مبحث: د صناعي تلقيح تعريف، ډولونه، لاملونه، او تاوانونه**

**ومړی مطلب:** د صناعي تلقيح لغوي او اصطلاحي تعريف

**دويم مطلب:** د صناعي تلقېح ډولونه ، لاملونه ، تاوانونه

**دويم مبحث: د صناعي تلقېح بنې، لاملونه**

**لومړی مطلب:** ددا خلي صناعي تلقېح بنې لاملونه

**دويم مطلب:** خارجي صناعي تلقېح

**درېيم مبحث: د صناعی تلقېح د کاروني شرعِي حکم**

**لومړی مطلب:** د صناعي تلقېح اتفاقي حرامې بنې

**دويم مطلب:** د صناعي تلقېح اختلافي حرامې بنې

**څلورم مبحث: د صناعي تلقېح له لارې د زېږېدلي ماشوم نسب**

**لومړی مطلب:** پلار ته د صناعي تلقېح له لارې د ماشوم نسب

**دويم مطلب:** د صناعي تلقېح له لارې مورته د ماشوم نسب

**څلورم څپرکی: د بدن د غړو د زرعې او لېږد، او استنساخ په پايله کې د ماشوم نسب**

**لومړی مبحث: د تناسلي غړو د لېږد په پايله کې د نسب ثبوت**

**لومړی مطلب:** د بدن غړو د لېږد تعريف ، تاريخچه ، ډولونه ، او د تناسلي غړو پېژندنه

**دويم مطلب:** له يوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي غړو د نقلولو حکم

**درېيم مطلب:** د تناسلي غړو د لېږد په پايله کې د زيږېدلی ماشوم نسب

**دويم مبحث: د بشري استنساخ (ClOning) په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب**

**لومړی مطلب:** د بشري استنساخ (ClOning) تعريف

**دويم مطلب:** د استنساخ ډولونه.

**درېيم مطلب:** د بشري استنساخ شرعي حکم.

**څلورم مطلب:** د تکاثري استنساخ په پايله کې د ماشوم نسب

## لومړی فصل

## د نسب تعریف، مور او پلار ته د ماشوم د نسب د ثبوت څرنګوالي، او ارزښت یې

**د نسب تعریف، مور او پلار ته د ماشوم د نسب د ثبوت څرنګوالی، او ارزښت**

مونږ په دې څېرکې کې درې مبحثونه په نظر کې نیولي دي ، چې په لومړي مبحث کې به د نسب تعریف ، او په دویم مبحث کې به مور او پلار ته د نسب د ثبوت څرنګوالی او په درېیم کې به د نسب ارزښت ، نسب ته د شارع توجه او د نسب د ساتنې شرعي او قانوني ملاتړ وڅېړو.

**لومړی مبحث: د نسب تعریف**

په دې مبحث کې مو څلور مطلبونه په نظر کې نیولي دي چې په لومړي مطلب کې به د نسب لغوي تعریف او په دویم کې به فقهي تعریف او په درېیم کې به یې قانوني تعریف او په څلورم کې به د نسب اړوند الفاظ تر څېړنې لاندې ونیسو.

**لومړی مطلب: د نسب لغوي تعریف**

نسب په لغت کې قرابت (خپلوی) ته وایي.([1])

نسب مفرد ، او جمع یې انساب ده ، او د خپلوی د ریښې غځولو له پاره هم کارول کېږي ، لکه څرنګه چې عرب وایي:(نسبته الی ابیه نسبا).([2]) ژباړه:(د خپلوی) ریښه مې یې پلار ته

وغځوله. او دوی وایي: (وهو نسیبه ، ای قریبه) ژباړه: دی د هغه نسیب دی ، یعنې قریب یې دی.

او د نسب اطلاق په خسرګنی باندې هم کېږي ، لکه څرنګه چې عرب وایي: (ناسب الرجل بنی فلان ، ای تزوج منهم ).([3]) ژباړه: (هغه) سړي د پلاني خیلو سره نسب ټینګ کړ ، یعنې له هغو څخه یې واده وکړ. **امام راغب اصفهاني**([4]) وایي: (النسب والنسبة هو الاشتراک من احد ابوین ، و ذالک ضربان نسب الطول کاالاشتراک من الآباء والابناء و نسب بالعرض کاالنسبة بین الاخوة والاعمام).([5]) ژباړه: نسب او نسبت په یو له مور او پلار کې سره شریکوالي دي ، او دا (نسب) په دوه ډوله دی ، یو د اوږدوالي نسب دی ، لکه د پلرونو او زامنو تر منځ شراکت, او بل غوړېدلی نسب دی ، لکه د ورونو او کاکا ګانو تر منځ.

---

[1]) الصاحب بن عباد ، **المحیط في اللغة** ، ج 2 ، ص ـ 268. عمید ، **فرهنگ فارسی عمید**، ص ـ 1206.

[2]) صولي ، **طرق اثبات النسب فی التشریع الجزایری**، ص ـ 2.

[3]) الکرمی ، **الهادی الی اللغةالعرب** ، ص ـ 755.

[4]) **پوره نوم یې:** ابوالقاسم الحسین بن مُحَمَّد بن المفضل الاصفهانی ، الملقب باالراغب ، چې په اسلامی امت کې له تکړه او مشهورو امامانو څخه بلل کېږي او مختلفې لیکنې یې کړې چې له هغې څخه یې یو " **الذریعة إلی مکارم الشریعة** " جې نوموړی کتاب به همیشه امام غزالی له خپل ځان سره ساتلو او مطالعه کولو به یې ، او بل یې " **المفردات في غریب القرآن** " په دغه کتاب کې یې د قرآن کریم الفاظ په عربی ژبه کې تر هر اړ خیزه څېړنه لاندې نیولی ، د تولد په اړه یې معلومات نشته او د وفات په اړه یې مختلف روایات دی ،خو صحیح رایت دا دی چې په (502) هـ وفات شوی. الذهبی ، **سیر أعلام النبلاء**، ج ـ 18 ، ص ـ 120.

[5]) اصفهانی ، **مفردات الغریب القرآن** ، ج ـ 1 ، ص ـ 490.

**دويم مطلب: د نسب فقهي تعريف**

فقهاؤ د نسب بېلابېل تعريفونه کړي ، چې يو څو به يې د بېلګې په توګه وليکو:

**1. احناف: ځينو احنافو** داسې تعريف کړی دی: (النسب - هو بمعنى مطلق الوصلة بالقرابة سواء جاز النكاح بينهما كابن العم وبنت العم أو لم يجز كالأب والبنت).[1] ژباړه: نسب د مطلقې خپلوی په معنا سره راځي ، برابره خبره ده چې د دوی دواړو ترمنځ نکاح روا وي لکه د کاکا زوی او د کاکا لور ، او که نوي لکه پلار او لور.

**2.شوافع:** ځينې شوافعو د نسب تعريف داسې کړی دی: (النسب هو القرابة. وهى الاتصال بين الانسانين بالاشتراک فى الولادة قريبة او بعيدة).[2] ژباړه: نسب خپلوي ده ، او دا (خپلوي) د دوو انسانانو په منځ کې د زېږيدون د ګډون له امله يو ځايوالی دی ، هغه که نږدې وي او يا لرې.

**3.مالکيان:** مالکيان وايي: (النسب هو الانتساب لاب معين).[3] ژباړه: نسب يوه معلوم پلار ته د(خپلوۍ) غځول دي.

**4. حنابله:** ځينو خنابله ؤ داسې تعريف کړی: (النسب هو: الإضافة ؛ فلان ابن فلان من قبيلة فلان من بني فلان من جماعة فلان).[4] ژباړه: نسب غځول دي (لکه) فلانکی د فلانکي زوی ، د فلانکۍ قبيلې ، له فلاني خيلو ، د فلانکۍ ډلې څخه دی.

**دريم مطلب: د نسب قانوني تعريف**

د افغانستان مدنې قانون د نسب تعريف ندی کړی ، خو د همدغه قانون د دويم څپرکي لسم مبحث د اولاد د حقوقو لپاره ځانګړی شوی دی ، چې د نوموړي مبحث لومړۍ فرعه د نسب احکام بيانوي چې د همدې قانون د 217 مادې څخه تر 229 مادې پورې د نسب په اړه بحث کوي. خو حقوق پوهانو بيا هڅه کړې ، چې د نسب لپاره ځانګړی تعريف ولرې ، چې ځينې تعريفونه يې په لاندې ډول دي.

**1.**ځينو حقوق پوهانو د نسب داسې تعريف کړی: (نسب د دوو کسانو تر منځ د خپلوۍ هغه اړيکه ده, چې دوی يو د بل له نسل څخه, او يا دوی دواړه د درېيم کس له نسل څخه وي).[5]

---

[1] على حيدر، **دررالحكام شرح مجلةالاحكام.** ج 4، ص .327 .

[2] ابن قدامه ، **المغنى،** ج ـ 3، ص ـ4 .

[3] عليش ، **منح الجليل علي مختصر سيد خليل،** ج ـ 6، ص ـ114.

[4] شنقطى ، **شرح زادالمستقنع للشنقطى** ، درس 274 ، ص . 4.

[5] صفايى ، سيد حسين ، **مختصر حقوق خانواده،** ـ287.

2. او ځينو نورو بيا د نسب دا سې تعريف کړی: (نسب هغه اړيکه ده ، چې د دوو کسانو تر منځ ، د يو له بل څخه او يا د دوی له دريیم کس څخه د زيږېدو له امله منځ ته راغلی وي).([1])

کله چې دغه تعريفونو ته ځير شو را ته په ډاکه کيږی چې اګر که په دغه تعريفونو کې د نسب تعريف په بيلابيلو الفاظو سره شوی خو په يوه اساسی نقطه باندی تمرکز شوی هغه داچې نسب د نسبی خپلوۍ نوم دی.

**څلورم مطلب: د نسب اړوند الفاظ**

د نسب د مفهوم لپاره ځينې نور الفاظ هم کارول کېږي ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

1. **العصبة:** په عربی ژبه کې عصبة د پلار له طرفه خپلوۍ ته وايي ، او د جمع يې عصبات راځي ،([2]) او عصبة لنګی (پټکي) ته هم وايي ، او هر هغه شي ته هم عصبة ويل کېږي ، چې په هغه سره سر تړل کېږي ، لکه چې عرب وايي: (عصب رأسه ، ای شدها).([3]) ژباړه: خپل سر يې وتاړه.

2. **الرحم:** رحم هم خپلوۍ ته وايې: (الرحم هی القرابة).([4]) ژباړه: رحم خپلوي ده. او د جنين د جوړيدو ځای ته هم وايې: (الرحم هوالوعاء الذی يثبت فيه الولد فی داخل امه ، ای موضع تکوين الجنين).([5]) ژباړه: رحم هغه لوښی دی ، چې ماشوم د مور په (ګېډه کې) د ننه په کې ساتل کېږي, يعنې د ماشوم د جوړېدلو ځای.

3. **الصلب:** د پلرونو ښکته او پورته خپلوانو ته ويل کېږي ، چې د خپلوۍ معنی هم ورکوي.([6])

**دويم مبحث: مور او پلار ته د ماشوم د نسب څرنګوالی**

په دي مبحث کي مو دوه مطلبونه په نظر کي نيولي په لومړی مطلب کي به مور ته او په دوهم مطلب کي به پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت وځيړو.

**لومړی مطلب: مور ته د ماشوم نسب**

مور ته د ماشوم د نسب د ثبوت لپاره بايد لاندې خبري ثابتې شي ، تر څو د يوه ځانګړی ماشوم نسبت نوموړې مور ته وشي.

---

[1]) محمّد بروجردی ، **کليات حقوق اسلامی**، ص ـ 280.
[2]) إبراهيم مصطفى ، **معجم الوسيط**، ج 2، ص ـ 604.
[3]) لينة بنت دادة ، **اثبات النسب باالوسائل العلمية**، ص ـ 8.
[44]) الجوهري ، **الصحاح في اللغه**، الماده .الرحم.
[5]) الجوهري ، **الصحاح في اللغه**، الماده .الرحم.
[6] ) لينة بنت دادة ، **اثبات النسب باالوسائل العلمية**، ص ـ 9.

1.کومه ښځه چې د ماشوم لپاره مور معرفي شوې ده ، دا پکې ثابته شي چې ماشوم يې زېږولي دی ، يعنې د ماشوم د زېږولو نښې او نښانې پکې شتون ولري.([1])

2.دا هم ثابته شي چې د کوم ماشوم نسب تر نظر لاندې دی ، نوموړې ښځې همدا ماشوم زېږولي نه کوم بل ماشوم.

يعنې مورته د ماشوم د نسب د ثبوت لپاره دغه دواړه شرطونه پوره وي ، چې هم ښځې وضع د حمل کړې او هم يې همدغه ماشوم زېږولي دی.([2])

**دويم مطلب: پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت**

نظر مور ته ، پلار ته د نسب ثبوت ډېر ستونزمن کار دی, دا ځکه چې له مور څخه د ماشوم زېږېدل يو ښکاره او ليدونکې کار دی, خو د يوه معلوم سړي (د ښځې له مېړه څخه) له نطفی څخه د ماشوم تکون(جوړېدل) يو پټ او په سترګو نه ليدونکې کار دی, چې هيڅوک ورباندې نه پوهېږي ، آن تردې چې په خپله مور او پلار هم تر ډېره وخته پدې نه پوهېږي ، چې نطفه (د سړي اوبه) له بيضې (د ښځې اوبو) سره يو ځای شوې ده او کنه ؟

نو له همدې کبله بايد پلار ته د ما شوم د نسب د ثبوت لپاره زياته هڅه ونشي, چې خبره يقين ته ورسول شي ، ځکه چې دا يو ډېر ستونزمن کار دی ، آن تر دې چې عصري علوم ، او ټکنالوژی سره له دومره زياته پرمختګه له دې څخه عاجز دی ، چې د يوه ماشوم نسب د په يقيني توګه يو چا ته ثابته کړی.([3])

لکه د همدې فن اهل خبره وايي: چې د ويني ټسټونه د نسب د نفې لپاره دليل جوړېدلی شي نه يې د نسب د اثبات لپاره ، يعنې د وينې ټسټونه کولای شي ، چې د نسب نفې له علمي لارو ثابته کړي ، خو په قطعي توګه نشي کولای چې د يو چا لپاره دې د بل چا نسب ثابت کړی.([4])

پورتنيو ټکو ته په کتنې سره ، د بېلابېلو دولتونو قانون جوړوونکو ، د ټولني او د ماشومانو او د هغوی د کورنيو د مصلحت په خاطر د فراش امارة معتبره ګرځولي ده ، او په دې سره يې پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت آسانه کړی دی ، نو په دې امارې سره استناد کول پلار ته د ماشوم د نسب د ثبوت تر ټولو اسانه او ساده لاره ده.([5]) د فراش د امارې په اړه بشپړ معلومات وروسته راځي.

[1]) صنعانی، **بدايع الصنايع** ، ج، 6، ص - 253.
[2])صنعانی، **بدايع الصنايع** ، ج، 6، ص - 253. او **مقاله های علمی .دانشګاهی** ، تاريخ ، **1397.10.20**.
[3]) الصنعانی. **بدايع الصنايع** ، ج، 6، ص - 253. او **مقاله های علمی .دانشګاهی** ، تاريخ **1397.10.20**.
[4]) احمد محمد سعيد، **اثبات النسب ونفيه باالبصمة الوراثية، دراسة مقارنة،** ص - 67.
[5])صفائی ، **مختصرحقوق خانواده** ، ص -291.

**دریېم مبحث: د نسب ارزښت، نسب ته د شارع پاملرنه، او د نسب شرعي او قانوني ملاتړ**

په دي مبحث کي مو دوه مطلبونه په نظر کي نیولي دي ، چي په لومړی مطلب کي به د نسب ارزښت او نسب ته د شارع پاملرنه ، او په دوهم مطلب کي به د نسب د ساتنې شرعي او قانوني ملاتړ تر څیړني لاندي ونیسو.

**لومړی مطلب: د نسب ارزښت او نسب ته د شارع پاملرنه**

**لومړۍ فرعه: د نسب ارزښت**

په دې کې هیڅ شک نشته چې کوم نعمتونه الله جَلَّ جَلالُهُ په مونږ لوروليي دي ، زمونږ لپاره په هغی کې زیاتې ګټې نغښتې دي ، چې د دغو نعمتونو له ډلې څخه ، نسب هم یو لوی الهي نعمت دی ، او له همدې کبله چې د نسب ارزښت ډېر زیات دی ، نو په خپله الله جَلَّ جَلالُهُ د نسب د تنظیم او ساتنې لپاره اصول او ضوابط ټاکلي دي ، او دې ته یې جدي پاملرنه کړې ده ، او زمونږ لپاره د نسب په معلومېدو خوندي کېدو کې زیاتې ګټې نغښتې دي ، چې ځینې یې په دې نړۍ کې زمونږ شخصیت پیاوړی کوي ، او ځینې یې زمونږ عزت او آبرو خوندي کوي ، او ځینې یې د الله جَلَّ جَلالُهُ د نعمتونو قدرداني ده.([1]) او دغو ګټو ته یې په لاندې توګه اشاره کوو.

**د نسب د معلومېدو او خوندي کېدو کې ګټې**

1.نسب انسان ته د یو ډول معنوي تل پاتې کېدو احساس ورکوي:

نسب هغه نظام دی چې په هغه سره د انسان د ژوند تر ټولو مهم او لوړ روحي اړتیا پوره کېږي ، او هغه اړتیا دا ده چې هر انسان دا هیله لري ، چې تر څو پدې فاني دنیا کې د تل لپاره پاتې شې ، خو دا یوازې د الله جَلَّ جَلالُهُ لپاره ممکنه ده نه د بل چا لپاره ، او انسان نشي کولای چې دا امتیاز ترلاسه کړي ، خو د اولاد او راتلونکي نسل له لارې ممکنه ده ، چې په دنیا کې د یو څه وخت لپاره په معنوی ډول نسبتاً څه ژوندی پاتې شي ، نو له همدې امله کله نا کله یو سړی مړ کېږي ، خو دی ډاډه او آرامه وي ، چې دی به تل ژوندی وي ، ځکه چې د ده اولاد ونه به د ده ځای ناستی وي ، او د ده ارمانونه او هیلې به پوره کوي ، او د ده ژمنې به سرته رسوي ، او د ده له دوستانو سره به دوستي او د ده له دښمنانو سره به دښمني پالي ، او د ده له عزت او شرف څخه به ساتنه کوي.([2])

لکه څنګه چې اولادونه هم د پلرونو او نیکونو د تېر تاریخ له لارې خپل ژوند یو ډول له مخکېني تاریخ څخه پیل کوي ، یعنې کله چې اولادونه د خپلو نیکونو تېر تاریخ لولي ، نو دا احساس کوي چې د هغوی لاسته

[1]) لینة بنت دادة ، **اثبات النسب باالوسائل العلمیة** ، ص -14.

[2]) عمر السبیل ، **البصمة الوراثیة و مدی مشروعیة استخدامها فی النسب والجنایة**، ص -95.

راوړني زمونږ لاسته راوړني دي ، او د هغوی په نیکو کارنامو ویاړي ، او د هغوی عزت او شرافت خپل عزت او شرافت ګڼي ، نو د نسب له لارې د انسان ژوند له حقیقي ژوند څخه زیاتیږي.([1])

2.نسب د بشر آبرو او عزت ساتي:

الله جَلَّ جَلالُهُ انسان په یوه پاک طبعیت کې پیدا کړی دی ، او له هرې بدۍ او چټلۍ څخه کرکه کوي ، او د هرې پاکۍ او پاک لمنۍ سره ټینګې اړیکې لري ، او په ټول توان سره کوښښ او هڅه کوي چې دغه پاکي او پاک لمني خپله کړي.

نو همدا رنګه د نسب ثبوت مور له هر ډول تعرض ، عار ، ذلت، او اتهام څخه ساتي. او همدا راز د نسب ثبوت د ماشوم د معنوي او مادي ښیګڼو ساتونکې دی او د کوم ماشوم چې نسب معلوم وي ، د هغه په لومړي قدم کې په ښه توګه جسمي او روحي پالنه کیږي ، او په دویم قدم کې په هسکه غاړه خپل ژوند ته دوام ورکوي ، او له ټولو معنوي ارزښتونو څخه برخمن وي. او د کوم ماشوم چې نسب نوي معلوم ، په لومړي قدم کې د هغه جسم او وجود له لسګونو خطرونو سره مخامخ وي ، چې کله کله د شرم او پیغور له وجې دغسې ماشوم په ډېرانونو او ناپاکو ځایونو کې غورځول کیږي. او که چیرې داسې ماشوم ژوندی پاتې هم شي او یو څوک یې پالنه هم وکړي ، نو کله چې لوی شي او په دې پوه شي چې زما نسب معلوم ندی ، نو په خلکو کې خپل ځان کم احساسوي ، آن تر دې چې د خپل ځان د وژلو هڅه هم کوي ، ځکه چې هیڅوک دا نه غواړي ، چې د خپل ځان لپاره او همدا ډول د نورو لپاره د شرم او پیغور لامل جوړ شي. لکه څنګه چې بي بي مریم رضی الله عنها چې خپل ماشوم (عیسی علیه السلام ) پرته له دودیزې او شرعي لارې وزیږاوه ، نو د زیات شرم له وجې یې داهیله درلوده ، چې کاشکې زه له دې کار څخه مخکې مړه شوې وای ، او ویا هېره کړای شوې په هېرولو سره یعنی نوی پیدا کړل شوي ، لکه څنګه چې قرآن کریم همدا کیسه په دې ډول بیانوي:

﴿ فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَى جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَالَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا ﴾.([2]) ژباړه: نو مجبوره کړه هغی لره(مریم علیهاالسلام) د زیږیدون دردونو د خرما (د ونې) ډډ ته ویې ویل ، ای کاش مخکې له دېنه مړه شوې وای ، او وی زه هېره کړل شوې په هېره ولو سره.

خو کله چې د الله جَلَّ جَلالُهُ له لوري ورته معلومه شوه ، چې له تا څخه دغه تولد ، د الله جَلَّ جَلالُهُ د قدرت یوه لویه نښه ده ، او دا له هر ډول خطا او تېروتنې څخه پاکه ده ، نو وروسته له دې څخه ډاډه شوه.

نو معلومه شوه چې د انسان د نسب معلومېدل ، له انسان څخه هر ډول هغه شرم او پیغور او د کمی احساس لرې کوي ، کوم چې انسان ته د ګناه یا د انساني فطرت د اصولو د مخالفت په وجه پیدا کیږي.

---

[1]) لینة بنت دادة ، اثبات النسب باالوسائل العلمیة، ص ـ23.

[2])سورة ، مریم ، آیة ، 23.

3.نسب معلومېدل د الله جَلَّ جَلالُهُ د حکم منل او د هغه په نعمت اعتراف کول دي.

الله جَلَّ جَلالُهُ خپلو بندګانو ته دا امر کړی ، چې د شخص نسبت د هغه (حقیقي) پلار ته وکړئ ، لکه څرنګه چې فرمايي:

﴿ **ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ...** ﴾.([1]) ژباړه: آواز کوئ دوی ته د پلرونو په نسبت سره يې ، دا د الله په وړاندې د انصاف خبره ده.

همدارنګه الله جَلَّ جَلالُهُ د معتدې ښځې (هغه چې حکماً د بل چا په نکاح کې وي ) سره نکاح کول منع کړي دي ، حکمت يې همدا دی ، چې د ماشوم نسب معلوم وي, او ګډوډ نشي ، لکه څنګه چې الله فرمايي:

﴿ **وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ...** ﴾.(2) ژباړه: او مه کلکوئ غوټه ، د نکاح تړلو تر هغې چې ورسيدلې عدت خپلې نيټې ته.

او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نسب د ساتنې په خاطر د هغه چا لپاره سخت وعيدونه بيان کړي ، چې د نسب د ګډوډولو اراده لري ، لکه چې فرمايي:

(**من ادعى إلى أب غير أبيه وهو يعلم أنه غير أبيه فالجنة عليه حرام**).(3) ژباړه: چا چې د (خپل نسب) دعوه له خپله پلاره پرته بل چا ته وکړه ، په هغه جنت حرام دی.

اسلامي شريعت تبني (پردی زوی خپل زوی بلل) منع کړي ، کوم چې د اسلام د سپيڅلې دين څخه مخکې او د اسلام په پيل کې رواج ؤ ، او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم زيد بن حارثة په زويولې سره نيولی وو, او خلکو به په زيد ابن مُحَمَّد سره ورته اواز کولو ، خو وروسته قرآن کريم دا کار منع کړ. لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي:

﴿ **مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِيالسَّبِيلَ** ﴾.([4]) ژباړه: ندی جوړ کړی الله تعالى هيڅ سړي لره دوه زړونه په خېټه د هغه کې, او نه يې دی ګرزولي هغه ښځې ستاسو چې ترې نه ظهار کوي مورګانې ستاسې, او نه يې دي ګرزولې هغه اواز کړل شوي ستاسو ، بچيان ستاسو ، دغه ستاسو د خولو خبره ده ، الله حق وايي او هغه (د برابري) لارې ښودنه کوي.

[1]) سورة الاحزاب ، اية ، 5.

[2]) سورة البقرة ، اية ، 235.

[3]) البخارى ، **صحيح البخارى**، باب غزوة الطائف ، ص ـ 870 ، شماره ، 4326. او احمدابن حنبل ، **مسند امام احمدبن حنبل**، ج ـ 2 ، ص 235 .

[4]) سورة الاحزاب ، اية ، 5.

حق او انصاف او انساني منطق دا تقاضا کوي چې هر ماشوم دې ، د هغه خپل حقيقي پلارته منسوب کړای شي نه د دروغو پلارته.

**د تبني د حرمت حکمتونه:**

1 - په تبني سره هغه حقيقي پلار چې ماشوم يې زيږولی دی ، کوم چې الله ﷻ او ټول خلق پوهيږي چې په حقيقت کې يې پلار هغه دی ، له دي څخه محروميږي چې د ماشوم نسب د هغه ته منسوب کړای شي.

2 - د متبني په نسب کې پردی عنصر ور ګډيږي او دغه پردی سړی دهغه له ښځې ، مور ، او لور سره د تبني په نامه ناسته او ولاړه کوي ، کوم چې په حقيقت کې يو اجنبي کس دی او له دوی سره يې ناسته او ولاړه روا نده.([1])

3 - په تبني سره په کورني نظام کې خلل را منځ ته کيږي ، مثلا کله چې د متبني د دروغو پلار مړ شي د ربښتوني وثي حقوق ضايع کيږي نو دمړي ورونه او خويندي له ميراث څخه محروميږي ځکه زوی شتون لري.

4 - په تبني سره حقيقي کورنی له وراني او له منځه وړلو سره مخامخ کيږي ، نسبونه سره ګډوډيږي ، او دالله ﷻ د ( **و جعل شعوبا و قبائل لتعارفوا** ) حکمت له منځه ځي.

5 - د متبني او حقيقي ورثي ترمنځ د متروکې په ويش کې د دښمنی ، او کينې سبب جوړيږي.([2])

**دويمه فرعه: نسب ته د شارع پاملرنه**

نسب د کورنۍ د وګړو ترمنځ د يو له بل سره د ټرلو تر ټولو لوی بنسټ دی، چې د دوی ټولو اړيکې يو له بل سره په دايمي بڼه وربانديې ولاړې دي، او يو له بل سره يې د وينې په رسی ټړلي دي، چې زوی د پلار جزء دی او پلار هم د زوی يوه برخه او سر چينه ده ، نو نسب د الله جَلَّ جَلالُهُ هغه لوی نعمت دی ، چې په خپلو بندګانو يې لورولي او د دوی ټولې چارې يې وربانديی منظمې او ترتيب کړي دي، که چېرې د کومو وګړو د نسب روابط او اړيکې پرې شوې وي ، تاسو څه فکر کوئ چې د هغوی ژوند به له کومو ستونزو سره مخامخ وي ؟ نو همدا وجه ده چې الله رب العلمين د هغه څخه د يوه نعمت په بڼه يادونه کړې ده او فرمايي:

﴿ **وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا** ﴾.**(3)**.ژباړه: او دا (الله ﷻ) هغه ذات دی ، چې پيدا کړ ی يې دی بشر(انسان) له اوبو (نطفی)څخه ، نو يې وګرزوه دا (په منځ د دې بشر کې) نسب والا او خوسرخيلي والا (دوستي) او دی رب ستا توان والا.

---

[1]) https://ar.m.wikpedia.org فقه التبني في الاسلام.

[2]) https://ar.m.wikpedia.org فقه التبني في الاسلام.

[3]) سورة الفرقان ، اية ، 54.

او نسب ته ، د الله جَلَّ جَلالُهُ توجه او عنایت ، له دې څخه هم ښکاره کېږي ، چې په لومړي قدم کې یې د نسب د منځ ته را تګ لپاره پراونه تنظیم کړي ، لومړی د دې لپاره نکاح مشروع ګرزولې, او بیا یې د هغې د صحت لپاره شروط او ارکان وضع کړي دي, چې د هغو د نشتوالي په صورت کې نکاح باطله بلل کېږي.

او بیا یې د نسبونو له ګډون څخه مخنیوی کړی دی ، کوم چې د اسلام نه مخکې د جاهلیت په دور کې به یې چا پروا نه کوله او له یوی ښځې سره به څو کسانو کوروالی کوله خو الله تعالی په دغه ټولو دبطلان کرښه را کش کړه. او اسلام د دې لپاره چې نسبونه سره ګډ نشي ، هغه کس چې غواړي د کونډې ، یا طلاق شوې ښځې سره واده وکړي ، له نکاح کولو څخه تر هغه وخته پورې منع کړی ، چې تر څو یې عدت او هغه ټاکلې موده نوې پوره شوې ، په کومه موده کې چې د حمل د شتون یا نه شتون په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کېږي ، لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلالُهُ فرمایي:

**﴿ وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴾**.([1])

ژباړه: او مه کلکوئ غوټه ، د نکاح تړلو تر هغی چې ورسیدلې عدت خپلې نیټې ته ، او پوه شئ چې یقینا الله جَلَّ جَلالُهُ پوهېږي په هغه څه چې ستاسو په زړونوکې دي, پس ځان وساتئ د هغه(له مخالفت) نه ، او پوه شئ چې الله جَلَّ جَلالُهُ ښښونکې او نرمي کوونکې دی.

یعنې کومه ښځه چې د طلاق یا د خاوند د مړینې په عدت کې قرار لري ، نو له هغې سره تر هغه وخته پورې نکاح مه کوئ چې عدت یې نه وي پوره شوی.

او که چېرې ښځه اقرار وکړي ، چې زما عدت پوره شوی دی او حمل هم نه لرم ، او حال دا وي چې دې هغه ټاکلې موده نه وي پوره کړې ، یعنې خپل حمل یې پټ کړی وي ، نو الله جَلَّ جَلالُهُ د هغې ښځې څخه ایمان نفې کړی دی. نو داسې ښځه د ایمان له دایرې څخه بهر کېږي ، لکه څرنګه چې فرمایي:

**﴿ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ... ﴾**.([2])

ژباړه: او طلاق کړاې شوې ښځې به انتظار کوی په ځانونو خپلو سره درې حیضه , او روا نه ده دوی ته ، چې پټ کړي هغه څه چې پیدا کړي دي الله جَلَّ جَلالُهُ په رحمونو د دوی کې , که چېرې وي دوی ایمان لرونکي په الله او په وروسي ورځ باندې.
او همدا راز اسلامي شریعت ، پلرونه له دې څخه منع کړي ، چې د خپل اولاد له نسب څخه انکار وکړي.
لکه څنګه چې رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې هکله فرمایي:

---

[1]) سورة البقرة ، اية ، 235.
[2]) سورة البقرة ، اية ، 228.

**(...وأيما رجل جحد ولده وهو ينظر إليه احتجب الله منه وفضحه على رءوس الأولين والآخرين يوم القيامة).**([1])

ژباړه: او کوم سړی چې د خپل بچي (د نسب) څخه انکار پداسې حال کې وکړي ، چې دی ورته ګوري ، نو الله جَلَّ جَلالُهُ به یې له خپل رحمت څخه محروم کړي، او د قیامت په ورځ به یې د پخوانیو او وروستنیو خلکو په وړاندې رسوا کړي.

دا ځکه چې کله یو کس د خپل حقیقي بچي د نسب څخه انکار وکړي ، نو دا ماشوم له ډول ډول کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږي. او د ماشوم مور هم له زیاتو ستونزو سره مخامخ کېږي، پت او عزت یې تر پښو لاندې کېږي.

او له بلې خوا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغو ښځو لپاره چې د نسب د ساتلو په برخه کې خیال نه ساتي ، سخت وعید فرمایلي دی لکه څرنګه چې فرمایي:

**( أيما امرأة أدخلت على قوم رجلا ليس منهم فليست من الله في شيء ولا يد خلها الله جنته ).**([2]) ژباړه: هره هغه ښځه چې یو کس په یوه قوم کې ور دننه کړي، چې هغه له دوی څخه نه وي (د زنا په پایله کې ماشوم وزېږوي) نو د دې ښځې له الله جَلَّ جَلالُهُ سره هیڅ اړیکه نشته( مسلمانه نه ده) او الله جَلَّ جَلالُهُ به یې هیڅ وخت هم خپل جنت ته دننه نه کړي.

لکه څنګه چې مور او پلار اسلامي شریعت د نسب د ګډ وډولو څخه منعه کړي دي، همدا راز یې اولادونه هم له دې ناوړه کار څخه منع کړي دي، لکه څنګه چې رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي:

**(من ادعى إلى غير أبيه وهو يعلم أنه غير أبيه فالجنة عليه حرام ).**([3])

ژباړه: کوم کس چې د خپل (نسب) ادعا د خپل پلار نه پرته بل چاته وکړي، او دی په دې پوهېږي چې پلار یې بل څوک دی، نو په ده باندې جنت حرام دی.

او همدا راز اسلامي شریعت د تبنی نظام ( پردی زوی خپل زوی بلل ) منع کړي ، کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین څخه مخکې او د اسلام په پیل کې دود ؤ ، او رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زید بن حارثه په

[1]) النسائی ، **سنن النسائی** ، باب التغلیظ فی الانتفاء من الولد ، شماره ، 3481. او ابن ماجة ، **سنن ابن ماجة**، ج - 4، ص - 43. دا حدیث ضعیف دی. الباني ، **صحیح وضعیف سنن ابی داود.** ج 5، ص - 263. شماره 2263.

[2]) النسائی ، **سنن النسائی** ، باب التغلیظ فی الانتفاء من الولد ، شماره ، 3481. او ابن ماجة ، **سنن ابن ماجة** ج - 4، ص - 43.

[3]) النسائی ، **سنن النسائی** ، باب التغلیظ فی الانتفاء من الولد ، شماره ، 3481. او احمدابن حنبل ، **مسند امام احمدبن حنبل** ، ج - 2 ، ص - 235 ، دا حدیث صحیح دی ، البانی ، **صحیح وضعیف الجامع الصغیر**، ج 22 ، ص -- 431. شماره 10931.

زویولي سره نیولي وو, او خلکو به ورته اواز کولو په زید ابن مُحَمَّد سره ، خو وروسته قرآن کریم دا کار منع کړ ، لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلالُهُ فرمایي:

﴿ **مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ** ﴾.[1] ژباړه: ندی جوړ کړی الله تعالی هیڅ سړي لره دوه زړونه په خیټه د هغه کې, او نه یې دی ګرزولي هغه ښځې ستاسو چې ترې نه ظهار کوي مورګانې ستاسې, او نه یې دي ګرزولي هغه اواز کړل شوي ستاسو ، بچیان ستاسو ، دغه ستاسو د خولو خبره ده ، الله حق وایي او هغه (د برابري) لارې ښوونه کوي.

حق اوانصاف اوانساني منطق دا تقاضا کوي, چې هر ماشوم دې د هغه خپل حقیقي پلارته منسوب کړای شي نه د دروغو پلارته.

### دویم مطلب: د نسب د ساتنې شرعي او قانوني ملاتړ

د نسب ارزښت ته په کتو اسلامي شریعت د هغه له ساتنو او تنظیمولو څخه کلک ملاتړ کړی, همدا شکل د بیلابیلو دولتونو مدني قوانینو د نسب د ساتلو او تنظیمولو ته کلکه پاملرنه کړې ده ، نو پدې برخه کې مو دوه فرعې په نظر کې نیولي دي, لومړی فرعه یې د نسب شرعي ملاتړ او دویم فرعه یې د نسب قانوني ملاتړ ته ځانګړې شوي ده.

### لومړی فرعه: د نسب شرعي ملاتړ

د نسب ساتل د اسلامي شریعت د کلک ملاتړ څخه برخمن دی ځکه چې په دې کې دبشر خیر او مصلحت پروت دی او دغه مصالحو ته به په لاندی ډول اشاره وکړو.

1. نسب انسان ته د معنوي پرمختګ او تل پاتې کېدو احساس ورکوي.

لکه څرنګه مو چې بورته وویل چی نسب هغه نظام دی, چې په هغه سره د انسان د ژوند ترټولو اړین روحي او اوچت حاجت پوره کېږي, او هغه حاجت دا دی ، چې هر انسان هیله لري ترڅو پدې فانی دنیا کې د تل لپاره پاتې شي, خو دا یوازې د الله جَلَّ جَلالُهُ لپاره ممکنه ده نه د بل چا لپاره ، او انسان نشي کولای چې دا امتیاز ترلاسه کړي ، مګر د اولاد او راتلونکي نسل له لارې دا ممکنه ده ، چې په دنیا کې د یو څه وخت لپاره نسبي ژوندی پاتې شي ، له همدې امله کله نا کله سړی مړکېږي ، خو دی ډاډه او قانع وي چې دی به همیشه ژوندی وي, ځکه د ده اولاد ونه به د ده ځای ناستی کوي, او د ده ارمانونه او هیلې به پوره کوي,

---

[1]) سورة الاحزاب ، اية ، 5.

او د ده ژمنې به سرته رسوي, او د ده له دوستانو سره به دوستي, او د ده له دښمنانو سره به دښمني کوي, او د ده د عزت او شرافت څخه به ساتنه کوي).([1])

لکه څنګه چې اولاد ونه هم د پلرونو او نیکونو د تېر تاریخ له لارې خپل ژوند یو ډول له مخکښني تاریخ څخه پیل کوي, یعنې کله چې اولاد ونه د خپلو نیکونو تیر تاریخ لولي نو دا احساس کوي, چې د هغوی لاسته راوړنې زموږ لاسته راوړنې دي, او د هغوی په نیکو کارنامو ویاړکوي, او د هغو عزت او شرافت خپل عزت او شرافت بولي ، نو د نسب له لارې د انسان ژوند له حقیقي ژوند څخه زیاتېږي).([2])

2.نسب د بشریت د پت او عزت ساتنه کوي:

الله جَلَّ جَلالُهُ انسان په یوه پاک طبعیت کې پیدا کړی دی, او له هرې بدۍ او چټلۍ څخه نفرت کوي ,او له هرې پاکې او پاک لمنې سره ټینګې اړیکې لري, او په ټول توان سره کوښښ او هڅه کوي, چې دغه پاکې او پاک لمنې خپله کړي.

همدا رنګه د نسب ثبوت مور له هر ډول تعرض ، عار ، ذلت, او اتهام څخه ساتي, اوهمدا راز د نسب ثبوت د ماشوم د معنوي او مادي ښیګڼو ساتونکې دی, او د کوم ماشوم چې نسب معلوم وي د هغه په لومړي قدم کې په ښه توګه جسمي او روحي پالنه کېږي, او په دویم قدم کې دی په هسکه غاړه خپل ژوند ته ادامه ور کوي, او له ټولو معنوي ارزښتونو څخه هم برخمن وي, او د کوم ماشوم چې نسب معلوم نه وي په لومړي قدم کې د هغه جسم او وجود د سلو خطرونو سره مخامخ کوي, چې کله کله د شرم او پیغور له وجې دا ډول ماشوم په ډېرانونو او ناپاکو ځایونو کې غورځول کېږي.

او که چېرې داسې ماشوم ژوندی هم پاتې شي, او یو څوک یې پالنه وکړي نو کله چې لوی شي اوپدې خبرشي چې زما نسب معلوم نه دی, نو په خلکو کې ځان سپک احساسوي, او تردې چې د خپل ځان د وژلو هڅه هم کوي, ځکه هیڅوک دا نه غواړي چې خپله د ځان لپاره او همدا ډول د نورو لپاره د شرم او پیغور لامل جوړشي.

لکه څنګه چې بي بي مریم رضی الله عنها خپل ماشوم (عیسی علیه السلام) پرته له دودیزې او شرعي لارې وزېږاوه نو د زیات شرم له وجې یې دا هیله درلوده چې کاشکې زه له دې کار څخه مخکې مړه شوي وای او له ټولوخلکو هېره شوي وای لکه څنګه چې قرآن کریم همدا کېسه په دې ډول بیانوي:

---

[1]) عمر السبیل ، .البصمة الوراثیة و مدی مشروعیة استخدامها فی النسب والجنایة، ص -95.

[2]) لینة بنت دادة ، اثبات النسب باالوسائل العلمیة، ص -15.

﴿ **فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَى جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَالَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَنْسِيًّا** ﴾.([1]) ژباړه: نو مجبوره کړه هغې لره(مریم علیهاالسلام) د زېږېدون دردونو د خرما (د ونې) ډډ ته ویې ویل ، ای کاش مخکې له دېنه مړه شوې وای ، او وی زه هېره کړل شوې په هېره ولو سره.

خو کله چې د الله جَلَّ جَلالُهُ له لورې ورته معلومه شوه ، چې له تا څخه دغه ډول زېږون د الله جَلَّ جَلالُهُ د قدرت یوه لویه نښه ده ، او ته له هر ډول خطا او تېروتنې څخه پاکه یې. نو له دې څخه وروسته دا ډاډه شوه.

نو معلومه شوه چې د انسان نسب معلومېدل له انسان څخه هر ډول شرم او پیغور لرې کوي ، کوم چې انسان ته د ګناه یا د انساني فطرت د اصولو د مخالفت په صورت کې پیدا کېږي.

نو په همدی اساس اسلامی شریعت د نسب معلومولو ته جدی پاملرنه کړې د مثال په ډول:

لومړی: الله جَلَّ جَلالُهُ خپلو بند ګانو ته دا امر کړی ، چې د شخص نسبت د هغه (حقیقي) پلارته وکړي لکه چې فرمايي:

﴿ **ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ...** ﴾.([2]) ژباړه: آواز کوئ دوی ته د پلرونو په نسبت سره یې دا د الله په وړاندې د انصاف خبره ده.

دویم: همدارنګه الله جَلَّ جَلالُهُ د معتدي ښځې (هغه چې حکماً د بل چا په نکاح کې وي)سره نکاح منع کړې ده ، حکمت یې همدا دی ، چې د ماشوم نسب معلوم وي ، او ګډوډ نشي.

لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي:

﴿ **وَلَا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنْفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ** ﴾.([3]) ژباړه: او مه کلکوئ غوټه ، د نکاح تړلو تر هغې چې ورسیدلې عدت خپلې نیټې ته ، او پوه شئ چې یقینا الله جَلَّ جَلالُهُ پوهېږي په هغه څه چې ستاسو په زړونوکې دي, پس ځان وساتئ د هغه(له مخالفت) نه ، او پوه شئ چې الله جَلَّ جَلالُهُ بښونکې او نرمي کوونکې دی.

دریم: رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نسب د ساتنې په خاطر د هغه چا لپاره سخت وعیدونه بیان کړي چې د نسب د ګډ وډولو اراده کوي. لکه چې فرمايي:

---

[1]) سورة المريم ، اية ، 23.

[2]) سورة الاحزاب ، اية ، 5.

[3]) سورة البقرة ، اية ، 235.

(من ادعى إلى أب غير أبيه وهو يعلم أنه غير أبيه فالجنة عليه حرام).([1]) ژباړه: چا چې د(خپل نسب) دعوه له خپل پلاره پرته بل چا ته وکړه نو جنت په هغه باندې حرام دی.

څلورم: اسلامي شریعت تبني(پردی زوی خپل زوی بلل) منع کړي ، کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین له راتګ څخه مخکې او د اسلام په ابتداء کې رواج ؤ ، او رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم زید بن حارثه په زوی ولی سره نیولي ؤ ، او خلکو به ورته په زید بن مُحَمَّد سره اواز کولو.

خو وروسته قرآن کریم دا کار منع کړ. لکه څنګه چې الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي:

﴿ **مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ذَلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ** ﴾.([2]) ژباړه: ندی جوړ کړی الله تعالی هیڅ سړي لره دوه زړونه په خیټه د هغه کې, او نه یې دی ګرزولي هغه ښځې ستاسو چې ترې نه ظهار کوي مورګانې ستاسې, او نه یې دي ګرزولې هغه اواز کړل شوي ستاسو ، بچیان ستاسو ، دغه ستاسو د خولو خبره ده ، الله حق وایي او هغه (د برابري) لارې ښوونه کوي.

نو معلومه شوه چې اسلامی شریعت نسب ته جدی پاملرنه کړي.

**دویمه فرعه: د نسب د سا تنې قانوني ملاتړ**

د افغانستان مدني قانون او د نړۍ د ټولو اسلامي هیوادونو ، بلکې د کفري هیوادونو قوانینو د نسب د ثبوت او معلومولو څخه کلک ملاتړ کړی دی, چې د افغانستان مدني قانون په خپل وارسره د نسب د ثبوت او تنظیم لپاره د لومړي څپرکي د لسم مبحث لومړیه فرعه ځانکړې کړې ده.

چې مونږ به د نوموړي فرعې مواد لاندې رانقل کړو.

**لومړی جزء:**

په صحیح نکاح کې د نسب ثبوت:

**217ماده:** د حمل کمه موده شپږ میاشتې ، او زیاته موده یې یو کال ده.

**218ماده:** په صحیح واده(ازدواج) کې د هرې ښځې ماشوم مېړه ته منسوببېږي, پدې شرط چې د واده په عقد کې د حمل کمه موده تېره شوې وي, د مېړه او ښځې ترمنځ یوځای والی او صحیح خلوت ثابت وي.

**219 ماده:** که ښځه د واده(ازدواج) له عقد څخه وروسته د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې ماشوم وزیږوي ، نو ماشوم مېړه ته نه منسوب کېږي, مګر دا چې مېړه د زنا له لارې څخه د ماشوم نسبت ځانته وکړي.

---

[1]) البخاری ، **صحیح البخاری،** باب غزوة الطائف ، ص ـ 870، شماره ، 4326. او احمدابن حنبل ، **مسند امام احمدبن حنبل ،** ج ـ 2. ص ـ 235،

[2]) سورة الاحزاب ، اية ، 5.

**دویم جزء:**
د جدايې او د مېړه له مرګ نه وروسته د نسب ثبوت:
**220 ماده:** که د طلاق یا مړینې معتده د مېړه له طلاق یا مړینې څخه وروسته د یوه کال څخه په زیاته موده کې وزیږیږي، د داسې معتدې د نسب دعوا نه اورېدل کېږي، مګر دا چې د طلاق په صورت کې په خپله مېړه او د مړینې په صورت کې د مېړه ورثه د ماشوم نسبت خپل ځانته وکړي.
**221 ماده:** که طلاقه شوې ښځه یا د مېړه له مرګ څخه وروسته د خپل عدت په پوره کېدو اقرار وکړي، د هغوی د ماشوم نسبت مېړه ته هغه وخت ثابتېږي، چې زېږېدنه له اقرار څخه وروسته د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کې یا د مېړه له طلاق یا مړینې څخه د یوه کال نه په کمه موده کې ترسره شوې وي.
**درېیم جزء:**
په فاسده نکاح کې او د شبهې په دخول کې د نسب ثبوت.
**222 ماده:**(1) د ښځې ماشوم په فاسده نکاح کې هغه وخت مېړه ته ثابتېږي، چې ماشوم لږ ترلږه شپږ میاشتې وروسته د دخول دنیټې څخه زېږېدلی وي.
(2) د متارکې یا جدايې په حالت کې ماشوم هغه وخت مېړه ته منسوبېږي، چې لږ تر لږه د یوه کال په اوږدو کې زېږېدلی وي.
**223 ماده:** د نسب د ثبوت په حالت کې که څه هم نکاح فاسده وي، او یا د دخول په شبهې سره ترسره شوې وي، د خپلوۍ مرتب آثارلکه نفقه ، میراث ، حرمت او داسې نور ثابتېږي.
**څلورم جزء:**
په نسب اقرار.
**224 ماده:** د نسب ثبوت د زوی ولي د اقرار په وسیله که څه هم د مرګ په مرض کې وي ، هغه وخت ترسره کېدای شي چې:
1.اقرار کوونکي په داسې عمر کې وي ، چې اقرار کړل شوی د هغه زوی کېدلای شي.
2.اقرار کړل شوی معلوم نسب ونلري.
3.ممیز اقرار کړل شوی د اقرارکوونکي د دعوې تصدیق وکړي.
**225 ماده:** د نسب اقرار د ښځې یا معتدې په وسیله هغه وخت ثابتېږي، چې مېړه د ښځې اقرار تصدیق او د ښځې لخوا ثابتوونکې دلیلونه اقامه شوي وي.
**226 ماده:** که د چا نسب معلوم نوي، او د بل چا په پلارولي یا موروِلي اقرار وکړي ، د هغه نسب هغه وخت ثابتېږي چې:
1.اقرار کوونکي په داسې عمر کې وي چې د اقرار کړل شوي زوی کېدلی شي.
2.اقرار کړل شوی د اقرار کوونکي دعوه تصدیق کړي.
پدې صورت کې د پلارولي اوزوی ولي حقوق په یو بل ثابتېږي.
**227 ماده:** په نسب اقرار د زوی ولي، پلار ولي، او موروِلي، نه بهر په بل چا تأثیر نلري مګر دا چې تصدیق یې کړی وي.

**228 ماده:** (که د چا نسب معلوم وي ، او د زوی په صفت ونیول شي د نسب د ثبوت آثار لکه نفقه ، د حضانت اجره ، میراث ، د مصاهرت حرمت ، او د طلاقې شوې ښځې حرمت پرې نه مرتب کېږي.

**ارزونه:**

له پورتنیو مطالبو څخه په ډاګه کیږي ، چې د نسب ساتنه هم د اسلامي شریعت ، او هم د افغانستان د قوانینو له کلک ملاتړ څخه برخمنه ده ، لکه څرنګه چې پوهیږو د افغانستان مدني قانون له اسلامي فقهې څخه پیروي کوي ، او اسلامي فقهې له نسب ساتنې څخه په پراخه پیمانه ملاتړ کړی دی ، خو د افغانستان مدني قانون د نسب د ساتې ملاتړ یواځې په دنیوي انداز سره کړی ، مګر لکه څرنګه چې د شریعت د مفهوم ساحه ډیره پراخه ده ، نو شریعت د نسب ساتنه هم په دنیوی انداز ، او هم په اخروی انداز سره کړی ، د مثال په توګه رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايې: **(من ادعى إلى أب غير أبيه وهو يعلم أنه غير أبيه فالجنة عليه حرام)**.([1]) ژباړه: چا چې د(خپل نسب) دعوه له خپل پلارڅخه پرته بل چا ته وکړه نو جنت په هغه باندې حرام دی. نو دا یو اخروی ملاتړ دی چې په قانون کې دا ډول ملاتړ شتون نلري.

[1]) البخارى ، **صحيح البخارى**، باب غزوة الطائف ، ص ـ 870، شماره ، 4326. او احمدابن حنبل ، **مسند امام احمدبن حنبل** ، ج ـ 2. ص ـ235،

## دوهم فصل

## دنسب دثبوت لپاره شرعی او قانونی دلیلونه

**د نسب د ثبوت لپاره دليلونه**

د نسب د ثبوت لپاره دوه ډوله دليلونه شتون لري ، چې ځينې يې د فراش (کوروالی) اړوند دليلونه او ځينې يې نور عام دليلونه دي.

**د فراش (کوروالی) اړوند دليلونه:** د فراش اړوند دليلونه هغه دليلونه دي ، چې په هغه سره يوازې نسب ثابتيږي ، او د نورو عامو چارو د ثبوت لپاره نه کارول کيږي.

**عام دليلونه:** هغه دليلونه دي چې په هغو سره د نسب نه پرته نورې عامې چارې هم ثابتيږي.

نو ما پدې څېرکي کې دوه مبحثونه په نظر کې نيولي ، چې لومړی مبحث يې د فراش اړونده دلايلو سره د نسب ثبوت د څېړنې لپاره ځانګړی شوی ، او دويم مبحث يې په عامو دلايلو سره د نسب ثبوت د څېړنې لپاره ځانګړی شوی.

**لومړی مبحث: په فراش سره د نسب ثبوت**

فراش د نسب د ثبوت لپاره اساسي دليل دی ، چې په مجموع کې په فراش سره نسب له دريو لارو ثابتږي:

1.صحيح واده.

2.فاسد واده.

3.په شبهې سره دخول.

نو دغه مبحث درې مطلبونه لري ، چې لومړی مطلب يې په صحيح واده سره ، او دويم مطلب يې په فاسد واده سره ، او دريیم مطلب يې د نسب ثبوت د شبهې په دخول سره تر څېړنې لاندې نيسي.

**لومړی مطلب: صحيح نکاح**

په دي باندې فقهاؤ اتفاق کړيی چې نکاح يا واده د نسب د ثبوت او ساتنې لپاره يوازينۍ وسيله ده ، او د دې ترڅنګ واده د نسب د ثبوت لپاره يو قوي دليل هم دی ،([1]) کوم چې د افغانستان مدني قانون پدې اړه داسې صراحت کړی دی.

(218ماده: په صحيح واده(ازدواج) کې د هرې ښځې ماشوم مېړه ته منسوبيږي ، پدې شرط چې د واده(ازدواج) په عقد کې د حمل کمه موده تېره شوې وي ، د مېړه او ښځې تر منځ يوځايوالی او صحيح خلوت ثابت وي).([2])

او همدا راز د دې قانون د 222 مادې لومړيه فقره د فاسدې نکاح په اړه او د شبهې د دخول په اړه داسې صراحت کوي: ( د ښځې ماشوم په فاسده نکاح کې ، هغه وخت مېړه ته ثابتيږي ، چې ماشوم لږ ترلږه شپږ مياشتې وروسته د دخول له نيټې څخه زيږيدلی وي.)

نو په دغه مطلب کې د صحيح واده (نکاح) تعريف ، ارکان ، شرطونه ، او په هغې سره د نسب ثبوت څېړل کيږي.

[1]) الصنعانی، **بدايع الصنايع**، ج 3، ص ــ 211. ابن قدامة، **المغني**، ج 7، ص ــ 428.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون**، 218 ، ماده.

## لومړی فرعه: د نکاح ( واده ) لغوي تعریف

نکاح په عربي ژبه کې ضم (يوځای کېدو) يا اختلاط(ګډېدو)ته وايي: لکه عرب وايي:(**تناکحت الاشجار، اذا انضم بعضها الى بعض، و نکح المطر الارض، اذا اختلط بترابها**).([1]) ژباړه: ونو نکاح وکړه ، کله چې يو له بلې سره يوځای شې ، او باران له ځمکې سره نکاح وکړه ، کله چې هغه له خاورو سره ګډ شي.

## دویمه فرعه: د نکاح شرعي معنا

په نصوصو کې د نکاح لفظ د دوو معناګانو لپاره استعمال شوی دی ، چې یوه معنا یې وطئ (کوروالی) ده او بله معنا یې عقد دی.

نو په همدې اساس ، علماؤ د نکاح د شرعي معنا په اړه په خپل منځ کې سره اختلاف کړی:

### د احنافو په اند د نکاح شرعي معنا:

د حنفي مذهب علماؤ کرامو د نکاح شرعي معنا په وطئ سره کړی دی. ([2])

دوی وايي چې د نکاح حقيقي معنا وطئ (کوروالی ) ده او د عقد لپاره په نصوصو کې په مجازي معنا سره استعمال شوی ده ، يعنې کله چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې د نکاح کلمه راځي ، او يوه داسې دلالت کونکې قرينه هم موجوده نوي ، چې له دغو دواړو معنا ګانو څخه په يوه معنا باندې د اطلاق کولو دلالت وکړي ، نو د دې لفظ حقيقي معنا به وطئ (کوروالي) وي.

لکه دا آيت کريمه:

﴿ **وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا** ﴾.(3)ژباړه: نکاح مه کوئ له هغو (ښځو) سره چې په نکاح کړي دي پلرونو ستاسو له ښځو څخه ، مګر ( معاف دي) هغه څه چې مخکې شوي دي ، بې له شکه دا کار ډېر بد او تباه کوونکې دی ، او انجام يې ډېر بد دی.

دوی وايي چې په دې آيت کريمه کې د نکاح نه مراد وطئ ده ، او منعه له وطئ څخه راغلې ده ، ځکه چې يواځې په عقد سره مينه او دوستانه اړيکې نه پرې کېږي ، کوم چې په دې آيت کې د حکم لپاره علت ګرځول شوی دی ، او د لغوي معنا سره هم مناسبت لري.([4])

### د مالکيانو او شوافعو په اند د نکاح شرعي معنا:

مالکيان او شوافع پدې نظر دي چې د نکاح حقيقي معنا عقد دی ، او د وطئ (کوروالي) په معنا مجازْ استعمالېږي. خو دا نظر د نکاح د لغوي معنا سره ټکر لري.

د دوی دليل دا دی ، چې په قرآن کريم او احاديثو کې د نکاح لفظ د عقد په معنا سره زيات استعمال شوی دی ، او له دغه آيتونو څخه يو دا آيت کريمه هم دی:

---

[1]) ابن منظور ، **لسان العرب**، ج ـ 2، ص ـ625.

[2]) السرخسی ، **المبسوط للسرخسی**، ج 4، ص ـ 192.

[3]) سورة النساء ، اية ، 22.

[4]) الجزيری ، **الفقه علي مذاهب الاربعة** ج ـ 4، ص ـ7.

﴿ ...فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ... ﴾.(1)

ژباړه: پس که طلاق(دریيم) يې ورکړ دي لره ، پس نه ده روا دا(ښځه) ده لره وروسته له دې (درېيم طلاق) تر څو چې دې نکاح نوې کړي له بل مېړه سره.
دوی وايي چې له تنكح څخه مراد عقد دی ، نه وطئ ، دا ځکه چې وطئ د ښځې کار نه دی ، نو دا قرينه شوه په دې باندې چې د نکاح حقيقي معنا عقد ده.
خو که چېرې آيت په دغه معنا حمل شي ، نو د تحليل لپاره مجرد عقد کفايت کوي ، لکن دغه مفهوم معتبر ندی ، ځکه چې صريح حديث شريف شتون لري ، چې مجرد عقد کفايت نکوي. لکه رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې داسې فرمايلي دي:
( **حتى تذوقى عسيلته** ).([2]) ژباړه: تر څو چې تا د هغه خوند نوي څکلې.

**د نکاح د شرعي معنا په اړه معتدل او راجح نظر:**

درېيم نظر دا دی: چې د نکاح لفظ يو مشترک لفظ دی ، په مابين د وطئ او عقد کې. او همدا ظاهر قول او نظر دی ، ځکه چې په قرآن کريم او احاديثو کې د دواړو (عقد او وطئ ) معناګانو لپاره استعمال شوی دی.([3])

**د نکاح فقهي تعريف:**

**د نکاح تعريف احنافو داسې کړی دی:**

( النکاح عقد يفيد ملک المتعه بالانثی قصدا ).([4]) ژباړه: نکاح هغه عقد دی ، چې په قصدي توګه د ښځې د متعې ملکېت افاده کوي.

**او مالکيان وايي:**

( النکاح عقد يحل تمتع بانثى غير محرمة ومجوسية ).([5]) ژباړه: نکاح هغه عقد دی ، چې پرته له محرمې او مجوسې ښځې متعه( جنسي نفعه اخستل ) روا کوي.

**شوافع وايي:**

(النکاح عقد يتضمن اباحة وطئ بلفظ النکاح او تزويج او ترجمتة ).([6]) ژباړه: نکاح هغه عقد دی چې متضمن وي ، د وطئ اباحت (روا والي) ته په لفظ د نکاح يا تزويج او يا هم د هغه په معنا سره.

---

[1]) سورة البقرة ، اية ، 235.
[2])) البخارى ، **صحيح البخارى**، باب شهادة المختبئ ، شماره ، 2639.
[3]) الجزيرى ، **الفقه علي مذاهب الاربعة** ج - 4، ص -7.
[4]) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية –الكويت ، **الموسوعة الفقهية الكويتيه** ، ج - 41، ص - 205.
[5]) خلوتى ، **حاشية الصاوى**، ج - 2، ص -332.
[6]) الشربينى ، **مغنى المحتاج**، ج - 3، ص -123.

**جامع تعریف:**

عقد النكاح وضعه الشارع ليترتب عليه انتفاع الزوج ببضع الزوجة وساير بدنها من حيث التلذذ).([1]) ژباړه: نکاح هغه عقد (تړون) دی ، چې شارع وضع کړی تر څو مېړه ته د هغه په اساس باندې د ښځې له خاص اندام او د هغې له نور بدن څخه نفع اخیستل او خوند اخیستل مرتب شي.

**درېیمه فرعه: په قانون کې د نکاح تعریف**

د افغانستان مدني قانون د واده (ازدواج) څخه تعریف کړی.

او په دې اړه داسې صراحت کوي:(ازدواج یو عقد دی ، چې د ښځې او سړي معاشرت یې د کورنۍ د تشکېلولو په مقصد مشروع کړی ، چې د دواړو خواوو حقوق او واجبات تنظیموي).([2])

**ارزونه:**

د فقهاؤ تعریف او د افقانستان د مدني قانون د تعریفونو ترمنځ کوم اساسي پوپیر نه لیدل کیږي خو دغه د مدني قانون تعریف یو دقیق تعریف دی ، مګر زما په اند که چېرې په دغه تعریف کې وروستی قید (تنظیموي) ثابتوي راغلی وي ، نو دا به ډېر دقیق وي.

**دویم مطلب: په فقهه او قانون کې د واده ارکان**

**لومړۍ فرعه: په فقه کې د واده ارکان**

فقهاؤ د نکاح د ارکانو په اړه بېلابېل نظرونه وړاندي کړي چې په لاندې ډول دي.

**د احنافو په اند د رکن تعریف:**

دوی وایي: چې رکن عبارت دی (له هر هغه شي څخه چې په هغه باندې د یوه بل شي وجود ولاړ وي ، او په خپله د دغه شي د حقیقت داخلي برخه هم وي ).([3])

له دې تعریف څخه معلومېږي ، چې د احنافو په اند ، یو شي هغه وخت رکن جوړېدلای شي چې دوه ځانګړتیاوې ولري.

1: د یو شي وجود په هغه باندې ولاړ وي.

2: په خپله د هغه شي داخلي برخه هم تشکېل کړي.

---

[1]) الجزيری ، **الفقه علي مذاهب الاربعة**، ج ـ 4، ص ـ7.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون**، 61، ماده.

[3]) كمال بن الهمام ، **فتح القدير**، ج 1، ص ـ192. الزحيلى ، **الفقه الاسلامى وادلته**، ج ـ 9، 6521.

**د جمهور علماؤ په اند د رکن تعریف:**

جمهور علماء وايي: چې رکن عبارت دی (له هر هغه شي څخه چې په هغه باندې بل شي ولاړ وي ، برابره خبره ده  که دا شي د دغه بل شي د حقیقت داخلي برخه وي اوکه نه).([1])

نو د دغه اختلاف پر بنسټ ، چې کوم دوی د رکن په تعریف کې کړی ، د دوی نظرونه د واده د ارکانو په شمېر کې هم سره بېل دي.

**د احنافو په اند د نکاح ارکان:**

احناف وايي چې د نکاح ارکان دوه دي ، چې یو ایجاب او دویم یې قبول دی. او د احنافو په اند ایجاب عبارت دی ، له هغې لومړنۍ خبرې څخه چې (د نکاح د تړون لپاره) د یو له عاقیدینو څخه صادرېږي ، هغه که مېړه وي او که میرمن یا یې اولیاء. او د دوی په اند ، قبول عبارت دی له هغې خبرې څخه چې دویم ځل صادرېږي ، له مقابل لوري څخه.

**د جمهور علماؤ په اند د نکاح ارکان:**

جمهور علماؤ وايي: چې د نکاح ارکان څلور دي.

1: صیغه(ایجاب اوقبول ) 2: مېړه ، 3: میرمن ، 4: ولي.

او د جمهورو په اند ایجاب عبارت دی ، له هغه کلام څخه چې د میرمنې ، یا د هغې د ولي ، او یا وکېل ، له لوري د نکاح د تړلو په موخه صادرېږي. او قبول هغه وینا ده  چې د مېړه له طرفه د همدې موخې لپاره صادره شي ، او د هغه په رضا او خوښۍ باندې دلالت وکړي. نو که چېرې یو سړی یوې ښځې ته ووایي چې زما سره واده وکړه ، او ښځه ووایي چې سمه ده. د احنافو په نزد د سړي وینا ایجاب ده ،  او د ښځې وینا قبول ده. او د جمهورو په نزد برعکس.([2])

**د ایجاب او قبول الفاظ:**

ایجاب او قبول کله په الفاظو صادرېږي ، او کله په لیکنه ، او کله په اشارې سره. او کوم ایجاب او قبول چې په الفاظو سره ترسره کېږي د الفاظو له لحاظه په درې ډوله دي.

[1]) الدردیر ،  **شرح الکبیر وحاشیة الدسوقی**، ج 2 ص -3. **مغني المحتاج** ، ج 3، ص -2.  الزحیلی ،  **الفقه الاسلامی وادلته** ، ج - 9، 6521.

[2]) الدردیر ،  **الشرح الکبیر وحاشیة الدسوقي**،  ج 3، ص –3.  الزحیلی ،  **الفقه الاسلامی وادلته** ،  ج - 9، 6522.

**لومړی:** هغه الفاظ چې په هغه سره د واده تړل کېدل په اتفاق د علماؤ صحيح دي ، لكه د زواج او نكاح الفاظ ، ځكه چې دا الفاظ په نص كې راغلي ، لكه څرنګه چې الله فرمايلي:

1-﴿ ...**زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ**... ﴾.[1] ژباړه: په نكاح مو دركړه تاته دا ، د دې لپاره چې نوي پر مؤمنانو تنګسيا.

2-﴿ **وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ**... ﴾.[2] ژباړه: او نكاح مه كوئ له هغه چا(ښځو) سره چې په نكاح كړې دي پلرونو ستاسو.

**دويم:** هغه الفاظ چې د علماؤ په اتفاق سره د نكاح عقد نه ور باندې تړل كېږي. لكه اباحت ، اعاره ، اجاره ، متعه ، وصيه ، رهن ، وديعت او داسې نور ، ځكه چې دغه الفاظ د عين په تمليک نه فی الحاله ، او نه تر مرګه پورې د تمليک په بقا باندې دلالت كوي.

**درېيم:** هغه الفاظ دي چې د علماؤ پكې اختلاف دی ، چې آيا په دغه الفاظو سره د نكاح عقد تړل كېږي او كنه ؟ لكه بيعه ، صدقه ، هبه ، عطيه او داسې نور ، كوم چې د عين د تمليک د هغه تر مرګه پورې په بقاء باندې دلالت كوي. په دغه الفاظو سره د نكاح د عقد د تړون د صحت په اړه دوه نظريې دي:

**لومړی:** احناف او مالكيان:

دوی وايي: چې پدې الفاظو سره نكاح تړل كېږي ، خو په دوو شرطونو سره:

1: دا چې نيت يې د نكاح تړل وي.

2: قرينه هم شتون ولري ، كومه چې دلالت وكړي ، په تړون د نكاح باندې لكه: د مهر يادول ، او د خلكو را ټولېدل ، او شاهدان هم په دې باندې پوه وي ، چې مقصد د دوی نكاح تړل دي. او په قرآن كريم كې راغلي چې د هبې لفظ په واده دلالت كړی:﴿ **وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ** ﴾.[3] ژباړه: او يوه مؤمنه ښځه كه چېرې وبښي ځان خپل نبي ته ، كه چيرې وغواړي نبي چې په نكاح يې كړي هغې لره (دا) يواځې ستا لره ده ، پرته له نورو مومنانو څخه.

---

[1] سورة الاحزاب ، اية ، 37.

[2] سورة النساء ، اية ، 22.

[3] سورة الاحزاب ، اية ، 50.

**دلایل یې دا دي:**

**1- دا** چې له ایجاب او قبول څخه مقصود دا دی ، چې د طرفینو اراده په خپل منځ کې یو او بل ته ، او شاهدانو ته معلومه شي ، الفاظ خو معتبر ندي.

2: د رسول الله(ص) هغه وینا ده ، کومه چې یې هغه سړي ته کړې وه ، چې مال یې نه درلود. کوم یې چې ښځې ته د مهر په توګه ورکړي وای:(**اذهب فقد ملّكتكها بما معك من القرآن**).([1])

ژباړه: ځه لاړ شه درمې کړه ، تاته دا په مقابل د هغه څه کې چې ستاسره دي له قران څخه.

**دویم:** شوافع او حنابله وایي: چې د نکاح عقد یواځې د نکاح او تزویج په الفاظو سره صحیح کېږي نه په بل لفظ سره.

**دلایل یې دادي.**

دا چې په قرآن کریم کې د نکاح لپاره یواځې د نکاح او تزویج الفاظ ذکر شوي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایي:

1- ﴿ ...**زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لَا يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ**... ﴾.([2]) ژباړه: په نکاح مو درکړه تاته دا ، د دې لپاره چې نوي پر مؤمنانو تنګسیا.

2- ﴿ **وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ**... ﴾.([3]) ژباړه: او نکاح مه کوئ له هغو (ښځو) سره چې په نکاح کړې وي پلرونو ستاسو.

او په کومو دلائلو چې احنافو او مالکیانو استدلال کړی ؤ ، له هغه څخه داسې ځواب کوي:

د هغوی لومړی دلیل دا ؤ ، چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ **وَامْرَأَةً مُؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ** ﴾.([4]) ژباړه: او یوه مؤمنه ښځه که چېرې وبښي ځان خپل نبي ته ، که چیرې وغواړي نبي چې په نکاح یې کړي هغی لره (دا) یواځې ستا لره ده ، پرته له نورو مومنانو څخه.

د دې دلیل څخه داسې ځواب ورکوي ، چې دا د نبي کریم ﷺ له خصوصیاتو څخه دي.

---

[1]) الشوکاني ، **نیل الاوطار من أحادیث سید الأخیار شرح منتقی الأخبار**، ج - 6 – ص ـ 221. ا حدیث حسن دی ، الباني ، **صحیح وضعیف الجامع الصغیر**، ج ـ 2 ، ص ـ 363.

[2]) سورة الاحزاب ، آیة ، 37.

[3]) سورة النساء ، اية ، 22.

[4]) سورة الاحزاب ، اية ، 50.

دويم دليل يې حديث دی ، کوم چې رسول الله ﷺ هغه سړي ته دا خبره کړې وه (**اذهب فقد مَلّکتکها بما معك من القرآن**)([1]) ژباړه: ځه لاړ شه نو در مې کړه ، دا تا ته په مقابل د هغه څه کې چې ستاسره دي له قران نه. نو له دې څخه داسې ځواب کوي چې دا د راوي ګمان دی ، ګويا راوي حديث په معنا سره را نقل کړی دی. ځکه چې دغه حديث جمهورو راويانو د زوجناکها په لفظ سره را نقل کړی ، او که صحيح هم وي د جمهورو راويانو سره خو ټکر دی.

## دويمه فرعه: په قانون کې د واده ارکان

د افغانستان مدني قانون د واده د ارکانو په اړه په صراحت سره څه نه دي ياد کړي ، خو د نوموړي قانون د 66 مادې څخه دا استنباطېږي چې د واده ارکان دوه دي ، چې يو ايجاب او بل قبول ، کوم چې د حنفي فقهاؤ نظر هم دا دی. نوموړې ماده داسې صراحت کوي (د ازدواج عقد په صريح ايجاب او قبول سره چې فوريت او استمرار افاده کړي ، بې د نېټې له قيد څخه په يو مجلس کې ترسره کېږي).([2])

د دغه مادې له متن څخه معلومېږي چې د نکاح ارکان دوه دي ، چې ايجاب او قبول دي ، او په دغه ماده کې چې کوم نور قيدونه لکه: (د فوريت ، استمرار افاده ، او د وخت نه قيدېدل او د مجلس اتحاد) دا ټول د ايجاب او قبول د صحت لپاره شرطونه دي.

**ارزونه:**

له پاسنيو مطالبو څخه معلوميږي چې د افغانستان مدني قانون د ايجاب او قبول پر رکنوالي دلالت کوي خو په دې اړه يې په د احنافو له مذهب څخه پيروی کړی.

## درېيم مطلب: د واده شرطونه

### لومړۍ فرعه: په فقه کې د واده شرطونه

د نکاح لپاره فقهاؤ يو سلسله شرطونه په نظر کې نيولي ، چې د نکاح د صحت ، نفاذ ، او لزوم لپاره اړين دي ، چې ځيني يې اتفاقي ، او ځينې نور يې اختلافي دي ، چې په مختصره توګه به لاندې ورته اشاره وکړو.

### لومړۍ برخه: د نکاح د صحت شرطونه

د نکاح د صحت شرطونه هغه شرطونه دي چې د نکاح صحت ور باندې ولاړ وي ، يعنې که هغه موجود وي نکاح خپل شرعي وجود پيدا کوي ، او په هغه باندې د نکاح اړوند ټول احکام او حقوق ثابتېږي ، او که

---

[1]) الشوکاني ، **نيل الاوطار من أحاديث سيد الأخيار شرح منتقى الأخبار**، ج ـ 6 –ص 221.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون**، 66، ماده.

دا شرطونه موجود نوي ، نو د نکاح شتون شرعي وجود نلري ، او د واده هيڅ ډول احکام وربانديې نه مرتب کېږي ، او دغه شرطونه په لاندې ډول دي:

**لومړی شرط:** دا چې سړی له کومې ښځې سره نکاح کول غواړي ، له هغې سره به يې نکاح کول شرعاً روا وي ، يعنې دا به له محرماتو څخه نوي ، برابره خبره ده چې د حرمت سبب يې ابدي ، او که موقتي وي. او دا اتفاقي شرط دی.

**دويم شرط: د** نکاح په عقد کې د شاهدانو شتون.

علماؤ پدې اړه اختلاف کړی ، او په دې اړه لاندې نظريې شتون لري:

**لومړۍ نظريه:** جمهور علماء په دې نظر دي چې له شهودو څخه پرته د نکاح عقد نه تړل کېږي ، اګر که دغه نکاح د شهرت په نورو وسائلو سره مشهوره هم شي.

**دويمه نظريه:** امام مالک([1])

او د هغه ملګري په دې باور دي چې په نکاح کې شهادت شرط نه دی ، صرف شهرت او اعلان يې ضرور دی ، او که چېرې په نورو وسائلو سره مشهوره شوه نو دغه شهرت يې د صحت لپاره بسنه کوي.([2])

د جمهورو علماؤ دلائل به لاندې ډول دي:

1: عن عائشة ان رسول الله ﷺ قال(**لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَيْ عَدْلٍ**)([3]) ژباړه: له عايشې رضی الله عنها څخه روايت دی ، چې رسول الله ﷺ وويل ، چې پرته له ولي او دوه عادلو شاهدانو څخه نکاح صحيح نه ده.

[1]) پوره نوم يې: أبو عبد الله مالك بن أنس بن مالك بن أبي عامر بن عمرو بن الحارث بن غميان ، الأصبحي المدني ، د دارالهجرة( مدينې) امام او د اهل السنة د څلورو امامانو څخه دويم امام دی ، په ( 90 ، يا 92، يا 95، هـ) د مدينې په شمال د (المروه) نومي کلي کې تولد شوی دی ، لومړی يې د قرآن کريم حفظ کړی ، د هغه وروسته يې حديثو ته مخه کړې ده ، امام مالک د ډېرو استادانو څخه د علم زده کړه کړې ده ، قرئت يې په نافع بن أبي نعيم لوستی ، استادان يې عبارت دي: له مُحَمَّدبن نسلم الزهري ، نافع مولى ابن عمر رضي الله عنه, عبدالرحمن بن ذکوان ، او عبدالله بن دينار څخه. شاګردان يې عبارت دي: له او زاعي ، يحيى بن سعد ، عبدالرحمن بن قاسم ، عبدالله بن وهب څخه ، کله به يې چې حديث بيانولو لومړی به يې اودس کولو ، ږيره يې ږومنځوله ، که به چا پوښتنه ترې وکوله ويل به يې ما ته دا ډېره خوښه ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث په داسې حال کې بيان کړم چې اودس ولرم ، سره له دې چې عمر يې زيات او جسم يې ضعيف وو بيا به هم په مدينه منوره کې په مرکب باندې نه سپرېده ، او ويل به يې: زه په هغه ځای کې په سپرلۍ باندې څنګه سپور شم چې هلته د رسول الله ﷺ مبارک جسد دفن شوی دی, امام مالك بناء د رواياتو په اختلاف په( 179هـ او يا 178هـ) وفات شوی دی.( ابن خلکان ، أبو العباس شمس الدين أحمد بن مُحَمَّد بن إبراهيم بن أبي بكر ابن خلكان البرمكي الإربلي.(ب.ت). **وفيات الأعيان. تحقيق.** إحسان عباس.بيروت. دارصادر. 4/ 135.

[2]) سيد سابق ، **فقه السنة**، ج - 2، ص - 56.

[3]) البيهقى ، **السنن الكبرى وفى ذيله الجوهرالنقى** ج - 7، ص - 125.

2: ابي زبير المكي روايت كړى(**أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رضي الله عنه - أُتِيَ بِنِكَاحٍ لَمْ يَشْهَدْ عَلَيْهِ إِلاَّ رَجُلٌ وَامْرَأَةٌ، فَقَالَ: هَذَا نِكَاحُ السِّرِّ , وَلاَ أُجِيزُهُ , وَلَوْ كُنْتُ تَقَدَّمْتُ فِيهِ لَرَجَمْتُ**).([1]) ژباړه: د خطاب زوى عمر ، ته يوه نكاح (د نكاح يوه قضيه ) راوړل شوه ، چې په هغه كې يواځې يو سړى او يوه ښځه شاهدان ول ، نو عمر وويل چې دا پټه نكاح ده ، او زه دې (نكاح ) ته جواز نه وركوم ، او كه چېرې زه دې(نكاح ) ته ورغلى واى خامخا به مې رجم كړي ول.

3: عقلي دليل دى. عقل په نكاح كې د شهودو د شتون غوښتونكي دى ، دا ځكه چې د نكاح عقد يو مهم عقد دى ، چې له عاقدينو څخه پرته د نورو انسانانو حقوق هم پكې را انغښتي دي. لكه د اولاد د نسبت ، نفقې او داسې نور حقوق.

**درېيمه نظريه:** ځيني نور علماء ، لكه شيعه ګان او عبدالرحمن ابن مهدي ، او يزيد بن

هارون ،([2]) ابن منذر([3]) د نكاح د صحت لپاره د شهودو موجوديت شرط نه بولي.

عبدالله ابن عمر([4]) او عبدالله بن زبير په خپله دا كاركړى (پرته له شهودوڅخه يې نكاح كړې) او همدا راز حسن ابن علي هم پرته له شاهدانو څخه نكاح وكړه ، او بيا يې وروسته اعلان كړه.([5])

**دويمه برخه: د شاهدانو شرطونه**

په اسلامي فقه كې د هر سړي شاهدي معتبره نه ده ، بلكې د شاهد د شهادت د صحت لپاره فقهاؤ يو سلسله شرائط ټاكلي دي ، چې پرته له هغه څخه شهادت اعتبار نلري ، او هغه شرطونه په لاندې ډول دي.

[1]) مالک بن انس ، **مؤطا امام مالک**، ج - 1 ، ص - 583- ، شماره ، 1508.

[2]) **پوره نوم يې:** يزيد بن هارون ، ابن زاذي ، الامام القدوة ، شيخ الاسلام ، أبو خالد السلمي مولاهم الواسطي ، الحافظ. د تابعينو له ډلې څخه يو اوچت عالم ، محدث ، متقى ، زاهد ، خيرخواه ، او داعى شخصيت دى د تولد نېټه يې ، 118. الزهبى ، **سير أعلام النبلاء**، ج - 9. ص - 358.

[3] ) **پوره نوم يې:** فتح الدين بن سيد الناس الإمام العلامة المحدث الحافظ الأديب البارع أبو الفتح مُحَمَّد بن مُحَمَّد بن مُحَمَّد بن أحمد بن عبد الله بن مُحَمَّد بن يحيى بن مُحَمَّد بن أبي القاسم بن مُحَمَّد بن عبد الله بن عبد العزيز بن سيد الناس بن أبي الوليد ابن منذر بن عبد الجبار بن سليمان اليعمري الأندلسي الأصل المصري:

تولد يې د 771. په ذي القعدة مياشت كې شوى او په اړه يې امام سيوطى وايې: وسمع من غازي والعز وخلائق نحو الألف ولازم ابن دقيق العيد وتخرج عليه وأعاد عنده عليه وكان يحبه ويثني عليه وأخذ العربية عن البهاء بن النحاس وكتب الخط المغربي والمصري فأتقنهما وكان أحد الأعلام الفاظ إماما في الحديث ناقدا في الفن خبيرا بالرجال والعلل والأسانيد عالما بالصحيح والسقيم له حظ من العربية حسن التصنيف صحيح العقيدة أديبا شاعرا بارعا متفننا في البلاغة ناظما ناثرا مترسلا ، ولي درس الحديث بالظاهرية وغيرها ، وصنف السيرة الكبرى والصغرى "وشرح الترميذي" لم يكمله فأتمه الحافظ أبو الفضل العراقي4 مات في شعبان سنة أربع وثلاثين وسبعمائة ولم يخلف في مجموع. السيطى ، **طبقات الحفاظ للذهبي** ، ج - 1 ، ص - 232.

[4]) **پوره نوم يې:** عبدالله داميرالمؤمنين عمر ابن الخطاب زوى ، د عمر له لحاظه د وړكوټكو صحابه ؤ له ډلې څخه ؤ ، يو فقيه ، مفتى ، درسول الله زيات پيرو او په خلقو كې يو منلى شخصيت ؤ چې 10 مخكى له هجرته تولد او په 73 كې وفات شوى دى.

[5]) سيد سابق ، **فقه السنة**، ج - 2 ، ص - 57-.

**1-عقل:** شاهد باید عاقل وي ، نو په دې اساس د لیوني شهادت نه صحیح کېږي.

**2-بلوغ:** یعنې شاهد باید د عقل نه پرته بالغ هم وي ، نو په دې اساس د ماشوم شهادت معتبرندی.

**3-په خبره پوهېدل او اورېدل:** شاهد باید د عاقدینو خبره واوري او ورباندې پوه هم شي ، نو په دې اساس د ګونګي شاهدي ورکول صحیح ندي او که اورېدونکي وي باید د عاقدینو په خبره پوه هم شي ، نو که چېرې داسې وشي چې عقد په پښتو ژبه تړل کېږي ، او داسې یو عرب کس ور باندې شاهد وي چې پښتو ژبه یې نوي زده ، نو د ده شاهدي شرعاً معتبره نده. ([1])

**4:عدالت :** خو علماؤ پدې اړه اختلاف کړی ، او لاندې نظریې شتون لري:

**لومړی:** احناف وايي چې په نکاح کې د شاهد لپاره عدالت شرط ندی او د فاسق په شهادت سره هم د نکاح عقد تړل کېږي.

**دویم:** شوافع وايي چې په نکاح کې د شهادت لپاره په شهودو کې عدالت شرط دی ، ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايي ﴿ **لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَيْ عَدْلٍ** ﴾ ([2]) ژباړه: له ولي او دوه عادلو شاهدانو پرته نکاح نه صحیح کېږي.

**راجح نظر:**

زما په اند د شوافعو نظر درست دی ځکه چې په حدیث کې د عدل قید موجود دی.

**5-ذکورت:** د شاهدانو د نارینه والي په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف شتون لري.

**لومړی:** شوافع اوحنابله وايي: چې د نکاح لپاره د ښځینه ؤ شهادت معتبرندی شاهدان باید نارینه وي.او دلیل یې دا اثر دی عن ابي عبید عن الزهری انه قال (مضت السنة عن رسول الله ﷺ (**أن لا یجوز شهادة النساء في الحدود، ولا في النكاح، ولا في الطلاق**).([3]) ژباړه: ابي عبید له زهري څخه روایت کړی چې وايي ، د رسول الله ﷺ (له زماني)څخه دا سنت را روان دي چې د ښځو ګواهي په حدودو ، نکاح ، او طلاق کې جایز نه ده.او بل دوی وايي چې پدې عقد کې مال مقصود ندی.

---

[1]) سید سابق ، **فقه السنة**، ج - 2 ، ص -59.

[2]) الدار القطنی ، **سنن دار القطنی**، کتاب النکاح شماره ، 3532 .3533. او البیهقی ، **السنن الکبری وفی ذیله الجوهرالنقی**، ج - 7 ، ص - 125. دا حدیث له یوه روایته مرفوع ضعیف ، او له بله روایته صحیح موقوف دی. الباني ، **إرواء الغلیل في تخریج أحادیث منار السبیل** ، ج - 6 ، ص - 251.

[3]) سید سابق ، **فقه السنة** ج - 2 ، ص -59.

**دویم:** احناف وایي: چې د یوه سړي او دوه ؤ ښځو شهادت په نکاح کې معتبر دی ، دلیل یې دا آیت دی ﴿ **وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ...** ﴾.([1]) ژباړه: له نارینه ؤ څخه دوه شاهدان ولټوئ ، نو که دوه نارینه نه ؤ ، پس یو نارینه او دوه ښځینه(کافي دي) له هغه ګواهانو څخه چې تاسو یې خوښوئ.

او بل دلیل یې عقلي دی ، دوی وایي چې دا عقد د معاوضې عقد دی لکه بیعه.

### درېیمه برخه: د نکاح د نفاذ شرطونه

کله چې د نکاح عقد په داسې صورت کې وتړل شي ، چې د صحت شروط یې پوره کړي وي ، نو د نفاذ مرحلې ته رسېږي ، مګر دغه عقد د نفاذ په برخه کې له درېیو حالاتو څخه خالی ندی:

**1**-: دا چې دغه عقد به کامل الاهلیت تړلی وي ، او د بل چا په اجازه پورې به موقوف هم نوي. نو دغه عقد فی الحال نافذ دی.

**2**-: دا چې دغه عقد به ناقص الاهلیت تړلی وي ، لکه معتو ، ممیز ماشوم ، او یا غلام ، نو د دوی عقد د دوی د ولي او بادار تر اجازې پورې موقوف دی ، که اجازه یې ورکړه نافذ دی ، او که یې ورنه کړه باطل دی.

**3**-: دا چې فضولي سړي یعنې بیګانه د چا لپاره د نکاح عقد وتړي ، او یا یې وکېل وي ، چې له داسې چا سره یې نکاح وکړي ، چې د ده د سپارښتنې خلاف وي ، نو دا ډول تړون د ناکح تر اجازې پورې موقوف دی.([2])

### څلورمه برخه: د نکاح د لزوم شرطونه

د نکاح عقد هغه وخت لازمېږي ، چې عقد د صحت او نفاذ ټول شرطونه پوره کړي وي.او له عاقدینو څخه کوم یو دوکه شوی هم نوي.

نو که چېرې د نکاح عقد د صحت او نفاذ شرطونه نوي پوره کړي ، یا له عاقدینو څخه کوم یو دوکه شوی وي ، دا عقد نه لازمېږي.

دلیل یې دا اثردی: لکه څرنګه چې محمد ابن سرین روایت کړی. چې عمر(رض)هغه چا ته ، چې له یوې ښځې سره یې په داسې حال کې واده کړی ؤ چې عقیم (شنډ) ؤ ، وویل چې په دې اثر کې راځي: (**أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، بَعَثَ رَجُلًا عَلَى بَعْضِ السِّعَايَةِ فَتَزَوَّجَ امْرَأَةً، وَكَانَ عَقِيمًا، فَلَمَّا قَدِمَ عَلَى عُمَرَ ذَكَرَ لَهُ ذَلِكَ، فَقَالَ: «هَلْ أَعْلَمْتَهَا أَنَّكَ عَقِيمٌ؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «فَانْطَلِقْ فَأَعْلِمْهَا ثُمَّ خَيِّرْهَا**).([3]) ژباړ: د خطاب زوی عمر یو سړی

---

[1]) سورة البقرة ، ایة ، 282.

[2]) سید سابق ، **فقه السنة**، ج - 2 ، ص - 57.

[3]) الجوزجانی ، **سنن سعید ابن منصور**، ج - 2 ، ص - 81. السعایة : د زکاة اخستل. اسمعیل ابن عباد ، **المحیط فی اللغة**، ج - 1 ، باب - سعی ، ص - 112.

چېرې د زکاة د را ټولو لپاره ولېږو ، نو هغه له يوې ښځې سره واده وکړ ، او دی عقيم (شنډ) ؤ ، نو کله چې عمر ته راغی او له دې کار څخه يې خبر کړ ، نو هغه ورته وويل ايا تا هغه خبره کړې ده چې ته عقيم (شنډ) يې ؟ ده وويل: نه (عمر) ورته وويل: ورشه او پوهه يې کړه او بيا يې اختيارمنده کړه.

نو له دې اثر څخه معلومېږي چې د دوهکې په صورت کې د نکاح عقد نه لازمېږي.

**پنځمه برخه: په عيب سره د نکاح د فسخې حکم**

په دې اړه علماء بېلابېل نظرونه لري ، چې په لاندې ډول دي:

**لومړی**-: امام ابن حزم([1] )او امام داوود([2]) رحمهما الله په دې نظر دي ، چې په عيب سره نکاح نه فسخ کېږي.

دلايل يې دا دي:

1- دوی وايي: چې د دې لپاره په شريعت کې څرګند او واضح دليل شتون نلري ، نو ځکه نه فسخه کېږي.

2- دا چې د نکاح په عقد باندې يو سلسله احکام مرتب کېږي ، نظر هغه احکامو ته په کتو سره بايد فسخه نشي.([3])

**دويم** -: جمهور علماء وايي چې نکاح په ځينو عيبونو سره فسخه کېږي ، او په ځينو عيبونو سره نه فسخه کېږي.

د دوی دلايل په لاندې ډول دي.

**1**: حديث دی(**عن زيد بن كعب، أن رسول الله ﷺ تزوج امرأة من بني غفار،فلما د خل عليها، ووضع ثوبه، وقعد على الفراش أبصر بكشحها. بياضا فانحاز عن الفراش، ثم قال:(خذي عليك ثيابك، ولم يأخذ**

---

[1] ) ابن حزم * الامام الاوحد ، البحر ، ذو الفنون والمعارف ، أبو مُحَمَّد ، علي ابن أحمد بن سعيد بن حزم بن غالب بن صالح بن خلف بن معدان بن سفيان بن يزيد الفارسي الاصل ، ثم الاندلسي القرطبي اليزيدي مولى الامير يزيد بن أبي
سفيان بن حرب الاموي - رضي الله عنه - المعروف بيزيد الخير ، نائب أمير المؤمنين أبي حفص عمر على دمشق ،
الفقيه الحافظ ، المتكلم ، الاديب ، الوزير الظاهري ، صاحب التصانيف ، په 384. ه ، ق ، کې په قرطبة کې زېږدلی دی.
الذهبی ، **سير أعلام النبلاء** ، ج - 8، ص - 184.

[2] ) پوره نو يې: داود بن علي ابن خلف ، الامام ، البحر ، الحافظ ، العلامة ، عالم الوقت ، أبو سليمان البغدادي ، المعروف بالاصبهاني ، مولى أمير المؤمنين المهدي ، د أهل الظاهر رئيس دی. دي يو متقی ، زاهد ، او امام شخصيت دی. چې په 200. ه کې زېږدلي او په 270. کې وفات شوی دی. الذهبی ، **سير أعلام النبلاء** ، ج - 13 ، ص - 97.

[3]) سيد سابق ، **فقه السنة** ، ج - 2 ، ص - 62.

**مما آتاها شيئا).**([1]) ژباړه: د کعب له زوی زید څخه روایت دی ، (وايې)چې رسول الله ﷺ د بني غفار د قبيلې له يوې ښځې سره واده وکړ ، نو کله چې هغې ته ور داخل شو ، او کالي يې کېښودل ، او په کټ کېناست ، د هغې په سپاخته يې سپين والى وليد ، نو د کټ نه لرې شو ، بيا يې وويل ، کالي د واخله ځه (لاړه شه)او کوم څه يې چې ورکړي ؤ ، له هغې څخه يې هيڅ هم ترينه وا نخيستل.

2: بل دليل يې د عمر(رضی الله عنه)دغه وينا ده:(**عن سعيد بن المسيب عن عمر بن الخطاب قال: أيما امرأة غر بها رجل بها جنون أو جذام أو برص فلها مهرها بما أصاب منها وصداق الرجل على وليها الذي غره** ).([2])

خو دغو علماؤ بيا په خپل منځ کې سره اختلاف کړی. چې په کومو عيبونو فسخه کېږي.

**لومړی:** ابوحنيفه (رحمه الله)([3])وايي: چې دغه عيب يواځې جب (تناسلي آله يې پرې شوي وي) ، او عنة ( تناسلي آله يې نه پورته کيږي) ده.

**دويم:** امام مالک او شافعي رحمهما الله([4]) وايي: جب ، عنة ، ليونتوب ، پيس ، او جذام دی.

---

[1]) احمد بن جنبل ، **مسند احمد**، شماره ، ، 16032 کشح : د پوښيتيو دلاندی نه تر ورانه پوری ځای ته وايی ، **محيط فی اللغة**، باب حکش ج - 1 ، ص ـ171. دا حديث ضعيف دی ، البانی ، **إرواء الغليل في تخريج أحاديث منار السبيل** ، ج ـ 6، ص ـ 326.

79) الدار القطنی ، **سنن الدارقطني**، شماره ، 3672.

[3]) پوره نوم يي: نعمان" بن ثابت بن زوطي التيمي أبو حنيفة الكوفي ، د حنفي مذهب امام ، فقيه ، مجتهد ، د اهل السنة له څلورو مشهورو امامانو څخه لومړی امام دی ، په اصل کې د فارس ،يا کابل او يا هم ترمذ دی ، په(80هـ) کال کوفه کې زيږېدلی او لوی شوی, په لومړيو کې يې د تجارت او پوستين وبدلو تر څنګ زده کړې هم کولې ، وروسته په تدريس او افتاء باندې مشغول شو ، د امويانو په عصر کې د عراق أمير (عمر بن هبيرة) ورڅخه غوښتنه وکړه چې د قضاء دنده قبوله کړي ، د أمير غوښتنه يې رد کړه ، په عباسي دور کې منصور هم د ابن بهيرة په څېر غوښتنه ترېنه وکړه هغه يې هم رد کړه ، منصور امام صاحب زنداني کړ ، په (150هـ) کې په زندان کې وفات شو. د قوي او غښتلي دليل څښتن و ، علماء د ده ډېر صفات ذکر کړي دي ، امام مالک وايي: امام صاحب داسې شخص و ، که يې ويلي واي چې دا غر دسرو زرو دی ، خپله خبره يې په دليل ثابته وله ،د ښو اخلاقو درلودونکی ، ډير صدقه کوونکی او د ښه اواز څښتن و ، امام شافعي وايي: خلک په فقه کې د امام صاحب عيال دی. په احاديثو کې مسند لري ، همدارنګه (المخارج) او (صغير) هم د ده کتابونه دي.الزركلي. **الأعلام** 8 /36. او ابن حجر ،أبي الفضل أحمد بن علي بن مُحَمَّد بن أحمد بن حجر العسقلاني. (1326هـ). **تهذيب التهذيب**.الهند. دائرة المعارف النظامية. الطبعة الأولى. 10/ 449.

[4] ) پوره نوم يې: مُحَمَّد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن السائب بن عبيد ابن عبد يزيد بن هاشم بن المطلب بن عبد مناف بن قصي ،په ( 150هـ) کال د شام په غزه سيمه ، او ځينې وايي په يمن کې زيږېدلی ، له دوو کلونو وروسته مکې ته نقل شوی ،د حجاز او عراق تر منځ يې تګ راتګ کړی, په بغداد کې د (کتب القديمة) کتابونه ليکلي ،وروسته مصر ته راستون شوی ، او هماغلته يې استوګنه غوره کړې او مذهب جديد(کتب جديدة) يې ليکلي دي ، د مالک ، مسلم بن خالد ، ابن عيينة ، ابراهيم بن سعد ، سعيد بن سالم او ... څخه روايت کوي ، له ده څخه احمد بن حنبل ، حميدی ، أبوطاهر بن السراج ، بويطي ، مزني او داسې نورو روايت کړی ، د شافعي مذهب امام دی. ځينې تصانيف عبارت دی: الأم ، الرسالة ، مختلف الحديث ، المسند الأم ، رسالة في إثبات النبوة والرسالة ، أحكام القرآن ، اختلاف العراقيين في الرد على مُحَمَّد بن الحسن ، قوله القديم ببغداد ، قوله الجديد بمصر ، خلاف علي وابن مسعود في الفرائض ، اختلاف مالك والشافعي. ( القاضي عياض. **ترتيب المدارك وتقريب المسالك**. 3/ 174. او الأزدي. **منازل الأئمة الأربعة أبي حنيفة ومالك والشافعي وأحمد**. ص:196.

**دریېیم:** امام احمد ابن حنبل رحمه الله[1] فتقاء(د ښځینه د فرج او دبر تر منځ فاصله له منځه تللی وی) هم ور باندې اضافه کړی.

**څلورم:** سید سابق رحمه الله پدې نظر دی ، چې پدې اړه باید دا ومنل شي ، چې کوم مرض او عیب داسې وي چې د زوجینو تر منځ نفرت پیدا کوي ، او د هغی په اساس یو له بله څخه نفرت کوي ، او نه غواړي چې د نکاح په توګه ورسره ژوند وکړي د نکاح فسخه کول غواړي ، نو باید فسخه شي. ځکه چې د نکاح ژوند په مینه او محبت ولاړ دی ، او د نفرت په صورت کې دا ژوند نه کېږي.[2]

### دویمه فرعه: په قانون کې د واده شرطونه

د افغانستان مدني قانون د نکاح د صحت ، نفاذ ، او لزوم لپاره یو سلسله شرطونه په نظر کې نیولي ، کله چې د نوموړي قانون د واده(ازدواج) اړوند مواد مطالعه شي ، نو دا پایله لاس ته راځي چې کوم شرطونه فقهاؤ په نظر کې نیولي ؤ ، هغه شرطونه د افغانستان مدني قانون هم معتبر ګڼلي.

د بېلګې په توګه فقهاؤ د نکاح د صحت لپاره دوه شرطونه لازم بللي ؤ ، چې یو یې د زوجینو په منځ کې د حرمت نشتوالی ، دویم یې د شاهدانو موجودیت وو. نو پدې اړه د نوموړي قانون 77 ماده داسې صراحت کوي ،(د نکاح د عقد د صحت لپاره او د هغه د نافذېدو لپاره لاندې شرطونه لازم دي).

1: د عقد د دواړو خواوو یا د هغوی د ولیانو یا وکېلانو په وسیله د صحیح ایجاب او قبول تر سره کول.

2: د اهلیت لرونکو دوه شاهدانو حضور.

3: د نکاح کوونکې او نکاح کېدونکې تر منځ د دائمي او موقت حرمت نشتوالی.[3]

---

[1] ) پوره نوم یې: أحمد مُحَمَّد بن حنبل ، أبو عبد الله ، الشيبانيّ الوائلي ، د حنبلي مذهب امام او مؤسس ، په اصل کې د مرو ، په( 164هـ) کې بغداد کې تولد شوی ، د علم په زده کړه کې را لوی شوی ، کوفې ، بصرې ، مکې ، مدینې ، یمن شام ، مغرب ، الجزائر ، فارس او خراسان ته یې د علم زده کړی په موخه سفرونه کړي ، ډېر تصنيفات لري چې ځېنې یې عبارت دي: (المسند ) شپږ جلده ، او بدون له تکراره په دريش زره احاديثو مشتمل دی. (التاريخ)،(الناسخ والمنسوخ) ، (الرد على الزنادقة فيما ادعت به من متشابه القرآن) ، (التفسير) ، (فضائل الصحابة) ، (المناسك) ، (الزهد) او داسې نور. امام احمد جګ(لوړ) قد او ښکلی مخ څښتن و ، سپینې جامې یې اغوستلې ، ږیره او ویښتان یې په خینه رنګول ، د مأمون دسلطنت پر مهال د ده څخه غوښتنه وشوه چې د قرآن کريم د مخلوقوالي خبره وکړي ، امام احمد له دې خبرې څخه انکار وکړ ، معتصم (28) میاشتې د همدې خبرې په اساس زنداني کړ ، په (220هـ) کال د زندان څخه خلاص او د متوکل بن معتصم د سلطنت پر مهال د امام احمد رحمه ډېر قدر او عزت وشوه ، کوم شخص به چې متوکل بن معتصم والي ټاکلو د امام احمد په مشوره به یې ټاکلو ،او په (241هـ) کې وفات شو. (الزرکلي. **الاعلام** 1/ 203).

[2] ) سید سابق ، **فقه السنة** ، ج - 2 ، ص - 63.

همدارنګه د نفاذ د شرطونو په اړه د نوموړي قانون 74 ماده داسې صراحت کوي(وکېل نشي کولای داسې کار وکړي چې د هغه د وکالت د حدودو څخه بهر وي ، د وکالت د حدودو څخه بهر کار د فضولي عمل حکم لري ، د مؤکل یا مؤکلې تر اجازې پورې موقوف دی ).([1])

او د نوموړي قانون 77 مادې کوم شرطونه چې د صحت لپاره په نظر کې نیولي ؤ ، هغه شرطونه یې د نفاذ لپاره هم معتبر ګرځولي دي.

**ارزونه:**

د افغانستان مدني قانون د واده لپاره هغه شرطونه کوم چې فقهاؤ معتبر بللي ؤ ده اعتبار ورکړی ، خو نوموړي قانون یو سلسله نور شرطونه هم په نظر کې نیولي کوم چې فقهاؤ هغي ته اعتبر ندی ورکړی ، لکه د دې قانون 67 ماده داسې صراحت کوي (ازدواج چې د غیر محقق شرط پورې معلق وي یا راتلونکې زمانې ته مضاف وي نشي عقد کېدای ).([2]) همدا راز د دې قانون70 ماده د ازدواج لپاره قانونی عمر هم شرط ګرځولی دی (د ازدواج اهلیت هغه وخت پوره کېږي چې نارینه د (18) کلنۍ عمر او ښځه د شپاړس کلنۍ عمر پوره کړي )([3]) نود دې مادې د حکم پر اساس هغه وخت د یوه ځوان واده صحیح کېږي ، چې عمر یې18 کاله شوی وي ، او د انجلۍ عمر16 کاله ، خو د همدې قانون71 مادې لومړۍ فقره د پلار لخوا د انجلۍ ورکول استثناء کړي او یو کال یې تخفیف ورکړی ، او داسې صراحت کوي. (که نجلۍ د دې قانون د(70)مادې درج شوې ، د ودې (رشد) عمر نوي پوره کړی ، د هغې عقد یواځې د پلار په وسیله چې صحیح تصرف لرونکې وي ، یا د صلاحیت لرونکې محکمې په وسیله ترسره کېدای شي) او د دې مادې دویمه فقره بیا داسې صراحت کوي(د صغیره نجلۍ د نکاح عقد چې عمریې د(15)کلونو څخه کم وي په هیڅ صورت جواز نلري ).([4])

### درېیمه فرعه: په صحیح واده سره د نسب د ثبوت شرطونه

کله چې واده په صحیحه توګه ، سره له ټولو شرطونو ترسره شي ، نو د دې واده په پایله کې چې کوم ماشوم منځ ته راځي ، د هغه ماشوم نسب زوجینو ته ثابتېږي ، خو د دغه ماشوم د نسب ثبوت د نوموړیو زوجینو لپاره هغه وخت ثابتېږي ، چې یو سلسله شرائط یې پوره کړي وي ، کنه یواځې په صحیح واده سره هم نه ثابتېږي.او دغه شرائط په لاندې ډول دي.

---

[1]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30، 74 ماده.
[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30، 67 ماده.
[3]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30، 70 ماده.
[4]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج - 1، ص -30، 71 ماده

**لومړی شرط:** دا چې د واده او د ماشوم د زیږېدو تر منځ لږ تر لږه شپږ میاشتې تېرې شوې وي. پدې خبره ټولو فقهاؤ اجماع کړې ، چې د حمل کمه موده شپږ میاشتې ده.([1])

او دوی دغه موده د دغه دوو آیتونو د پرتله کولو په پایله کې استنباط کړې.

**1:** قوله تعالی﴿ **وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا...** ﴾.([2]) ژباړه: او وصیت مو کړی انسان ته ، د مور او پلار سره د نېکۍ کولو ، اوچت کړی دي(مور د ده ) ده لره ، په سختۍ سره ، او زیږولی دی دې (مور) دي په سختۍ سره او اوچتول د ده او جدا کول د ده دېرش میاشتې دي.

**2:** قوله تعالی﴿ **وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ...** ﴾.([3]) ژباړه: او وصیت مو کړی انسان ته دمور او پلار سره (د نیکۍ کولو) ، اوچت کړی ده لره مور د ده په حال دکمزورۍ د پاسه د بلی کمزوي او جدايي د ده په دوه کالو کې. نو لومړی آیت د حمل او د تي ورکولو دواړو موده په (30) میاشتو سره وټاکله. او دویم آیت بیا د تي ورکولو موده په (24) میاشتوسره وټاکله.

نو د حمل لپاره کمه موده شپږ میاشتې پاتې شوي ، او دا ځکه چې لومړی آیت د حمل او د بېلوالي(جدايي) دواړو موده دېرش میاشتې وټاکله ، خو معلومه نشوه چې د حمل موده څومره ، او د جدايي موده څومره ده. خو کله چې دویم ایت د جدايې موده په دوه کالو(24 میاشتو) سره وټاکله نو شپږ میاشتې پاتې شوې ، چې دا به د حمل کمه موده وي. او د افغانستان مدني قانون هم له دې څخه اقتباس کړی. 217 ماده (د حمل کمه موده شپږ میاشتې او زیاته موده یې یو کال ده).([4])

خو فقهاؤ پدې کې سره اختلاف کړی ، چې دغه شپږ میاشتې به له کومې نېټې څخه پیل کېږي.

1: احناف وايي چې د عقد له نېټې څخه پیل کېږي.([5])

2: او جمهور فقهاء وايي: چې د شپږو میاشتو لپاره د مودې نېټه به له دخول څخه پیل کېږي.([6])

خو د افغانستان مدني قانون د جمهورو له مذهب څخه پیروی کړی ، او داسې صراحت کوي:

---

[1]) صنعانی ، **بدایع الصنایع ،** ج 3، ص .211. او **بدایة المجتهد،** ج 2 ، ص ـ352. او فاروق عبدالله ، **الوسیط فی شرح قانون احوال الشخصیة العراقیة** ص ـ 250. العمراني ، او **البیان في مذهب الامام الشافعي ،** ج 10 ، ص ـ418.

[2]) سورة الاحقاف ، اية ، 15.

[3]) سورة اللقمان ، اية ، 14.

[4]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1 ، ص ـ61 ، 217 ماده.

[5]) الحصفكي ، **الدرالمختار شرح تنویر الأبصار،** ج ـ 2 ، ص ـ 857.

[6]) ابو زهرة ، **احوال الشخصیة،** ص ـ453. او الخطیب ، **الاقناع للشربیني،** ج 2 ، ص ـ661.

(په صحیح واده کې د هرې ښځې ماشوم مېړه ته منسوبېږي ، پدې شرط چې د ازدواج په عقد کې د حمل کمه موده تېره شوې وي ، د مېړه او ښځې تر منځ یو ځای والی اوصحیح خلوت ثابت وي)([1])

همدا راز د افغانستان د شیعه وکړو د شخصی احوالو قانون د جمهورو له مذهب څخه اقتباس کړی او داسې صراحت کوي:( د زوجیت په وخت کې پیدا شوی ماشوم زوجینو ته ملحق دی ،په دې شرط چې دخول د زوجیت په وخت صورت موندلی وي او ماشوم لږ تر لږه شپږ قمري میاشتی وروسته له هغه متولد شوی وي او دحمل د وضع له اخرنی وخت (نهه قمري میاشتو)څخه تجاوز ونکړي ).([2])

او کومه چې د حمل زیاته موده ده ، پدې اړه د فقهاؤ اختلاف دی.ځکه چې پدې اړه کوم نص ندی راغلی.

1 . د حمل زیاته موده ظاهریه وو ، او جعفریه وو ، په (9) میاشتوسره محدوده کړې. د افغانستان د شیعه وکړو د شخصی احوالو قانون د جعفریه وو او ظاهریه وو له مذهب څخه پیروی کړی او داسې صراحت کوي:( د زوجیت په وخت کې پیدا شوی ماشوم زوجینو ته ملحق دی ،په دې شرط چې دخول د زوجیت په وخت صورت موندلی وي او ماشوم لږ تر لږه شپږ قمري میاشتی وروسته له هغه متولد شوی وي او دحمل د وضع له اخرنی وخت (نهه قمري میاشتو)څخه تجاوز ونکړي ).([3])

2.مالکېانو په یو کال سره محدوده کړې.

3.احنافو په دوه کلونوسره محدوده کړې.

4.شوافعو اوحنابله وو ، په څلورو کلونو سره محدوده کړې.([4])

او د افغانستان مدني قانون هم په یوه کال تحدید باندې صراحت کړی.

(د حمل کمه موده شپږ میاشتې ، او زیاته موده یې یو کال ده).([5]) او که د واده څخه وروسته او د شپږو میاشتو له پوره کېدو څخه مخکې ښځه ماشوم وزیږوي ، د هغه نسب به د ښځې مېړه ته نه ثابتېږي ، مګرکه د ښځې مېړه د ماشوم نسب د زنا له لارې خپل ځان ته وکړي ، پدې اړه مدني قانون داسې صراحت کوي(که ښځه د ازدواج د عقد څخه وروسته د شپږو میاشتو څخه په کمه موده کې ماشوم وزیږوي ، نو ماشوم مېړه ته نه منسوبیږي ، مګر دا چې مېړه یې د زنا له لارې څخه د ماشوم نسبت ځان ته وکړي).([6])

---

[1]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1، ص ـ61، 217 ماده.
[2]) د عدلی وزارت ، **د افغانستان د شیعه وکړو د شخصی احوالو قانون،** 173 ماده.
[3]) د عدلی وزارت ، **د افغانستان د شیعه وکړو د شخصی احوالو قانون،** 173 ماده.
[4]) فاروق عبدالله ، **الوسیط فی شرح قانون احوال الشخصیة العراقیة،** ص ـ 251 . او العمراني ، **البیان في مذهب الامام الشافعي** ج 11، ص ـ12. او ابن الرشد ، **بدایة المجتهد ونهایة المقتصد،** ج 2، ص ـ 92.
[5]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1، ص ـ61، 217 ماده.
[6]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1، ص ـ61، 219 ماده.

**دويم شرط:** دا چې د زوجينو په منځ کې يوځای والی ممکن وي ، او دا په دوه کارونوسره کېدای شي.

**1-:** دا چې د زوجېنو په منځ کې يوځای والی شوی وي ، يا يې د يوځای والي امکان وي.

نو که چېرې يو سړی له يوې ښځې سره واده وکړي ، او سړی په يوه هيواد کې او ښځه په بل هيواد کې وي. نو د ماشوم نسب پدې صورت کې مېړه ته نه منسوبېږي.

او دا د جمهورو علماؤ مذهب دی ، خو احناف فقط عقد ته اعتبار ورکوي.([1]) .

**ارزونه:**

د افغانستان مدني قانون دا شرط معتبر بللی او په دي هکله يې د جمهورو علماؤ له مذهب پيروي کړی او داسي صراحت کوي 218 ماده.([2])

**2-:** دا چې مېړه به د ښځې سره په جنسي يو ځای کېدو قادر وي ، نو که چېرې مېړه صغير وو او يا عينين وي بيا د ماشوم نسب ده ته نه منسوبيږي.

**دريیم شرط:** دا چې د تفريق او طلاق او مرګ څخه وروسته د حمل زياته موده نوي تېره شوې. پدې اړه د افغانستان مدني قانون داسې صراحت کوي.

(که د طلاق يا مړينې معتده د مېړه د طلاق يا وفات څخه وروسته د يوه کال څخه په زياته موده کې وزېږېږي ، د داسې معتدي د نسب دعوا نه اورېدله کېږي ، مګر دا چې د طلاق په صورت کې په خپله مېړه او د مړينې په صورت کې د مېړه ورثه د ماشوم نسبت خپل ځانته وکړي ). ([3])

**څلورم شرط:** دا چې مېړه د ماشوم نسب له خپل ځان څخه نفي نکړي. نو که چېرې سړی د خپلې ښځې د ماشوم نسب په لعان سره د خپل ځان څخه نفي کړي نوده ته يې نسب نه ثابتېږي.

### څلورم مطلب: په غير صحيح واده سره د نسب ثبوت

لکه څرنګه چې په صحيح واده سره نسب ثابتېږي ، په غير صحيح واده (نکاح) سره هم ثابتېږي.

او دا خبره فقهاؤ تائيد کړې.([4]) داځکه چې په هر هغه يوځای والي چې د نارينه او ښځېنه په منځ کې ترسره شي پرته له زنا ، که د صحيح واده په پايله کې وي او که فاسده واده په پايله کې وي او يا دشبهې په دخول سره وي ، فقهاء پدې سره د ماشوم نسب ثابتوي.او د افغانستان مدني قانون هم د فقهاؤ له دې نظر څخه

---

[1]) الکاساني ، **بدايع الصنايع**، ج 2، ض ـ 331. او فاروق عبدالله ، **الوسيط فی شرح قانون احوال الشخصية العراقية** ، ص ـ 252.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1، ص ـ 61، 218 ماده.

[3]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج ـ 1، ص ـ 61، 220 ماده.

[4]) فاروق عبدالله ، **الوسيط فی شرح قانون احوال الشخصية العراقية**، ص ـ 252.

پیروي کړي ، او داسې صراحت کوي 222ماده (فقره1)...(د ښځې ماشوم په فاسده نکاح کې هغه وخت مېړه ته منسوبېږي ، چې ماشوم لږ تر لږه شپږ میاشتې وروسته د دخول له نیټې څخه زېږېدلی وي. )([1])

او بیا صراحت کوي. (د نسب د ثبوت په حالت کې که څه هم نکاح فاسده وي ، یا دخول په شبهې سره ترسره شوی وي ، د خپلوۍ مرتب آثار لکه نفقه ، میراث ، او داسې نور ثابتېږي ).([2])

نو له پورتنیو موادو څخه معلومېږي ، چې په فاسده نکاح او د شبهې په دخول سره نسب ثابتېږي. خو نومړی قانون د فاسدې نکاح تعریف ندی کړی او نه یې په ګوته کړی ، چې د شبهې د دخول کېفیت څرنګه دی.

نو هڅه به وکړو چې له فقهي نصوصو څخه ګټه پورته کړو ، تر څو دغه موضوع روښانه شي نو دغه موضوع په دوه برخو ویشو.

لومړی فرعه: فاسد واده.

فاسد واده د صحیح واده مخالف دی ، او د فاسد واده بل اړخ ته باطل واده قرار لري ، نو دلته به لومړی د فاسد واده تعریف وکړو ، او بیا به د فاسد او باطل واده ترمنځ توپیر وکړو.

لومړی: فاسد واده.(عبارت دی له هغه عقد څخه چې ایجاب او قبول په کې موجود وي ، خو هغه شروط چې د واده له اساسي شروطو څخه دي. پکې شتون ونه لري).([3])

او د افغانستان مدني قانون 77 ماده د نکاح د عقد د شرطونو په اړه داسې صراحت کوي. (د نکاح د عقد د صحت لپاره او د هغه د نفاذ لپاره لاندې شرطونه لازم ګرځولي دي.

1: د عقد د دواړو خواوو یا د هغوی د ولیانو یا وکېلانو په وسیله د صحیح ایجاب اوقبول ترسره کول.

2: د اهلیت لرونکو دوه شاهدانو حضور.

3: د نکاح کوونکي او نکاح کېدونکې د دائمي یا موقت حرمت نشتوالی).([4])

[1]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج - 1، ص -61، 222 ماده ، فقره 1.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج - 1، ص -61، 222 ماده ، فقره 2.

[3]) ابن الهمام ، محمّد بن عبدالواحد ، **شرح فتح القدیر،** ج 5، ص ـ 261. او عمران عائشة ، **اثبات النسب بین الشریعة ومستجدات العصر،** ص ـ 132.

[4]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30. 77 ماده.

همدا راز د دې قانون70مادې د ازدواج لپاره قانون عمرهم شرط ګرځولی دی(د ازدواج اهليت هغه وخت پوره کېږي ، چې نارينه د(18)کلنۍ عمر او ښځې د شپاړس کلنۍ عمرپوره کړی وي).([1])

نو د دې مادې د حکم پر اساس هغه وخت د يوه ځوان واده صحيح کېږي چې عمريې18 کاله شوی وي او د نجلۍ عمر16 کاله وي.

خو د دې قانون د71 مادې لومړۍ فقره د پلار له لوري د نجلۍ ورکول استثناء کړي يوکال يې تخفيف ورکړی ، او داسې صراحت کوي. (که نجلۍ د دې قانون د(70)مادې درج شوی د ودې(رشد) عمرنه نوي پوره کړی د هغې عقد يواځې د پلار په وسيله چې صحيح تصرف لرونکې وي ، يا د صلاحيت لرونکې محکمې په وسيله ترسره کېدای شي).([2])

او د دې مادې دويمه فقره بيا داسې صراحت کوي.

(د صغيره نجلۍ د نکاح عقد چې عمريې د (15) کلونو څخه کم وي په هيڅ صورت جواز نلري)([3]) خو نوموړی قانون يو سلسله نور شرطونه هم په نظرکې نيولي ، لکه د دې قانون 67 ماده داسې صراحت کوي.

(ازدواج چې د غير محقق شرط پورې معلق وي ، يا راتلونکې زمانې ته مضاف وي نه شي عقد کېدای).([4]) لکه چې ووايې راتلونکې مياشت به نکاح کوو.

**دويمه فرعه: د شبهې نکاح**

**د شبهې تعريف:**

**د شبهې نکاح:** دا اصطلاح له دوو کلموڅخه جوړه شوې ، چې بايد دواړه کلمې تعريف شي چې د نکاح کلمه مخکې تعريف شوي ، او شبهه به اوس تعريف کړو.

**شبهه:** په لغت کې اختلاط (ګډوالي)التباس (پوښل کېدو) ته وايي.

او په اصطلاح کې شبهه نکاح هغه نکاح ده (د يوه سړي کوروالی له هغې ښځې سره چې په ده باندې حرامه وي ، خو دی يې په حرمت پوه نوي).([5]) او ځينو علماؤ بيا داسې تعريف کړی ( چې مشابه وي له هغه سره چې ثابت وي خو ثابت نوي). ([6])

[1]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30، 70 ماده.
[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون** ج - 1، ص -30، 71 ماده.
[3]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج - 1، ص -30، ماده 71.
[4]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون،** ج - 1، ص -30، ماده 67.
[5]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة و مستجدات العصر،** ص - 127.
[6]) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية — الكويت ، **الموسوعة الفقهية الكويتية،** ج 12 __ ص - 278.

او په شبهې سره وطئ عبارت ده  له (هغه جنسي اړيکې څخه ، چې نه زنا وي ، نه په صحيح او يا فاسد عقد سره تر سره شوې وې)

لکه د واده په شپه چې يو سړی پدې نيت چې کېدای شي دا زما ميرمن وي ، د پردۍ ښځې سره کوروالی وکړي. يا د خوب اطاق ته لاړشي ، او هلته کومه اجنبي ښځه پرته وي ، او دی پدې نيت ورسره کوروالی وکړي چې زما ميرمن ده.([1])

### دويم مبحث: په عامو د لائلو سره د نسب ثبوت

د اثبات عام دلائل هغه دلائل دي ، چې په نسب پورې خاص نه دي ، بلکې په ټولو برخو کې ترينه استفاده کېږي او استعمالېږي.

او دغه عام دلائل لکه څرنګه چې خاص دلائل شرعاً او قانوناً معتبر وو ، داهم معتبردي. او دغه عام دلائل په دوه ډوله دي ، (لومړی) شرعي چې عبارت دي له اقرار اوشهادت څخه.

او(دويم)علمي دلائل چې عبارت دي. د وينې او د بدن د نورو غړو د ټست اومعاينې څخه.

نو ما په دغه مبحث کې دوه مطالب په نظر کې نيولي ، چې لومړی مطلب د نسب اثبات په اقرار او شاهدۍ سره او دويم مطلب د نسب اثبا ت په علمي لارو سره.

### لومړی مطلب: په اقرار او ګواهۍ سره د نسب ثبوت

اقرار او ګواهي د نسب د ثبوت لپاره شرعي او قانوني اسباب دي ، چې انشاءالله په دغه مطلب کې به وربانذې څېړنه وکړو. خو دغه مطلب پر دوه فرعو باندې ويشو. لومړۍ فرعه په اقرار سره د نسب ثبوت دويمه فرعه په ګواهۍ سره د نسب ثبوت.

### لومړۍ فرعه: په اقرار سره د نسب ثبوت

په دغه فرعه کې خبره په دوه برخو کې را نغاړو ، په لومړۍ برخه کې د اقرار معنا او ډولونه ، په

دويمه برخه کې د اقرار شرطونه تر څېړنې لاندې نيسو.

---

[1]) الزحيلي ، **فقه الاسلامي وادلته**، ج 10 ، ص ـ15. او عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر**،  ص ـ 127.

**لومړۍ برخه: د اقرار تعریف**

**1**- اقرار په لغت کې د( **قر**) د فعل مصدردی. لکه څرنګه چې عرب وایي:(**قر فلان بالمنزل اذا سکن وثبت**.([1])

ژباړه: فلانکي په کور کې آرام وکړ ، کله چې آرام اوثبوت اختیار کړي.

نو د اقرار لغوي معنا سکون (آرام) او ثبات (کلکوالی) دی.

او په دعاء باندې هم اطلاق کېږي. لکه چې عرب وایي.(**قرالله عینه** )ژباړه: د ده سترګې د الله ارام کړي. کله چې الله هغه څه ور کړي چې د ده مشکل ورباندې حل شي ، او د بل شخه طمعه نوي ، او نفس یې ارام شي.([2])

او اقرار د اعتراف کولو او ثابتولو په معنا هم راځي. کوم چې د (**نګران**) ضد دی. لکه عرب وایي.(**اقر بالحق**) ژباړه: په حق یې اعتراف وکړ اوهغه یې ثابت کړ.

**2**- د فقهاؤ له نظره د اقرار تعریف:

(**هو اخبارعن ثبوت حق للغیرعلي نفسه**.([3])ژباړه: دا(اقرار) خبر ورکول دي له ثبوت د کوم چا د حق په خپل ځان باندې. او اقرار د یوه شي د ثبوت لپاره حجت او دلیل دی. لیکن دا حجت قاصره دی. نو په مقر(اقرار کونکي ) باندې حجت دی. او په بل چا حجت نشي جوړېدای. خو که بل چا د ده تصدیق وکړ ، بیا په هغه هم حجت کرځي او یا د دغه اقرار په حجت ګواهانو ګواهي ورکړه.

**دویمه برخه: د اقرار ډولونه**

مخکې مونږ وویل چې اقرار د نسب د ثبوت لپاره دلیل دی ، خو دغه په دوه ډوله دی.

**1- په مباشر نسب باندې اقرار**

او دې ته د نسب په اصل باندې اقرارهم ویل کېږي. او دا عبارت دی ، له اقراره په مباشره (پیوستنه) خپلوۍ ، یعنې د هغه خپلوۍ چې په هغې کې د مقر او مقرله په منځ کې د خپلوۍ کومه واسطه شتون ونه

101) مُحَمَّد ابن ابي بکر ، **مختار الصحاح**، ص -527-528.
102) ابن منظور ، **لسان العرب**، ص -55.

103) الزحیلی ، **فقه الاسلامی وادلته**، ج - 8، ص - 6089.

لري. لکه اقرار په زوی ولې ، پلار ولې ، مورولې ، نو په دغه ډول اقرار کې نسب یواځې په مقر حمل کېږي ، نه په بل چا.[1]

**2- په غیر مباشر نسب باندې اقرار**

او دي ته وايي. اقرار په هغه خپلوۍ چې د نسب د اصل څخه رامنځه شوی وي.

او دا عبارت دی. له هغه اقرارڅخه چې په هغه خپلوۍ اقرارشوی وي. چې دمقر(اقرارکوونکي) او مقرله (اقرار کړل شوي) په منځ کې واسطه شتون ولري ، لکه اقرار په ورور ولې ، کاکا ولې ،

او دا ډول اقرار یواځې د مقر په حق کې اثرکوي ، نورو ته نه غزېږي .[2]

**دویمه فرعه: د اقرار شرطونه**

د افغا نستان مدني قانون د اقرار د تعریف ، او شرطونو په اړه څه نه لري. خو په بېلابېلو مواردو کې یې د اثبات د دلیل په توګه کارولی دی. نو مونږ باید له نورو فقهي سرچینو څخه استفاده وکړو. مونږ دغه فرعه په دریو برخو باندې ویشو ، په لومړۍ برخه کې به د مقر اړوند شرطونه ، او په دویمه برخه کې به د مقرله اړوند شرطونه ، او په دریمه برخه کې به د صغي (الفاظو) اړوند شرطونه وڅېړو.

**لومړۍ برخه: د مقر شرطونه**

1- **بلوغ دی:** نو په دې اساس که چېرې ممیز ماشوم چاته د خپل نسب اقرار وکړ ، دا اقرار سم نه دی.

2- **عقل دی:** نو په دې اساس ، د لیوني او بیهوشه ، او د نشه شوي سړي اقرار ندی سم.

3- **اختیار:** نو په دې اساس ، که له چا څخه په زور سره د نسب اقرار اخیستل شوی وي ، دا ندی سم.

**دویمه برخه: د مقرلهُ شرطونه**

1- مقر لهُ به شتون لري:

نو په دې اساس ، که ماشوم موجود نوي ، د هغه ادعا سمه نده او یا معلوم نوي.

2- مقرلهُ باید د مقر د ادعا تکذیب ونکړي.

---

[1]) احمد فراج ، **ادلة الاثبات فی الفقه الا سلامی**، ص - 359.

[2]) بدران ابو العنین ، **الفقه المقارن للاحوال الشخصیة بین مذاهب الاربعة، السنیة والجعفری والقانون** - الزواج والطلاق ، 519. او عمران عایشه ، **اثبات نسب بین الشریعة ومستجدات العصر** ، ص -149.

نو که چېرې مقرلهُ د مقر ادعا دروغ وبلله ، نو دا ادعا به نه اورېدل کېږي.

3- د مقرلهُ نسب معلوم نوي.

نو په دې اساس ، که چېرې د مقرلهُ نسب معلوم وي ، بیا به د دې ماشوم د نسب دعوی د بل چا له طرفه نه اورېدل کېږي.

4- د مقرلهُ نسب به مقر ته عقلاً اوحساً ممکن وي.

نو په دې اساس ، که چېرې یو داسې انسان چې عمر یې کم وي ، او د یوچا د نسب دعوی وکړي چې عقل یې نه مني ، مثلا یو شل کلن سړی د پنځه لس کلن سړي د زویتوب دعوی وکړي ، نو دغه دعوی به نه اورېدل کېږي.

**دریيمه برخه: د اقرار د الفاظو شرطونه**

1- د زنا له طریقه یې د نسب ادعا نوي کړې.

2 - د دعوی الفاظ په منجز او یقیني وي.([1])

**دریيمه فرعه: په بینة یا شهادت(ګواهی) سره د نسب ثبوت**

شهادت د نسب د ثبوت لپاره دریيمه لاره ده ، او د ټول امت اجماع ده چې په ګواهی سره نسب

ثابتېږي.

او د مشروعیت دلا ئل یې. قرآن ، حدیث ، اجماع دي.

**لومړی**- قرآنکریم

1- ﴿ **وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ** ﴾.([2]) ژباړه: او ګواهان ونیسئ دوه ګواهان له نارینه ؤ ستاسوځخه ، پس که نوي دوه نارینه نو یو نارینه او دوه ښځېنه.

2- ﴿ **وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا** ﴾.([3]) ژباړه: او انکار د نه کوی ګواهان کله چې را وغوښتلی شي.

---

[1]) عمران عائشه، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر**، ص - 146. 148.

[2]) سورة البقرة ، اية ، 282.

[3]) سورة: البقرة ، اية ، 282.

3- ﴿ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ ﴾.([1]) ژباړه:او مه پټوئ ګواهي او چا چې پټه کړه ګواهي پس يقينا همدا خبره ده چې ګنهګار دی زړه د ده.

**دويم**- حديث:(**عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلى الله عَلَيه وَسَلم، قَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ، الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا، أَوْ يُخْبِرُ بها قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا**)([2]) ژباړه : د جهني قبيلې د خالد له زوی زيد څخه روايت دی (وايي) يقينا رسول الله ﷺ وويل ايا خبر مو نه کړم په غوره ګواهانو؟ دا هغه دي چې خپله ګواهي مخکې له غوښتلو راوړي، او يا خبر ورکوي مخکې‌له‌پوښتلوڅخه‌يې.
**درېيم** — اجماع: ټول امت پدې متفق دي ، چې شهادت د ثبوت دليل دی.
نو پدې فرعه کې به بينه يا شهادت (ګواهی) وڅېړو.او دغه فرعه به لومړي په دوو موخوو وويشو ، په لومړۍ موخه کې به د بينه يا شها دت تعريف ، او په دويمه موخه کې به د بينه يا شهادت شرطونه بيان کړو.

**لومړۍ برخه: د بينه تعريف**

په نصوصو (قرآنکريم او حديث) کې د ګواهۍ لپاره د شهادت او بينة دواړه الفاظ راغلي.

نو لومړۍ به د دواړو اصطلاحاتو لغوي تعريف او بيا به د شهادت اصطلاحي تعريف وکړو.

**البينه:**

بينه په لغت کې روښانه دلائلو ته ويل کېږي. چې په هغه سره د يوه شي حقيقت معلوم شي. برابره خبره ده ، که عقلي وي او که محسوسي ، لکه څرنګه چې په قرآنکريم کې راغلي.

1. ﴿ أَفَمَنْ كَانَ عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّهِ ﴾.([3]) ژباړه: ايا پس هغه څوک چې وي په ښکاره دليل باندې د خپل رب له طرف نه.

2. ﴿ لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَنْ بَيِّنَةٍ ﴾.([4]) ژباړه: د دې لپاره چې هلاک شي هغه څوک چې هلاک شو (پس) له ښکاره دليل نه او ژوندی پاتې شي ، هغه څوک چې ژوندی پاتی وو (پس) له ښکاره دليل نه.

نو بينه هر هغه شي ته ويل کېږي ، چې په هغه سره دعوی ښکاره شي او حقيقت ورباندې معلوم شي.

---

[1]) سورة: البقرة ، اية ، 282.

[2]) مسلم ، **صحيح مسلم**، کتاب اقضية ، باب خيرالشهود ، شماره ، ، 1719.

[3]) سورة: الهود ، اية ، 17.

[4]) سورة: التوبة ، اية ، 43.

او دا (بينه) د مدعي د ادعا د ثبوت لپاره دليل دی. ([1])

**شهادت:**

شهادت د شهد د فعل مصدر دی ، چې په لغت کې په زياتو معناګانو باندې دلالت کوي ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

**1.** د يوه شي په اړه کره معلوماتو ته وايي. لکه چې عرب وايي: (**شهد على كذا شهادة، اى أخبر به خبرا قاطعا** ).([2]) ژباړه: د هغه شي په اړه يې شهادت ورکړ ، يعنې د هغه په اړه يې کره معلومات ورکړل.

**2.**د شتون او حضور په معنا هم راځي لکه چې قران کريم کې راځي:

﴿ **فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ** ﴾.([3]) ژباړه: پس هر څوک چې حاضر شو له تاسو څخه دي مياشت(د رمضان) ته نو خامخا د روژه ونيسي.

**3.**د ليدو په معنى هم راځي لکه چې په قران کريم کې راغلي:

﴿ **ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ** ﴾. ([4]) ژباړه: بيا به خامخا ووايو ، مونږ وارث د ده ته چې مونږ نه يو حاضر شوي ، وژلو د کورنۍ د ده ته او يقيناً مونږ رښتونکي يو.

**په شرعه کې د بينه معنى:**

په شرعه کې بينة عبارت ده. (له هغه خبر ورکولو څخه ، چې د شهادت په لفظ سره وړاندې شوی وي ، لپاره د اثباتولو د يو چا د حق ، کوم چې د بل چا په ذمه باندې وي ، د قاضي او خصمينو(مدعي او مدعي عليه) په حضور کې ).([5])

**د بينة اطلاق:**

دلته يوه پوښتنه را ولاړيږي ، چې ايا د بينة اطلاق يواځې په شهادت کيږي ، او که په هر هغه شي چې د يو چا ادعا ورباندې ثابته شي ؟

علماؤ پدې اړه په خپل منځ کې سره اختلاف کړی.

**1- جمهور:** دوی وايي: چې د بينه اطلاق يواځې په شاهدانو کيږي.

---

[1]) مجموعة من المؤالفين ، **مجلة الاحكام العدلية** ، ج - 1، ص -339، ماده ، 1684.

[2]) إبراهيم مصطفى ، **معجم الوسيط**، ج - 1، ص -497.

[3]) سورة البقرة ، اية ، 185.

[4]) سورة النمل ، اية ، 49.

[5]) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت ، **الموسوعة الفقهية الكويتية**، ج _ 6 ص -47.

2- **ځيني نورعلماء:** لکه ابن تيميه ،([1]) ابن القيم.([2]) ابن فرحون ،([3]) ابن حجرالعسقلاني ،([4]) پدې باور دي چې بينه عبارت ده له هر هغه شي څخه ، چې حق وربانديې معلوم او ښکاره شي ، دا که شاهدان وي ، که اقرار وي ، که نور قرائن وي.([5]) او د دوی دلائل لو دهغې پرتله کول به د وراثی بصمې په بحث کې تر څیړنې لاندی ونيسو.

**دويمه برخه: د ګواهۍ شرطونه**

د اسلامي شريعت او همدا راز د وضعي قوانينو له نظره هر شهادت د منلو وړ ندی ، بلکې د

شهادت د منلو لپاره يې يو سلسله شرطونه په نظر کې نيولي دي. چې له دغه شرطونو څخه ځينې شرطونه په شاهد پورې اړوند دي ، او ځينې يې د شهادت په الفاظو پورې ، او ځينې يې په مشهود

پورې ، اوځينې يې د شاهدانو په شمېر پورې اړوند دي. چې د فقهي په کتابونو کې وربانديې په

تفصيل سره خبرې شوي دي.([6])

---

[1]) پوره نوم يې: أحمد بن عبد الحليم بن عبد السلام ابن عبد الله بن أبي القاسم الخضر النميري الحراني الدمشقيّ الحنبلي ، أبو العباس ، تقي الدين ابن تيمية: الإمام ، شيخ الإسلام دی. چې په (661هـ) کال په حران کې زیږېدلی ،د علم زده کړه يې په دمشق کې کړې آن تر دې چې ښه شهرت يې وموند.د فصيح ژبې ،ښه قلم ، خاوند ، په علومو کې ډېر ماهر او اصلاح ته دعوت کونکی و. مصر ته د فتوی ورکولو په موخه وغوښتل شو. د مصر يوې ډلې علماء د ده سره تعصب وکړ ، آن چې څه موده زندني او اسکندريې ته انتقال شو. د زندان څخه د خوشي کېدو وروسته بېرته دمشق ته ولاړ ، هلته هم دده په خبرو او ويناکولو بندېز ولګول شو.په (728هـ) کال په دمشق کې وفات شو. د ده د جنازې په لمانځه کې د دمشق ټولوخلکو ګډون وکړ( الزرکلي.**الاعلام**.144/1.

[2] ) **پوره نوم يې:** ابو عبدالله محمد بن أبى بكر بن أيوب بن سعد الزرعى الدمشقى ابن القيم د امت په سطحه له سترو العلماء څخه او د شيخ الإسلام ابن تيمية له تکړه شاګردانو څخه دی. په دمشق په 691 ﻫ کې زیږدلی. ډیری ليکنې يې کړې لکه: **أعلام الموقعبن** او **الطرق الحكميه فى السياسة الشرعيه** او **زادالمعادفى هدى خيرالعباد** او داسی نور په 751 ﻫ وفات شوی. الزرکلی ، **الاعلام للزركلى**، ج ـ 6، ص ـ 65.

[3] ) **پوره نوم يې:** برهان الدين إبراهيم ابن الامام شمس الدين على بن فرحون المالكى ، په ابن فرحون مشهور دی په فقه او اصولو او دعلم الرجال په برخه کې اوچت عالم دی ، مصر ، قدس ، او دمشق ته يې علمی سفرونه کړی ، و په مدينة کې قاضی هم پاتی شوی ، زیاتی ليکنی يې کړي له هغو څخه يو **تسهيل المهمات فى شرح جامع الأمهات،** او **التبصرة فى أصول الأقضية،** او په 799. ﻫ . کې په مدينة وفات شو.

[4]) **پوره نوم يې:** احمد بن حجر العسقلانى ابو الفضل ، شهاب الدين بن حجر اصلی وطن يې فلسطين دی خو په قاهره کې په 773 زیږدلی او په 852 په قاره کې وفات شوی لوړی شاعر ؤ بیا يې د حديث علم ته مخه کړه زيات شمير علمی سفرونه وکړل لکه حجازيمن ، دخپلی زمانی امام او تکړه عالم ؤ او دمصر قاضی پاتی شوی زيات شمير کتابونه يې ليکلی لکه فتح البارى ، الاحكام ما فى القران من الاحكام ، لسان الميزان **الاعلام للزركلى،** ج ـ1 ، ص ـ178.

[5]) مجله البحوث الاسلامية ، www.alifta.net ، 29/1/2019 ، 11:00 am.

[6]) ابن فرحون ، **تبصرة الحكام ،** ج ـ 1 ص ـ 216 ، او د شيربينى کتاب **مغنى المحتاج،** ج ـ 4، ص -427، د وکتل شي.

دلته يواځې د شاهدانو د شمېر په اړه کوم چې د علماؤ په کښې اختلاف دی څېړنه کوو.

1- امام ابو حنيفه او امام محمّد دوی دواړه پدې اند دي ، چې د نسب لږ تر لږه د يوه سړي او دوه ښځو په شهادت ثابتېږي.([1])

2- مالکي فقهاء پدې اند دي چې د نسب د ثبوت لپاره بايد لږ تر لږه دوه نارينه شهادت ورکړي.

3- شوافع او حنابله او ابي يوسف([2]) له احنافو څخه پدې اند دي. چې د نسب د ثبوت لپاره بايد ټوله ورثه شهادت ورکړي.([3])

### دويم مطلب: په قيافې او وراثي بصمې سره د نسب ثبوت

قيافه او وراثي بصمه(نښانه)دا دواړه هغه څه دي چې نسب ورباندې ثابتېږی. اګر چې د علماؤ اختلاف پکې شتون لري. نو پدې مطلب کې به هڅه وکړو چې په دغه دوو وسيلو سره د نسب د ثبوت څرنګوالی وڅېړو ، او د دغه مطلب د څېړلو لپاره مو دوه فرعې په نظر کې نيولي.

په لومړۍ فرعه کې به په قيافې سره د نسب ثبوت وڅېړو ، اوپه دويمه فرعه کې به په وراثي بصمې (نښانې) سره د نسب ثبوت وڅېړو.

### لومړۍ فرعه: په قيافې سره د نسب ثبوت

د قيافې د پېژندلو له لارې ، د نسب ثابتېدل د ځينو علماؤ په اند دليل کېدای شي.

اګر چې د اکثره علماؤ په اند دليل نشي کېدای په هر صورت مونږ په دغه فرعه کې درې موخې په نظرکې نيولي. په لومړۍ موخه کې د قيافې تعريف. او په دويمه موخه کې د نسب د ثبوت لپاره د قيافې حجيت او په درېيمه موخه کې مو په قيافې سره د نسب د ثبوت د شرطونو څېړل په نظر کې نيولي دي.

---

[1]) النهاية شرح البداية ، ج - ص - 531 www alukah net ادلة ثبوت النسب .

[2]) **پوره نوم يی:** يعقوب بن ابراهيم بن خنيس بن سعد بن خبتة ابو يوسف د امام ابوحنيفه له ممتازو شاګردانو او ملګرو څخه بلل کيږی چې د دريو خليفه ګانو لکه: مهدی ، هادی ، او رشيد د خلافت په دوره کې قاضی القضاة پاتی شوی چې په شرق او غرب کې يې فيصله چليده ، د 181 هـ د ربيع الاول په اخرکې د پنجشنبی په ورځ په بغداد کې وفات شو. قاسم بن قطلوبغا **تاج التراجم**، ج ـ1 ، ص - 315.

[3]) البيان والتوصيل ، ج - 14 ص - 279 www alukah net ادلة ثبوت النسب.

### لومړۍ برخه: د قيافې تعريف

**د قيافې لغوي تعريف.** قيافه په لغت کې د يوه شي په اثر(نښانه) پسې کېدو ته وايي: لکه عرب وايي **(قاف الاثر)** ژباړه: په نښه ورپسې شو. او قيافه د قاف مصدر دی ، او فاعل يې قائف راځي ، او قيافه د قائف حرفې ته هم وايي.([1])

### د قائف اصطلاحي تعريف.

او قائف په اصطلاح کې عبارت دی. (له هر هغه کس څخه چې کله د ما شوم اعضاؤ ته وګوري نو په خپل فراست او نظر سره د هغه نسب معلوم او وپېژني).([2])

### دويمه برخه: د نسب د ثبوت د قيافې حجيت

په قيافې سره د نسب د ثابتېدو په اړه د علماؤ اختلاف دی ، ځيني علماء وايي چې قيافه د نسب د ثبوت لپاره دليل ده ، او ځينې نور وايي چې په قيافې سره نسب نه ثابتېږي.

- جمهور(مالکيان ، شوافع ، حنابله) پدې اند دي چې د اشتباه او منازعې په وخت کې به قيافې ته رجوع کېږي.([3])

2- احناف وايي چې د نسب د ثبوت په برخه کې به قيافې ته رجوع نه کېږي.([4])

**د دوړو لوريو دلائل:**

**الف:** جمهور علماؤ د عايشې رضی الله عنها په حديث سره استدلال کړی.**(عن عائشة، قالت: د خل رسول الله ﷺ ذات يوم مسرورا وهو يقول: " يا عائشة ألم تري أن مجزز المدلجي د خل علي فرأى أسامة، وزيدا، عليهما قطيفة، قد غطيا رءوسهما وقد بدت أقدامهما، فقال: إن هذه الأقدام بعضها من بعض ")** ([5])

ژباړه:له عايشې رضی الله عنها څخه روايت دی. وايي چې يوه ورځ رسول الله.ماته راغلو نو يې وويل ای عايشې مجرز مدلجي ماته راغلو ، او ده زيد او د هغه زوی اسامه وليدل ، په داسې حال کې چې هغوی د(رخت) ټوټې په ځانونو اچولې وې ، او سرونه يې پټ کړي وو ، او پښې يې ښکارېدې ، نو يې وويل دغه پښې يو له بل څخه دي.

---

[1]) المغنى والشرح الكبير ، ج - 5 ، ص - 335. المبسوط ، ج - 16 ، ص -111. www alukah net ، ادلة ثبوت النسب.

[2]) منشاوى ، **التعريفات الجرجانى** ص - 143 باب القاف مع الالف.

[3]) ابن فرحون ، **تبصرة الحكام** ، ج - 2 ، ص -99. او ابن القيم ، **الطرق الحكمية**، ص - 573.

[4])الكاسانى ، **البدايع الصنايع**، ج - 8 ، 469.

[5]) البخارى ، **صحيح البخارى**، كتاب الفرايض ، باب القائف ، شماره ، 6770. مسلم ، **صحيح المسلم**، باب العمل بالحاق القائف ، شماره ، 1459. **ابن ماجه**، شماره ، 2349.

او علامه ابن القيم رحمه الله وايي ، چې پدې (قيافې)ب اندې د رسول الله ﷺ سنة دلالت كوي.

او پدې باندې خلفاء الرا شدينو ، او د هغوی نه وروسته نورو صحابه ؤ كرامو عمل كړی. چې له هغوی څخه ابو موسی الاشعري ، ابن عباس([1]) ، انس بن مالک([2]) رضی الله عنهم اجمعين دي ،

او په صحابه ؤ كې له دوی سره هېڅا مخالفت ندی كړی.

او له تابيعينو څخه سعيد ابن مسيب ،([3]) عطاء ابن ابي رواح ،)[4]) زهري. ([5])رحمهم الله تعالی

**باء:** او احناف وايي چې قيافه د نسب د اثبات لپاره دليل نشي كېدای.

دليل يې دا دی. چې قيافه يواځې مشابهت او يورنګوالی دی. او همدا مشابهت كله كله د اجنبيانو په منځ كې هم شتون لري. او داسې هم كېدای شي چې دغه مشابهت د اقاربو په منځ كې هم شتون ونه لري.

[1]) **پوره نوم يې :** عبد الله بن عباس بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد بن مناف ، ابو العباس القرشي الهاشمي ، د نبي عليه السلام د تره زوي دی ، مور يې لبابة بنت الحارث بن حزن الهلالية نوميده. د هجرت نه درې كاله مخكې په هغه وخت كې پيدا شوی كوموخت چې نبي عليه السلام په شعب ابوطالب كې وه ، د ډير علم له وجې په حبرالأمة يا بحر الأمة باندې نومول شوی ،نبي عليه السلام ورته دا ( اللهم فقهه في الدين وعلمه بالتأويل ) دعا كړی ، د نبي عليه السلام ، عمر او علي رضي الله عنه او نورو څخه روايت كوي او له ده څخه عبد الله بن عمر انس بن مالک او عكرمة او نور له ده څخه روايت كوي ، احاديث يې په شپږګونو كتابونو كې روايت شوي ، په (68) ه كال د ( 71 يا 73 ) كالو په عمر په طائف كې وفات شو ، جنازه يې محمّد بن الحنفية وكړه ، كله چې د ده قبر برابر شو نو محمّد بن الحنفية وويل : قسم په الله ﷻ نن حبر الأمة وفات شوی دی. رضي الله عنهم.(ابن الأثير. **أسد الغابة في معرفة الصحابة** 3/ 291.

[2]) **پوره نوم يی:** انس د مالک زوی د نضر بن ضمضم لمسی د انصارو د بنی نجارله قبيلی څخه دی ، چی له هجرت څخه10 كاله مخكی په مدينه منوره كی زږيدلی ، كله چی رسول الله هجرت وكړنو ده يی خدمت شروع كړ ، پوره لس كاله يی د رسول الله خدمت كړی ، محدثينوله ده څخه 2280 احاديث روايت كړی دمشق ، بصری ته يی سفرونه كړی ، او په 93كال كی يی له دنيا څخه رحلت كړی.**الاعلام للزركلی**، ج ـ2 ، ص ـ 24

[3]) **پوره نوم يې:** سعيد بن مسيب بن حزن بن ابی وهب المخزومی القفزشی ابو محمّد ، د تابعينو سردار او دمدينی له 7 تكړه فقهاؤ څخه ؤ سره له دی يو متقی او راهد محدث شخصيت ، د غړيو د تجارت كاربار يې كولو چی يه ټولو خلكو كې د عمر بن الخطاب په پريكړو او فيصلو زيات پوه ؤ په 93 ، كي په مدينه منوره كې وفات شو ، **الاعلام للزركلی، ج ـ3، ص ـ 102.**

[4]) **پوره نوم يې:** عطاء بن ابی رباح المكی القرشی د ابی خيثم مولا دی چې له اكابرو صحابه ؤ څخه دی په مكه كې اوسيدو چې له زياتو صحابه ؤ سره يې ليدنی كړيې او له هغوی څخه يې علم حاصل كړی له عبادله ، اربعه سره يې اوريدنه شو يې له ده څخه زياتو تابعينو زده كړه كړيې لكه زهری او قتادة او داسی نور دمكی له مشهورو مفيانو حخه ؤ دفقې په سلسله دې دشافعيه ؤ له ډلی څخه دی.

**موسوعة الاعلام**، ج ـ1 ص ـ 393.

[5]) احمد محمّد ، سعيد ، **اثبات النسب ونفيه باالبصمة الوراثية**، ص ـ 58.

**درېیمه برخه: په قیافې سره د نسب د ثبوت شرطونه**

کومو علماؤ چې په قیافې سره د نسب ثابتېدل منلي دي ، او دا یې د نسب د ثبوت لپاره یوه قرینه بللې هغوی د دې لپاره چې نسب یو حیاتي پدېده ده ، او پدې کې باید بې باکې ونشي.

نو په قیافې سره یې د نسب د ثابتولو لپاره یو سلسله شرطونه په نظر کې نیولي دي ، چې لاندې به یې ذکر کړو.

1- دا چې قائف به مسلمان وي.

2- دا چې قائف به عاقل وي

3- دا چې قائف به اهل خبره وي(په دغه برخه کې به پوره مهارت لري).

4- دا چې قائف به نارینه وي ، زنانه به نوي ځکه چې په نص کې نر راغلی.([1])

دغه څلور شرطونه اتفاقي دي.

خو د قائف د شمېر په اړه د علماؤ دغې ډلې په خپل منځ کې سره اختلاف کړی.

**لومړی** .جمهور او اکثره علماء:

له دغه ډلې څخه (چې قیافه حجت بولي) زیاتره علماؤ پدې باور دي ، چې عدد شرط ندی ، او یواځې د یوه قائف په خبره هم نسب ثابتېږي.

1- خو په شوافعو او مالکیانو کې دوه نظره دي ، ځینې یې شرط بولي ، او ځینې نور یې شرط نه بولي.([2])

ابن القیوم (رح) د جمهورو علماؤ نظر ته ترجیح ورکړی. او دی وایي چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ، یواځې د یوه کس په خبره خوشحالي اختیارکړې. او بل دا چې له عمر څخه عروه نقل کړی ، چې د ده په زمانه کې د یوه ماشوم د نسب په اړه دوه کسانو ادعا وکړه ، نو عمر(رضی الله عنه) د هغه د حل لپاره قائف ته قضیه حواله کړه او هغه یو کس ؤ. همدا راز علي(رضی الله عنه) د دې مسئلې د حل لپاره یو قائف ټاکلی.([3])

---

[1]) ابن فرحون ، **تبصرة الحکام** ، ج - 2، ص -99.
[2]) ابن فرحون ، **تبصرة الحکام** ، ج - 2، ص -99.
[3]) ابن القیم ، **الطرق الحکمیة** ، ص - 609.

## څلورمه برخه: په قرعي سره د نسب ثبوت

قرعه: چې په پښتو ژبه کې ځيني خلق ورته پچه وايي ، او ځيني ورته قرعه وايي.

او دغه (قرعه) د نسب د ثبوت لپاره يوه ضعيفه لاره ده ، او د دې څخه هغه وخت استفاده کېږي چې د ماشوم د نسب په اړه د دوه يا څو کسانو ترمنځ شخړه وي ، او له دغو کسانو څخه يوه ته هم د ماشوم نسب په راجحو او قوي دلائلو سره ثابت نشي ، نو په دغه وخت کې به قرعې ته مراجعه کېږي.

په قرعې سره د نسب د ثبوت په اړه د علماؤ اختلاف دی.

1-: اکثره علماء د نسب د ثبوت په برخه کې قرعې ته اعتبار نه ور کوي. چې له دغه جملې څخه احناف هم دي ، لکه څرنګه چې امام کاساني وايي(**اذا اختلف اثنان علي نسب ولد و قاما بينة و لا مرجح، فانه يثبت النسب لهما معاً**). ([1]) ژباړه: کله چې دوه کسان د يوه ماشوم د نسب په اړه سره اختلاف وکړي ، او دواړه ګواهان راولي او د ترجيح هيڅ وجه شتون ونه لري ، نو نسب به په يوه ځای دواړو ته ثابتېږي.

نو له دې متن څخه معلومېږي چې قرعې ته اعتبار نه ور کوي.

همدا راز مالکيان هم پدې اند دي.([2])

په شوافع کې هم دا يوه نظريه ده ، او کېدای شي دا راجح هم وي او حنابله هم زياتره پدې نظر دي.([3])

2-: او ځيني نور علماء بيا پدې نظر دي چې قرعه د نسب د ثبوت لپاره معتبره لارده. او په دغه حديث يې استدلال کړی.
**( عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: أُتِيَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ وَهُوَ بِالْيَمَنِ، فِي ثَلَاثَةٍ قَدْ وَقَعُوا عَلَى امْرَأَةٍ فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ، فَسَأَلَ اثْنَيْنِ، فَقَالَ: أَتُقِرَّانِ لِهَذَا بِالْوَلَدِ؟ قَالَا: لَا، ثُمَّ سَأَلَ اثْنَيْنِ، فَقَالَ: أَتُقِرَّانِ لِهَذَا بِالْوَلَدِ؟ قَالَا: لَا، فَجَعَلَ كُلَّمَا سَأَلَ اثْنَيْنِ: أَتُقِرَّانِ لِهَذَا بِالْوَلَدِ؟ قَالَا: لَا، فَأَقْرَعَ بَيْنَهُمْ، فَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالَّذِي أَصَابَتْهُ الْقُرْعَةُ، وَجَعَلَ عَلَيْهِ ثُلُثَيْ الدِّيَةِ، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ** ([4]).ژباړه:د ارقم له زوی زيد څخه روايت دی وايي: چې د ابي طالب زوی علي ته يوه قضيه راغله ، او هغه په يمن کې ؤ ، (هغه دا) چې د يوې ښځې سره دريو کسانو په يوه طُهر کې کوروالی کړی وه ، نو ده (علي) له دؤ کسانو څخه پوښتنه وکړه. چې ايا تاسو منئ چې دا ماشوم د دغه بل زوی دی ، نو دوی دواړو وويل ، نه. نو هر ځل به چې ده ، د دوی له ډلې د

[1]) الکاسانی ، **البدايع الصنايع**، ج - 8، ص - 4888.
[2]) الزرقانی ، **شرح الزرقانی علي مختصر خليل** ، ج - 5، ص - 109.
[3]) ابن قدامه ، **المغنی**، ج - 8 ص - **108.**
[4]) ابو داود ، **سنن ابي داود**، ب کتاب الطلاق ، باب من قال بالقرعة ، ص - 2269. دا حديث صحيح دی ، الألباني ، **صحيح وضعيف سنن ابن ماجة** ، شماره ، 2348.

دوو نه پوښتنه کوله ، چې ايا تاسو منئ چې دا ماشوم د ده (دريېم کس) زوی دی نورو به ويل چې نه. نو وروسته يې د دوی په منځ کې قرعه(پچه) واچوله ، او د ماشوم (نسب يې) په هغه چا پسې اړوند کړ ، چې قرعه کې يې نوم را ووتلو ، او په ده باندې يې د ديت دوه ثلثه تعين کړې.
نو کله چې د دې قضيې يادونه رسول الله ﷺ ته وشوه نو دومره يې وخندل چې نواجذ غاښو نه يې ښکاره شول.
امام ابن حزم پدې حديث داسې استدلال کوي ، چې کله رسول الله ﷺ د علي د فيصلې څخه خبر شو نو ده وخندل او خوشحاله شو.

نو که چېرې دا کار صحيح او مشروع نوي ، رسول الله ﷺ به هيڅ کله هم نوي خندلي ، ځکه رسول الله ﷺ د غير مشروع کار پر وړاندې هيڅکله سکوت ندی کړی او نه يې تآئيد کړی ، خوشحالي خو ډېره لرې خبره ده.([1]) او ده (ابن حزم) پدې باندې صراحت کړی ، چې دا حديث صحيح دی.

## راجح نظر:

ماته د مؤيدينو نظر راجح ښکاری څکه چې حديث يې په تأييد باندی دلالت کوی او حديث هم صحيح دی څکه امام ابن حزم يې په صحت صراحت کړی ، او امام البانی هم د نوموړی حديث په صحت باندي حکم کړی.([2]) او د شيعه وګړو دشخصی احوالو قانون قرعی ته اعتبار ورکړی ، داسي صراحت کوی: (له ميړه لرونکی ښځی يا معتدی سره د وطې په شبهې پيداشوی ماشوم د دې قانون د حکمونو مطابق ، د ماشوم انتساب هر يو د زوج او واطی شبهی ته ممکن وی د نسب دټاکلو لپاره د قطعی يا شرعی لاری په نشتوالی کې نسب په قرعې سره ټاکل کيږی ، او که الحاق يې دواړو ته غير ممکن وی له دواړو څخه منفی کيږی).([3])

### دريېم مطلب: د وينې ټسټ او وراثي بصمې سره د نسب ثبوت

پدې مطلب کې به د نسب ثبوت د علمي لارو په وسيله چې د وينې ټيسټونه او وراثي نښې دي وڅېړو ، او دغه دوه لارو ته علمي دلائل ويل کېږي ، چې د تقليدي دلائلو په مقابل کې

استعمالېږي ، او تقليدي دلائل هغه دلائل دي چې په شريعت کې له پخوا موجود وو.

[1]) ابن حزم ، **المحلی**، ج ، 8 ، ص - 108.
[2]) الألباني ، **صحيح وضعيف سنن ابن ماجة** ، شماره ، 2348.

[3]) د عدلی وزارت ، **د افغانستان د شيعه وګړو د شخصی احوالو قانون**، د 175 مادی. 4 ، فقره.

او د نسب د ثبوت لپاره چې په نني عصرکې له کومو علمي لارو څخه ګټه پورته کېږي ، هغه د وينې معاينه کول او د وراثي نښو څېړل دي ، نو مونږ په دغه مطلب کې دوه فرعې په نظرکې نيولي ، لومړۍ فرعه د وينې په ټيستونو سره د نسب ثبوت دويمه فرعه په وراثي نښو سره د نسب ثبوت.

**لومړی فرعه: د وينې په ټيسټ سره د نسب ثبوت**

په دغه فرعه کې په هڅه وکړو ، چې لومړی د وينې څخه تعريف وکړو ، او دويم د وينې عناصر په ګوته کړو ، او دريېم د هغې د تشخيص لپاره د هغې ګروپونه په ګوته کړو ، او څلورم د وينې د ګروپونو د تشخيص په پايله کې د نسب د ثبوت شرعي حکم وڅېړو.

**لومړۍ برخه: د وينې تعريف**

**1-: د وينې لغوي تعريف**

وينه په لغت کې هغه سور رنګې بهېدونکې ماده ده ، چې د انسان په شريانونو ، او وريدونو ، او شعريه عروقو ، کې جريان لري.

**2-: د وينې اصطلاحي تعريف**

د طب علماؤ د وينې څخه داسې تعريف کړی ، چې کوم مونږ په لغوي تعريف کې بيان کړ.

خو د دوی تعريف يو څه دقيق دی ، او داسې يې تعريفوي(وينه هغه بهېدونکې ماده ده ، چې د وينې په رګونو کې چې عبارت دي له وريدونو ، شريانونو ، او شعريه عروقو څخه جريان لري ، او د هډوکو مغزونه د دې اساسي او معتبره سرچينه او جوړوونکې مرجع ده ).([1])

او ځينې علماؤ يې بيا داسې تعريف کړي (وينه هغه سور رنګې ماده ده ، چې زړه او په هغه پورې تړلي د وينې لوښي ډکوي ، او دغه بهېدونکې ماده حجرو ، او نسجونو ته اکسجن او خواړه رسوي ، کوم چې د انسان د بدن ديارلسمه 13% برخه وزن تشکېلوي ).([2])

نو ګورو چې په لومړي تعريف کې د وينې په جريان او د هغه په سرچينه اوجوړوونکې مرجع باندې تمرکز شوی ، او په دويم تعريف کې د وينې په ځينې ځانګړتياؤ او دندو تمرکز شوی.

[1]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر** ص ـ 157.
[2]) احمد كنعان ، **الموسوعة الطبية الفقهية**، ص ـ 426.

**دویمه برخه: د وینې جوړوونکي توکي(عناصر)**

وینه له دوو اساسي برخو څخه جوړه شوې. چې یوه برخه یې پلازما ، او بله برخه یې د وینې حجرې نومېږي. نو مونږ به لومړی د پلازما تعریف او دندې بیان کړو. او بیا به د وینې حجرې وڅېړو.

**1-: د پلازما تعریف.**

پلازما هغه زېړوالي ته مایله بهېدونکې ماده ده ، چې د وینې 50 نه تر 60% برخه تشکېلوي.

او د دغې مادې 90% برخه اوبه تشکېلوي.([1])

**2-: د پلازما دندې.**

پلازما یو شمېر دندې پر مخ وړي ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

**الف:** د وینې حجرو ته د حرکت کولو اسانتیا برابره وي ، او دا یوه اړینه او معتبره دنده بلل کېږي.

**باء:** د هاضمې له سیستم څخه خوراکي توکي را اخلي او بیا یې د وجود بېلابېلو حجرو او نسجونو ته رسوي.

**جیم:** هغه فاضله مواد چې د جسم د فعالیت په پایله کې منځ ته راغلي وي ، کوم چې په خولو او متیازو کې ښکاري د بدن هغه سیستمونو ته یې راګرځوي ، کوم چې د طرح عملیه اجراء کوي.([2])

**3-: دوینې حجرې.**

په پلازما کې د وینې درې ګونه حجرې ګرځي راګرځي ، او هغه په لاندې ډول دي.

له بلازما څخه علاوه په وینه کې درې ګوني حجرې شتون لري. چې په لاندې ډول به یې بیان کړو.

**لومړی: سره کورویات:**

د وینې سره کرویات هغه حجرې دې چې ګرد او ګولۍ ډوله بڼه لري ، چې دواړه اړخونه یې ژور دي او نری دیوال لري.

او د وینې سره کرویات له خپل ځان سره د هیموګلوبین ماده لري ، کومه چې له وسپنې او پروتینو څخه مرکب او جوړه شوې ده ، او د هیموګلوبین ماده وینې ته سوررنګ ور کوي ، او وینې ته له اکسیجن سره د ګډېدو عملیه اسانه کوي ، او له خپل ځان سره یې اخلي.

[1]) احمد کنعان ، **الموسوعة الطبية الفقهية**، ص ـ426.
[2])احمد کنعان ، **الموسوعة الطبية الفقهية**، ص ـ426.

دغه د هیموګلوبین ماده له خپل ځان سره اکسیجن اخلي ، د بدن بېلابېلو حجرو او نسجونو ته یې رسوي. او له حجرو او نسجونو څخه کاربن دای اکساید له ځان سره اخلي او بیا یې په سږو کې پرېږدي. ([1])

همدا وجه ده چې کله مونږ د شریانونو وینه ګورو نو سوروالی یې زیات په نظر راځي ، نظر د وریدونو وینې ته. دا ځکه چې د شریانونو وینې له خپل ځان سره اکسیجن را اخیستلي دي. او د وریدونو وینې خپل ځان له هغه څخه تش کړی دی ، او دغه سره کرویات هسته هم نه لري.

د دغه کروياتو شمېره نظر شخص ، د هغه خوړو ، او د هغه صحت ، او جنس ته په کتو فرق کوي.چې په اجمالي توګه ویلی شو چې په نارینه کې 5.4 ملیونه حجرې ، او په ښځینه ؤ کې 4.8 ملیونه حجرې یې په هر یو ملي معکب متر وینه کې شتون لري.([2])

او یا ویلی شو چې په نارینه ؤ کې له 4.7 څخه تر 6.1 پورې حجرې ، او په ښځینه ؤ کې له 4.2 څخه تر 5.4 پورې حجرې ، په یوه ملی معکب متر وینه کې شتون لري.([3])

**سپین کرویات**

دا کرویات د سرو کروياتو برعکس هسته لري. خو د هیموګلوبین ماده نه لري ، او رنګ هم نلري او سپین ځکه ورته وایي ، چې کله رڼا ورباندې ولګېږي هغه انعکاس کوي.

او د دغه سپينو کروياتو شمېر نظر سرو ته ډېر لږ دی. چې د زرو سرو کروياتو پر وړاندې یو عدد تشکېلوي ، او د دغه کروياتو حرکت خپل ذاتي حرکت دی ، او کله چې څوک ناروغ شي په بدن کې یې د سپينو کروياتو شمېر زیاتېږي.

او دنده یې د مرضونو پر وړاندې مبارزه ده.([4])

**دمویه صفحات:**

دمویه صفحات د وینې هغه وړې حجرې دي ، چې د هډوکي په منځ کې د سپينو او سرو کروياتو خواته جوړېږي ، او کله چې جوړ شي د وینې جریان ته دننه کېږي ، او له 8 ورځو څخه تر 10 ورځو پورې ژوند کوي ، وروسته مري ، او اساسي دنده یې د ټپونو له منځه وړل او د زخم شوی ځای څخه د وینې د جریان

[1]) عبدالحمید الشاعر ، **بنوک الدم** ص -7.

[2]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر** ص - 158.

[3]) موضوع سایت mawdoo.com. عدد کریات الدم الحمراء فی جسم الانسان.

[4]) البوصافی ، **اثبات النسب باالقرائن .القیافة .تحیل الدم .الجینات**، مرکز الغندور ، القاهرة ، ، ص - 97.

پر وړاندې مبارزه ده وینه کلکه کوي ، او دوی کولی شي چې دغه محل (ټپ) ته نور دمویه صفحات هم را وغواړي.([1])

**د وینې ځینې دندې:**

وینه د انسان په بدن کې ځینې دندې پر مخ وړي ، چې مونږ به یې ځینو ته په لاندې توګه اشاره وکړو.

**1.تنفس یا ساه اخیستل.**

وینه د هموګوسین په وسیله له خپل ځان سره اکسیجن له سږو څخه اخلي ، او د بدن د بېلابېلو برخو نسجونو ته یې لېږدوي ، او له نسجونو څخه کاربن را اخلي او په سږو کې یې پرېږدي ، تر څو یې سږي له بدن څخه آزاد او بهر کړي.

**2. تغذیه:**

وینه د هاضمې له سیستم څخه خوراکي توکي را اخلي ، او د بدن ټولو برخو او نسجونو ته یې رسوي.

**3- د مضره توکو(موادو) اېستل:**

وینه د بدن له بېلابېلو برخو څخه بیکاره ، زهر لرونکي ، او ضرر رسوونکي توکي را جلا کوي ، او د بډوډو له لارې یې له بدن څخه اوباسي.

**4.د اوبو د توازن ساتنه:**

وینه په بدن کې د اوبو د توازن او برابرولو دنده هم پر مخ وړي ، یعنې کله چې په بدن کې د اوبو برخه زیاتېږي ، نو وینه یې له بدن څخه بهر ته اوباسي.

**5.د وینې کلکوالی:**

کله چې د بدن کومه برخه ټپي شي ، او له وجود څخه د وینې بهېدنه پیل شي ، نو وینه د کلکوالي په وسیله د هغې له بهېدلو مخنیوی کوي.

[1]) موضوع mawdoo.com ماهی صفائح الدم تاریخ 2019. 1، 31.

**6.د بدن د تودوخې برابرول:**

وینه د بدن د تودوخې د درجې په برابرولو کې مرسته کوي ، او له پوټکي سره په ګډه د بدن د تودوخې درجه برابره ساتي ، چې تر څو له خپل ځان څخه د نا پېژندل شوو جسمونو ، د جراسیمو ، او د مکروبونو پر وړاندې مبارزه وکړي.([1])

**درېیمه برخه: د وینې ګروپونه**

د وینې د ګروپونو پېژندل له هغو اړینو او مهمو کارونو څخه دي ، چې ډاکټران په لومړي قدم کې

خپل ځان له هغه څخه خبروي ، دا ځکه چې په دې سره د سړي(مریض) هویت ثابتېږي.([2]) او د دغه ګروپونو تقسیم بندي د هغو پروتینونو په شتون ولاړه ده ، کوم چې د سرو کروياتو په سطحه باندې شتون لري. او دغه ګروپونه د جنونو د شکلونو د اختلاف پر بنسټ ، د وراثي معلوماتو په وسیله ټاکل شوي دي.

چې دغه جنونه عبارت دي. له ( A ) او( B ) او( O ) څخه.

**د وینې د ګروپونو ډولونه:**

وینه په ټوله کې څلور ګونې ګروپونه لری چې په لاندی ډول دی.

**1-: د A ګروپ**

دا ګروپ داسې پېژندل کېږي ، چې کله د یو چا د وینې سره کرویات د A انتیجن لرونکې وي ، او پلازما د B انتي باډي لرونکې کوي ، نو په دې صورت کې یې د وینې ګروپ A دی.

**2-:د B ګروپ.**

دا ګروپ داسې پېژندل کېږي ، چې کله د یو چا د وینې سره کرویات د B انتیجن لرونکې وي ، او پلازما د A انتي باډي لرونکې وي ، نو په دې صورت کې یې د وینې ګروپ B دی.

**3-:A ـ B ګروپ.**

دا ګروپ داسې پېژندل کېږي ، چې کله د یو چا د وینې سره کرویات د A او B انتیجن لرونکې وي ، او پلازما یې نه د A اونه د B انتي باډي لرونکې وي ، نو د دغه کس وینه د A B ګروپ لري.

---

[1]) لينة بنت دادة ، **اثباب النسب باالوسا ئل العلمية**، ص -34.

[2]) موضوع ، mawdoo.com ، ماهی افضل فصيلة دم

**4-: O ګروپ.**

دا ګروپ داسې پېژندل کېږي ، چې کله د يو چا د وينې سره کرويات نه د A اونه د B انتيجن ولري ، خو پلازما يې بيا هم د A اوهم د B انتي باډي ولري.([1])

**د وينې د ګروپونوځينې ځانګړتياوې:**

**1-:A ګروپ ځانګړتياوې.**

1- مونږ کولای شو چې د دغه ګروپ لرونکې وينه هغه شخص ته ورکړو ، چې د هغه وينه د A ګروپ ، اويا د A ـ B ګروپ ولري.

2- د دغه ګروپ لرونکو اشخاصو د هاضمې سيستم ډېر حساس دی ، نو بايد په خوراک کې له احتياط نه کار واخلي.

3- د بدن دفاعي سيستم يې ډېر کمزوری دی ، او هر ډول مکروبونه ورباندې غالبېږي ، نو دوی بايد د خپل ځان سره د پاکۍ او نظافت په برخه کې پاملرنه وکړي.([2])

**2-: د B ګروپ ځانګړتياوې.**

1- مونږ کولی شو ، چې د دغه ګروپ لرونکې وينه هغه اشخاصو ته ورکړو چې وينه يې د B ګروپ لرونکې وي ، او همدا راز هغه کس ته يې هم ورکولی شو ، چې د وينې ګروپ يې A او يا B وي.

2- د دغه ګروپ لرونکو اشخاصو دفاعي سيستم ډېر پياوړی وي.

3- عصبي سيستم يې متوازن وي.

4- د هاضمي سيستم يې هم نسبتاً پياوړی دی.([3])

**3-:A ـ B ګروپ ځانګړتياوې.**

1- د دغه ګروپ لرونکې وينه يواځې هغه اشخاصو ته ورکولی شو ، چې وينه يې همدغه ګروپ ولري ، او نورو اشخاصو ته چې د وينې ګروپ يې A او يا B نوي نشي ورکول کېدای ، او دغه ګروپ لرونکو اشخاصو ته هم د A ګروپ هم B ګروپ او هم د A او يا B ګروپ ورکولی شو. او دغه ګروپ ته بخيل ګروپ وايي.

---

[1]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر**، ص ـ 161 .

[2]) موضوع ، mawdoo.com ، انواع فصائل الدم ومميزاتها.

[3]) موضوع ، mawdoo.com ، انواع فصائل الدم ومميزاتها.

2- د دې ګروپ لرونکو اشخاصو دفاعي سیستم زیات کمزوری دی.([1])

**4- د O ګروپ ځانګړتیاوې.**

1- دغه ګروپ ته سخي او کریم ګروپ ویل کېږي ، ځکه چې په دې ګروپ کې هیڅ ضد او ټکر اجسام او مواد شتون نلري ، نو له دې کبله کولای شو ، چې د دغه ګروپ لرونکو اشخاصو وینه هر ګروپ لرونکو اشخاصو ته ورکړو.

مګر د دغه ګروپ لرونکي اشخاص ، یواځې د هغه اشخاصو وینه قبلولی شي ، چې د هغوی وینه د O ګروپ ولري ، او د نورو ګروپونو لرونکې وینه نه قبلوي.

2- د دغه ګروپ لرونکي اشخاص به د پیاوړي دفاعي سیستم څخه برخمن او د صبر او قوت خاوندان وي ، سختي او مشکلات په ښه توګه ګاللی شي.

3- مګر د هاضمې په سیستم کې یې کله نا کله ستونزې پیدا کېږي([2]).

**څلورمه برخه: د وینې د ګروپو په وسیله د نسب د ثبوت حجیت**

کوم څه چې وویل شول له هغه څخه معلومېږي ، چې د وینې د کروپونو تقسیم بندي په هغه ماده باندې ولاړه ده ، کومه چې په وینه کې شتون لري ، چې د (انتیجن) په نامه یادېږي ، چې دغه ماده په سرو کروياتو ، کې شتون لري.

په داسې ډول چې د کوم شخص د وینې سره کرویات د(A انتیجن) ولري ، نو د ده د وینې کروپ (A) دی ، او کوم کس چې د هغه د وینې سره کرویات (انتیجن B) ولري ، نو د هغه د وینې کروپ B دی ، او د کوم شخص چې د وینې سره کرویات یې چې هم ( A او هم B انتیجن) دواړه ولري ، د هغه د وینې کروپ ( B - A)دی.

او همدا راز په پلازما کې هم یو ډول ضد او ټکر جسمونه چې (انتي باډي) نومېږي موجود دي ، چې دا هم په دوه ډوله دي. یو یې( A انتي باډي )او دویم یې(Bانتي باډي) دي ، او په علمي توګه دا اوس ښکاره خبره ده ، چې دغه انتي باډي جسمونه چې د وینې په حجرو کې شتون لري ، چې یا A دی یا B دی ، د دې شتون او نه شتون ولاړ دی ، په شتون او نه شتون د هغه انتیجنونو چې د مور او پلار په بدن کې دي.

همدا راز له یوه نسله بل نسل ته هم په همدې اساس لېږدول کېږي ، چې شتون او نه شتون یې د وراثي قوانینونو په اساس ولاړ دی.

---

[1]) موضوع ، mawdoo.com ، انواع فصائل الدم ومميزاتها.

[2]) موضوع ، mawdoo.com ، انواع فصائل الدم ومميزاتها.

او د دغه (انتي جنونو چې A او B دی ) د شتون پر بنسټ درې ډوله ژونونه شتون لري چې یو یې A بل یې B بل یې O دی.

پدې توګه چې د وینې حجرې یو ډول مواد لري ، چې کروموسومین نومیږي. او وینه خامخا له خپله ځانه سره یو له دغه دریو انتیجنونو څخه لري.

چې د Anti A اصطلاح یا د Anti B اصطلاح ورته استعمالیږي ، او دغه په لاندې جدول کې ښه معلومیږي.

| د وینې ګروپ | د سرو کروپاتو انتي جنونه | د پلازما انتي باډي |
|---|---|---|
| A | A | B |
| B | B | A |
| A-B | A-B | نه A راځي نه B |
| O | نه A راځي نه B | همA وي هم B |

نو له پورتني جدول څخه معلومیږي. چې داسې نشي کېدلای ، چې د یوه شخص د وینې د سرو کروپاتو(انتیجن) د A وي. او د پلازما (انتي باډي) هم د A وي. او دا هم امکان نه لري ، چې د یوه شخص د وینې د سرو کروپاتو (انتیجنونه) د B وي ، او هم دې د هغه د پلازما (انتي باډي) B وي. نو معلومه شوه ، چې دغه دواړه همنوعه ضد جسمونه سره نشي یو ځای کېدلای.او د دې لامل دا دی چې که چیرې دغه دواړه سره یوځای شي نو یو غیر نورمال یوځایوالی منځته را ځي ، او وینه په خپل منځ کې سره سرینښیږي ، او رګونه سره بند وي ، چې د انسان د مرګ لامل جوړیږي.

نو په همدې بنسټ دغه دوې مادی (B-A.انتیجنونه) د وینې د ارث او د لېږد په برخه کې اساسي رول لوبوي. او دا ځکه چې دغه (A انتیجنونه او B انتیجنونه) مخکې له ضد او ټکر جسم څخه را ښرګندیږي. او بل دا چې دا دواړه ثابت دي او هیڅ تغیر نه کوي.

نو د وینې د ګروپونو د ارث کوم قوانین چې دي هغه په لاندې ډول عملي کیږي.

1- دا ناشونې ده چې دغه (A او B انتيجنونه) دې له يو کس څخه بل کس ته انتقال شي ، مګر هغه وخت چې له يوې نوعې څخه وي. نو په هيڅ وجه دغه (A اوB انتيجنونه) د اولاد د وينې په کروياتو کې نه پيدا کېږي ، مګر هغه وخت چې د والدينو د دواړو او يا له دوی دواړو څخه د يوه د وينې کرويات يې (A انتي يا B انتي ) جنونه ولري.

2- دا قطعي پايله لاسته راغله چې که د والدينو د وينې کرويات دغه ياد شوي جنونه ونلري په اولاد کې يې شتون ناشونې دی.

3- که چېرې د مور اوپلار د وينې ګروپ يو له دغه دواړو ګروپونو څخه ولري ، نو په زياتره اولادونو کې شته وي.

او په لاندې جدول کې به واضح شي چې څرنګه د اولاد د وينې ګروپ شونی اوڅرنګه ناشونی دی.

| د مور او پلار د وينې ګروپونه | | د اولاد د وينې ګروپونه داسې شونی | | | | د اولاد د وينې ګروپونه داسې ناشونی | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| O | O | O | | | | A-B | B | A | |
| A | O | O | A | | | A-B | B | | |
| B | O | O | | B | | A-B | | A | |
| A-B | O | | A | B | | A-B | | | O |
| A | A | O | A | | | A-B | B | | |
| B | A | O | A | B | A-B | | | | |
| A-B | A | | A | B | A-B | | | | O |
| B | B | O | | B | | A-B | | A | |
| A-B | B | | A | B | A-B | | | | O |
| A-B | A-B | O | A | B | A-B | | | | O |

دغه ټيستونه د نسب د نفې لپاره دليل جوړېدلی شي ، خو د نسب د ثبوت لپاره دليل نشي جوړېدلی ، او د لا ښه وضاحت لپاره به دوې فرضيې په نظرکې ونيسو:

**لومړۍ فرضيه:**

که چېرې د ماشوم د وينې ګروپ د هغو نسلي يا ارثي غوښتنو کومې چې مونږ پورته بيان کړې ، د مېړه او ميرمنې د وينې د ګروپونو سره برابر راغلو ، نو امکان لري چې دغه ماشوم د همدغه مېړه او ميرمنې زوی وي:

د بېلګې په توګه که چېرې د ماشوم د وینې ګروپ A وي ، او د مور او پلار د وینې ګروپ یې د دواړو یا له دوی څخه د یوه د وینې ګروپ A وي نو کېدای شي ، دغه ماشوم د همدغه مور او پلار بیولوژي زوی وي.

**دویمه فرضیة:**

که چېرې د ماشوم د وینې ګروپ د هغو نسلي یا ارثي غوښتنو کومې چې مونږ پورته بیان کړې ، د مېړه او میرمنې د وینې د ګروپونو سره برابر رانه غلو ، نو په یقیني توګه ویلی شو چې دغه ماشوم د دغه مور اوپلار بیولوژي زوی ندی.

**د بېلګې په ډول که چېرې د ما شوم د وینې ګروپ O وي، او د مور او پلار د دواړو یا یو له دوی څخه د** وینې ګروپ A او B وي او یا A ـ B وي ، نو په یقیني توګه دغه ماشوم د دوی بیولوژي زوی نشي کېدای([1])

**دویمه فرعه: په وراثي نښانو سره د نسب ثبوت**

د وراثي نښانو تشخیص او پیداکول ، د وراثت د علم یوه مهمه لاسته راوړنه ده.

او دا(د وراثي نښانوعلم) یو نوی علم دی چې د 20 پیړۍ په لومړیو کې یې ظهور کړی ، له دې نه مخکې هم په بېلابېلو هیوادونو کې د دغه علم (پوهې) څېړنه د تشریح (د ژوندي موجوداتو د وجود د غړیو څېړل د څېړنې په موخه) د علم یوه برخه وه ، او د طب په پوهنځیو کې به په غیر مستقله توګه وربانديې بحث اوڅېړنه کېده ، او په لومړیو کې د وراثي نښانو څخه د طبي تدریس په ساحه کې د طب ، او د جنونو د مرضونو ، او د نسجونو د زرعې (کرلو) د عملیاتو په ساحه کې ترینه ګټه اخیستل کېده ، لیکن په اوسنۍ زمانه کې د شرعي طب په ساحه کې ترینه هم استفاده کېږي ، او همدا راز په ډېره لوړه پیمانه په عدلي طب او د جنایي موضوعاتو په څېړنو کې ترینه ګټه اخیستل کېږي ، تر څو د دې په وسیله جنایت او د جنایت هغه مرتکبین مشخص کړي ، چې د جرم په ارتکاب متهم وي نو په دغه وروستیو کې فقهاؤ د دغې نوې پدېدې په اړه خپلې څېړنې کړي ، چې آیا په دغه نوې پدېده باندې د جرم او مجرم په تشخیص کې باور او اعتماد شرعي حیثیت لري او که نه ؟ او آیا دغه اثبات د شرعي دلائلو څخه شمېرل کېږي او کنه ؟ نو په دې اړه د دوی آراء او نظریات سره مختلف دي.([2])

او په دې کې هیڅ شک نشته چې وراثي نښانې د خپل خاوند په هویت دلالت کوي. او دا هغه عملیه ده ، چې د یوه انسان هویت او شخصیت او د هغه د وراثي صفاتو ، کوم چې دی وربانديې له نورو څخه ځانګړی کېږي په ګوته کوي ، او د دغه وراثي بصمي(نښانې) د تشخیص په پایله کې کېدای شي ، چې وربانديې

[1]) احمد محمّد سعید ، **اثبات النسب و نفیه بالبصمه الوراثیة، دراسة مقارنة،** ص ـ 67.
[2]) احمد محمّد سعید ، **اثبات النسب و نفیه بالبصمه الوراثیة، دراسة مقارنة،** ص ـ 67.

استدلال وشي. او د تېروتنې په وخت کې جرم او مجرم ور باندې په ګوته شي. خو معاصرو فقهاؤ پخپلو څېړنو کې په وراثي نښانو د نسب د اثبات او د زنا د اثبات په برخه کې زيات تمرکز کړی.[1]

نو مونږ په دغه فرعه کې څلور موخې په نظرکې نيولي دي چې:

(لومړی) برخه د وراثي نښانې تعريف له دې اړخه چې دغه اصطلاح يو وصفي مرکب دی. يعنې دغه اصطلاح له دوو کلمو څخه چې البصمه او وراثي ده ترکيب شوې ده وکړو ، (دويمه) برخه کې به د وراثي نښانې ځينې ځانګړتياوې په ګوته کړو ، او په(دريمه)برخه کې به د وراثي نښانې د تشخيص لارې او څرنګوالی په ګوته کړو ، او په(څلورمه)برخه کې به د نسب اثبات د وراثي نښانو له لارو وڅېړو.

### لومړۍ برخه: د وراثي بصمي(نښانې) يا DNA تعريف

د وراثي بصمي يا DNA د تعريف په اړه بايد لاندې ټکي په پام کې ونيسو لومړی لغوي تعريف بيا اصطلاحي تعريف.

### لومړی لغوي تعريف:

**1.بصمه:**

بصمه عربي کلمه ده ، چې د دې لفظ اطلاق په هغه تش ځای باندې کېږي ، چې د خنصرې او بنصرې ګوتو په مابين کې قرار لري.[2]

او بصم د ګوتمې هغه نښانې ته هم ويل کېږي ، چې د ګوتمې د ګوته کولو له امله په ګوته باندې پاتې وي. همدارنګه هغه نښانو ته هم ويل کېږي چې د ګوتې د لګولو له امله د کاغذ په مخ پاتې وي. چې جمع يې بصمات راځي ، لکه چې عرب وايي (ترک بصماته علي الورق) ژباړه: په پاڼه باندې يې د خپلو ګوتو نښانې پريښودلې.

لکه څرنګه چې ګورو په اوسنۍ زمانه کې د انسان د هويت او پېژندلو علمي او اساسي مرجع د ګوتو د خطونو نښانې دي ، چې په ټوله نړۍ کې ترينه ګټه اخيستل کېږي او په وثائقو او سندونو باندې لګول کېږي.

او د ګوتو خطونه هغه څه دي چې د يو انسان له بل انسان سره کاملاً توپير لري ، نو وراثي بصمه(نښانه )همداسې يو علمي واقيعت دی چې هغه د انسان د وجود په هره حجره کې شتون لري.

---

[1]) احمد محمد سعيد ، **اثبات النسب و نفيه بالبصمه الوراثية، دراسة مقارنة**، ص -67.

[2]) ابن منظور ، **لسان العرب**، ماده بصم.

**2-وراثي:**

وراثي يا وراثيه. دا عربي کلمه ده ، چې د وارثت له کلمې څخه اخيستل شوې ده.

چې فعل يې ورث يرثُ راځي ، او د انتقال او لېږد معنا ورکوي ، لکه چې عرب وايي (ورث المال) ژباړه: مال يې په ميراث يووړ ، يعنې وروسته د مورث له مرګه يې مال په ميراث يووړ. او همدارنګه په حديث شريف کې راځي (لا يرث المسلم الکافر) ژباړه: مسلمان له کافر څخه ميراث نه وړي. او بصمه يا نښانه په وراثي سره ځکه توصيف کېږي ، چې اشاره وشي دې ته چې دغه نښانې په ميراثي شکل له يوه نسل نه بل نسل ته د خپلوۍ په بنسټ انتقال او لېږدول کېږي ، اګر چې د يوه انسان بصمه له بل سره پوره توپير هم لري ، خو د قرابت او دوستۍ په لړۍ کې يو ډول مشابهت او يو رنګوالی سره لري.

او له يوه شخص څخه بل شخص ته د يوه شي انتقال ته ميراث ويل کېږي ، او له يوه شخص څخه بل شخص ته د يو شي انتقال اولېږد ته ميراث ويل کېږي ، او دا هم معنوياتو ته اوهم مادياتوته شاملېږي. ([1])

او د دې دليل چې معنوياتو ته شاملېږي ، د الله جَلَّ جَلالُهُ دا قول دی.

﴿ **ووَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَاأَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ** ﴾.([2]) ژباړه: او په ميراث يوړ سليمان داوود لره او وويل اې خلقو پوه کړل شوی يو په خبرو دمرغانو او را کړل شوی دی له هر څه څخه ، بيله شکه چې دا يوه ښکاره مهرباني ده. او ابن کثير وايې چې له وراثت څخه مراد دلته پادشاهي او نبوت دی نه مال ، ځکه که مال مراد وی نو تنها سليمان به يې له نورو اولادونو څخه په دې باندی نوی خاص کړی ځکه چې د داوود زيات شمير اولادونه ؤ ،([3])او د رسول الله ﷺ دا قول دی. (...**وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا، وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ فَقَدْ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ** ).([4]) ژباړه: او بې له شکه علماء د نبيانو وارثان دي او نبيانو درهم او دينار په ميراث ندی پرې ايښی ، بلکې علم يې په ميراث پريښودلی دی ، نو هر هغه چا چې علم واخيست نو لويه برخه يې واخيسته.

او دلته (د البصه الوراثيه )کې د وراثت له کلمې څخه د وراثت علم ته نسبت کول مراد دي کوم چې د ژوندي موجوداتو د هغه صفاتو او ځانګړتياوو په اړه چې له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقالېږي بحث او څېړنه کوي.([5])

[1]) لينة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمية،** ص -2015.

[2])سورة النمل ، آية ، 16.

[3] ) ابن کثير ، **تفسير ابن کثير،** ج - 6، ص - 164.

[4]) أبو داود ، **سنن ابی داود،** باب الحث علی العلم ، شماره ، ، 3643.

[5])فوادعبدالمنعم احمد ، **البصة الوراثية و دورها فی الاثبات الجنائی بين الشريعة والقانون** ص - 14.

نو د دې پر بنسټ ویلی شو چې وراثي بصمه عبارت ده له هغه نښانو یا علامو څخه کوم چې له پلارونو څخه اولادونو ته نقل کېږي ، او یا هغه ثابت او نقل کېدونکې صفات دي چې د هغه خاصو قوانینو پر بنسټ چې د زده کړې وړ دی له یوه ژوندي موجود څخه د هغه فرعه یا نسل ته لېږدول کېږي.([1])

**دویم:- د وراثي بصمې اصطلاحي تعریف**

د وراثي بصمې یا DNA کشف کول یوه نوې علمي لاسته راوړنه ده ، او دغه نوې علمي لاسته راوړنه د یو انګریزي عالم کوم چې په انګلیستان کې د لیسټر پوهنتون استاد وو لاسته راغلې ده ، کله چې ده دغه علمي لاسته راوړنه وړاندې کړه په دې سره یې وکولی شو ، چې د استاذۍ (پروفیسور) علمي درجې ته ځان ورسوي ، او همدا راز یې په 1984 کال کې دغې اختراع نړیوال شهرت تر لاسه کړ ، او دغه لاسته راوړنه یې د جنونو د خاصو پلټنو په پایله کې لاسته را وړه ، او په کروموسومونو(DNA) کې یې دغه ځانګړې برخه پیدا کړه ، چې د هر انسان لپاره پکې یو خاص او ځانګړي صفات او بنې شتون لري ، لکه څرنګه چې د انسانانو ګوتې همداسې ځانګړي خطونه لري چې له نورو انسانانو سره پوره توپیر لري. ([2])

د دغې علمي اصطلاح لپاره علماؤ په بېلابېلو کلماتو او جملاتو سره اصطلاحي تعریفونه وړاندې کړي دي ، چې له هغې جملې څخه به مونږ یو څو تعریفونه رانقل کړو.

**1**:- د اسلامي نړۍ د ټینګښت فقهي ټولنې داسې تعریف کړی:

(بانها البنية الجنية التفصلية التى تدل علي هوية كل انسان بعينه).([3])

ژباړه: دا هغه تفصیلي جني جوړښت دی ، کوم چې د هر انسان په خپله د ده په هویت باندې دلالت کوي.

2:- سعد الدین مسعد الهلالي([4]) بیا داسې تعریف کړی:

(بانها العلامة او الاثر الذى ينتقل من الآباء الى الابناء ومن الفروع الى الاصول).([5])

ژباړه: دا هغه علامه یا نښانه ده ، چې له پلرونو څخه اولادونو ته یا له اصولو څخه فروعو ته نقل کېږي.

---

[1]) فوادعبدالمنعم احمد ، **البصة الوراثية و دورها فى الاثبات الجنائى بين الشريعة والقانون** ص - 14.

[2]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر،** ص ـ 168. نقل يې کړی له قرارات المجمع الفقهى الاسلامى القرار السابع بشآن البصمة الوراثية ومجالات الاستقادة منها الدورة السادس العشرة ، من 21 الى 26 /1422/10/ ص -343.

[3]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر،** ص -168.

[4]) **پوره نوم يې:** سعدالدين مسعد احمد حسن هلالى چې يو له تکړه معاصرو علماء څخه دی په 1954. زيږدلی او په 1960 يې ابتدائی درسونه بيل کړی بيا په 1965 ثانوی درسونه په ازهر کې پيل او په 973. ترينه فارغه شو بيا يې په قاهره کې د شرعياتو او قانون پوهنځی پيل او په 1978.ترينه فارغه شواو د بيلا بيلو پووهنتونو رئيس تير شوی او د مختلفو علمی ټولنو غړی هم پاتی دی.

[5]) سعد الدين مسعد هلالي ، **البصة الوراثية وعلايقها الشرعية، دراسة مقارنة،** ص ـ 25.

3:- خلیفه علي الکعبي بیا داسې وایي ، چې کوم تعریفونه د وراثي بصمې څخه شوي دي هغه په دوه معناګانو راڅرخیږي ، او وایي:

(ان تعاریف البصمه الوارثیة تدور حول معنیېن هما ، انتقال الصفات الوارثیة من الاباء الی الابناء کمعنی الاول و ترکېب الوارثیة کمعنی الثانی).([1])

ژباړه: بې له شکه د وراثي بصمې تعریفونه د دوه معناګانو په شاوخوا را څرخیږي ، چې هغه دا دي ، له پلرونو څخه اولادونو ته د وراثي صفاتو لېږد ، لکه لومړۍ معنا. او د وارثي ترکېب درس او تدریس ، لکه دویمه معنا.

4:- نذیر حمادو([2]) یې ، بیا داسې تعریف کړی دی:

(البصمة الوارثیة هی البنیة الوارثیة التی ینفرد بها کل شخص عن غیره والتی تمکننا من التحقق الشخصیة والوالدېه والبیولوجیه).([3])

ژباړه: وراثي بصمه هغه وراثي جوړښت دی ، چې په هغې سره هر یو انسان له نورو څخه ځانګړی کېږي ، او مونږ ته دا توان را کوي چې ، په دې سره د یوه انسان شخصیت ، او پلارولي یا زوی ولي ، او بیولوژیکي حالت ترڅېړنې لاندې ونیسو.

### دویمه برخه: د بیولوژي د پرمختګ پړاوونه

وروسته له هغه چې مندل په 1865م کې وتوانېدو ، چې هغه قوانین کشف کړي ، کوم چې د بیولوژي صفتونو او ځانګړتیاوو انتقال او لېږد تفسیروي. علماؤ خپلې څېړنې دې ته متوجې کړې ، چې د مورث په مفهوم او د هغه له یوه نسل څخه بل نسل ته د لېږد څرنګوالی کشف او معلوم کړي ، نو پدې برخه کې د دوی لخوا زیاتې څېړنې ترسره شوې ، چې په پایله کې یې یوې نوې علمي لاسته راوړنې ته لاس رسی پیداکړ ، کوم چې د DNA یا میراثي بصمې په نامه یادیږي ، کومه چې د حجرو په هسته کې قرار لري او زیات شمېر وراثي شېرونه پکې شتون لري. او مونږ د بیولوژي د پرمختګ ځینې پړاوونو ته په لاندې توګه اشاره کوو:

**1.د حجرې د کشف پړاو:**

په بیولوژي معنا سره د حجرې اصطلاح په لومړي ځل د روبرت هوک ROBERT HOOK لخوا په 1667م کال کې په هغه څېړنو کې چې د حجرې د علم په اړه یې ترسره کول وکارول شوه.

---

[1]) خلیفه علي الکعبی ، **البصمة الوراثیة واثرها علي الاحکام الفقهیة، دراسة فقهیة مقارنة،** ص -45.

[2] ) **نذیر حمادو:** هم له معاصرو علماء څخه یو عالم دی چې د الجزائر دولت اړوند دی ځان د مالکی مرهب پیرو بولی خو په اصل کې صوفی دی. دجزائر په قسنطینة کې د امیر عبدالقادر داسلامی علومو په پوهنتون کې استاد هم ؤ دا کتاب **هدایة السالک الی احکام مناسک علی مذهب امام مالک** هم لیکلی.

[3]) لینة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمیة** ص -23.

او حجره د ټولو ژونديو موجوداتو د جوړښت اساسي وظيفوي واحد بلل کېږي. او هر ژوندی موجود د مليونو حجرو لرونکي دي ، چې دا د سلو ترليونو په حدودو کې اټکل شوي دي ، او د ژونديو موجوداتو زياتره جسمونه له دوه ډولو حجرو څخه برخمن دي.

1. **جسمي حجرې:** لکه د پوست ، هډوکو ، مغز ، عصب ، او داسې نور...

2. **جنسي حجرې:** لکه د ښځينه ؤ بيضه ياهګۍ او د نارينه ؤ مني يا سپرم.

او د حجرې په دننه کې يو ډول هسته شتون لري ، چې په عربي کې ورته نواة ويل کېږي ، چې دغه هسته په حجره کې د يوه قوي او ټينګ جوړښت څخه برخمنه ده ، او په حجره کې د حاکميت مرکز تمثيلوي ، او خپلې اساسي دندې پر مخ وړي ، خپل صفتونه او ځانګړتياوې ټاکي ، او خپل وراثي صفتونه او ځاګړتياوې ، او د هغه جسم چې د دې په شاوخوا کې شتون لري ، له خپل ځان سره ساتي.

هره بشري هسته په خپل ځان باندې ، يو سلسله کروموسومونه لري ، چې د دغو کروموسومونو شمېر د حجرو نوعيت ته په کتو سره توپير کوي ، چې د جسمي حجرو هسته 46 کروموسومونه لري او د جنسي حجرو هستې 23 کروموسومونه لري. ([1])

د دغو کروموسومونو بڼه تر ډېره وخته نا معلومه وه ، مګر هغه وخت څرګنده شوه چې علماؤ رنګ کړل ، چې په پايله کې يې شکل او څېره څرګنده شوه ، نو له دې وجې ، چې د رنګولو په پايله کې راڅرګند او ښکاره شوي دي ، په عربي ژبه کې ورته صبغيات (رنګ کړی شوی ) وايي. لکه څرنګه چې مو پورته وويل ، چې دغه کروموسومونه په دوه ډوله دي ، يو ډول جسمي او بل ډول يې جنسي کروموسومونه دي ، او په بېلابېلو نومونو سره نومول شوي دي چې لاندې به يې په تفصيل سره بين کړو.

**1. جسمي کروموسومونه:**

دغه کروموسومونه په عددونو سره نومول شوي دي ، يعنې د دوی د شکل غټوالي او وړوکوالي ته په کتو له 1 څخه تر 21 پورې نومول شوي دي.

**2. جنسي کروموسومونه:**

دغه کروموسومونه د دوی شکل او څېرو ته په کتو سره په تورو(حروفو) سره نومول شوي دي ، چې په دوه ډوله دي. يو ډول يې د x او بل ډول يې د y په نامه نومول شوي دي ، او علماء توانېدلي دي چې دا ثابته کړي ، چې په هر کروموسوم باندې يوه شريطه يا (زنجير) شتون لري او دغه شريط له يوې ، ځانګړې مادې څخه ترکيب شوې دی ، چې د DNA په نامه يادېږي. او دا به وروسته په واضح ډول بيان شي.

---

[1]) عمران عائشة ، اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات، ص - 170.

**د کروموسوم دندې:**

1. کروموسوم هغه ماده ده ، چې د ژوندي موجود هغه وراثي برخې ، کومې چې وراثي صفات لري ، له خپله ځانه سره اخلي او له یوه نسل څخه یې بل نسل ته لېږدوي. او د دې کار د ترسره کولو لپاره حمض ننوي دا توان لري ، چې د حجرو د تقسیم په وخت کې دوی هم تقسیم او څو چنده شي ، چې په هره نوې حجره کې همغه شمیر کروموسومونه او ژنونه شتون لري چې په مخکېنۍ حجره کې ؤ.

2. کروموسوم د پروتینونو د جوړښت لپاره لاره برابره وي ، او دا په داسې شکل چې حجرې ته د حمض ننوي د شپر او د هغې په اړه د لازمو معلوماتو په ورکولو کې ورسره مرسته کوي ، تر څو د هغې په پایله کې حجره پروتینونه تولید کړي.

او دا یوه یقیني او څرګنده خبره ده ، چې هره جسمی حجره 46 کروموسومونه لري ، چې له دې جملې څخه یې 23 کروموسومونه له پلار څخه د منیو(سپرم) په وسیله او23 یې له مور څخه د بیضې یا هګۍ په وسیله په میراث وړي ، نو د دې په پایله کې یو خاص ډول کروموسونه د لومړۍ حجرې لپاره منځ ته راځي چې نه د پلار او نه د مور له کروموسومونو سره په کلي شکل ورته والی لري ، بلکې د دواړو کروموسومونو سره یو ډول نسبی ورته والی پکې شتون لري ، چې د دغه ورته والي په پایله کې د ماشوم لپاره یو خاص میراثي بصمه منځته راځي ، چې هغه میراثي بصمه یې نه د پلار ده او نه د مور.([1])

**2.د DNA د کشف پړاو:**

DNA یوه علمي اصطلاح ده چې په عربي کې ورته حمض الريبوزي او یا د منقوص الاكسيجن اصطلاح کارول کېږي چې د DNA اصطلاح په انګلیسي ژبه کې د DEOXYTIBO NUCLEIC ACID کلماتو مخفف ده ، او په فرانسوي ژبه کې د ACIDE DESOXRIBO NUCLEEIQUE مخفف ده ، او دغه ماده د ټولو ژوندیو موجوداتو په حجرو کې شتون لري ، دا موجودات که انسانان وي که نباتات وي ، او که بکتریاوې یا ژوي(حیوانات) وي ، او دغه علمي لاس ته راوړنه د دوو علماؤ په لاس کشف شوې ده ، چې یو یې امریکایي جیمس واطسون او بل یې برطانیوي فرانسیس کریک دی. دوی دغه لاسته راوړنه په 1953 م کال کې کشف کړه او د دې په پایله کې یې د نوبل جایزه هم وګټله .

او دغه حمض نووي یا DNA له یو سلسله اوږدو او کلکو کېمیاوي مرکباتو څخه تشکېلېږي ، چې د ځانګړو جسمونو له مجموعې څخه په یو خاص او ځانګړي نظام سره راټول شوي دي.

او علماء پدې بریالي شوي ، چې د مکروسکوپ په وسیله یې ووینې او وروسته یې د کروموسومونو په نامه نومولي دي.

---

[1]) خلیفه علي الکعبی ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام الفقهية، دراسة فقهية مقارنة،** ص -206.

د دغو وراثي حمضونو یا DNA په دننه کې څلور نیتروجیني پایې شتون لري ، چې یوه یې ADENINE ماده چې رمز(نښه) یې A دی او دویمه یې GUANINE ماده چې رمز(نښه) یې G دی او دریمه یې CYTOSINE ماده چې رمز(نښه) یې C دی او څلورمه یې THYMINEماده چې رمز(نښه) یې T دی ، او دغه څلور واړه پایې د ننوي حمض یا DNA لپاره فقرې ستنې یا پایې بلل کېږي ، چې له دغو څلورو نایتروجني ستنو څخه هره یوه له یو لک(100000)جنونو څخه تشکېل شوي دي ، کوم چې د انسان په وجود کې شتون لري ، او له دغو جنونو څخه هر یو جن ځانګړې او خاصې علامې لري ، چې د بدن ټول جنونه همدغې نښې یا علامې ته اړتیا لري. ([1])

حمض ننوي یا DNA د نیکلیوتیداتو له دوو شریطو یا شریدونو څخه جوړ شوي دي ، چې یو له بل څخه پیچل شوي ، یا تاو شوي دي ، چې د قیچې یا د ساعت د ستنو په شکل یو له بل څخه تاو را تاو شوي وي ، چې د تاو شوې زینې بڼه لري او هر یو نیکلیوتید له درې عناصرو څخه جوړ شوی دی چې په لاندې ډول دي.

1. ریبوز منقوص الاکسیجن.
2. د فوسفاتو مجموعه(ټولګه)
3. نایتروجني پایې (ستنې) او دغه ستنې په دوه ډوله دي:

**الف:** بیورینات.(ادنین ،جوانین)

**ب:** بیرمیدینات (ثایمین ، سایتوسین) ([2])

دغه نایتروجني پایې یا ستنې له یو شخص څخه تر بل شخص پورې توپیر لري ، او هیڅکله د دوو انسانانو په یو ډول نشي کېدای ، مګر هغه وخت چې له یوه سپرم او یوې بیضې څخه د مور په ګېډه کې د دوو ماشومانو جسمونه سره یو ځای جوړ شوي او بیا پیدا شوي وي.

**3.جنونه:**

جن هغه بیولوژي عامل دی ، کوم چې د وراثي صفاتو د انتقال او لېږد مسؤول دی ، او په ده باندې د لومړي ځل لپاره د شلمې پېړۍ (20) په لومړۍ برخه کې د جن اطلاق وشو.

جنونه د هغو شپږ څلویښت کروموسومونو د شریط(ځنزیر) په اوږد والي کې ځای لري ، کوم چې مو وړاندې ترېنه یادونه وکړه. او دا د وراثي صفاتو او ځانګړتیاؤ په حمل کولو او درلودلو کې اساسي ونډه لري. او جن د

[1]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بین الشریعة ومستجدات**، ص -171.
[2]) لینة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمیة**، ص -25.

کروموسوم له هغې ټوټې او برخې څخه عبارت دی ، چې د هغې په وسیله له پلارونو او مورګانو څخه وراثي ځانګړتیاوې او صفتونه اولادونو ته لېږدول کېږي.([1])

### درېیمه فرعه: د میراثي بصمې (DNA)حجیت

DNA یا میراثي بصمه هغه څه دي چې په اوسنۍ زمانه کې د نفې او اثبات د وسیلې په توګه ترینه ګټه اخستل کېږي ، او له دې څخه د استدلال کولو په اړه نه په قرآن کریم کې څه یادونه شوې ، او نه هم په احادیثو کې ترینه څه یادونه شوې ده ، او نه پخوانیو فقهاؤ د دې په اړه څه بحث کړی دی ، نو ځکه دا پوښتنه را ولاړېږي ، چې آیا پدې سره استدلال کول او دلیل نیول شرعاً صحیح دي او کنه؟ او په دې اړه یې شرعي حکم څه دی؟ نو د دې موضوع د لا ښه وضاحت لپاره لازمه ده تر څو دغه موضوع په راتلونکو لاندېنیو موخو کې وڅېړل شي.

په لومړۍ برخه کې په وراثی نښانو سره د نسب د اثبات او نفې د دلائلو په اړه د علماؤ اقوال او نظریات رانقل کړو. په دویمه برخه کې به په میراثي بصمې باندې د استدلال کولو شرطونه یاد کړو. په درېیمه برخه کې به د میراثي بصمې د کارونې ځایونه په ګوته کړو.

### لومړۍ برخه: د نسب د اثبات او نفې په اړه د علماؤ اقوال او نظریات

DNA یا میراثي بصمه هغه حقیقت دی چې د هغې په رښتینوالي کې هیڅ شک او شبهه شتون نلري ، خو خبره دا ده ، چې ایا د نسب د ثبوت او نفې لپاره پدې باندې استدلال کول شرعا صحیح دي او کنه؟ نو د علماؤ د نظریاتو له څېړنو نه داسې معلومېږي ، چې ځینې علماء یې د نفې او اثبات لپاره له ډېرو قوي دلائلو څخه ګڼي ، او ځینې نور یې د استدلال وړ نه بولي ، نو مخکې له دې چې د علماؤ نظریات را نقل کړو ، لومړی به د نسب د اثبات او نفې دلائل تقسیم کړو.

د نسب د اثبات او نفې دلائل په دوه ډوله دي:

- اتفاقي دلائل: اتفاقي دلائل درې دي. یو له هغونه فراش ، او دویم یې ګواهي ، او درېیم یې اقرار.
- اختلافي دلائل: اختلافي دلیلونه دوه دي. لومړی قیافه ، او دویم قرعه.([2])

کله چې د نسب د ثبوت او نفې په اړه اتفاقي دلائل شتون ولري ، او د نسب په اړه کوم جنجال هم شتون ونه لري ، نو د میراثي بصمې د کارونې لپاره هیڅ ضرورت نشته. د بېلګې په توګه که چېرې د ښځې او سړي په منځ کې د واده رابطه موجوده وي ، او ښځه بچی وزېږوي ، او د ښځې مېړه د ماشوم نسب له خپل ځان څخه نفي کړي هم نوي ، نو په اتفاق د علماؤ دغه ماشوم د همدغه سړي زوی دی ، او د میراثي بصمې د

---

[1]) عمران عائشة ، اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات، ص -172.

[2]) احمد مُحَمَّد سعيد السعدى ، اثبات النسب و نفيه بالبصمه الوراثية، دراسة مقارنة، ص ـ 72.

کاروني لپاره هيڅ ضرورت نشته. همدا شکل که يو سړی ووايي: چې دغه ماشوم زما زوی دی ، او د خپلې دعوا د ثبوت لپاره شاهدان هم ولري ، او هيڅ څوک د ده له دې دعوی سره مخالفت هم ونکړي ، نو د دې ماشوم نسب به له همدغه سړي څخه ثابتېږي. او د ميراثي بصمې کاروني ته هيڅ اړتيا نشته.

همدا ډول که چېرې يو سړی ووايي چې دغه ماشوم زما زوی دی او ماشوم هم ووايې چې بلې دا زما پلار دی ، نو دغه ماشوم د همدغه سړي زوی بلل کېږي ، او د ميراثي بصمې کاروني ته هيڅ اړتيا نشته.

او پدې کې هم هيڅ شک نشته چې د DNA يا ميراثي بصمې کارونه او د هغې په پايله باندې باور او استدلال کول د اختلافي دلائلو څخه غوره دي. نو د منازعې او جنجال په صورت کې به د ميراثي بصمې کاروني ته تر قرعې او قيافې لومړيتوب ورکول کېږي ، دا ځکه چې د قرعې د نسب له ثبوت سره هيڅ رنګه تړاؤ نشته ، لکه څنګه مو چې د نسب د ثبوت په تقليدي دلائلو کې دا موضوع څېړلې ده ، او قيافه هم يواځې په تخمين او ګمان باندې ولاړه ده ، او د ميراثي بصمې پايله يقين او باور ته تر قيافې ډېره نېږدې ده ، نو دلته به د دې موضوع په اړه د ځينوعلماؤ نظريات را نقل کړو.

**لومړی نظر:**

دکتور سعد الدين مسعدالهلالي په دې اند دی چې د ميراثي بصمې پايله د نسب د ثبوت له ټولو دلائلونه مقدمه ده او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره يې لاندې دلائل وړاندې کړي دي:

- د ميراثي بصمې پايله د نسب د ثبوت لپاره يقين ته نږدې ده په داسې حال کې چې د نسب ثبوت لپاره د نورو دلائلو پايلې يقين ته نه رسېږي ، بلکې يوازې ګمان افاده کولی شي.
- د ميراثي بصمې پايله په علم او حس باندې ولاړه ده ، او د نورو دلائلو پايلې له دې ځانګړتيا څخه برخمنې ندي.
- د ميراثي بصمې پايلې په داسې تسجيل باندې ولاړې دي ، چې له هغې څخه انکار او په شاتګ هيڅ امکان نلري.([1])

د بېلګې په ډول د يو سړي د ميراثي بصمې د څېړنې په پايله کې چې کوم څه را ووتل نو شل کاله وروسته به هم همغه شي را وځي ، او هيڅ توپير به پکې نه ليدل کېږي ، حال داچې نور دلائل له دې ځانګړتيا څخه برخمن ندي ځکه شاهد هم کولای شي له خپلې شاهدۍ څخه منکر او په شا شي.

[1])سعد الدين مسعد هلالي ، **البصة الوراثية وعلايقها الشرعية دراسة مقارنة**، ص ـ 240.

**دويم نظر:**لیکن ځیني علماؤ لکه دوکتور محمّد رأفت عثمان([1]) د دکتور سعدالدين هلالي د نظر مخالفت کړی او دوی وايي چې د میراثي بصمې پایلو ته لومړیتوب ورکول په هیڅ صورت صحیح ندي او دلائل يې په لاندې ډول دي.

- دوی وايي چې تقلیدي دلائل( فراش ، بینه ، اقرار) اجماعي دلائل دي ، په دغو اجماعي دلائلو به څه رنګه هغه دلیل ته لومړیتوب ورکول کېږي ، چې هغه د تجربې او پرمختګ په حالت کې قرار لري.
- کله کله د میراثي بصمې د کارونې په ترڅ کې ځیني فني او مسلکي ستونزې او نیم ګړتیاوې منځ ته راځي ، نو څرنګه کولای شو چې دغه کار ته په هغه څه لومړیتوب ورکړو چې په هغو سره د سوونو کلونو اجماع ولاړه ده ، چې د صحابه ؤ له وخت څخه را نیولې بیا تر اوسه پورې د باور وړ بلل کېږي.([2])
- که چېرې دغسې  نظریاتو ته جواز ورکړای شي ، نو دا به دې ته لاره هوارول وي ، چې ټول شرعي نصوص او په هغو باندې استدلال کول لغوه او د هغوی ځای به نوي او فني دلائل ونیسی.([3])

**درېیم نظر:**

دکتور احمد محمّد سعید السعدي د پورته یاد شوو اندونو په اړه خپل نظر داسې څرګندوي ، چې دکتور سعد الدين هلا لي من حیث الجمله سم ویلي دي ، او وايي چې له دې خبرې زما هدف دا دی ، چې د تقلیدي دلائلو د اعتبار په اړه د پخوانیو علماؤ له اجماع سره یوه بله اجماع هم ملګرې کېږي ، او اشاره کوي ، د نسب د ثبوت لپاره  هغه شرطونو ته چې علماؤ پرې اتفاق کړی ، کوم چې مخکې ذکر شویدي. او د هغه شرطونو په نه موجودیت کې له لعان څخه  پرته نسب نفي کېږي. او ټولو علماؤ په دې سره اجماع کړې ده ، چې د دغې تقلیدي دلائلو په موجودیت کې که چېرې داسې یو عقلي او حسي دلیل شتون ولري ، چې د هغې په اساس باندې د ماشوم نسب له ځانګړي شخص څخه نفي شي ، نو دا ډول حسي او عقلي دلیل ته به لومړیتوب ورکول کېږي. او علماؤ د نسب ثبوت تردې پورې تړلی دی ، چې د مېړه اوبه باید د ښځې رحم ته داخلې شي ، نو له دې وجې علماؤ اجماع کړې ده چې ماشوم ته د نسب ثبوت نشي کېدای.

د بېلګې په توګه د یوه اته کلن ماشوم نکاح له یوې ښځې سره وشوه ، او څه موده وروسته ښځې ماشوم وزېږاوه ، نو په اتفاق د علماؤ د دغه زېږول شوي ماشوم  نسب د ښځې هغه اته کلن مېړه ته نه ثابتېږي. او

[1]) **پوره نوم يې:** دکتور محمّد رأفت عثمان له معاصرو علماء څخه یو تکړه عالم دی چې په   1935. تولد او په 2016. وفات شوی د ازهر او طنطا پوهنتونو استادتیر شوی او 43. په شاوخوا کې کتابونه او رسالی لیکلي لکه: **رياسة الدولة فى الفقه الاسلامى** ، او **علاقة الدولية فى الاسلام**  او داسی نور.

[2]) ناصر الميمان ، **البصمة الوراثية وحكم استخدامها فى مجال الطب الشرعى والنسب**،  ج  -  2 ص -616.

[3])خليفه علي الكعبى **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام الفقهية، دراسة فقهية مقارنة**،  ص -377.

د دې سبب عقلي حکم دی او همدا شکل د شاهد په رابطه علماؤ اجماع کړې ده ، چې د شاهدانو شاهدې به هغه وخت د قبول وړ وي ، چې د شاهدانو شهادت د عقل په حکم سره رښتونی وي.

د بېلګې په توګه ، که يو پنځه ويشت کلن سړی دعوا وکړي ، چې دغه شل کلن کس زما زوی دی ، او شاهدانو شاهدي هم ورکړي ، نو د دغه سړي دغه ادعا صحيح نده. او د ده زوی نه بلل کېږي ، ځکه دا ډول شاهدي عقلاً او حساً د منلو وړ نده. نو له همدې امله دوکتور محمّد رأفت عثمان له خپلې رأی څخه کومه ، چې په دکتور سعد الدين هلالي باندې يې رد کړې ؤ ، په شاتګ کړی ، او ده هم پدې اړه له دکتور هلالي سره خپله موافقه ښکاره کړې ده ، چې له شاهدۍ څخه بايد ميراثي بصمې ته لومړيتوب ورکړای شي.([1])

**پاملرنه:**

هر کله چې شرعي نصوص (قرآن او حديث) وڅېړل شي ، نو دا ترينه معلومېږي چې شارع د ستر او پردي په اړه زيات حريص دی ، او مونږ ته يې د دې حکم کړی چې د خلکو د بدو کړنو پلټنه مه کوئ بلکې که د چا له بدو نه خبر شوئ نو پر هغه پرده اچوئ او پټوئ يې ، د بېلګې په ډول الله جَلَّ جَلالُهُ فرمايي:

- ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ** ﴾ ([2])

ژباړه: ای ايمان والاوو له زياتره ګومانونو څخه ډډه وکړئ ، بې له شکه ځينې ګمانونه ګناه ده ، او پلټنه مه کوئ (د عيبونو) او غيبت دې نه کوي ځيني له تاسو د ځينو نورو ، آيا خوښوي کوم يو له تاسو داچې وخورې غوښه د خپل مړه ورور ؟ نو بد وګڼئ دا او له الله جَلَّ جَلالُهُ څخه ووېرېږئ بېشکه الله جَلَّ جَلالُهُ توبه قبلوونکې او مهربانه دی.

- **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ:قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:مَنْ نَفَّسَ عَنْ أَخِيْهِ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَاللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُسْلِمٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ.**([3])

ژباړه: له **أبي هرېرة رضی الله عنه** څخه روايت دی: وايي چې رسول الله ﷺ وويل: څوک چې له خپل ورور څخه د دنيا له سختيو څخه کومه سختي لرې کړي ، الله جَلَّ جَلالُهُ به له هغه څخه د آخرت له سختيو څخه سختي لرې کړي. او څوک چې د مسلمان پرده وکړي ، الله جَلَّ جَلالُهُ به د هغه د دنيا او آخرت پردې وکړي ،

---

[1]) خليفه علي الكعبی ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام الفقهية، دراسة فقهية مقارنة** ، ص -379. نقل کړی يی دی له **القضايا فقهيه مقارنه** تأليف عدد من الاساتذة كلية الشرعية والقانون الازهر.

[2]) سورة: الحجرات، آية، 12.

[3]) مسلم ، **صحيح مسلم**، باب فضل الاجتماع على تلاوة القرآن وعلى الذكر ، شماره ، 2945. البيهقي ، أحمد بن الحسين ، **الأربعون الصغرى** ج -1 ص - 152.

او څوک چې له مسلمان سره اساني وکړي الله جَلَّ جَلالُهُ به په ده باندې په دنيا او آخرت کې اساني رلوموړيي ، او الله جَلَّ جَلالُهُ د بنده په کومک کې دی تر څو چې بنده د خپل ورور په کومک کې وي.

- **عنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -ﷺ- يَقُولُ:« إِنَّكَ إِنِ اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَوْ عَثَرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ أَوْ كِدْتَ أَنْ تُفْسِدَهُمْ ».**([1])

ژباړه: له معاويه رضی الله عنه څخه روايت دی ، وايي: چې ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي ، چې ويې ويل: بې له شکه که ته چېرې د خلکو په پټو عيبونو پسې شي ، يا د خلکو د پښو په ښوېدلو پسې شي ، نو ته به دوی خراب کړې. او يا ته نږدې يې چې دوی به خراب کړې.

نو له دغه نصوصو څخه معلومېږي ، چې اسلامي شريعت په ستر او پرده ډېر ټينګار ګړی دی ، خصوصاً د نسب د ثبوت په برخه کې تر دې چې احنافو د نسب د ثبوت لپاره د نکاح له تړون نه پرته بل شرط په نظر کې ندی نيولی ، که څه هم د مېړه او ښځې د يوځای کېدو امکان هم نوي.

د بېلګې په ډول يو کس مسافري کوي ، او دی يو نيم کال خپل کورته نوي راغلی ، او ميرمن يې د ده له مسافر کېدو څخه وروسته زوی وزېږاوه ، نو احناف وايي: چې د دې ماشوم نسب له همدغه پلار څخه ثابتېږي ، او دا خبره دوی په دې دليل کړې ده ، چې د شارع مقصد ورته معلوم دی چې بايد د نسب په اړه دې زياته پلټنه ونشي.

او له بله اړخه د اسلامي شريعت احکام په ظاهر باندې ولاړ دي ، او له پټو حالاتو نه به پلټنه نه کوي ، او د نسب په اړه شک او شبهه پيدا کول ، د ډېرو خرابيو لامل ګرځي لکه: نفسي خرابي ، کورنۍ خرابي ، او ټولنيزې خرابي ، نو که چېرې دDNA د کارونې دروازه خلاصه شي نو د دې په پايله کې به زياتې خرابي رامنځته شي.([2])

نو پورتنيو مطالبو ته په کتو سره د نسب د ثبوت لپاره به DNA نه کارول کېږي ، مګر په هغه وخت کې چې د يو ماشوم د نسب د ثبوت په اړه د دوو يا څو کسانو ترمنځ جنجال موجود وي ، نو بيا DNA له فراش(نکاح) څخه پرته د اثبات او نفي په نورو ټولو دلائلو مقدمه بلل کېږي.

البته دلته دا خبره د يادولو وړ ده ، چې د DNA په کارونې سره دغه سړی چې د نوموړي معايناتو په پايله کې د دغه ماشوم پلار بلل شوی دی ، يوازې د ماشوم بيولوژيکي پلار کېدلای شي نه شرعي پلار. د بېلګې په توګه که چېرې يو سړی د يوې ښځې سره زنا وکړي ، او بيا د دغې ښځې زوی پيدا شي او DNA دا ثابته کړي ، چې دغه ماشوم د دغه زنا کار زوی دی ، نو دغه زنا کوونکې د نوموړي ماشوم يوازې بيولوژيکي پلار بلل کېږي نه شرعي پلار. ځکه حديث شريف دی:**(قال النبي ﷺ: «الولد للفراش وللعاهر الحجر»)** ([3])

---

[1]) البيهقی ، **سنن الکبری للبيهقی**، باب ما جاء فی النهی عن التجسس ، شماره ، 17623.

[2]) کما يقول دکتور احمدبن عبدالعزيزمدير ادارة الافتاء فی دايرة شؤون الاسلامية والعمل الخيری فی دوبی ينظر فی مجله الامارات اليوم فقهاء يرون فيه (مفاسد جمة وقانونيون يعتبرونه (بينة محايدة) اسباب فقهية تمنع اعتماد(DNA) لنفی بشايرالمطيری .دوبی 11.1.2011م له دی مجمع څخه دا خبره احمد سعيد السعدی را نقل کړيی ،ص -75.

[3]) البخاری ، مُحَمَّد بن إسماعيل ، **صحيح البخاري**، باب تفسيرالمشبهات ، ج ـ 2 ، ص -724.

ژباړه: زوی دفراش دی او زاني لره تېره ده.

نو له دې حديث شريف څخه معلومه شوه ، چې د زنا په پايله کې د زېږيدلي ماشوم نسب به زاني ته نه ثابتېږي ، بلکې د ښځې د خاوند بلل کېږي.

**دويمه برخه: په ميراثي بصمې باندې د استدلال شرطونه**

د دې لپاره چې د ميراثي بصمې (DNA) د پايلې صحت لپاره تضمين شوی وي ، فقهاؤ او متخصصينو ډاکترانو يو سلسله شرطونه په نظر کې نيولي دي ، چې د هغو د نه رعايت کولو په

صورت کې د (DNA) پايله د باور وړ نه ده ، او دغه شرطونه په دوو برخو وېشل شوي دي.

**لومړی د ميراثي بصمې د اجراء کولو لپاره شرعي او قانوني شرطونه:**

- لومړی شرط دا دی ، چې په ميراثي بصمه به هغه وخت بيولوژي څېړنې کېږي ، کله چې د قاضي او يا د هغه چا له خوا چې د قدرت او سلطې لرونکي وي (ولي الامر) د څېړنو امر شوی وي ، تر څو دغه د خلکو لپاره د ساعت تېرۍ آله جوړه نشي ، او تر څو د بد ګمانه او ضعيفو خلکو د لاسرسۍ څخه مخنيوی وشي.
- دويم شرط دا دی ، چې د ميراثي بصمې (DNA) د معاينې يا څېړنې پايلې د عقل د حکم سره کوم چې په شرعه کې تائيد شوی وي په ټکر کې نوي ، د بېلګې په ډول د ميراثي بصمې په پايله کې ماشوم هغه چاته منسوب کړای شي ، چې د ده په شکل او څېرې سره د چا تولد ممکن او شونی نوي ، لکه: هغه ماشوم چې بلوغ ته نوي رسيدلی. نو دا يوه يقيني خبره ده ، چې دا څېړنه او معاينات هسې يوه ساعت تېري او تېروتنه ده.
- دا چې دغه معاينات به د هغه چا لپاره نه ترسره کېږي ، چې د هغه نسب معلوم وي. ځکه چې په دې کې ډېرې خرابۍ منځ ته راځي.
- د چا ميراثي بصمه چې د نسب د ثبوت لپاره معاينه او څېړل کېږي ، په خپله د هغه يا د هغه د سرپرست خوښه او موافقه ترلاسه شوي وي ، مګر په هغه خاصو او ځانګړو حالاتو کې چې قاضي يې مناسب و ګڼي.
- د ميراثي بصمې د څېړلو او معاينه کولو څخه به خصوصي شرکتونه او لابراتوارونه منع کېږي ، او دوی ته به د دې د اجراء کولو اجازه نه ورکول کېږي ، او که کوم لابراتوار دغه رنګه معاينات ترسره کړل ، نو سنګينه او درنه جزا به ورته په قانون کې په نظر کې نيول شوې وي.([1])

[1]) خليفه علي الكعبى ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام، الفقهية دراسة فقهية مقارنة،** ص ـ 46.

**دویم د میراثي بصمې د ترسره کولو لپاره علمي شرطونه:**

- د میراثي بصمې د څېړلو اړوند ټول لابراتوارونه به دولتي وي ، او یابه په بشپړه توګه د دولت تر څېړنې لاندې وي ، او له هغو ټولو علمي او عملي ضوابطو سره ، کوم چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه د اعتبار وړ دي.
- د میراثي بصمې د معاینې او څېړنې ټول پړاوونه چې د څېړنې په منظور له جسم څخه د یوې ټوټې اخیستلو څخه را نیولې ، بیا د پایلې تر پایه پورې باید کره او دقیق وي او د دغه ټولو معایناتو ، څېړنې او د هغو پایلې باید په دقیقه او کره توګه سره وساتل شي ، تر څو د ضرورت او د دویمې معاینې لپاره په ښه توګه موجود وي.
- د میراثي بصمې دغه معاینې او څېړنې ، باید په بېلابېلو کړنلارو ، او د جسم په مختلفو برخو باندې تر سره شي ، تر څو د شک او تردید لپاره پکې هیڅ ځای پاتې نشي.
- کوم څوک چې دغه معاینات او څېړنه تر سره کوي ، په هغه کې به ټول هغه شرطونه موجود وي ، کوم چې د قایف (د څېرې پېژندونکي ) لپاره ضرور دي. اود قایف شرطونه په لاندې ډول دي:

1- دا چې قائف به مسلمان وي. او که څېره پېژندونکې کافر وي ، نو د هغه څېړنه اعتبار نلري.

2- دا چې قائف به عاقل وي.

3- دا چې قائف به اهل خبره وي (په دغه برخه کې به پوره مهارت لري).

4- دا چې قائف به نارینه وي زنانه به نوي ، ځکه چې په نص(قرآن اوحدیث )کې نارینه یاد شوی دی.([1])

نو دغه ذکر شوي څلور شرطونه کوم چې د هغې رعایت په قایف(څېره پېژندونکي)کې شرعاً ضروري بلل شوي دي ، د DNA د معاینه کونکي په ډاکټر(متخصص) کې هم ضروري او لازمي بلل کېږي. نو که چېرې په دغه متخصص ډاکټر کې دغه پورته یاد شوي شرایط موجود نوي ، د هغه څېړنه شرعاً د اعتبار وړ نده.

**درېیمه برخه: د وراثي بصمې ځینې ځانګړتیاوې**

وراثي بصمه ځینې ځانګړتیاوې لري ، چې ځینوته یې مونږ په لاندې ډول اشاره کوو.

1- د هر سړي وراثي نښانه په همده پورې ځانګړې ده. یعنې داسې هیڅوک نه پیدا کېږي ، چې د ده او د هغه وراثي نښانې ورسره یو ډول وي. او دا ناشونې ده ، چې حتی په میلیونو انسانو کې دې هم داسې نشي کېدای

[1]) ابن فرحون ، **تبصرة الحکام** ، ج - 2 ص -99.

چې د يو چا وراثي بصمه د بل چا له بصمې سره يورنګ وي. مګر په هغه وخت کې چې له مور څخه دوه ماشومان وزيږيږي ، او د دوی بدنونه سره نښتي وي. ([1])

2:- دغه وراثي نښانې د بشر د بدن په بېلابېلو نسجونو کې ثابت شتون لري. سره له دې چې د انسان د بدن غړي يو له بل سره توپير هم لري ، او بېلابېل نسجونه او حجرې لري ، خو دغه وراثي نښانې د نسجونو او حجرو توپير ته په کتو يو له بل سره فرق نه لري. مثلاً که چېرې د انسان د بدن جنسي حجرې وڅېړو ، او بيا يې جسمي حجرې وڅېړو ، نو څرګنده به شي چې په دواړو ډوله حجرو کې وراثي نښانې يو ډول دي. حتی که چېرې د انسان پوستکي له وېښتانو او هډوکو سره پرتله کړای شي ، نو پايله به يې يو ډول وي.([2])

3:- دغه وراثي نښانې له يو ځانګړي ځواک څخه برخمنې دي چې تغير نه قبلوي ، اګر که له سختو او بېلابېلو عواملو سره مخامخ هم شي. د بېلګې په ډول که چېرې د سختې بد بويي ، او سخت لوندوالي ، وچوالي ، يخوالي او ګرم والي سره مخ شي خپلې ځانګړتياوې له لاسه نه ور کوي. ([3]) آن ترديې چې علماء توانېدلي چې د هغه کسانو کوم چې دوه زره او پنځه سوه (2500) کاله مخکې موميايي شوي دي ، د هغوی هويت وروسته له هغه څخه څرګند کړي چې د هغوی د بدن يوه ټوټه ترينه جدا کړي. او بيايې په خاصو او ځانګړو لابراتواري وسائلو سره تکثير کړي ، او ټولې هغه ځانګړتياوې چې الله جَلَّ جَلَالُهُ ده ته ورکړي وي ، پکې راښکاره کړي. کومې چې د موميايي شوي ټوټې سره ځانګړې شوي وې. ([4])

4:- د دغه وراثي بصمې د تشخيص لپاره لابراتواري معاينات د هغه جسم چې مونږ يې څېړنه کوو په ډېره کوچنۍ برخه هم ممکن او شونې دي. او دغې کوچنيو برخو ته هغه وخت لاسرسی ممکن دی. چې په نوي او عصري وسايلو سره کوم چې په لابراتوارونو کې شتون لري تکثير شي.

او دغه تکثير په لابراتوارونو کې د دې موخې لپاره ترسره کېږي ، چې د څېړنې او معاينې لپاره د څو ځلې او تکرار وړتيا په اسانۍ لاسته راشي ، ترڅو چې نتائج يې دقيق وي. ([5])

5:- د وراثي بصمې د څېړلو او تحليل پايله ډېره اسانه پېژندل کېږي ، ځکه چې په اسانۍ سره لوستل کېږي ، او د يو کس له بل کس څخه د وراثي بصمې مقارنه اوپرتله کول ډېر اسانه دي ، او همدا راز په کمپيوټر کې هم د ثبت وړ دي. ([6]) او د نورو معاينو نتائج دا ځانګړتيا نه لري ، ځکه چې د هغوی نتايج ډېر سره ورته دي.

---

[1]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر** ، ص - 172.

[2]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر**، ص -173.

[3]) خليفه علي الكعبى ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام، الفقهية دراسة فقهية مقارنة**، ص ـ 48.

[4]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر** ، ص -173.

[5]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بين الشريعة ومستجدات العصر**، ص -173.

[6]) لينة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمية** ص -30.

6:- د دغه وراثي بصمې او د کروموسومونو ترسره کولو سره کولای شو چې د یوه کس له بدن څخه یې د بل کس بدن ته انتقال او ولېږدوو. او د دې په پایله کې له یوه نسل څخه بل نسل ته صفات او ځانګړتیاوې نقل شي.([1])

7:- د وراثي بصمې د څېړنې نتائج هیڅکله اشتباه او خطاء نوي ، که چېرې ثابته شوه چې غلط دي نو هغه به د څېړونکي غلطي او تېروتنه وي. ([2])

**وراثي بصمه دوه اساسي دندې ترسره کوي:**

**لومړۍ دنده اثبات:** چې نسب یا جرم او اتهام ثابتوي.

**دویمه دنده نفي:** چې نسب یا جرم او تهمت نفي کوي.([3])

## څلورمه برخه: د وراثي بصمې د کارونې ځایونه

د وراثت د علم متخصصین علماء وایي: چې د وراثي بصمې موارد ډېر زیات دي ، خو په مختصره

توګه دغه ټول موارد په دوو مواردو کې خلاصه کېږي اوهغه دا دي.

**لومړی مورد: جنایت.**

او د دغه مورد ساحه ډېره پراخه ده ، او میراثي بصمه په دغه مورد کې زیاته کارول کېږي ، تر څو د دې په وسیله مجرمین وپېژندل شي. لکه څرنګه چې پوهېږو چې د جرم ډولونه ډېر زیات دي لکه: قتل ، زنا ، لواطت ، غلا ، اختطاف او داسې نور....

نو کله چې دغه ډول جرمونه ترسره شي ، او مرتکبین یې په کره توګه نوي معلوم ، نو د مجرمینو د تشخیص او پېژندلو لپاره له دې وسیلې څخه کار اخیستل کېږي.

**دویم مورد: نسب.**

کله چې د یوه ماشوم د نسب د اثبات په اړه د دوو یا څو نفرو په منځ کې دعوی او جنجال پیدا شي نو په دغه وخت کې د میراثي بصمې له کارولو څخه کار اخیستل کېږي ، او د نسب په اړه له میراثي بصمې څخه د ګټې اخستنې ځینې موارد د اسلامي فقهې ټولنې مجلس په خپل شپاړسم دور ناسته کې په مکه مکرمه کې چې د 2002کال د1 میاشتې له 5 څخه تر10تاریخ پورې جوړ شوی ؤ په لاندې ډول په ګوته کړي دي.

---

[1]) لینة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمية** ص -29.

[2]) لینة بنت دادة ، **اثباب النسب با الوسا ئل العلمية** ص -30.

[3]) خلیفه علي الکعبی ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام، الفقهية دراسة فقهية مقارنة،** ص -48.

- ❖ د مجهول النسب ماشومانو د نسب د ثبوت په اړه د جنجال په هغو ټولو صورتونو کې چې فقهاؤ بیان کړي دي ، برابره خبره ده چې دغه جنجال د مجهول النسب د نسب په اړه د دلائلو نشتوالی وي ، او که د دلائلو یو له بل سره برابري وي ، او که یې سبب د شبهې له لارې په وطئ کې ګډون او یوځایوالی وي.
- ❖ په روغنتونو او زیږنتونونو کې د ماشومانو د نسب په اړه د تېروتنې په حالاتو کې ، او د ماشومانو د ځارنې په مرکزونو(وړکتونونو) کې ، او همدا شکل د انبوبی ماشومانو د نسب د تېروتنې په حالاتونو کې.
- ❖ د طبعي حوادثو یا د جنګونو په پایله کې ، د ماشومانو د ضایع کېدو ، او د دوی د اختلاط او ګډون په وختونو کې ، چې د دغه ماشومانو پېژندل ممکن نوي ، او یا د بدن د هغه ټوټو د پیدا کېدلو په صورت کې چې پېژندل یې ممکن نوي ، او یا د ورک شوو اشخاصو یا جنګي بندیانو د پېژندلو لپاره له دې څخه ګټه اخستنه.([1])

### څلورمه فرعه: په میراثي بصمې سره د نسب نفي کول

د اسلامي شریعت له نظره کله چې د یوې ښځې نکاح له یوه سړي سره وشي او د پورتنیو شرایطو په نظر کې نیولو سره له دغې ښځې څخه زوی پیدا شي ، نو د دغه ماشوم د نسب نفي کول ، له همدغه سړي(مېړه) څخه بله بې له لعان لاره نه لري ، نو مونږ به په دغه فرعه کې د لعا ن لغوي او اصطلاحي تعریف ، د لعان شکل او بڼه او د لعان په وړاندې د میراثي بصمې شرعي حیثیت بیان کړو.

**لومړی: د لعان تعریف.**

د لعان د لغوي تعریف په اړه ابن منظور([2]) وایي: اللعان والملاعنه: اللعن بین اثنین فصاعدا.

واللعن الابعاد والطرد من الخیر ، وقیل: الطرد والابعاد من الله تعالی و من الخلق: السب والدعاء.([3])

ژباړه: لعان او ملاعنه د دوو یا څو کسانو په منځ کې لعن دی ، او لعن له خیر څخه لرې کېدل او شړل کېدل دي. او چا ویلي دي چې له الله جَلَّ جَلالُهُ او له مخلوق څخه لرې کېدل او شړل دي (ګویا) ښکنځل او ښېرا کول دي.

---

[1]) مجلس المجمع الفقهي الاسلامی فی دورته ا لسادسه العشره المنعقده فی المکه المکرمه فی مده من 10.1422له 21تر26پورې الموافق 2002میلادی د 1میاشتې له 5 څخه تر10پورې القرار شماره ، 7.

[2]) **پوره نوم یې:** مُحَمَّد بن مکرم بن علی جمال الدین بن منظور په ابن منظور سره شهرت لری د لغت تکړه امام دی او **لسان العرب** کوم چې دعربی ژبی معتبره مرجع ده او **مختصر الأغانی** د ده تألیفات دی. په مصر کې زیږدلی او د لقاهر په یوان الانشاء کې خدمت کړی په 711 ھ کې په مصر کې وفات شوی دی. **موسوعة الاعلام ـ قسم: الرجال والتراجم والطبقات** ج ـ 2، ص ـ 30.

[3]) ابن منظور ، **لسان العرب،** ماده اللعنه.

نو له دې تعریف څخه معلومېږي ، چې لعن له الله جَلَّ جَلالُهُ او د هغه له ټولو نعمتونو څخه د لرېوالي ښېرا ته ویل کېږي.

د لعان اصطلاحي تعریف په اړه ابن نجیم حنفي[1] داسې وايي: (شهادات مؤكدات بالايمان ، مقرونه بااللعن والغضب قايمه مقام حدالقذف فی حقه ومقام حدالزنا فی حقها). [2]

ژباړه: لعان عبارت دی ، له هغه ګواهیو څخه چې په قسمونو سره مضبوط شوی وي. او په لعنت او غضب پورې پیوسته شوی وي ، او د مېړه په حق کې د قذف د حد قایم مقام(ځای ناستی) او د ښځې په حق کې د زنا د حد قایم مقام (ځای ناستی) وي.

**د لعان د مشروعیت دلائل:**

کله چې یو کس په خپله ښځه د زنا تور پورې کړي ، او یا ادعا وکړي ، چې دغه ماشوم چې زما ښځې زېږولی دی زما زوی ندی ، او ښځه د ده له خبرې څخه انکار وکړي ، او ووايي چې ما زنا نه ده کړې ، نو دوی دواړه به د شریعت له مخې لعان ته رجوع کوي ، لکه څنګه چې طريقه یې په قرآن کریم کې په تفصیل سره بیان شوې ده. او د لعان د مشروعیت دلائل په لاندې ډول دي:

**لومړی قرآن کریم:**

**﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ (6) وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (7) وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (8) وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ (9) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ** [3]

ژباړه: او هغه کسان چې ولي (د زنا تور لګوي) میرمنې خپلې او(حال دا) (چې) نوي له دوی سره ګواهان مګر نفسونه د دوی(چې حاضر وي) نو(واجبه ده په دې کې ) شاهدي د یوه له دوی ، څلور شاهدۍ په (نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې) بې له شکه دی خامخا له رښتیا ویونکو څخه دی (په دغه نسبت د زنا کې) او پنځمه (خبر هـ به یې به داسې وي چې) بیشکه لعنت د الله تعالی دې وي په دغه (مېړه ) که وي (دی) له دروغجنانو څخه او دفع کوي له دغې ښځې څخه عذاب (هغه حد چې د دې د مېړه د وینا له وجې ثابت دی) دا (کار) چې شاهدي ولولي یعنې (دا ښځه) څلور(وارې) شاهدي(په نامه) د الله تعالی (په دې

[1]) **پوره نوم یې:** زین الدین بن إبراهیم بن مُحَمَّد فقیه حنفی مصری په ابن نجیم سره مشهور دی زیات تصانیف لری چې له ډلی څخه یې یو **الأشباه والنظائر**، په أصول الفقه کې- بل یې **البحر الرائق فی شرح کنز الدقائق** او دداسی نور. په 970 هـ کې وفات شوی. **موسوعة الاعلام ـ قسم: الرجال والتراجم والطبقات**، ج ـ 2، ص ـ 65.

[2]) ابن نجیم **بحرالرایق** ج ـ 4، ص - 188 – 189.

[3]) سورة: النور ، آية 6.

خبره چې) ښيشکه دی (زما مېړه) خامخا له دروغ ويونکو څخه دی (په نسبت د زنا په ما باندې) او پنځمه (خبر ه به يې داسې وي چې) بې له شکه غضب د الله تعالی د وي په دې (ښځې) باندې که چېرې وي دی(زما مېړه) له رښتيا ويونکو څخه.

**دويم حديث:**

**عن ابن عباس: أن هلال بن أمية قذف امرأته عند النبي صلى الله عليه و سلم بشريك ابن سحماء فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( البينة أو حد في ظهرك ). فقال يا رسول الله ﷺ إذا رأى أحدنا على امرأته رجلا ينطلق يلتمس البينة فجعل النبي صلى الله عليه و سلم يقول ( البينة وإلا حد في ظهرك ). فقال هلال والذي بعثك بالحق إني لصادق فلينزلن الله ما يبرىء ظهري من الحد فنزل جبريل وأنزل عليه { والذين يرمون أزواجهم - فقرأ حتى بلغ - إن كان من الصادقين }. فانصرف النبي صلى الله عليه و سلم فأرسل إليها فجاء هلال فشهد والنبي صلى الله عليه و سلم يقول ( إن الله يعلم أن أحدكما كاذب فهل منكما تائب ). ثم قامت فشهدت فلما كانت عند الخامسة وقفوها وقالوا إنها موجبة. قال ابن عباس فتلكأت ونكصت حتى ظننا أنها ترجع ثم قالت لاأفضح قومي سائر اليوم فمضت فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( أبصروها فإن جاءت به أكحل العينين سابغ الأليتين خدلج الساقين فهو لشريك بن سحماء ). فجاءت به كذلك فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( لولا ما مضى من كتاب الله لكان لي ولها شأن )([1])**

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی: چې بې له شکه هلال بن أمية د رسول الله ﷺ په وړاندې په خپله میرمن له شريك ابن سحماء سره د زنا تور پورې کړ ، نو رسول الله ﷺ ورته وويل: يا شاهدان راولې يا به ستا په شا حد (جاري کول) وي ، نو ده وويل: ای د الله رسوله که چېرې له مونږ څخه کوم يو په خپله ښځه د پاسه يو سړی ووينې هغه به ځي او شاهدان به لټوي نو رسول الله ﷺ همدا ورته ويل: (البينة وإلا حد في ظهرك) يا شاهدان راولې يا به ستا په شا حد (جاري کول وي) نوهلال وويل زما د قسم په هغه ذات وي ، چې ته يې را لېږلی يې چې بې له شکه خامخا زه ريښتونی يم ، نو الله تعالی به خامخا نازل کړي ، هغه څه چې زما شا له حد څخه خلاصه کړي. نو جبرئيل عليه السلام را ښکته شو. او په ده (رسول الله)باندې يې (دا آيت) نازل کړ:{ والذين يرمون أزواجهم .([2]نو يې ولوستو دغه آيت تردې چې ورسېدو.إن كان من الصادقين }پورې. او رسول الله ﷺ بېرته را وګرځېدو نو د ده (د هلال ښځې)ته يې څوک ور ولېږل ، نو هلال راغی او دغه شاهدي يې وويله او رسول الله ﷺ وويل:

چې بې له شکه يو له تاسو څخه دروغجن دی نو آيا له تاسو څخه کوم يو توبه کوونکې نشته دی؟ بيا دا ولاړه شوه نو ګواهي يې ورکړه پس هر کله چې پنځمې (ګواهۍ) ته ورسېد ه (خلقو) ودروله ، او دوی وويل: چې دا(پنځمه ګواهي) واجب کوونکې ده.

---

[1]) البخارى ، **صحيح البخارى**، شماره ، 2526. الترمذى ، **الجامع الصحيح سنن الترمذي** باب سورة النور ، ج - 5، ص - 331، شماره ، 3197. او ابن ماجه ، **سنن ابن ماجه**، باب اللعان ، شماره ، 2067.

[2]) سورة: النور ، آية 6 .

ابن عباس وايي: پس دا زړه نا زړه شوه ، او سر يې ښکته کړ ، تر دې چې مونږ ګمان وکړ چې له خپلې خبرې څخه رجوع کوي بيا يې وويل: زه خپل قوم نوره پاتې ورځ نه رسوا کوم نو لاړه. نو رسول الله ﷺ وويل: تاسو دا وګورئ که چېرې يې وزېږاوه دا ماشوم ښه تور سترګی ښه اوږده کوناتی والا اوچاغو پنډيو والا نو دا به له شريک بن سحماء څخه وي.

نو دې همدا سې زوی يې وزېږاوه ، نو رسول الله ﷺ وويل: که چېرته هغه څه نوای شوي ، کوم چې د الله پاک په کتاب کې دي ما او دې به سره خامخا سره کتلي وای.

**عن ابن عمر رضي الله عنهما : أن رجلا رمى امرأته فانتفى من ولد ها في زمان رسول الله ﷺ فأمر بهما رسول الله ﷺ فتلاعنا كما قال الله ثم قضى بالولد للمرأة وفرق بين المتلاعنين** ([1])

**درېيم اجماع:**

د لعان په اړه ټول امت په دې اتفاق دي چې لعان يو مشروع او روا کار دی ، په دې اړه د امت په سطحه هېڅوک مخالف نه لېدل کېږي.([2])

**د لعان شرطونه:**

د لعان د صحت لپاره يو سلسله شرطونه دي ، که چېرې د لعان په تر سره کولو کې له دغه شرطونو څخه کوم يو شرط شتون ونلري ، نو په دې لعان باندې به د شرعي لعان احکام نه مرتب کېږي. او دا شرطونه په لاندې ډول دي.

**عقل:**

لعان کوونکي مېړه او ښځه دواړه بايد عاقل او هوښيار وي ، نو که چېرې دوی دواړه يا له دوی دواړو څخه يو ليونی وي ، نو د دوی په لعان باندې هيڅ شرعي حکم نه مرتب کېږي.

- **بلوغ:**

لعان کوونکي مېړه اوښځه بايد دواړه بالغ وي ، نو که چېرې دواړه يا يو له دوی دواړو څخه بالغ نوي ، نو د دوی په لعان باندې هيڅ شرعي حکم نه مرتب کېږي.

- **د ښځې عفت:**

په کومه ښځه چې د لعان تور لګول شوی وي ، د هغې د پاک لمنۍ د اعادې لپاره به هغه وخت لعان ترسره کېږي ، چې دا پاک لمنې کوي او مخکې په د زنا تهمت نوي ور باندې لګېدلی.

- **مېړه تور لګوونکې نوي:**

کوم مېړه چې په خپلې ښځې د زنا تور لګولی هغه مېړه به تر دې مخکې په بلې کومې ښځې د زنا تور نوي لګولی ، او که چېرې يې مخکې هم دا کار کړی وي ، نو بيا د ده لعان نه صحيح کېږي.

- **د مېړه لخوا د خپلې ميرمنې د زنا ادعا او د ميرمنې لخوا د مېړه تکذيب:**

[1]) البخاري ، مُحَمَّد بن إسماعيل ، **صحيح البخارى،** ج ـ 6، ص ـ100. شماره ، الحديث 4471.

[2])سيد سابق ، **فقه السنه،** ج ـ 2، ص ـ 316، اللعان.

په دې معنی چې مېړه به په خپله مېرمن باندې ، یا د زنا تور پورې کوي ، او یا له مېرمنې څخه به د زېږېدلي ماشوم نسب ، له خپل ځان څخه نفي کوي ، او مېرمن به د مېړه د دغې ادعا تکذیب کوي او دغه تکذیب به د لعان ترپایه دوام مومي.([1])

- **د لعان په جریان کې د زوجینو او امام شتون:**

د لعان کولو په وخت کې به مېړه او مېرمن دواړه موجود وي ، او دوی دواړه به د قاضي په وړاندې لعان ترسره کوي.([2])

**د لعان څرنګوالی:**

کله چې یو کس په خپله ښځه پورې د زنا تور پورې کړي ، او یا ادعا وکړي چې دغه ماشوم کوم چې زما ښځې زېږولی دی ، زما زوی ندی. او ښځه انکار وکړي چې ما زنا نه ده کړې. نو دوی دواړه به د شریعت له مخې لعان ته رجوع کوي ، او لعان به د قاضي په وړاندې په لاندې ډول ترسره کوي.

لومړی به مېړه څلور ځله داسې ګواهي ورکوي: چې زما دې د الله په نامه قسم وي چې زه په خپله خبره کې رېښتونی یم (چې زما ښځې زنا کړې ده ، او یا چې دې کوم ماشوم زېږولی زما زوی ندی).

پنځمه خبره به یې داسې وي چې په ما دې د الله تعالی لعنت وي ، که چېرې زه په خپله خبره کې دروغجن وم.

بیا به ښځه په خپل وارسره څلور ځله داسې ګواهي ورکوي.

چې زما دې د الله تعالی په نامه قسم وي چې زما مېړه په خپله خبره کې دروغجن دی.

او پنځمه خبره به داسې کوي ، چې په ما دې د الله تعالی غضب وي ، که چېرې زما مېړه په خپله خبره کې رېښتونی وي. ([3])

**په لعان مرتب شوی آثار:**

هرکله چې د مېړه او ښځې تر منځ د شرعي طریقې مطابق لعان ترسره شي ، نو لاندیني احکام ورباندې مرتب کېږي:

1. له مېړه څخه د قذف حد ساقطوي.
2. له ښځې څخه د رجم حد ساقطوي.
3. د مېړه او ښځې ترمنځ بېلوالی راولي.
4. د مېړه او ښځې ترمنځ د ابدي یوځای کېدو حرمت ثابته کوي.
5. له مېړه څخه د زېږېدلي ماشوم نسب نفي کوي.
6. زېږېدلی ماشوم په مور پورې اړوند کوي.
7. د عدت په ورځو کې د مېړه له غاړې څخه د ښځې نفقه او د اوسېدلو ځای ساقطوي.([4])

---

[1]) الزحیلی وهبه ، **فقه خانواده در جهان معاصر**، ص426.

[2]) WWW.AL_EMLN.COM **شروط اللعان.2019/2/17 PM 9:20**

[3]) الزحیلی وهبه, **فقه خانواده در جهان معاصر**، ص ـ 426.

[4]) W WW.AL_EMLN.COM اثار اللعان.2019/2/17 9:50PM.

**د لعان په وړاندې د میراثي بصمې حیثیت:**

لکه څنګه چې مخکې وویل شول ، د نسب د نفې لپاره یوازې یوه لاره شتون لري ، چې هغه عبارت دی له لعان څخه. خو دا په هغه وخت کې وه کله چې میراثي بصمه کشف شوې نه وه ، خو هرکله چې د نسب د اثبات او نفې په برخه کې یوه نوې لاسته راوړنه را منځ ته شوه او میراثي بصمه کشف شوه ، نو اوس دا پوښتنه را ولاړېږي چې که چېرې د میراثي بصمې نتایج داسې راووتل چې د هغې په پایله کې د زېږدلي ماشوم نسب نفې کېږي ، نو آیا د نسب د نفې لپاره به یوازې په همدغه میراثي بصمې باندې بسنه کېږي اوکه د لعان ترسره کول هم اړین دي ؟

د دې موضوع په اړه د معاصرو فقهاؤ اندونه یو له بل سره توپیر لري ، نو مونږ به د هغو له جملې څخه د ځینو علماؤ نظریا ت(اندونه) په لنډه توګه رانقل کړو.

**لومړی نظر:**

دا چې د میراثي بصمې د پایلې سره سمدستي بې له دې چې لعان ته رجوع وشي نسب نفې کېږي ، یعنې که چېرې یو کس خپل ځان ته د زوی د نسب په اړه شکمن شي ، او د میراثي بصمې معاینات ترسره کړي ، او د هغې پایلې داسې را څرګندې شي چې دغه ماشوم د ده زوی ندی ، نو بس د دغه ماشوم نسب له ده څخه نفې کېږي ، او د لعان د ترسره کولو لپاره هیڅ اړتیا شتون نه لري.

همدغه نظر ته ځینو معاصرو فقهاؤ تګ کړی دی چې د دوی له جملې څخه:

د تونس دولت پخوانی مفتي شیخ مُحَمَّد مختارالسلامي ، دکتور سعدالدین هلالي او داسې نورو...([1])

د دوی دلائل په لاندې ډول دي:

- لومړی دلیل: د الله تعالی دا قول دی:

**﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴾** ([2])

ژباړه: او هغه کسان چې ولي (د زنا تور لګوي)میرمنې خپلې او(حال دا) (چې) نوي له دوی سره ګواهان ، مګر نفسونه د د وی(کې حاضر وي) نو(واجبه ده په دې کې ) شاهدي د یوه د دوی څلور شاهدي په (نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې)بې شکه دی خامخا له رښتیا ویونکو څخه دی.

له دې آیت څخه دوی داسې استدلال کوي ، چې لعان هغه وخت باید ترسره شي چې ګواهان شتون ونلري ، او له مېړه سره هیڅ داسې یو دلیل نوي چې د ده خبره ورباندې ثابته شي ، خو کله چې د ده سره داسې یو څه شتون ولري ، چې د ده خبره ور باندې ثابته شي ، لکه میراثي بصمه نو په دې صورت کې به د لعان لپاره هیڅ موجب نوي.

---

[1]) عمر مُحَمَّد بن السبیل ، **البصمة الوراثیة و مدی مشروعیة استخدامها فی النسب والجنایة** ص ـ 42 . او خلیفه علي الکعبی ، **البصمة الوراثیة و اثرها علي الاحکام الفقهیة دراسة فقهیة مقارنة** ، ص -442.

[2]) سورة النور ، آیة ، 6.

خو ځيني علماء د دوی له دې نظر څخه داسې ځواب کوي ، چې په آيت کې د ګواهانو يادونه شوې ده.([1])

خو له دې څخه داسې ځواب کېدلی شي چې:

په پورتني آيت کې دا لبينه کلمه راغلې ده ، او دا لبينه د مدلول په اړه که څه هم د علماؤ ترمنځ اختلاف موجود دی خو ځيني علماء لکه:

ابن تيميه ، ابن القيم ، ابن فر حون ، ابن حجرالعسقلانی پدې باور دي چې بينه عبا رت دی: له هر هغه شي څخه چې حق ورباندې معلوم او ښکاره شي. ، دا که شاهدان وي ، که اقرار وي ، که نور قرائن وي.([2])

- دويم دليل: د نسب د نفي کولو په برخه کې ميراثي بصمه قطعي دليل دی ، نو په همدې اساس به ميراثي بصمه په هغو مسائلو قياس کېږي ، چې په هغو کې له لعان څخه پرته د ماشوم نسب نفې کېږي. لکه چې د يوه صغير ماشوم ميرمن او يا د هغه چا ميرمن چې د هغې اوبه (مني) نوي ، نو له دغسې کسانو څخه د نسب نفې کېدل پرته له لعان څخه په اتفاق سره ثابتېږي.([3])

**د ويم نظر:**

هغه نسب چې په صحيح واده سره ثابت شوی وي ، د هغې د نفې کولو لپاره غير له لعان څخه بله لاره شتون نلري ، او د نسب د نفې په برخه کې به ميراثي بصمې ته په لعان باندې هيڅ وړاندېوالی نه ورکول کېږي.

او دې نظر ته ځينو معاصرو فقهاؤ مخ کړی دی چې د هغو له جملې څخه: استاذ دکتور وهبه الزحيلي ،([4]) استاذ عمر السبيل ،([5]) استاذ خليفه علي الكعبي ، او داسې نور...

او په دې باندې اسلامي فقهي ټولنې هم پرېکړه کړېده او داسې وايي(**لايجوز شرعا الاعتماد علي البصمه الوراثية فی نفی النسب، ولايجوز تقديمها علي اللعان**).([6])

---

[1]) خليفه علي الكعبى ، **البصمة الوراثية و اثرها علي الاحكام الفقهية دراسة فقهية مقارنة**، ص -442.

[2]) www.alifta.net 29/1/2019 11:00 am

[3]) الدكتور احمد مُحَمَّد سعيد السعدى ، **اثبات النسب و نفيه بالبصمه الوراثية دراسة مقارنة**، ص - 78.

4) **پوره نوم يې:** دكتور وهبة مصطفى الزحيلى په 1923م . د سوريې په دمشق د دير عطية په ښار ګوټی کی زيږدلی دی د قرآن حافظ د دكتوراه سند يې دمصرد ازهر پوهنتون څخه حاصل کړی د مختلفو پوهنتونونو او مضامينو مدرس تير شوی ډيری ليکنې يې کړي لکه: **التفسير الوجيز**، او **حق الحرية فى العالم**، او **التفسير الوسيط**، او **فقه الاسلامى و ادلته**، او داسی نور.

[5]) **پوره نوم يې:** عمر بن عبدالله بن مُحَمَّد بن عبد العزيز السبيل ، د 1377 هـ. د رمضان په مياشت کې زيږدلی او د 1423 هـ. د محرم په مياشت وفات شوی ، د مسجد الحرام امام او خطيب او همدا راز د ام القرى او د رياض پوهنتونونو استاد تير شوی. مختلفی ليکنی لری لکه: **البصمة الوراثية ومدى مشروعية استخدامها فى النسب والجناية** ، او **احكام الطفل اللقيط دراسة فقهية مقارنة**، او **من منبرالحرم المكى** داسی نور.

[6]) مجلس مجمع الفقه الاسلامى فى دورته السادسه عشره المنعقدة بمكه المكرمه فى المده من 21 الى 26 /1422/هجـ الموافق 2002/1/10 قرار شماره ، 7. نقل کړيې ده ، عمر مُحَمَّد بن السبيل ، **البصمة الوراثية ومدى مشروعية استخدامها فى النسب والجناية**، ص -42، او خليفه علي الكعبى **البصمه الوراثية واثرها علي الاحكام الفقهية**، ص -443. الدكتور وهبة الزحيلى **البصمة الوراثية ومجالات الاستفاده منها**، ص -15

**ژباړه:** د نسب د نفې په برخه کې په میراثي بصمې باندې اعتماد کول شرعاً روا ندي ، او نه يې په لعان باندې وړاندې کول روا دي.

**د دوی دلائل په لاندې ډول دي:**

**لومړی دلیل:** د دوی دلیل هم همغه د سوره نور6 آیت دی ، کوم چې د لومړي نظر خاوندانو ور باندې استدلال کړی ؤ ، یوازې د استدلال په طریقه یې فرق دی.

د الله تعالی دا قول دی: ﴿ **وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ** ﴾.([1])

ژباړه: او هغه کسان چې ولي (د زنا تور لګوي) میرمنې خپلې او(حال دا) (چې) نوي له دوی سره ګواهان مګر ، نفسونه د دوی(په خپله حاضر کوي) نو(واجبه ده په دې کې ) شاهدي د یوه د دوی څخه څلور شاهدۍ په (نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې)بې شکه دی خامخا له رښتیا ویونکو څخه دی.

دوی پدې ایت سره داسې استدلال کړی دی ، چې په دې آیت شریف کې داسې راغلي دي ، چې کله له مېړه سره شاهدان نوي ، نو هغه به لعان ته رجوع کوي ، او د آیت څخه وروسته د میراثي بصمې منځ ته راتلل او هغې ته وړاندې والی ورکول د الله ﷻ په کتاب باندې زیادت دی ، او د شرعي نصوصو په وړاندې د باطلولو ، او په هغه باندې د عمل لغوه کول جرئت دی. کوم چې د دې قول د بطلان واضح او ښکاره دلیل دی ، ځکه چې د ثابتو شرعیه احکامو لغوه کول په هیڅ صورت سره روا ندي ، او په دغه شرعي نصوصو د عمل کولو بطلان هغه شرعي نص په وسیله کېدلای شي چې د هغه په نسخه باندې دلالت وکړي ، او دا کار ناشونی دی نو څرنګه به د طب په شکمنو نظریاتو باندې د یوه شرعي حکم لغوه کول روا وي.([2])

خو له دې استدلال څخه داسې ځواب کېدلای شي: چې آیت د دې مسئلې صورت ته نه شاملېږي ځکه آیت د هغې مسئلې د صورت حکم بیان کړی ، کوم چې د مېړه سره بینه (څرګندوونکي دلائل) نوي. او په دې صورت کې د مېړه سره بینه یعنې څرګندوونکي دلائل شتون لري.

**دویم دلیل:**

چې د نسب د نفې کولو لپاره یوازې یوه شرعي لار شتون لري ، چې هغه لعان دی ، اګر که ښځه د خپل مېړه د هغه بد کارۍ تور ، چې په دې یې لګولی تصدیق هم وکړي ، نو د ماشوم نسب به د دې د خاوند اړوند وي او له ده څخه به نه نفې کېږي ، مګر په لعان سره ځکه رسول الله ﷺ فرمايي:

**(قال النبي ﷺ: «الولد للفراش وللعاهر الحجر»).** ([3])

ژباړه: زوی د فراش دی ، او زاني لره تیږه ده.

**دریيم دلیل:**

د میراثي بصمې شرعي حیثیت ، تکییف او اعتبار ، په قیافې باندې قیاسول دي او قیافه د نسب په نفې کولو کې هیڅ رول نلري.

---

[1]) سورة النور ، آیة ، 6.

[2]) عمر مُحَّد بن السبیل ، **البصمة الوراثیة و مدی مشروعیة استخدامها فی النسب والجنایة،** ص - 42.

[3]) خلیفه علي الکعبی ، **البصمة الوراثیة و اثرها علي الاحکام الفقهیة دراسة فقهیة مقارنة،** ص - 448.

او دا ځکه هر کله چې د یوه ماشوم نسب د شرعي نکاح (واد ه ) له لارې د ښځې مېړه ته ثابت شي ، نو دلته بیا د نسب د نفې کولو په اړه د قایف قول ته هېڅ ارزښت نه ورکول کېږي ، دا ځکه چې د قایف قول له صریح نص سره په ټکر کې دی او هغه دا آیتونه دي:

﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ (6) وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ اللَّهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (7) وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ (8) وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ (9) وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ حَكِيمٌ ﴾. [1]

ژباړه: او هغه کسان چې ولي (د زنا تور لګوي)میرمنې خپلې او(حال دا) (چې) نوي له دوی سره ګواهان مګر نفسونه د دوی(چی حاضر وي) نو(واجبه ده په دې کې ) شاهدي د یوه د دوی څخه څلور شاهدۍ په (نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې)بېشکه دی خامخا له رښتیا ویونکو څخه دی (په دغه نسبت د زنا کې) او پنځمه (خبره به یې داسې وي چې) بېشکه د الله تعالی لعنت د وي په دغه (مېړه )که وي (دی) له دروغجنانو څخه ، او دفع کوي له دغې ښځې څخه عذاب (هغه حد چې د دې د مېړه د وینا له وجې ثابت دی) دا(کار) چې شاهدي ولولي یعنې (دا ښځه) څلور (وارې) شاهدي(په نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې) بېشکه دی (زما مېړه) خامخا له دروغ ویونکو څخه دی (په نسبت د زنا په ما باندې) او پنځمه (خبره به یې داسې وي چې) بې له شکه غضب د الله تعالی د وي په دې(ښځې) باندې که چېرې وي دی(زما مېړه) له رښتیا ویونکو څخه.

او همدار از رسول الله ﷺ د شبهې(یوشي والي)دلیل کوم چی په ما بین د زاني او هغه ماشوم کې چې د زنا له لارې زېږېدلی ؤ لغوه کړی دی. لکه څرنګه چې په لاندې حدیث کې څرګندېږي:

**عن ابن عباس: أن هلال بن أمية قذف امرأته عند النبي صلى الله عليه و سلم بشريك ابن سحماء فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( البينة أو حد في ظهرك ). فقال يا رسول الله ﷺ إذا رأى أحدنا على امرأته رجلا ينطلق يلتمس البينة فجعل النبي صلى الله عليه و سلم يقول ( البينة وإلا حد في ظهرك ). فقال هلال والذي بعثك بالحق إني لصادق فلينزلن الله ما يبرىء ظهري من الحد فنزل جبريل وأنزل عليه { والذين يرمون أزواجهم - فقرأ حتى بلغ - إن كان من الصادقين }. فانصرف النبي صلى الله عليه و سلم فأرسل إليها فجاء هلال فشهد والنبي صلى الله عليه و سلم يقول ( إن الله يعلم أن أحدكما كاذب فهل منكما تائب ). ثم قامت فشهدت فلما كانت عند الخامسة وقفوها وقالوا إنها موجبة. قال ابن عباس فتلكأت ونكصت حتى ظننا أنها ترجع ثم قالت لاأفضح قومي سائر اليوم فمضت فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( أبصروها فإن جاءت به أكحل العينين سابغ الأليتين خدلج الساقين فهو لشريك بن سحماء ). فجاءت به كذلك فقال النبي صلى الله عليه و سلم ( لولا ما مضى من كتاب الله لكان لي ولها شأن ).**[2]

[1]) سورة: النور ، آية ، 6 – 7 – 8 – 9 – 10.

[2]) الترمذی ، **الجامع الصحيح سنن الترمذي**، باب سورة النور ، ج - 5، ص - 331، شماره ، الحديث ، 3179.

ژباړه: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې بې له شکه هلال بن أمية د رسول الله ﷺ په وړاندې په خپله میرمن له شریك ابن سحماء سره د زنا تور پورې کړ ، نو رسول الله ﷺ ورته وویل: یا شاهدان راولې یا به ستا په شا حد (جاري کول) وي ، نو ده وویل: ای د الله رسوله که چېرې له مونږ څخه کوم یو په خپله ښځه د پاسه یو سړی وویني هغه به ځي او شاهدان به لټوي نو رسول الله ﷺ همدا ورته ویل: (البينة وإلا حد في ظهرك) یا شاهدان راولې یا به ستا په شا حد (جاري کول وي) نوهلال وویل زما دې قسم په هغه ذات وي ، چې ته یې را لېږلی یې ، چې بې له شکه خامخا زه ریښتونی یم ، نو الله تعالی به خامخا (حکم)نازل کړي ، هغه څه چې زما شا له حد څخه خلاصه کړي. نو جبرئیل علیه السلام را ښکته شو. او په ده (رسول الله) باندې یې (دا آیت) نازل کړ:﴿ والذين يرمون أزواجهم... ﴾ .[1] نو یې ولوستو دغه آیت تردې چې ورسېدو.إن كان من الصادقين ﴾پورې. او رسول الله ﷺ بېرته را وګرزېدو نو د ده (د هلال ښځې)ته یې څوک ور ولېږل ، نو هلال راغی او دغه شاهدي یې وویله او رسول الله ﷺ وویل:

چې بېله شکه یو له تاسو څخه دروغجن دی ، نو آیا له تاسو څخه کوم یو توبه کوونکې نشته دی؟ بیا دا ولاړه شوه نو ګواهي یې ورکړه پس هر کله چې پنځمې (ګواهی) ته ورسېد ه (خلقو) ودروله ، او دوی وویل: چې دا(پنځمه ګواهي) واجب کوونکې ده.

ابن عباس وایي: پس دا زړه نازړه شوه ، او سر یې ښکته کړ ، تر دې چې مونږ ګمان وکړ چې له خپلې خبرې څخه رجوع کوي بیا یې وویل: زه خپل قوم پاتې ورځ نه رسوا کوم نو لاړه. نو رسول الله ﷺ وویل:

تاسو دا وګورئ که چېرې یې وزېږاوه دا ماشوم ښه تور سترګی ښه اوږده کوناتې والا اوچاغو پنډیو والا نو دا به له شریک بن سحماء څخه وي.

نو دې همدا سې زوی وزېږاوه ، نو رسول الله ﷺ وویل: که چېرته هغه څه نوای شوي ، کوم چې د الله پاک په کتاب کې دي ما او دې به سره خامخا کتلي وای.

نو له دې حدیث شریف څخه معلومېږي چې رسول الله ﷺ کومې نښې د ما شوم په اړه بیان کړې وي. هغه ټولې په دې ماشوم کې موجودې وې چې د قیافې د اعتبار پر بنسټ د ماشوم نسب باید شریک بن سحماء ته ثابت شوی وای ، خو رسول الله ﷺ بیا هم د دغه ماشوم نسب له هلال څخه نفي نکړ.او د شبه(یوشي والی) دلیل کوم چې رسول الله ﷺ لغوه کړ ، کوم چې په میراثي صفاتو ولاړدی چې له میراثي بصمې سره یو شي والی لري.

نو کله چې رسول الله ﷺ دغه حکم ته اعتبار ور نکړ ، نو میراثي بصمې ته به هم اعتبار نه ورکول کېږي.

ځکه چې دلته قیافه له شرعي نص سره په ټکر کې ده. کوم چې د لعان ترسره کول دي.[2]

له دې دلیل څخه داسې ځواب کېدلای شي ، چې قیافه په ظن او ګمان باندې ولاړه ده خو میراثي بصمه په یقین ولاړه ده. [3]

[1] سورة: النور ، آية ، 6.

[2] خليفه علي الكعبى ، **البصمة الوراثية واثرها علي الاحكام، الفقهية دراسة فقهية مقارنة،** ص -448.

[3] احمد مُحَمَّد سعيد السعدى ، **اثبات النسب و نفيه بالبصمه الوراثية دراسة مقارنة،** ص -79.

**درېیم نظر:**

**د دې نظر خاوندان داسې وايي:**

که چېرې د یوه ماشوم میراثي بصمه معاینه او وڅېړل شي ، او د هغې پایله داسې را ووځي چې د ده نسبت پلار ته تائید وي ، نو که پلار د دې ماشوم د نسب د نفې په اړه لعان هم تر سره کړی وي ، نو په دې لعان سره د ماشوم نسب له ده څخه نه نفې کېږي. او دې نظر ته ځینې فقهاؤ تګ کړی لکه: فرید واصل او په دې د مصر دارالافتاء هم فتوی ورکړې ده. ([1])

او د درېیم نظر موضوع د نسب اثبات دی نه نفې.

**د دوی دلیل دا دی:**

چې په لعان پورې د نسب د ثبوت او نفې څخه پرته ځینې نور احکام هم تړاؤ لري: لکه د حد لرې کېدل ، او د مېړه او ښځې تر منځ بېلوالی راوستل ، نو له دې وجې نه که څه هم د میراثي بصمې پایله دا ثابته کړي ، چې مېړه په خپله دعوی کې دروغجن دی ، نو د لعان ترسره کول به نه لغوه کېږي ، نو د نسب د نفې او ثبوت نه علاوه په دوو مواردو(د حد لرې کېدل او د ښځې او مېړه ترمنځ بېلوالی) کې به د لعان په تقاضا عمل کېږي. ([2])

دوی وايي: چې په لعان پورې درې ګوني احکام تړاؤ لري:

1.له مېړه او میرمنې څخه د حد ساقط کېدل.

2.د مېړه او میرمنې په منځ کې تلپاتې بېلوالی.

3.له مېړه څخه د ماشوم د نسب نفې کېدل.

که چېرته د میراثي بصمې پایله د مېړه د خبرې سره برابره راغله ، نو په درې واړو احکامو باندې اثر کوي ، خو که چېرته د میراثي بصمې پایله د مېړه د خبرې سره په ټکر کې راغله ، نو بیا به لعان یوازې په دوو مواردو کې چې هغه(د ښځې او مېړه بېلوالی دی ، له مېړه څخه د قذف حد او له ښځې څخه د رجم حد دی) ساقطوي.

د دې نظریې پر بنسټ د مصر دارالفتاء په 1995 کې د635 مې قضیې په اړه همداسې فتوا ورکړې ، او د دې حکم لپاره یې علت دا بیان کړی ، چې د نسب ثبوت د شرع حق دی. او شارع د ماشوم  د نسب ثبوت غواړي ځکه چې په دې کې د ماشوم مصلحت دی.([3])

نو دغې فتوا د عقلي او نقلي دلائلو ترمنځ جوړښت را وستلی دی. او په دې فتوا کې په نص باندې د اجتهاد وړاندې والی هم شتون نه لري ، ځکه چې د لعان په آیت کې د نسب په اړه بحث ندی شوی همدا راز لکه څنګه چې مخکې وویل شول چې: د نسب د نفې کولو په برخه کې میراثي بصمه قطعي دلیل دی ، نو پر همدې اساس میراثي بصمه  به پر هغه مسائلو قیاس کېږي ، چې په هغو کې له لعان څخه پرته د ماشوم نسب نفې کېږي.

[1]) فوادعبدالمنعم احمد ، البصة الوراثية و دورها فى الاثبات الجنائى بين الشريعة والقانون،    ص -100.

[2]) احمد مُحَّد سعيد السعدى ، اثبات النسب و نفيه بالبصمه الوراثية دراسة مقارنة ،  ص -79.

[3]) فوادعبدالمنعم احمد ، البصة الوراثية و دورها فى الاثبات الجنائى بين الشريعة والقانون ،   ص -102.

لکه چې د یوه صغیر ماشوم میرمن او یا د هغه چا میرمن چې د هغې اوبه (مني) نوي ، نو له دغسې کسانو څخه د نسب نفې کېدل پرته له لعان څخه ثابتېږي.([1])

نو پاتې شوه دا خبره چې د لومړي او دویم نظر څخه کوم یو راجح دی.

نو دغه خبره به په دوو ټکو کې را لنډه کړو:

**لومړی ټکې د اتفاق موارد:**

**په لاندې مواردو کې ټول فقها سره هم نظره دي:**

- که چېرې مېړه لعان ترسره کړ ، او له خپل ځان څخه یې د ماشوم نسب نفې کړ ، او ښځې هم په خپل وارسره لعان ترسره کړ ، او د میراثي بصمې پائلو هم د مېړه خبره تائید کړه ، نو د ماشوم نسب به له مېړه څخه د دوی په اتفاق سره نفې کېږي ، او د دوی دواړو په منځ کې به تلپاتې بېلوالی رامنځ ته کېږي ، او په ښځه به د زنا حد چې رجم دی نه جاري کېږي ، ځکه چې د لعان په پایله کې شبهه منځته راغله او شبهه حدود له منځه وړي(دفع کوي)لکه څنگه چې رسول تبنی فرمایي:( **ادرؤا الحدود بالشبهات**.([2]) )

ژباره: دفع کړئ حدونه په شبهو سره. او - **ادرؤا الحدود عن المسلمين ما استطعتم، فإن وجدتم للمسلم مخرجا فخلوا سبيله، فإن الإمام لأن يخطئ في العفو خير من أن يخطئ في العقوبة.** ([3])

ژباړه: دفع کړئ حدونه له مسلمانانو څخه څومره مو چې په وس کې وي ، نو که چېرې تاسو د مسلمانانو لپاره پیدا کړه د وتلو کومه یوه لاره ، نو لاره یې خلاصه کړئ ، بې له شکه که امام په عفو کې خطا (سهوه) شي دا غوره ده له دې څخه چې په سزا ورکولو کې خطا (سهوه) شي.

**او که ښځه لعان تر سره نکړي نو دلته دوه حالته شتون لري:**

**1.دا چې په زنا سره اعتراف وکړي:**

که چېرې ښځې لعان ترسره نکړ او د زنا اعتراف یې وکړ ، نو د فقهاؤ په اتفاق سره به په ښځه د زنا حد(رجم ) ترسره کېږي.([4])

**2.دا چې په زنا اعتراف ونکړي.**

او که چېرته ښځه لعان ترسره نکړي ، او د زنا اعتراف هم ونکړي ، بلکې داسې ووایي چې زه په هیڅ نیم خبره ، او یا ووایي چې له ماسره په زور زنا شوې ده ، او یا ووایي چې زنا را سره په شبهې تر سره شوې ده ،

---

[1]) احمد مُحَمَّد سعید السعدی ، **اثبات النسب و نفیه بالبصمه الوراثیة دراسة مقارنة**، ص - 78.

[2]) ) امام بیهقی وایې چې دار قطنی ویلی چی دا حدیث مرسل دی داستدلال وړ ندی **سنن الکبری للبیهقی**، شماره ، 15925.
علاء الدين علي بن حسام الدين المتقي الهندي ، **كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال**، ج - 5 ص - 309، شماره ، 1957. دا حدیث ضعیف دی ، البانی ، **إرواء الغليل في تخريج أحاديث منار السبيل**، شماره, 2316.

[3]) علاء الدين علي بن حسام الدين المتقي الهندي **كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال**، ج - 5 ص309 شماره ، **12971.**
داحدیث ضعیف دی ، الباني ، **سلسلة الضعيفة** ، شماره، 2197.

[4]) مازن اسماعیل هنیه و دکتور احمد ذیاب شویدح ، **نفی النسب فی الفقه الاسلامی ودورالحقایق العلمیة المعاصرة فیه**، ص - 10.
نشر شوي په **مجلة الجامعة الإسلامية** ، سلسلة الدراسات الإسلامية المجلد السادس عشر ، العدد الثاني ، ج --1 ص — 25 یومیه, 2008.

او د میراثي بصمې پائلو هم د مېره خبره تائید کړه ، نو د ټولو فقهاؤ په اند د ماشوم نسب به له مېره څخه نفې کېږي. خو د حد په جاري کولو د فقهاؤ تر منځ اختلاف شته:.([1])

**الف:** جمهور علماء

جمهور علماء لکه: احناف ، حنابله ، شوافع ، ظاهریه ، او زیدیه وایي:

چې په پور ته یاد شوي صورت کې په ښځه باندې حد نه جاري کېږي.([2])

**ب:** مالکیان وایي چې په دې صورت کې به په دې د زنا حد جاري کېږي.([3])

که چېرته مېره اوښځه دواړه په دې سره راضي شول ، چې له لعان ترسره کولونه مخکې میراثي بصمه وځېږي ، تر څو د دوی شک او شبهه لرې شي ، نو دا د دوی په حق کې بالکل صحیح خبره ده او دا کار کولی شي.([4])

**دویم ټکی: د اختلاف موارد.**

د فقهاؤ اختلاف په دې کې دی ، چې که چېرې د میراثي بصمې پائلې د مېره له خبرې سره برابرې وي ، نو آیا د نسب د نفې کولو لپاره په همدې سره بسنه کېږي ، او که د لعان ترسره کولوته هم اړتیا شته ؟

نو کله چې مونږلومړی او دویم نظر وکورو ، چې دواړو په یوه آیت باندې استدلال کړی:

**﴿ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ﴾**. ([5])

ژباړه: او هغه کسان چې ولي (د زنا تور لګوي) میرمنې خپلې او(حال دا) (چې) نوي له دوی سره ګواهان مګر نفسونه د دوی(چې حاضر وي) نو(واجبه ده په دې کې ) شاهدي د یوه د دوی څلور شاهدۍ په (نامه) د الله تعالی (په دې خبره چې)بې شکه دی خامخا له رښتیا ویونکو څخه دی.

او د طرفینو د استدلال طریقې مخکې یادې شوې دي ، نو دا چې د دوو نظرونو ترمنځ کوم یو نظر راجح دی ، دا به ووایو چې لومړی نظرراجح دی ، لکه څنګه چې دکتور مازن اسماعیل هنیه ، او دکتور احمد زیاب شویدح.([6]) او د کتور احمد مُحَمَّد سعید السعدي.([7]) هم دا نظر راجح بللی. او د دوی استدلال دا دی چې په آیت کې له بینه څخه مراد یواځې ګواهان ندي بلکې هغه قرینه هم ترینه مرادېږي چې حق ورباندې ښکاره شي ، لکه: څنګه چې ځینې فقهاؤ (بینه) یواځې په ګواهانو نده منحصره کړې بلکې څرنګه چی دوی وایي

---

[1]) مازن اسماعیل هنیه او دکتور احمد ذیاب شویدح **نفی النسب فی الفقه الاسلامی ودورالحقایق العلمیة المعاصرة فیه** ص,10 نشر شوي په مجلة الجامعة الإسلامية ) سلسلة الدراسات الإسلامية (المجلد السادس عشر ، العدد الثاني ، ص --1 ص - 25یونیه, 2008.

[2]) نقل کړی دکتور مازن, ص -, 10 له ابن الهمام ، **فتح القدير**, ج - 5, ص213 الشربيني **مغنى المحتاج** ,ج -.4, ص -.146, ابن قدامه **المغني** ج - 8, ص -210, ابن حزم **المحلی** ج - 12 ص -61 ابن المرتضی **البحرالزخار** ,ج -.6 ,ص -.221.

[3]) نقل دکتور مازن, ص - 10, عن **تاج والاکلیل** ,ج -.6, ص -294.

[4]) الدکتور احمد مُحَمَّد سعید السعدی ، **اثبات النسب و نفیه بالبصمه الوراثیة، دراسة مقارنة**، ص -**80** .

[5]) سورة: النور ، آیة **6**.

[6]) مازن اسماعیل هنیه و دکتور احمد ذیاب شویدح ، **نفی النسب فی الفقه الاسلامی ودورالحقایق العلمیة المعاصرة فیه, ص** -21. نشر شوي په مجلة الجامعة الإسلامية ) سلسلة الدراسات الإسلامية (المجلد السادس عشر ، العدد الثاني ، ص --1 ص - 25یونیه 2008.

[7]) احمد مُحَمَّد سعید السعدی ، **اثبات النسب و نفیه بالبصمه الوراثیة، دراسة مقارنة، ص -80.**

:چې بينه هرهغه قرينې ته شاملېږي چې د يوه شي حقيقت ورباندې څرګند شي ، لکه: ابن تيميه ، ابن القيم ، ابن فرحون ، ابن حجرالعسقلاني دوی پدې باور دي ، چې بينه عبا رت ده له هر هغه شي څخه ، چې حق ورباندې معلوم او ښکاره شي دا که شا هدان وي ، که اقرار وي ، او که نور قرائن وي.([1])

او همدا شکل ابن عثيمين([2]) هم په همدې نظر دی چې د اربعين د 33 حديث په شرحه کې يې څرګند کړی دی ، او وايي:(...فاذا القرائن بينة وعليه ، فان البينات لاتختص بالشهود) ژباړه: نو اوس (معلومه شوه) چې قرائن بينه دي ، نو د همدې پربنسټ بينه يوازې تر ګواهانو پورې نه خاص کېږي. او د خپلې ادعا لپاره يې په لاندې دلايلو( قرآن کريم ، حديث شريف ) سره استدلال کړی:

**لومړی قرآن کريم:**

﴿ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (26) وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ (27) فَلَمَّا رَأَى قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴾.([3])

ژباړه: يوسف عليه السلام وويل: دې(زليخا) زما د جلبولو هڅه وکړه ، او شاهدي ورکړه يوه شاهد د هغې (زليخا )له ټبر څخه چې که چېرې وي قميص د يوسف عليه السلام شلېدلی د مخ له لوري ، نو دې (زليخا) رښتيا ويلي او دی(يوسف) له دروغجنو څخه دی. او که وي قميص د ده شلېدلی د شاه له لوري څخه نو دې(زليخا)دروغ ويلي ، او دی(يوسف)له رښتيا ويونکوڅخه دی. نو هر کله يې چې وليد(د زليخا مېړه) کميس د ده شلېدلی د شاه له لوري څخه نو ويې ويل: يقيناً دا کار دی له مکرونو ستاسو(ښځو) څخه په رښتيا چې مکرونه ستاسو(ښځو) ډېر لوی دي.

**دويم حديث:**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ وَقَالَتْ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَام فَأَخْبَرَتَاهُ فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا فَقَالَتْ الصُّغْرَى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللَّهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَاللَّهِ إِنْ سَمِعْتُ بِالسِّكِّينِ قَطُّ إِلَّا يَوْمَئِذٍ وَمَا كُنَّا نَقُولُ إِلَّا الْمُدْيَةَ.**([4])

---

[1]) مجلة البحوث الاسلامية www.alifta.net 29/1/2019 11:00 am.

[2]) **پوره نوم يې:** محمد بن صالح بن محمد بن سليمان بن عبدالرحمان عثيمين تميمی نجدی په ابن عثيمين سره مشهور دی د سعودی په قصيم ښار کې د 1347 هـ. د رمضان په 27. نېټه زيږدلی دی. داسلامی امت له مکرو علماؤ څخه شميرل کيږی ، د امام محمد بن سعود او دقصيم پوهنتونونو رئس پاتی شوی ،او دعربستان دلويو علماؤ د هيئت عضويت يې درلود ، زيات شمير کتابونه يې ليکلی لکه: **شرح رياض الصالحين،** او **مجموعة الفتاوی، عمدة الاحکام،** او داسی نور.. چې د 1421 هـ. د شوال په 15. وفات شو.

[3]) سورة: يوسف ، آية ، 26-27-28.

[4]) البخاری ، **صحيح البخاری،** باب اذا ادعت المراة ابنا ، شماره ، 6769. ابن الأثير مجد الدين أبو السعادات ، **جامع الأصول في أحاديث الرسول،** ج - 8، ص - 519، شماره ، الحديث 6316.

**ژباړه:** له ابي هريره(رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ) څخه روايت دی چې رسول(صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) ويلي دي:

چی دوې ښځې وې له دوی سره د دوی دواړو زامن هم ؤ ، نو ليوه راغی او د يوې زوی يې ورځنې يووړ ، نو له دوی (دواړه) څخه يوې هغه بلې ته وويل چې ستا زوی يې وړی ، او هغې بلې وويل داسې نه ده بلکې ستا زوی يې وړی ، نو دوی دواړو فيصله داؤود عليه السلام ته راوړه نوهغه فيصله وکړه په حق د مشرې(ښځې) کې نو بيا دوی دواړه سليمان عليه السلام ته ورغلې ، نو دوی سليمان عليه السلام په دې قيصې خبر کړ ، نو سليمان عليه السلام وويل يوه (سکښ)چاړه راوړئ ، تر څو دا ماشوم د دوی ترمنځ نيم کړم ، نو کشرې وويل ، دا کار مه کوه الله ﷻ دې په تا رحم وکړي ، دا ماشوم د دې زوی ؤ ، نو يې د کشرې په حق کې فيصله وکړه ابوهريره (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ) ويلي دي په الله قسم ما د چاړې د پاره د سکښ نوم نوو آورېدلی ، بلکې مونږ نوم نه ورته اخيست مګر د مدية نوم مو ورته اخيست.

په پورته ذکرشويو دلائلو کې د قرآن کريم په مبارک آيت کې له قرينې څخه استفاده شوې ده ، او هغه داسې چې د قميص له شلېدلو څخه چې د مخ له لوري دی او که د شاه له لوري ، تر دې چې په همدې سره فيصله وشوه.

او په حديث شريف کې هم دواړو پيغمبرانو له قرينې څخه استفاده کړې ده ، چې داؤود عليه السلام په دې قرينه سره د لويې او مشرې په حق کې فيصله وکړه ، چې دويمه خو ځوانه ده شايد بل زوی هم وزېږوي د مشرې مراعات کول په کار دي ، او سليمان عليه السلام بيا له دې قرينې څخه استفاده وکړه ، چې د هرې يوې زوی وي نو د مور د زيات شفقت په وجه هغه نه غواړي چې زوی يې په چاړه دوه ځايه شي چې همداسې هم وشول ، نو ځکه يې د کوچنۍ او کشرې په حق کې فيصله وکړه.

او انساني سالم عقل هم دا تقاضا کوي ، چې قرينه بايد له نظره ونه غورځول شي ، او له قرينې څخه هم د شاهد په توګه کار واخيستل شي. د بېلګې په ډول که چېرې يو سړی چا مړ کړی وي ، او مړی يې په داسې حال کې وموندل شي چې په وينو سور او لړلی وي ، او ترخنګ يې يو سړی وليدل شي چې چاړه يې په لاس کې او لاسونه په وينو سره او د تېښتې په حال کې وي ، نو مونږ دغه قرينه چې لاسونه يې په وينو سره دي ، او د تېښتې په حال کې دی ، له پامه نشو غورزولی بلکې دا ويلی شو چې دا قتل همدغه سړي کړی دی.

خو دا په دې معنی نه چې د الله جَلَّ جَلالُهُ د کتاب حکم ، کوم چې لعان دی نعوذ بالله له پامه وغورځوو او يا پر هغه باندې ظن او ګمان مخکې کړو ، بلکې مونږ داسې وايو چې د لعان د حکم لپاره چې کوم شرط دی ، هغه شتون نلري ځکه مېړه داسې يو دليل وړاندې کړی ، چې کولای شي له خپل ځان څخه د ماشوم نسب نفې کړي ، نو که چېرته دی(مېړه) وغواړي چې خپله ښځه د زنا په تور متهمه کړي ، يا پرته له طلاق څخه هغه له ځانه لرې کړي ، نو کولای شي لعان ته مراجعه وکړي ، ځکه لعان هغه حکم دی چې تر قيامته به قايم وي ، يعنې ميراثي بصمه يواځې د نسب د نفې لپاره دليل کېدلای شي. او په لعان پورې چې دوه نور

حکمونه تړاؤ لري ، لکه په ښځه د حد ثبوت او د ښځې او مېړه ترمنځ تلپاتې بېلوالی ، نو هغه په میراثي بصمې سره نه ثابتېږي ، او که چېرې غواړي چې هغه هم ثابت شي ، نو مېړه کولای شي لعان ته مراجعه وکړي.

### څلورم مطلب: د لقیط د نسب ثبوت

په دې مطلب کې مو درې فرعې په نظر کې نیولی دي ، چې په لومړۍ فرعه کې به د لقیط تعریف ، په دویمه کې به د لقیط اړوند حکمونه ، او په څلورمه کې به د لقیط نسب وڅېړو.

#### لومړۍ فرعه: د لقیط تعریف

لقیط په لغت کې هغه ماشوم ته ویل کیږي چی په لارو کی اچول شوی وي او وموندل شي د کوم چې مور او پلار معلوم نوي.[1] او د منوندل شوي شي لپاره نوم دی په وزن د فعیل د مفعول معنا ورکوي لکه قتیل او جریح چې د مقتول او مجروح معنا ورکوي او د شریعت په اصطلاح کې علماؤ د لقیط تعریفونه کړي

**الف: احناف**

احنافو د لقیط داسې کړی چي ( لقیط د هغه ژوندي ماشوم نوم دی چې کورنی یې د زنا د تهمت له ویري او یا د لوږي له امله چیرته اچولی وي.[2]

**مالکیان :**

مالکیانو داسې تعریف کړی چي (لقیط عبارت دی له هغه واړه بني آدم څخه چي نه یې پلار او نه یی بادار معلوم وي. [3]

**شوافع:**

شوافعو داسې تعریف کړی چې (لقیط عبارت دی له هر هغه ماشوم څخه چې ضایع شوی وي او سر پرست یې نه وي. [4]

---

1) ابن منظور، **لسان العرب** ، مادة اللقيط.

2) السرخسي ، **المبسوط للسرخسي**،

3) الخرشي ، **شرح مختصر للخرشي** ، ج 7، ص ـ 130.

4) النووي ، **روضةالطالبين وعمدة المفتين**، ج 5 ، ص ـ 418.

**حنابله:**

او حنابلوو داسې کړی چې لقیط عبارت دی له هغه غیر ممیز ماشوم څخه چې نسب او رق یې معلوم نه وي(غلامي) په لار او یا سرک کې اچول شوی وي او د تولد اوتمیز په مابین کې قرار ولري([1])

**دوهمه فرعه: د التقاط اړوند حکمونه**

**لومړی حکم:** د لقیط د ورته کولو او ساتلو حکم

د لقیط په اخیستلو او ساتلو کې زیات ثواب ده ځکه چې په دې سره د یو نفس ژوندي کیدل رامنځته کیږي ځکه چې لقیط د مرګ لپاره وړاندې کړل شوی او د مرګ په خوله کې قرار لري او که چیرته راواخیسل شي او وساتل شي له مرګ څخه بچ کیږي او په دې اړه الله تعالی فرمایې(**ومن احیاها فکأنمکا احیاالناس جمیعا**).([2]) ژباړه: او څوک چې ژوندی کړي دا (نفس) ګویا ټول خلق یې ژوندي کړي دي. نو له همدي امله یې اخیستل او ساتل غوره اوبهتره کار دی ځکه چې په پرینښودلو سره یې ترحم او مهرباني نه پرېښودل دي ، او دا یو ناوړه کار دی چی په هکله یی رسول (ص) فرمایې( من لم یرحم صغیرا و لم یوقر کبیرا ) څوک چې په ماشوم رحم ونکړي او دلویانو احترام ونکړي له مونږ څخه ندی. او همدا شکل په اخیسلو کې یې د الله(ج) په بنده ګانو مهرباني ده نو له همدي امله اکثره علماؤ اتفاق کړی چې د دې ډول ماشوم اخیسل او ساتنه کول فرض دي ، او وایې که چیري زیات کسان وي او لقیط یې وموندوی په دوی باندي یې اخیسل فرض کفایې دي ، او که چیري یو نفر وي نو په هغه باندي فرض عین دي ([3])

خو احناف یې مستحب بولي ([4])

**دویم حکم:** د لقیط د اخیستلو حقدار

ملتقط د لقیط په اخیستلو او ساتلو تر بل هر چا مقدم او وړاندې دی ځکه رسول الله(ص) فرمایلې دي **(من سبق الی ما لم یسبق الیه مسلم فهو احق به).**([5]) ژباړه: څوک چې مخکې شو هغه څه ته چې مسلمان نوي ورته مخکې شوی نو دی په هغې باندې حق داره دی. که چیرته یې خوښه شوه نو له خپل مال څخه دي په دغه ماشوم باندي مصرف وکړي او که چیري یې خوښه شوه حاکم ته دي خبر ورکړي تر څو د نوموړي ماشوم مصارف له بیت المال څخه ورکړي ځکه چې بیت المال د بې وزلو مسلمانانو لپاره آماده شوی دی او

---

[1]) البهوتي، **کشاف القناع،** ج 4، ص ـ 226.

[2]) البهوتي، **کشاف القناع،** ج 4، ص ـ226.

[3]) المرغناني، **هداية البداية،** ج 2، ص ـ 173. ابن قدامه ، **الکافي لابن قدامه،** ج 2 ص ـ 363. وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية — الکويت ، **الموسوعة الفقيةالکويتية،** ج 35، ص ـ240.

[4]) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية — الکويت ، **الموسوعة الفقيةالکويتية،** ج 35، ص ـ 240.

[5]) ابو داود ، **سنن ابي داود ،** ج 3، ص ـ 453. دا حديث ضعيف دی ، الباني ، **صحيح وضعيف الجامع الصغير،** شماره ، 12397 .

دا په هغه صورت کې چې له لقیط سره مال نه وي او که چیرته له نوموړي ماشوم سره مال وي نو د ده لپاره په بیت المال کي هیڅ حصه نشته([1]) او که چیرته پیدا کوونکې په لقیط باندي د قاضي په خوښه له خپل مال څخه مصرف وکړ نو کله چي لقیط لوی شي نو کولی شي چي خپل مال له هغه څخه مطالبه کړي او که چیرته د قاضي له خوښې پرته یې مال ورباندي مصرف کړی وي نو دا تبرع او بخشش دی([2]) او دی نه شي کولی چي له لقیط څخه د بالغ توب څخه وروسته د خپل مال مطالبه وکړي([3])

**دریم حکم:** د لقیط د ځان او مال د سرپرستی حکم

د لقیط د مال او ځان سرپرست قاضي دی یعني قاضي د ده د ساتنې تعلیم تربیې واده او په مال کې یې د تصرف کولو واک او اختیار لري ځکه رسول(ص) فرمایي (**السلطان ولی من لا ولی له**).([4]) ژباړه: پاچا ولي دی د هغه چا چې ولي نلري. او لقیط آزاد او مسلمان دی ، نو کله چي په اسلامي خاوره کې یو ماشوم پیدا شي نو له هغه سره به د یوه آزاد او مسلمان انسان چلند کیږي ځکه چې اصل آزادي ده(**الاصل بقاؤ ماکان علی ماکان**) او بل دا چې اسلامي خاوره ده اصل دا دی چي دی به هم مسلمان وي([5]) او که چیري د یهودو او نصارا و په عبادت ځایونو کې او یا په داسي ځای کې چي هلته ذمیان اوسیږي نو د احنافو او مالکیانو په اند د دوی تابع دی او له ده سره به د کافر چلند کیږي([6]) حنابله او شوافع وایې که چیرته لقیط د اسلام په خاوره کې پیدا شو نو دی مسلمان دی او که چیري په داسي کفري خاوره کې پیدا شو چې هلته مسلمانان ژوند نه کوي لکه بندیان او تاجران نو دی د کفارو تابع دی او که چیرته په کفري خاوره کې مسلمانانو ژوند کولو نو بیا دا ماشوم د مسلمانانو تابع دی او د مسلمان چلند به ورسره کیږي ځکه چي غلبه د اسلام لپاره ده([7]) دلیل یې دا حدیث دی(الاسلام یعلو ولا یعلی علیه).([8])

**دریمه فرعه: د لقیط د نسب ثبوت**

اصل دا دی چې د لقیط نسب معلوم نه دی خو که چیرته یو انسان د ده د نسب دعوه وکړه نو دعوه یې صحیح بلل کیږي نو په هم دي اساس که جیرته ملتقط او یا کوم بل چا دعوه وکړه چې دا لقیط زما زوی دی نو دعوه به یې اوریدل کیږي ، ولو که بینه هم ونه لري.

---

[1]) ابن قدامه، **المغني**، ج 5، ص ـ 683. ابن الرشد ، **بداية المجتهد**، ج 2، ص ـ 305، الشربيني ، **مغني المهتاج**، ج 2 ، ص ـ 421.

[2]) ابن قدامه، **المغنى** ، ج 5، ص ـ 683. اين الرشد ، **بداية المجتهد**، ج 2، ص ـ 305،

[3]) الزحيلي، **فقه الاسلامي و ادلته**، ج 6، ص ـ 4854.

[4]) البانی، دا حدیث ډیر ضعیف دی، **صحيح و ضعيف الجامع الصغير**، شماره، 5036.

[5]) . وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية — الكويت ، **فقه الاسلامي و ادلته**، ج 6، ص ـ 4854.

[6]) الصنعاني ، **بدايع الصنايع** ، ج 6، ص ـ 198. ابن عابدين ، **الد ر المختار**، ج 3، ص ـ 326. **جواهر الاكليل** ، ج 2، ص ـ 220.

[7]) الشربينى، **مغنى المهتاج** ، ج 2، ص ـ 422. ابن قدامه ، **المغنى**، ج 5. ص ـ 681.

[8]) البانی، دا حدیث ډیر ضعیف دی، **صحيح و ضعيف الجامع الصغير**، شماره، 4544.

او قیاس خو د دي تقضا کوي چې د دغه کس دعوی باید وانه اوریدل شې مګر هغه وخت چې بینه پیش کړي ، د قیاس وجه یې دا ده چې نوموړی کس د یو داسي شي دعوی کوي چي د وجود او د عدم دواړو احتمال لري نو یو پر بل باندي د ترجیح نه ورکول کیږي مګر په ترجیح ورکوونکې دلیل سره او ترجیح ورکوونکی دلیل بینه دی ، او هغه شتون نه لري.

او استحسان د دي تقاضا کوي چې د ده دعوی دې واوریدل شې ، وجه دا ده چې دا دعوی یو داسي اقرار دي چې په هغې سره لقیط ته نفعه رسیږي ځکه که چیري د لقیط نسب معلوم شي نو دی به په هغه باندي ویاړ کوي او که چیرته د ده نسب معلوم نه وي نو دی به د همیش لپاره د خجالت او شرم سره مخامخ وي ، نو د داسې شي په اړه به د دعوی کوونکې څخه د بینه د پیشکولو مطالبه نه کیږ.

خو که چیرې د لقیط د نسب دعوی ذمي وکړه د ده دعوه به اوریدل کیږي او نسب به یې له ده څخه ثابتیږي خو دی به مسلمان وي او له ده سره به د مسلمان چلند کیږي ، ځکه د لقیط د نسب په اړه به هغه دعوه قبلیږي چې د لقیط په کې کټه وي نه په زیان ، او له دي څخه دا نه لازمیږي چې دی( دعوی کونکی ) د کافر وي نو دی(لقیط ) دې هم کافر شي ، لکه څرنګه چي د یو کافر سړي میرمن مسلمانه شي نو د هغې له اولاد سره به د مسلمان چلند کیږي او اولاد به یې مسلمان وي ځکه چې دا معلومه خبره ده چې (یلحق الولد خیر الابوین دیناً ) ([1]) او که چیرته د لقیط د نسب په اړه دوو نفرو ادعا وکړه چي دا زما زوی ده او بینه له یو سره هم شتون نه درلود او یو یې مسلمان او بل یې غیر مسلم و نو مسلمان وړاندې دی له کافر څخه ځکه چي لقیط ته کټور دی نو نسب به یې له مسلمان څخه ثابتیږي([2]) او که چیرته دواړه دعوه کوونکې آزاد مسلمانان و او له دوی څخه یې یوه د لقیط د بدن څه نښې نښاني وړاندې کړي نو د ماشوم نسب به د احنافو په نزد باندي له همده څخه ثابتیږي ځکه د علامې یادول په دي دلالت کوي چي دغه ماشوم له ده سره و نو همدي ته به ترجیح ورکول کیږي او دلیل یې دا قول د الله تعالی دی﴿ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ (26) وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ (27) فَلَمَّا رَأَى قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴾.([3])

ژباړه: یوسف علیه السلام وویل: دې(زلیخا ) زما د جلبولو هڅه وکړه ، او شاهدي ورکړه یوه شاهد د هغې (زلیخا )له ټبر څخه چې که چیرې وي قمیص د یوسف علیه السلام شلېدلی د مخ له لوري ، نو دې (زلیخا) رښتیا ویلي او دی(یوسف ) له دروغجنو څخه دی. او که وي قمیص د ده شلېدلی د شاه له لوري څخه نو دې(زلیخا )دروغ ویلي ، او دی(یوسف )له رښتیا ویونکوڅخه دی. نو هر کله یې چې ولید(د زلیخا مېړه) کمیس د ده شلېدلی د شاه له لوري څخه نو ویې ویل: یقیناً دا کار دی له مکرونو ستاسو(ښځو) څخه په رښتیا چې مکرونه ستاسو(ښځو) ډېر لوی دي.او که چیري له دوی دواړو څخه د لقیط علامې بیان نه کړي

[1])الزحیلي، الفقه الاسلامیه و ادلته ، ج 6، ص ـ 609.
[2]) الزحیلي، الفقه الاسلامیه و ادلته ، ج 6، ص ـ 609.
[3]) سورة: یوسف ، آیة ، 26-27-28.

او یا دواړو علامې بیان کړې او یا یی بینه پیش کړه نو حکم به کیږي چه نوموړی ماشوم د دواړو زوی ده ځکه چی هیڅ یو له بل څخه اولا او وړاندی نه ده او د عمر (رض) څخه هم په همدي ډول قضیه کی همداسي فیصله شوې ده او ویې ویل (انه ابنهما یرثهما و یرثه) او که چیرته له دوی دواړو څخه یوه بینه پیش کړه او بل نښانه نو د بینې خاوند د علامی له خاوند څخه وړاندې کڼل کیږي. ځکه چې بینه له علامې څخه راجح ده. ([1]) او شوافع وایې که چیرته د لقیط د نسب په اړه دوو کسانو دعوه وکړه او له دوی دواړو سره بینه شتون نه درلود نو لقیط به قایف ته وړاندې کیږي نو قایف چی په هرچا پسي پیوسته کړل د هغې زوی به کڼل کیږي ، ([2]) او که چیرې یوې ښځې دعوه وکړه چې د هغې زوی ده په داسي حال کې چې له دې سره یې میړه شتون نه درلود نو د دې دعوه به نه اوریدل کیږې ځکه د دې دعوه په اوریدو سره د لقیط نسب به په یو بل چا باندې حمل کیږي چې هغه د دې میړه ده نو دا کار روا ندی ، او که چیرې له دې سره یې میړه وو او هغه دا په خپله دعوه کې ریښتینې وبلله او یا د دې د دعوه د ریښتینوالی لپاره ګواهي ورکړه او یا دوو شاهدانو شاهدي ورکړه نو د نوموړي لقیط نسب به همدي ته ثابتیږي ، .([3])

[1]) الزحیلي ، **الفقه الاسلامیه و ادلته** ، ج 6 ، ص ـ 609.
[2]) الشربیني، **مغنی المحتاج** ، ج 2 ، ص ـ428. ابن قدامه ، **المغنی**، ج 5، ص ـ 769.
[3]) الزحیلي، **الفقه الاسلامیه و ادلته** ، ج 6، ص ـ 613.

## دریم فصل

## دصناعي تلقيح په پایله کی دماشوم دنسب ثبوت

## د صناعي تلقيح په پايله کې د ماشوم د نسب ثبوت

په دي فصل کي مي څلور مبحثونه په نظر کي نيولي ، چي په لومړي مبحث کي به د صناعي تلقيح تعريف ، ډولونه ، لاملونه ، او تاوانونه ، او په دوهم کي به د صناعي تلقيح بڼي او شکلونه ، او په دريم کي به د صناعي تلقيح د کاروني شرعي حکم ، او په څلورم کي به د صناعي تلقيح له لاري د زيږيدلي ماشوم د نسب ثبوت تر څيړني لاندي ونيسو.

### لومړی مبحث: د صناعي تلقېح تعريف، ډولونه، لاملونه، او تاوانونه

په دي مبحث کي مو دوه مطلبونه په نظر کي نيولي چي په لومړي مطلب کي به صناعي تلقيح تعريف او په دوهم مطلب کي به د صناعي تلقيح ډولونه ، لاملونه ، او تاوانونه وڅيړو.

### لومړی مطلب: د صناعي تلقېح لغوي او اصطلاحي تعريف

#### لومړۍ فرعه: د صناعي تلقېح لغوي تعريف

د صناعي تلقېح اصطلاح يوه نوې او علمي اصطلاح ده ، چې له دوو کلمو څخه جوړه شوې ده ، نو په کار ده چې دواړه کلمې د لغت له نظره تعريف او بيا يې اصطلاحي تعريف وړاندې کړو.

**لومړی د صنع تعريف:**

صنع عربي کلمه ده چې معنا يې جوړول دي ، لکه څنګه چې عرب وايي: ( صنعه يصنعه صنعا فهو مصنوع واستصنع الشيئ دعا الى صنعه والصناعة حرفة الصانع وعمله الصنع و اصطنع خاتما اى امر ان يصنع له ). ([1]) ژباړه:جوړ يې کړ جوړوی يې جوړول ، دي کوږدونکي دی ، ديوه شی د جوړولو غوښتنه يې وکړه ، کوږولو ته يې را وغوښت ، او صناعت د صانع حرفه(دنده) او کار دی او اصطنع خاتما يعنى امر يې وکړ چې ګوتي ورته جوړه کړی.

او دلته له صناعي څخه مراد د ماشوم هغه جوړښت او پيدا کېدل دي ، کوم چې د طبيعي جوړښت ( د جماع له لارې ) خلاف دي. ([2])

**دويم د تلقېح تعريف:**

د تلقېح د لغوي تعريف په اړه ابن فارس وايي: ( التلقېح هو مصدر لقَّح الرباعي بتضعيف القاف للمبالغه ، والتكثير ، والام ، والقاف ، والحاء اصل صحيح وهو يدل علي احبال ذكر لانثى ثم يقاس عليه مايشبه ). ([3])

ژباړه: تلقېح د لقَّح مصدر دی ، کوم چې د قاف توری يې د مبالغې او زياتوالي لپاره تضعيف (دوه برابره) شوی دی ، لام او قاف او حاء يې اصل (توري) دي ، او دا لفظ د نر لخوا د ښځې په حامله کولو باندې دلالت کوي ، او بيا په هر هغه څه باندې قياس کېږي چې له دغې(د نر لخوا د ښځې په حامله کولو)سره يو رنګوالی ولري.

---

[1]) ابن منظور ، **لسان العرب** ج ـ 8، ص -208،

[2]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -309.

[3]) ابن فارس ، **معجم مقاييس اللغه**، ج ـ 5، ص261.

**د ډاکټرانو په اند د تلقيح تعريف.**

ډاکټرانو د تلقيح داسې تعريف کړی دی:

(هو عبارت عن التقاء حيوان المنوية بالبييضة.)([1].)

ژباړه: تلقيح عبارت ده له يوځايوالي د اسپرم له بيضې(هګۍ) سره.

**دويمه فرعه: د صناعي تلقيح اصطلاحي تعريف**

صناعي تلقيح د يوې اصطلاح او لقب په اعتبار سره علماؤ داسې تعريف کړی دی: (هی کل طريق يتم بموجبها التلقيح بين الحيوان المنوي للرجل وبييضة المرأة من غير الطريق معهود).([2])

ژباړه: هره هغه طريقه چې د هغې په وسيله د نر د اسپرم او د ښځې د بيضې ترمنځ په غيرې پېژندل شوې ( پرته له جماع ) طريقې سره تلقيح را منځ ته شي صناعي تلقيح بلل کېږي. يعنې د حمل نيولو طبيعي طريقه خو دا ده ، چې مېړه او ښځه سره يو ځای شي ( کور والی وکړي ) او د دې په پايله کې حمل را منځ ته شي ، نو دا د حمل نيولو يوه طبيعي طريقه ده.

خو ځينې وخت يو شمېر ستونزې او مشکلات موجود وي ، چې د هغه له امله په طبيعي شکل د اسپرم او بيضې يوځای کېدل ناشونې وي ، چې هغو مشکلاتو ته به وروسته وضاحت ورکړای شي او کوم خلک چې له دغه مشکلاتو سره مخامخ وي ، هڅه کوي چې له نورو لارو څخه کار واخلي چی يوه لار يې صناعي تلقيح ده.

او ځينې علماء وايي چې صناعي تلقيح په دوه ډوله ده ، چې يوه يې داخلي تلقيح او بله يې خارجي تلقيح. که څه هم ځينې نورعلماء په دې باور دي ، چې صناعي تلقيح يواځې داخلي تلقيح ته ويل کېږي ، او خارجي تلقيح ته طفل الانبوب ويل کېږي ، نو په همدې اساس د صناعي تلقيح د تعريف لپاره دوه نظره شتون لري.

**لومړی نظر:**

د دې نظر خاوندان وايي ، چې کومه تلقيح له جماع څخه پرته په بلې هرې طريقې سره ترسره شوې وي هغې ته صناعي تلقيح ويل کېږي ، او صناعي تلقيح يې داسې تعريف کړې ده:

( هی عبارة عن: تکوُّن نطفة الامشاج نتيجة التقاء نطف الذکرية بنطف الانثوية عن غير طريق الجماع ).([3])

ژباړه: له جماع څخه پرته د نارينه ؤ د نطفو د ښځينه ؤ له نطفو سره د يو ځايوالي په پايله کې د نطفة الامشاج جوړېښت صناعي تلقيح ده. نو د دې نظر په اساس صناعي تلقيح په دوه ډوله ده:

**لومړی داخلي صناعي تلقيح:**

دکتور ياسر داخلي صناعي تلقيح داسې تعريف کړې ده: ( و هو استد خال ماء الرجل الی رحم المرأة ليکون تلقيح البييضة داخل رحم المرأة ). ([4])

---

[1]) تلقيح الصناعي واطفال الانابيب ، ص -181 دکتور مُحَمَّد علي البار منشور فی مجلة مجمع الفقهی الدولي.

[2]) زياد احمد سلامه ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ 53. او **الحمل ارثه احکامه وصوره المعاصرة بين الشريعة والقانون**، ص ـ 110.

[3]) ياسر عبدالحميد جاد الله النجار ، **تلقيح الصناعی من نظر فقه الاسلامية دراسة فقهية مقارنة**، ص -373. .

[4]) ياسر عبدالحميد جاد الله النجار ، **تلقيح الصناعی من نظر فقه الاسلامية دراسة فقهية مقارنة**، ص -373.

ژباړه: او دا د ښځې رحم ته د نارینه د اوبو د داخلولو هڅه ده ، تر څو د بیضې بار داره کېدل د ښځې د رحم په دننه کې ترسره شي.

**دویم خارجي صناعي تلقېح:**

خارجي صناعي تلقېح يې داسې تعریف کړی دی: (وهو تلقېح بیېضة المرأة بماء الرجل خارج الرحم فی اوان طبية مخبرية ). ژباړه: او دا له رحم څخه بهر په خاصو طبي لابراتواري لوښو کې ،

د نارینه په اوبو سره د ښځې د بیضې بارداره کول دي.

**دویم نظر:**

د دې نظر خاوندانو صناعي تلقېح یوازې په داخلي تلقېح باندې منحصره کړې ده ، کومه چې د لومړۍ نظریې خاوندانو ورته داخلي صناعي تلقېح ویله او دوی یې داسې تعریف کړی دی:

( هی ادخال سایل الرجل المنوي الی رحم المرئة بغیر اتصال الجنسیه). ژباړه: د جنسي اړیکې له نیولو څخه پرته د ښځې رحم ته د نرینه د منیو داخلول دي.

او کومه چې خارجي صناعي تلقېح ده ، هغه ته یې د طفل الانابیب نوم اېښودلی دی.([1])

**دویم مطلب: د صناعي تلقېح ډولونه، لاملونه، زیانونه**

صناعي تلقېح د انجاب له هغه نویو او علمي وسایلو څخه یوه وسیله ده ، چې د ضرورت او د ځانګړو اسبابو د پېښېدو په صورت کې به ورته رجوع کېږي ، او د طریقې له حیثه په دوه ډوله ده. چې د هر ډول د کارولو له پاره یې ځانګړي اسباب او مجبوریتونه دي ، چې مونږ به یې په لاندې دوو فرعو کې وڅېړو. په لومړۍ فرعه کې به د صناعي تلقېح ډولونه او هغه ته د خلکو اړتیاوې ، او په دویمه فرعه کې به د صناعي تلقېح شرعي حکم او له دې طریقې څخه د زېږېدلي ماشوم د نسب څرنګوالی وڅېړو.

**لومړۍ فرعه: د صناعي تلقېح ډولونه**

**لومړۍ برخه: داخلي صناعي تلقېح او د هغې لاملونه**

**لومړی: د داخلي صناعي تلقېح تعریف.**

صناعي تلقېح په دوه ډوله دی ، داخلي صناعي تلقېح او خارجي صناعي تلقېح ، چې ځینې علماؤ داخلي صناعي تلقېح تعریف داسې کړی دی:

( ادخال الحیوانات المنویة المأخوذة من الرجل بعد معالجته مخبریا الی داخل الجهاز التناسلی للمرأة بغیر جماع ). ([2])

---

[1]) اطفال الانابیب لشیخ عبدالله اللبسام بحث منشور بمجلدة مجمع الفقهی الدولي ج ـ 2 ص -154 او احمد مُحَمَّد کنعان ، **الموسوعه الطبیه الفقهیه** ، ص -380.

[2]) عیسی المعیزة ، **الحمل ارثه احکامه وصوره المعاصرة بین الشریعة والقانون**، ص -110.

ژباړه: له لابراتواري معالجې څخه وروسته د کوروالي څخه پرته له سړي څخه د را اخيستل شوی منی ( اسپرم ) د ښځې په تناسلي سيستم کې ځای پر ځای کول دي.

دا طريقه داسې ده چې د نارينه مني را اخلي او بيايې په يوه بسته شوي پلاستيکي يا شيشه يي ټيوب ( بوتل ) کې اچوي ، بيا يې د يوه خاص ماشين په وسيله چې په عربي کې ورته طردالمرکزي ويل کېږي ، نطفه له نورو منوي بهېدونکو څخه جلا کوي ، او بيا همغه نطفه را اخلي او د دې لپاره چې په نطفه کې بيداری او لوړ حرکت را منځ ته شي ، په ځانګړو تغذيه کونکو بهېدونکو موادو کې ځای پر ځای کوي ، تر څو په ډېر ښه شکل د يوې ځانګړې وسيلې په کارولو سره رحم ته ورسېږي ، **او** همدا شکل رحم هم د خاصو هرموني دواګانو د استعمال او پيچکارۍ کولو په وسيله ، دې ته چمتو شوی وي ، چې په بيضه کې د نطفې يا د اسپرم د داخلېدو لپاره ځای پيدا او تلقيح ترسره شي. ([1])

**دويم: د داخلي صناعي تلقيح د کارونې لاملونه.**

کله چې د سړي اوبه ( مني ) او د ښځې اوبه ( بيضه ) دواړه د انجاب لپاره چمتو وي مګر ستونزه به په دې کې وي ، چې د نارينه اوبه د ځينې مشکلاتو له امله د ښځې بيضې ته نشي رسېدای. او که چېرې ورسېږي ، بيا به نور ټول کارونه اسانه وي ، او د انجاب لپاره به هيڅ مشکل نه پيدا کېږي ، او تلقيح به په اسانۍ سره ترسره شي ، او دغه د نه رسېدلو لاملونه يې ډېر زيات دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

- **لومړی:** دا چې د نارينه اوبه د اخصاب لپاره په پوره توګه چمتو وي ، خو په دغه اوبو کې يو څه ټنبلي موجوده وي ، او نشي کولای چې د ښځې بيضې ته ځان ورسوي.
- **دويم:** لامل يې دا دی چې نارينه د زر خلاصېدو ( انزالېدو ) له امله چې له وخته مخکې خپلې اوبه ضايع کوي ، يا عنه چې د جنسي اړيکې له کمزورۍ څخه عبارت ده. ([2])

  او د دې تکليف درلودلو په وجه يې اوبه رحم ته نه دننه کېږي ، تر څو د ښځې بيضې ته ورسېږي او حمل صورت ونيسي. ([3])
- **درېيم:** لامل يې دا دی کله چې د مېړه او ميرمنې د جنسي حجرو د دفاعي سيستم تر منځ تضاد او ټکر شتون ولري.
- **څلورم:** دا چې کله مېړه په خطرناکو ناروغيو لکه: سرطان او داسې نورو باندې اخته شوی وي ، او د هغې د علاج لپاره يې له داسې دواګانو څخه کار اخستی وي ، چې د عقيم کېدلو لامل ګرځي.
- پنځم: دا کله چې رحم داسې شيان افرازوي ( شني ) کوم چې د منيو مناسب ځای ته د رسېدلو مخنيوی کوي.
- **شپږم:** دا چې چا د پروستات د ابستلو عمليات ترسره کړی وي ، نو په دې صورت کې مني د مثانې داخل ته تويېږي ، نو ډاکټران له ده څخه د جماع کولو وروسته غوښتنه کوي چې بولې وکړه ، تر

---

[1]) ماهر حامد الحولي ، **الاخصاب خارج الجسم مع استجار الرحم**، ص -4.

[2]) مُحَمَّد رواس قلعجی ، **معجم لغة الفقهاء** ، ج - 1 ، ص -323.

[3]) شفيقه شهاوي ، **تجميد البييضة بين الفقه والطب، بحث فقهى** ص - 16.

څو د ده مني له بولو سره را ووځي او له بولو ښځه يې جلا او په ځانګړي اجراءاتو سره په منيو کې نشاطت او بيداری پيدا کړي ، او بيا يې وروسته رحم ته داخل کړي.

- **اووم:** کله چې د سړي اوبه ( مني ) نشيطې ( بيداره ) نوي ، او د بارداره کولو ښځه عاجز وي.
- **اتم:** دا چې د سړي اوبه ( مني ) له حد څخه زياتې وي.
- **نهم:** دا چې ښځه د خاص اندام يا نفس تنګی د مرض له وجې د جماع کولو لپاره نوي چمتو.
- **لسم:** دا چې د نارينه په اندام کې داسې ستونزې وي چې نشي کولای جماع ترسره کړي. [1]

**دويمه برخه: خارجي صناعي تلقېح**

**لومړی: د خارجی صناعي تلقېح تعريف.**

علماؤ خارجي تلقېح داسې تعريف کړې ده: ( تلقېح نطفة الرجل ببيضة المرأة فی انبوب اختبار يعرف بطبق بتري ثم تزرع البيېضة المخصبة فی رحم المرئة صاحبة البيېضة او فی رحم امرئة اخرى.).[2]

ژباړه: د سړي اوبه ( مني ) د ښځې له بيضې سره په هغه لابراتواري ټيوب( بوتل ) کې ، کوم ته چی بتري طبق ويل کېږي تلقېح کول ، او بيا يې د بيضې د خاوندې او ياهم د کومې بلې ښځې په رحم کې ځای په ځای کولو ته تلقېح ويل کېږي. او دغو ماشومانو ته طفل الانابيب يا د ټيوبونو ماشومان هم ويل کېږي. دا ځکه چې د سړي د اوبو او د ښځې د اوبو تر منځ تلقېح د لابراتواري ټيوب په دننه کې تر سره شوی دی.

**دويم: د خارجي تلقېح ځينې لاملونه**

د دغې طريقې د کارولو لپاره ځينې لاملونه او مجبوريتونه دي چې مونږ به يې په لاندې ډول سره ياد کړو.

1) دا چې د ښځې رحم ته کوم پايپونه دننه شوي دي ، او د هغه له لارې اسپرم ځان رحم ته رسوي هغه بند شوي وي ، او اسپرم رحم ته نشي دننه کېدای ، او يا د جراحي عملياتو په پايله کې هغه له منځه تللې وي ، يا داسې يوه ستونزه ولري چې د علاج وړ نوي.
2) کله چې د سړي اوبه ( مني ) کم وي ، او يا د نومړو اوبو حرکت ضعيف او کمزوری وي او دا هغه وخت معلومېږي کله چې داخلي تلقېح تر سره شوې وي ، خو پايله يې منفي وي ، نو بيا به د خارجي تلقېح څخه کار اخيستل کېږي ، ځکه چې په خارجي تلقېح کې ډېرو کمو اوبو ( منيو ) ته اړتيا ده. [3]
3) د هغه عقيم والي په وخت کې ، کوم چې لامل اوعلاج يې نه معلومېږي.
4) دا چې کله د سړي مني هيڅ شتون ونلري ، نو د بل سړي له اوبو ( منيو ) څخه کار اخيستل کېږي او تلقېح صورت نيسي.

---

[1] اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية ،** ص -398.

[2] تکر الحاج موسى ، **القضايا المعاصرة المتعلقة بحفظ النسل دراسة مقاصدية** .ص ـ 262.

[3] ياسر عبدالحميد جاد الله النجار ، **التلقېح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسة فقهية معاصرة ،** ص -380.

5) کله چې جنونه په ځینې میراثي ناروغیو اخته وي ، او دغه ناروغي یې په لومړي یادونو کې هم لیدل کېږي ، نو د تشخیص او د دې لپاره لومړی ناروغ جنونه له روغو څخه جلا او تلقېح صورت ونیسي ، او وروسته د ودې لپاره رحم ته دننه کېږي. ([1])
6) د رحم لخوا هغه افرازات ( شیندل ) چې د اسپرمونو د وژلو او هلاکت لامل ګرځي.

**دویمه فرعه: د صناعي تلقېح د ترسره کولو تاوانونه او خطرونه**

دغه ډول تلقېح له خپل ځان سره یو سلسله زیانونه او خطرونه لري ، چې د ترسره کولو څخه یې مخکې باید په دغه خطرونو باندې خپل ځان وپوهوو ، او دغه زیانونه هم صحي ، هم ټولنیز

او هم دیني دي ، چې له دغه خطرونو څخه به ځینو ته په لاندې ډول اشاره وکړو.

**لومړی:**

د نړۍ په کچه چې نن سبا کومه صناعي تلقېح په کوم شکل ترسره کېږي ، ځینې ستونزې ترېنه محسوس شوي او محسوسېږي ، د بېلګې په ډول داسې کېدلای شي چې د کوم سړي په اوبو سره تلقېح ترسره شي هغه په یو سلسله تناسلي او خطرناکو ناروغیو اخته وي ، چې له دې لارې څخه دغه ناروغي ښځې ته هم لېږدول کېږي ، لکه چې په استرالیا کې د 1965 کال د 7 میاشتې په 26 تاریخ یوه روغتون دا اعتراف کړی ، چې څلورو ښځینه ؤ د صناعي تلقېح له لارې خپل ځانونه بارداره کړي ؤ او په پایله کې د ایډز په ناوړه ناروغۍ اخته شوې دي. ([2])

**دویم:**

په غربي نړۍ کې د نارینه ؤ د اوبو د ساتلو او خرڅولو لپاره ځانګړي بانګونه شتون لري ، امکان لري چې د یوه سړي له اوبو څخه سل (100) ښځې هم بارداره کړلی شي ، نو دا د انساني فطرت او کرامت سره هېڅ تړاو نلري ، نو په غرب کې ښځو د ځان لپاره د غواګانو حیثیت او موقف غوره کړی دی ، چې د غوا ګانو په شان له یوه غوایه څخه ډېرې غواوې بلاربېږي. ([3])

**درېیم:**

له دغې لارې څخه د زېږېدلي ماشوم او د هغه د خپلوانو ترمنځ د نسب لړۍ ترشک لاندې راځي ، او عزت او حیثیت ته یې زیان رسیږي. نسب ته یې له څو لارو تاوان رسېږي:

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -398 .
[2]) یاسر عبدالحمید جاد الله النجار ، **التلقیح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهیه معاصرة**، ص ـ 381.
[3]) یاسر عبدالحمید جاد الله النجار ، **التلقیح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهیه معاصره** ص ـ 380.

1. د دې احتمال شتون لري چې د تلقيح د کاروني مسلکي کسان له دې تېروتنې سره مخ شي ، چې د يوه سړي د اوبو توپير له بل سړي سره ونشي کړای ، او د يوه سړي په ځای د بل سړي اوبه وکاروي ، او يا همدا تېروتنه د بيضې په کارولو کې تکرار شي.
2. دا چې په قصدي توګه د فني اشخاصو له لوري دا کار تر سره کړای شي ، او دا په هغه صورت کې چې د سړي اوبه د بارداروالو وړتيا ونلري ، نو دوی به د خپلو مادي ګټو په خاطر نوموړي سړي ته دا ووايي: چې ستا اوبه ( مني ) د بارداروالو وړتيا لري.
3. که چېرې پورتنې دوه موارد تکرار هم نشي ، بياهم د دې ماشوم په نسب کې ځينې شکي او مغرض کسان خبرې کوي ، چې دا هم د ماشوم او هم يې د مور او پلار لپاره د رنځ لامل ګرځي.
4. په صناعي تلقيح کې د دې زيات احتمال شته چې زېږېدونکي ماشوم دې له يو لړ ستونزو اونيمګړتياؤ سره مخ وي ، دا ځکه چې کله منوي ژوي(حيوانات) د جماع له لارې ځان رحم او بيا بيضې ته رسوي ، دا به هغه منوي ژوي(حيوانات) وي چې زيات پياوړي وي ، او هغه چې ضعيف او کمزوري وي ، هغه د رسېدو په درشل کې لږ ترلږه 20٪ شل سلنه مري او خپل ژوند له لاسه ورکوي ، او په صناعي تلقيح کې ډېر امکان د دې موجود دی ، چې هغه ضعيف منوي ژوي(حيوانات) هم په ډېره اسانۍ سره بيضې ته دننه شي ، او د هغه په پايله کې تلقيح صورت ومومي چې په پايله کې به يې يو کمزوری او يا معيوب انسان منځ ته راشي.([1])
5. د صناعي تلقيح له لارې غالباً غبرګوني ماشومان منځ ته راځي تر دې چې امکان لري درې يا څلور ماشومان منځ ته راشي ، د دې وجه دا ده چې هر کله ډاکتر د مور له رحم څخه بيضه را اخلي او د صناعي تلقيح له لارې يې بلاربوي ، نو د يوې بيضې د بارداروالو په ځای درې يا څلور بيضې بلاربوي ځکه چې له يوې بيضې څخه د حمل د اخيستلو امکان ډېر کم دی. نو ډاکتر د خپل ډاډينې په خاطر درې يا څلور بلاربې شوې بيضې رحم ته اچوي چې پدې صورت کې ډېر امکان موجود دی ، چې څلور سره بيضې حمل ونيسي نو دا به د مور لپاره د حمل ، ولادت ، شېدې ورکولو ، او روزنې په برخه کې ګنې ستونزې وي. او هم به ماشوم له يو لړ ستونزو سره لاس او ګريوان وي. او داسې نورې طبيعي ، اخلاقي ، ټولنيزې او اقتصادي ستونزې او مشکلات لري.([2])

### دويم مبحث: د صناعي تلقيح بڼې، لاملونه، او حکمونه

په مخکېني مبحث کې دا خبره څرګنده شوه ، چې صناعي تلقيح په دوه ډوله ده چې يو ډول يې داخلي او بل ډول يې خارجي تلقيح ده ، چې هره يوه يې ځانګړې بڼې او شکلونه لري چې د هرې يوې بڼه او شکل او همدا راز د هرې يوې شرعي حکم له بلې سره توپير لري. نو مونږ به په دې مبحث کې دوه مطللبونه په

[1]) ياسر عبدالحميد جاد الله النجار ، **التلقيح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهيه معاصره** ص ـ 382.
[2]) ياسر عبدالحميد جاد الله النجار ، **التلقيح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهيه معاصره** ص ـ 385.

نظر کې ونیسو ، په لومړي مطلب کې به د داخلي تلقیح ( پیوند ) بڼې او حکمونه او په دویم مطلب کې به د خارجي تلقیح بڼې او حکمونه وڅېړو.

### لومړی مطلب: د دا خلي صناعي تلقیح بڼې لاملونه او حکمونه

پدې مطلب کې مو دوې فرعې په نظر کې نیولې دي ، چې په لومړۍ فرعه کې به د داخلي تلقیح بڼه او په دویمه کې به د داخلي تلقیح حکمونه وڅېړل شي.

### لومړۍ فرعه: د داخلي صناعي تلقیح بڼې(شکلونه)

داخلي تلقیح ( پیوند ) په لاندې بڼو سره ترسره کېږي چې ځینې یې د ټولو علماؤ په اتفاق سره حرامې دي ، او د ځینو نورو په حرمت کې یې د علماؤ اختلاف دی. نو مونږ به لومړی هغه بڼې ذکر کړو چې د کومو به حرمت کې د علماؤ اتفاق دی ، او وروسته به یې هغه بڼې ذکر کړو په کومو کې چې د علماؤ اختلاف موجود دی.

#### لومړۍ برخه: د داخلي صناعي تلقیح اتفاقي حرامې بڼې(شکلونه) او لاملونه

**لومړۍ بڼه (شکل):**

دا چې اوبه ( اسپرم ) د مېړه وي ، او دغه اوبه د یوې پردۍ ښځې په رحم کې واچول شي.

**دویمه بڼه (شکل):**

دا چې د یوه پردي(بېګانه) سړي اوبه (مني) د یوې پردۍ(بېګانه) ښځې په رحم کې ځای پر ځای شي.([1])

**د دې بڼې د کارونې ځینې لاملونه په لاندې ډول دي:**

1. کله چې مېړه عقیم وي (اوبه ونلري) او ښځه سالمه وي.
2. کله چې د مېړه د جنسي اړیکو ځواک سالم خو اوبه یې اسپرم ونلري.
3. کله چې د مېړه په اوبو کې اسپرمونه ضعیف او غیرې نورماله وي او یا داسې عیبونه پکې شتون ولري ، چې د هغه په موجودیت کې د راتلونکي ماشوم جوړښت غیرې نورمال وي.
4. کله چې ښځه نکاح نوي او یا له همجنس بازانو څخه وي.
5. د استبضاع په حالت کې(او هغه دېته وایي: چې یوه ښځه یا یې مېړه دا وغواړي چې د یوه ځانګړي سړي څخه چې هغه د ښکلو صفتونو خاوند دی)حمل واخلي.([2])

---

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -399 .
[2]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -400.

6. کله چې د ښځې مېړه مړ شي او دا غواړي چې وروسته د مېړه له مرګه او د عدت له تېردو څخه مخکې خپل ځان القاح کړي.

**درېیمه بڼه(شکل):**

دا چې د سړي اسپرم د ده د خپلې میرمنې په رحم کې پیچکاري شي ، خو دغه رحم ته اچول د سړي له مرګه او د ښځې د عدت له تېرېدلو نه وروسته ترسره شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

دغه طریقه هغه وخت کارول کېږي ، چې کله د یوې ښځې مېړه مړ شي او له هغه مېړه څخه یې هیڅ اولاد نه وي پیدا شوی ، نو دا ډول تلقېح د لاندې موخو لپاره کارول کېږي:

1. کله چې ښځه غواړي د مېړه نوم او نښان یې هېر نشي ، او د هغه یاد ورباندې تازه وي.
2. دا چې ښځه غواړي له خپل خاوند سره وفاداري وښیي.
3. کله چې یې له مېړه څخه زیات مال او شتمني پاتې شوې وي ، او دا غواړي چې له دې لارې د مېړه مال خوندي کړي.([1])

**څلورمه بڼه (شکل):**

هغه دا چې د مېړه اوبه را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې په رحم کې له بیضې سره تلقېح کړای شي ، او بیا را واخیستل شي او د مېړه د میرمنې د رحم په مناسب ځای کې ځای پر ځای کړای شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

دا چې ښځه د مبیضو د ناروغۍ له امله عقیمه وي ، او بیضې نشي جوړولای ، خو رحم یې سالم وي او مېړه یې هم جوړ وي.

**پنځمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه را واخستلای شي او د میرمنې له اوبو سره یې تلقېح کړای شي او د یوې پردۍ ښځې په رحم کې واچول شي ، او کله چې ماشوم و زېږوي نو د اوبو خاوند ته یې حواله کړي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

1. د سړي میرمن د ماشوم په حمل اخیستلو قادره نوي.

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص - 400 .

2. دا چې دا په حمل اخیستلو قادره وي ، خو علاقه نلري چې حمل دې واخلې ، ځکه چې د حمل او د زېږېدنې ستونزو ته زړه نه ښه کوي.

**شپږمه بڼه (شکل):**

دا چې د یوه پردي سړي اوبه را واخیستلای شي ، او د پردۍ ښځې په رحم کې پیچکاري کړای شي او کله چې بیضه له اسپرم سره تلقېح شوه ، بېرته را واخیستل شي او د نطفې د خاوند د میرمنې په رحم کې واچول شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

دا چې د ښځې رحم سالم وي ، خو د سړي او د میرمنې دواړو اوبه ستونزې ولري ، او د تلقېح او پیوند کولو وړتیا ونلري.

**اوومه بڼه (شکل):**

دا چې د سړي اوبه د هغه د ښځې په رحم کې تلقېح کړای شي ، بیا دغه تلقېح شوې بیضه د هغې له رحم حخه بهر کړای شي ، او د بلې پردۍ ښځې په رحم کې واچول شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

چې کله د سړي اوبه او د ښځې اوبه سالمې وي ، خو د ښځې په رحم کې ستونزه شتون ولري.

**دویمه برخه: د داخلي صناعي تلقېح اختلافي حرامې بڼې (شکلونه) او لاملونه**

**لومړۍ بڼه (شکل):**

دا چې اوبه (مني) د مېړه وي ، او بیضه د ده د میرمنې وي او له بیضې سره د اسپرم القاح د مېړه په ژوند کې ترسره شوې وي ، او د همدغې میرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

د دغې طریقې د کارولو لپاره ځینې لاملونه او مجبوریتونه دي ، چې مونږ به یې په لاندې ډول سره یاد کړو.

1) دا چې د ښځې رحم ته چې کوم پایپونه غزېدلي دي ، او د هغې له لارې اسپرم ځان رحم ته رسوي ، هغه بند شوی وي ، او اسپرم رحم ته نشي دننه کېدای. او یا د جراحي عملیاتو په پایله کې هغه له منځه تللی وي ، یا داسې یوه ستونزه ولري ، چې د علاج وړ نوي.
2) کله چې د سړي اوبه (مني) کمې وي او یا د نومړو اوبو حرکت ضعیف (کمزوری) وي ، او دا هغه وخت معلومېږي چې داخلي تلقیح ترسره شوې وي ، خو پایله یې منفي وي نو بیا به له خارجي تلقیح څخه کار اخیستل کېږي ، ځکه چې په خارجي تلقیح کې ډېرو کمو اوبو (منیو) ته اړتیا ده.([1])
3) د هغه عقیم توب په وخت کې کوم چې ، د هغه لامل اوعلاج نه معلومېږي.
4) کله چې د سړي مني هیڅ شتون ونلري ، نو د بل سړي له اوبو (منیو) څخه کار اخیستل کېږي او تلقیح صورت نیسي.
5) کله چې جنونه په ځینې وراثي ناروغیو اخته وي ، او دغه ناروغي یې په لومړي یادونو کې هم لیدل کېږي ، نو د تشخیص او د دې لپاره چې ناروغ جنونه له روغو څخه جلا او له روغو جنونو څخه تلقیح صورت ونیسي او وروسته بیا د جوړښت او ودې لپاره رحم ته دننه کړای شي. ([2])
6) د رحم لخوا هغه افرازات (شیندل) چې د اسپرمونو د وژلو او هلاکت لامل ګرځي.
7) کله چې د مهبل د حجرو او د سړي د اوبو تر منځ په دفاعي سیستم کې تضاد او ټکر شتون ولري.([3])
8) کله چې د سړي په تناسلي اندام کې د جوړښت له لحاظه ځینې ستونزې موجودې وي. ([4])

**دویمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه را واخیستلای شي ، او په خاصو وسایلو سره یو له بله څخه جلا کړای شي ، او هغه مطلوب اسپرمونه د میرمنې رحم ته دننه کړای شي.

**د دغه بڼې د کارونې لاملونه:**

دا بڼه هغه وخت کارول کېږي چې کله مېړه او میرمن وغواړي ، چې په مشخصه توګه زوی او یا لور وزېږوي.

**دریيمه بڼه (شکل):**

دا چې اوبه (مني) د مېړه او بیضه د ده د میرمنې وي او القاح د اسپرم له بیضې سره د مېړه په ژوند کې ترسره شوی وي ، او د مېړه د بلې میرمنې په رحم کې ځای پر ځای شي

**څلورمه بڼه (شکل):**

[1]) یاسر عبدالحمید جاد الله النجار ، **التلقیح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهیه معاصره**، ص380.
[2]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -398.
[3]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -399 .
[4]) ا اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -399 .

دا چې اوبه (مني) د مېږه او بيضه د ده د ميرمنې وي او القاح د اسپرم له بيضې سره د سړي له مرګه وروسته صورت موندلی وي ، خو عدت يې نوي تېر شوی او د همدغې ميرمنې په رحم کې ځای پر ځای شي .

### دويم مطلب: خارجي صناعي تلقيح

کله داسې هم پېښېږي ، چې د داخلي صناعي تلقيح په کارونې سره هم پايلې منفي وي ، نو بيا ډاکټران د خارجي صناعي تلقيح له کارونې څخه ګټه اخلي ، او په خارجي صناعي تلقيح کې د بيضې له اسپرم سره پيوند کول د ښځې د تناسلي سيستم څخه بيرون ترسره کېږي ، چې د دغې تلقيح له لارې زېږېدونکو ماشومانو ته اطفال الانابيب هم ويل کېږي ، او دغه عمليه په لاندېنيو کړنو سره ترسره کېږي:

### لومړی فرعه: د خارجي صناعي تلقيح د ترسره کولو طريقې

د دغې تلقيح د ترسره کولو لپاره لاندې مرحلې په کار اچول کېږي:

**لومړی پړاو:**

دغه پړاو له اوو ورځو څخه تر لسو ورځو پورې وخت نيسي چې دغه پړاو د حيض په دويمه يا درېيمه ورځ پيل کېږي ، چې په دې پړاو کې د ښځې د هګۍ جوړولو ځای چې په عربی کې ورته مبيض ويل کېږي د خاصو دواګانو په کارولو سره هڅول کېږي ، تر څو د هګيو په اماده کولو وتوانېږي او هم مهاله به د دې هګيو او د هغو هرمونونو چې د هګۍ په آماده کولو کې ونډه لري ، د وينې د لابراتواري معايناتو د ترسره کولو له لارې مراقبت او څارنه کېږي.([1])

**دويم پړاو:**

د بېهوښۍ له لارې د يوې اوږدې ستنې په کارولو سره د يوې لنډې جراحي عمليې په پايله کې د ښځې له مبيض څخه د يو شمېر بيضو را اېستل ، او بيا يې د خاصو هرموني دواګانو په کارولو سره هڅول.([2])

او کله چې دغه بيضې (هګۍ ) له مبيض څخه را وايستل شي له نورو بهېدونکو شيانو څخه جلا کېږي ، او په يوه خاص طبي لوښي کې چې د مبيض (هګۍ جوړولو ځای) سره ورته والی لري ځای پر ځای کېږي.([3])

**درېيم پړاو:**

---

[1]) الاخصاب خارج الجسم ، HTTPS://FAKIHIV.COM 10:55AM/23/2/2019

[2]) HTTPS://FAKIHIV.COM 10:55AM/23/2/2019 الاخصاب خارج الجسم.

[3]) ياسر عبدالحميد جاد الله النجار **التلقيح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهيه معاصره** ص ـ 380.

د نارینه اوبه (مني) را اخیستل کېږي ، او په لابراتواري وسایلو سره اسپرم له نورو بهېدونکو څخه پاکېږي او په خاصو طبي لوښو کې له تغذیه کونکو موادو سره ځای پر ځای کېږي ، تر څو د

اخصاب یا بارداره کولو وړتیا پکې پیدا شي.([1])

**څلورم پړاو:** وروسته له دې چې بیضه او اسپرم بېل بېل په ځانګړي هرموني او تغذیه کونکو موادو سره وهڅول شي ، او د اخصاب لپاره آماده کړای شي ، په یوه لابراتواري لوښي کې دواړه سره ځای پر ځای کېږي ، تر څو تلقیح صورت ومومي. ([2])

نو که چېرته دوی ونشو کړای ، چې په خپله تلقیح ترسره کړي ، نو بیا د یوې خاصې باریکې او نرۍ ستنې په وسیله اسپرم د بیضې دننه ته پیچکاري کېږي ، او د دې په پایله کې بارداره شوې بیضه (هګۍ) ترلاسه کېږي ، او رحم ته دننه کېږي.([3])

**پنځم پړاو:**

په دې پړاو کې د اخصاب شوې بیضې یا جنین د جنس د څرنګوالي په موخه لابراتواري معاینات ترسره کېږي ، چې آیا دغه جنین نرینه دی او که ښځینه ؟ او آیا د دغه جنین د حجرو کروموسومونه سالم دي او که ځینې نیمګړتیاوې لري ؟ آیا ځینې میراثي مرضونه پکې شتون لري او کنه ؟ او د دې لپاره له جنین څخه یوه خاصه برخه را اخیستل کېږي او تر څېړنې لاندې نیول کېږي ، او دغه عملیه د بیضې له بارداره کولو نه وروسته له درې و نه تر پنځو ورځو پورې تر سره کېږي.

**شپږم پړاو:**

هر کله چې پورته کارونه ټول ترسره شي ، بیا دغه بارداره شوې بیضه (هګۍ) را اخیستل کېږي ، او وروسته له دې چې د ښځې رحم د ځینې دواګانو په کارولو سره د بیضې قبلولو ته چمتو شوې وي ، نو د 48 ساعتونو څخه نیولې تر 96 ساعتونو په موده کې ، د ښځې په رحم کې کرل کېږي. او دا کار په ډېرې اسانۍ سره سرته رسېږي ، آن تر دې چې د ښځې بیهوشه کولو ته هم پکې اړتیا او ضرورت نشته ، او وروسته د نوموړې ښځې هرمونونه د وینې د لابراتوار په وسیله تر څارنې لاندې نیول کېږي ، چې آیا د حمل د پیدا کېدلو او جوړېدلو لپاره برابر دي او کنه ؟.([4])

**دویمه فرعه: د خارجي صناعي تلقیح بنې (شکلونه) لومړی لاملونه**

---

[1]) یاسر عبدالحمید جاد الله النجار **التلقیح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهیه معاصره** ص ـ 380 .

[2]) یاسر عبدالحمید جاد الله النجار **التلقیح الصناعي من منظورالفقه الاسلامي دراسه فقهیه معاصره** ص ـ 380.

[3])الاخصاب خارج الجسمHTTPS://FAKIHIV.COM 10:55AM/23/2/2019 ).

[4]) الاخصاب خارج الجسم ، HTTPS://FAKIHIV.COM 10:55AM/23/2/2019 ) .

**لومړۍ بنه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم )راواخیستل شي او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او د مېړه د میرمنې په رحم کې ځای په ځای شي.([1] )

**د دې بڼې د کارولو لاملونه:**

**دغه بڼه په لاندې حالاتو کې کارول کېږي:**

کله چې مېرمن د هغه تونلونو د بندښت له وجې کوم چې له مبیضو ( هګۍ جوړوونکو ) څخه رحم ته غزېدلي دي عقیمه ( شنډه ) وي ، او د جراحي عملیې له لارې یې علاج ناشونی وي. ([2]).

1. دا چې د مېړه اوبه ( اسپرمونه ) رحم ته د ننوتلو په پړاوکې مړه کېږي ، او له منځه ځي.([3]).
2. کله چې مېړه او میرمن په خپله غوښتنه ټاکلی ماشوم (هلک یا نجلۍ) وزېږوي([4]).

**دویمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او د مېړه د میرمنې په رحم کې ځای پر ځای شي ، خو تلقېح ( پیوند) د مېړه له مرګه وروسته ترسره شي.

**د دې بڼې د کارولو لاملونه:**

دغه طریقه هغه وخت کارول کېږي ، کله چی د یوې ښځې مېړه مړ شي او له هغه مېړه څخه یې هیڅ لومړی اولاد نه وي پیدا شوی ، نو دا ډول تلقېح د لاندې موخو لپاره کارول کېږي:

1. کله چې ښځه غواړي چې د مېړه نوم او نښان هېر نشي او هغه ورباندې یاد شي.
2. دا چې میرمن غواړي د خپل خاوند سره وفاداري وښیي.

---

[1]) بکر ابوزید، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء** ، ج ـ1 ص ـ265. او زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -88ـ89.

[2]) بکر ابوزید ، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء** ، ج ـ 1 ص - 265. و زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -89.

[3]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص ـ410 .

[4]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص ـ410 .

3. کله چې يې له مېړه څخه زياد مال او شتمني پاتې وي ، او دا غواړي چې له دې لارې د مېړه مال خوندي کړي.([1]).

**دريمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخيستل شي ، او د ده د ميرمنې له بيضې سره په لابراتواري ټيوب کې تلقېح ( پيوند ) کړای شي ، او د ده د دويمې ميرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**د دې بڼې د کارولو لاملونه:**

دا بڼه په لاندې حالاتو کې کارول کېږي:

1. چې د ميرمنې بيضه او د مېړه اسپرم سالم وي ، خو د ميرمنې په رحم کې ستونزه وي او نه شي کولای چې ماشوم حمل کړي.([2].)
2. دا چې مېرمن نه غواړي چې د حمل ستونزه وګالي. ([3]).

**څلورمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخيستل شي ، او د ده د ميرمنې له بيضې سره په لابراتواري ټيوب کې تلقېح ( پيوند ) کړای شي ، او د پردۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه هم د درېيمې بڼې په څېر په لاندې حالاتو کې کارول کېږي:

1. چې د ميرمنې بيضه او د مېړه اسپرم سالم وي ، خو د ميرمنې په رحم کې ستونزه وي ، او نه شي کولای چې ماشوم حمل کړي.

2. دا چې مېرمن نه غواړي چې د حمل ستونزه وګالي ([4]).

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص -410ـ 411.
[2]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص -105 .
[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص -411.
[4]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص -412.

**پنځمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د نوموړي سړي د میرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې د میرمنې مبیض له بېخه اېستل شوی وي ، یا یې په کلي ډول کار پرېښی وي ، او رحم یې سالم او د مېړه اوبه یې هم سالمې وي.([1]).

**شپږمه بڼه (شکل):**

دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته نوموړې بیضه د همدې ښځې یا د بلې ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې میرمن د مبیضو د ناروغۍ له امله عقیمه ( شنډه ) وي ، او رحم یې د حمل قبلولو ځواک ونه لري ، او مېړه یې بالکل سالم وي.([2]).

**اوومه بڼه (شکل):**

دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري

ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د مېړه د میرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې مېرمن د مبیض د کار پرېښودو له امله شنډه ، لیکن رحم یې سالم وي او مېړه یې هم عقیم (شنډ ) وي. ([3])

---

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة**، ص -412 .

[2]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -99.

[3]) بکر بن عبدالله ابوزید ، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء** ، ج ـ 1 ، ص -266.

**اتمه بڼه (شکل):**

دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د مېړه د میرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د لومړي مېړه د میرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې د ښځې مبیض سالم وي ، لیکن د هغه تونلونو د بندښت له امله کوم چې له مبیضو څخه رحم ته غزېدلي عقیمه ( شنډه ) وي ، او مېړه یې هم عقیم ( شنډ ) وي.([1])

**نهمه بڼه (شکل):**

دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي او د میرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته دغه تلقېح شوې بیضه د پردۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې د میرمنې مبیض سالم لیکن رحم یې د جراحي عملیې له لارې اېستل شوی وي ، او مېړه یې هم عقیم وي.([2]).

**لسمه بڼه (شکل):**

دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د بلې پردۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې مېړه او ښځه دواړه عقیم وي ، او همدا راز د ښځې رحم د حمل اخیستلو لپاره چمتو نه وي.([3]).

**یوولسمه بڼه (شکل):**

دا چې د ښځې بیضه را واخیسل شي ، او بیا هسته ترېنه را واېستل شي ، او نوموړې هسته د پردۍ ښځې په بیضه کې ، وروسته له دې چې له هغې څخه هم هسته اېستل شوې وي پیچکاري کړای شي ، او د لومړۍ

---

[1]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -86.

[2]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -414.

[3]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -100.

میرمنې د مېړه له اوبو ( سپرم ) سره تلقېح کړای شي ، او بیا د لومړۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړل شي.

دا بڼه په لاندې حالت کې کارول کېږي:

دا چې د ښځې د بیضې په سایتوپلازم کې ځینې ستونزې شتون ولري ، لکه د بیضې ژر زړېدنه ، او یا د میرمنې عمر ډېر وي ، او یا داسې نورې ستونزې ، چې د هغې له وجې نه شي کولای حمل واخلي.([1]).

### درېیم مبحث: د صناعی تلقېح د کاروني شرعِي حکم

مخکېني مطلب ته په کتو سره مونږ ته دا څرګندېږي ، چې صناعي تلقېح بېلابېل ډولونه او بڼې لري ، چې ځینې یې داسې ډولونه دي چې د هغې د حرمت په اړه د ټولو علماؤ اتفاق دی. او ځینې نوریې داسې ډولونه دي چې د هغې د حرمت په اړه د علماؤ ترمنځ  اختلاف شتون لري. مونږ به لومړی د هغو بڼو حکم بیان کړو چې د علماؤ په اتفاق سره حرامې دي ، او وروسته به د اختلافي بڼو حکم بیان کړو.

### لومړی مطلب: د صناعي تلقېح اتفاقي حرامې بڼې

د صناعي تلقېح ځینې بڼې د علماؤ په اتفاق سره حرامې دي ، چې هم په داخلي او هم په خارجي صناعي تلقېح کې شتون لري. مونږ به یې حکم په لاندې ډول بیان کړو:

1. دا چې په صناعي تلقېح کې د زوجینو څخه پرته بل لوری راګډ شي. توپیر نه لري که

درېیم لوری د اسپرم ، هګۍ ، او رحم خاوند وي.

2. دا چې د مېړه د اسپرم د مېرمنې له بیضې سره هغه وخت القاح صورت نیولی وي ، چې د

مېرمنې عدت له نوموړي مېړه څخه پوره شوی وي.

نو ویلای شو ، چې د اسلامي امت په سطحه داسې څوک تر اوسه پورې نه لیدل کېږي ، چې پورته ذکر شوو بڼو ته دې د جواز حکم ورکړي. په دې اړه د نړۍ د بېلابېلو دولتونو علماؤ د حرمت فتواګانې صادرې کړې دي. له دې ډلې څخه د کویټ دولت د افتاء لجنې د دې د حرمت حکم صادر کړی دی.([2])

له دې دارالافتاء څخه داسې پوښتنه شوې وه ، چې د صناعي تلقېح د لاندېنیو صورتونو شرعي حکم څه دی ؟

---

[1]) اسماعیل مرحبا ،  **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ،      ص ـ 414.

[2]) مجمع الفتاوی الشرعیه الصادرة عن قطاع الافتاء والبحوث الشرعیه  ج  ـ  2 ، ص -311ـ313.

**لومړی:** دا چې د سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او د سړي د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای شي.

**دویم:** دا چې د سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او د ده د دویمې مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**دریم:** دا چې د سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي او د پردۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**څلورم:** دا چې د سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د نوموړي سړي د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**پنځم:** دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د بل سړي د مېرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د نوموړې ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**شپږم:** دا چې د مړه اوبه ( اسپرم ) راواخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د بل سړي د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**اووم:** دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د بل سړي د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**اتم:** دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) راواخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او وروسته د مېرمنې په رحم کې ځای په ځای کړای شي.

**نهم:** په هغه حالت کې چې د مړه اوبه ( مني ) د منیو په بانک کې ساتل شوې وي ، آیا د دغو منیو څخه د مړه د مرګ او سفر څخه وروسته د صناعي تلقېح د کارونې لپاره ګټه اخیستنه روا ده کنه ؟

د دغه پورته ذکرشوو پوښتنو په اړه نوموړي دارالافتاء دا حکم کړی دی:

لومړی حالت شرعاً جائز دی ، او کوم چې دویم ، دریم ، څلورم ، پنځم ، شپږم ، اووم او اتم حالات دي ، شرعاً ناروا دي. او کوم چې نهم حالت دی که چېرته د مړه اوبه ( سپرم ) د مېرمنې له بیضې سره په داسې حال کې چې د دوی دواړو تر منځ د واده اړیکه شتون ولري ، اګر که مړه مسافر هم وي روا ده. که د مړه د مرګ څخه وروسته وي ، نو بیا ناروا ده. ځکه چې د دوی دواړو تر منځ د واده اړیکه له منځه تللې ده. (1)

1) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص ـ 418.

همدا رنګه د اسلامي فقهي مجمع د خپلې غونډې په درېیم دور کې ، کومه چې د اردن په پلازمېنه همان کې په 1407 د صفرې میاشتې د (8ـ 13) / 1986 اکتوبر (11 ـ 16) څخه دایره شوې وه ، داسې پرېکړه کړې: په اوسنیو شپو ورځو کې د صناعي تلقېح معلومې او پېژندل شوې لارې اووه دي.

**لومړۍ:** دا چې د مېړه اوبه( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د پردۍ ښځې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند) کړای شي ، او د نوموړي مېړه د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای شي.

**دویم:** دا چې د پردي سړي اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د مېرمنې له بیضې سره په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او د همدغې مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**درېیم:** دا چې د مېړه اوبه( اسپرم )را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې له بیضې سره خارج په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او بیا د پردۍ ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**څلورم:** دا چې خارجي تلقېح د پردي سړي ، او پردۍ ښځې د سپرم او بیضې تر منځ په خارج کې صورت ونیسي ، او د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**پنځم:** دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې له بیضې سره خارج په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او بیا د نوموړي مېړه د دویمې مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**شپږم:** دا چې د مېړه اوبه ( اسپرم ) را واخیستل شي او د ده د مېرمنې له بیضې سره خارج په لابراتواري ټیوب کې تلقېح ( پیوند ) کړای شي ، او بیا د نوموړي سړي د همدغې مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.

**اووم:** دا چې د مېړه اوبه ( مني ) را واخیستل شي ، او د ده د مېرمنې د مهبل یا د رحم په مناسب ځای کې په داخلي تلقېح سره تلقېح شي.

دا پرېکړه یې وکړه چې لومړۍ پنځه ټولې طریقې ، یا د دوی د ذات له وجې ، یا له دې وجې څخه چې د نسبونو ګډوډي په کې منځ ته راځي ، او د مورولۍ نظام په کې له منځه ځي شرعاً ممنوع او حرامې دي. او همدارنګه نورې شرعي ستونزې هم په کې شتون لري. او په شپږمه او اوومه طریقه کې مجمع کومه ستونزه نه ویني ، نو که څوک یې د ضرورت په وخت کې چې ټول لازم احتیاط یې په نظر کې نیولي وي ، وکاروي باک نه لري.([1])

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة ،** ص ـ 422.

**پاملرنه:**

دشیعه وګړو دشخصی احوالو قانون یوائې دآزمایش او امتحان لپاره تنها تلقیح (پیوند) ته یې جواز ورکړی ، او په دې اړه داسی صراحت کوی: : ( داجنبی نارینه او اجنبیه ښځی دنطفی ترکیب په آزمایشګاه کې جوار لری ، خو د ښځی رحم ته دبارور شوی تخمک لیږد ممنوع دی او دلیږد په صورت کې پیداشوی ماشوم د نطفی په خاوند پوری اړه لری ، په دغه صورت کې د نسب دالحاق ، قرابت ، او ارث حکمونه ورباندی جاری کیږی ). ([1])

**د اردن د اسلامي طبي علومو د ټولنې لپاره د طبي فقهې د لجنې پرېکړه:**

په پرېکړه کې داسې راځي:

په تېره شوې مسئله کې د شرعي جواز ، کومه چې داخلي تلقيح ده ، د ډاکتر په وسيله د راتلونکو شرطونو مطابق روا ده.

1. دا چې د اوبو (مني) د څښتن او د بيضې د څښتنې تر منځ د زوجيت اړيکه شتون ولري.
2. دا چی د تلقيح دا ډول عمليه به نه اجرا کېږي ، مګر وروسته له هغه چې د ډاکتر غالب ګمان په دې شي ، چې د تلقيح د عمليې پايلې به مثبتې وي. او هغه کولي شي ، دغه عمليه څو ځلې تکرار هم کړي.
3. دا چې د ډاکتر سره نور مرسته کوونکي ډاکتران د تلقيح د اجرا کولو په عمليه کې با

اعتماده خلک وي. او همدا شکل په هغه ځانګړي لابراتوار کې هم بايد داسې اعتمادي کسان شتون ولري چې د تلقيح عمليه اجرا کړي.

4. دا چې د تلقيح د عمليې له اجرا کولو څخه وروسته اضافي اوبه په کلي توګه له منځه

يوړل شي.

5. غوره دا ده چې د داخلي تلقيح عمليه په داسې توګه تر سره شي چې ډاکتر له مېړه څخه د اوبو په را اخيستلو سره ، سمدستي د مېړه په شتون کې ميرمنه تلقيح کړي. او د تلقيح دويمې بڼې ته ستنېدل هغه وخت جواز لري ، چې ډاکتر په دې سره قانع وي چې د دويمې بڼې کارول له لومړۍ بڼې څخه غوره او بهتره دي.
6. دا چې د تلقيح دويمه بڼه وکارول شي ، کومه چې په هغې کې د سړي څخه اوبه را

[1]) د عدلی وزارت ، **د افغانستان د شيعه وګړو د شخصی احوالو قانون،** 174 ، ماده.

اخیستل کېږي ، او بیا د دې لپاره چې سپرم له نورو مایع شیانو او ضعیفه سپرمونو څخه جدا کړي ، د اسلامي با اعتماده مرکز تر څارنې لاندې. او د صناعي تلقېح ټولې کړنې به په داسې شکل ترسره کېږي ، چې د هغه ټیوبونو چې د نارینه اوبه (منی)او د ښځې اوبه(بیضه)چې په کې ځای په ځای کېږي ، په کلي ډول دا احتمال له منځه یوسي ، چې د نورو کسانو د ټیوبونو سره د ګډ او یو ځای شي ، او همدا راز دغه ټیوبونه به ډاکټر ته د هغه کس په وسیله را وړل کېږي چې په دغه ټیوب کې د ده خپلې اوبه(مني) د او یا د داسې کس په وسیله چې د باور او اعتماد وړ وي.[1]

**او نوموړې لجنې د خارجي تلقېح په اړه هم دا لاندې فیصله کړې:**

((...او دغې قُضیې ته په کتو سره ، مونږ یې په هغه وخت کې شرعاً جائز او روا بولو ، چې د میرمنې اوبه (بیضه) د هغې د مېړه په اوبو سره په داسې حال کې چې د دوی تر منځ د زوجیت اړیکه قایمه وي ، په طبي ټیوب کې تلقېح کړای شي ، او بیا د همدې میرمنې رحم ته ور دننه کړای شي. ځکه چې د بچیانو راوړل په اسلام کې د واده له مهمو مقاصدو څخه بلل کېږي.

**او دوی وایي چې د دې لپاره لاندې شرطونه اړین دي:**

1.دا چې د دوی دواړو(مېړه او میرمنې) تر منځ به د زوجیت اړیکه شتون ولري .

2.دا چې دا کار به د دوی دواړو په خوښه ترسره شي.

3.دا چې د نسبونو د نه اختلاط او ګډون په برخه کې به ټینګ تضمینونه شتون لري.

یعنې دا چې د تلقېح په ټولو پړاونو کې به د سړي او یا د ښځې اوبه د بل چا له اوبو سره نه ګډېږي.

4.دا چې دغه کار به د هغه طبي ارګان په وسیله ترسره کېږي ، چې هم په دیني ، او هم په علمي برخه کې د اعتبار وړ وي ، او دا به د حکومت او یا د یوې داسې رسمي مؤسسې په مرکز کې چې غیرې ربحي وي ترسره کېږي.(2)

نو کوم څه مو چې پورته یاد کړل ، له هغه څخه معلومېږي ، چې کله په صناعي تلقېح کې ، داخلي وي او که خارجي ، د مېړه او میرمنې څخه پرته درییم لوری هم را ګډ شي ، نو دا ډول صناعي تلقېح اتفاقي حرامه او ناروا ده.

[1]) قضایة طبیة فی ضوء الشریعة الاسلامیة ج ـ 1 ، ص -92-93. اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة**، ص -423.

[2]) (بی له ګټی اوکومی فایدې څخه دا کارترسره کوي) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص -424.

**په صناعي تلقيح کې د دریيم لوري د حرمت دلائل:**

لکه څرنګه چی مو مخکې یادونه وکړه ، چې په صناعي تلقيح کې کله ناکله له مېړه او میرمنې څخه پرته ، دریيم لوری هم را ګډېږي ، او دا دریيم لوری کله د پردي سړي اوبه (مني) او کله د پردۍ ښځې اوبه (بيضه) او کله د پردۍ ښځې رحم وي ، او کله ناکله د مېړه د وفات یا د طلاق له عدت څخه وروسته ترسره کېږي ، نو دغه ډول تلقيح د اسلامي امت د علماؤ په اجماع سره حرامه ده.

**د دې ډول تلقيح د حرمت دلائل په لاندې ډول دي:**

لکه څرنګه چې په دې ډول تلقيح کې درې صورتونه شتون لري ، نو د هر یوه صورت د حرمت لپاره به په ځانګړي ډول دلائل بیان کړو.

**لومړی صورت: دا چې د پردي سړي اوبه (مني) یا د پردۍ ښځې اوبه (بيضه) پکې راګډ شي:**

1. په دې ډول تلقيح کې نسبونه ګډوډېږي ([1])
2. دا ډول تلقيح د زنا سره مشابهت لري ([2])
3. په پردۍ مزرعه کې کښت کول دي ، او د دې د حرمت دلیل دا دی چې رسول

الله (ﷺ) فرمایلي دي.(لايحل لامرئ يؤمن باالله واليوم الآخر آن يسقى ماءه زرع غيره).([3])

**دویم صورت: چې د پردۍ ښځې رحم پکې راګډ شي :**

1. دا ځکه حرام دی ، چې دا پردی رحم په داسې حال کې مشغولېږي ، چې د زوجيت له اړیکي څخه بهر دی ([4])
2. دا چې نوموړی رحم د جنين په جوړښت کې ونډه لري ، او په وراثي صفاتو باندې

اثر کوي([5])

3. دا چې د رحم خاوندې ښځې ته د دې اړتیا نشته ، چې خپل عورت بل چا ته لوڅ کړي. ځکه چې په خپله دا د اولاد لپاره حاجت نلري([6])

[1]) زیاد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ، ص ـ 87 ،
[2]) بکر بن عبدالله ابوزيد ، **فقه النوازل قضايا فقهية معاصرة التشريح وزراعة الاعضاء** ج ـ 1، ص ـ 269.
[3]) دا حدیث ابو داود په خپل سنن کې روایت کړی کتاب النكاح ، باب فی وطئ سبايا ،
[4]) بکر ابوزيد ، **فقه النوازل قضايا فقهية معاصرة التشريح وزراعة الاعضاء**، ج ـ 1، ص ـ 269.
[5]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -426.
[6]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -426 .

4. دا ډول تلقيح د طرفينو ترمنځ د منازعي او جنجال لامل ګرځي.([1])
5. دا امکان هم پکې شته دی ، چې د رحم خاونده ښځه د خپل مېړه سره کورولي وکړي او له هغه ځخه د حمل واخلي ، او بيا يې بل چا ته منسوب کړي.

**دريېم صورت: د واده د عقد د ختمېدو ځخه وروسته د صناعي تلقيح د حرمت دلائل:**

1. دا چې د زوجيت د اړيکې له ختېمدو ځخه وروسته د دوی دواړو ترمنځ هيڅ ډول

مشروع اړيکه شتون نلري ، نو په دې صورت کې د سړي اوبه (مني) او د ښځې اوبه (بيضه) او رحم ټول پردي دي.([2])

2. دا چې ښځه صناعي تلقيح ته هيڅ ضرورت او اړتيا نلري ، او دا کولای شي چې د بل مېړه

سره د واده کولو له لارې په طبيعي بڼه اولاد ترلاسه کړي.

ضرورت او حاجت د صناعي تلقيح د ترسره کولو د جواز لپاره يو اساسي شرط بلل کېږي.([3]).

3. د کوم حکمت لپاره چې د عدت د مودې تېرول مشروع شوي دي ، کوم چې د رحم پاکې ده.

په دې صورت کې هغه حکمت له منځه ځي.([4]).

**دويم مطلب: د صناعي تلقيح اختلافي حرامې بڼې**

د صناعي تلقيح ځيني بڼې داسې دي ، چې د هغې د حلت او حرمت په اړه علماؤ په خپل منځ کې اختلاف کړی دی. په مجموع کې ويلی شو چی د حکم له کبله د صناعي تلقيح اختلافي بڼې ځلور دي ، چې مونږ به په دې فرعه کې ، د هرې بڼې په اړه د علماؤ نظريات او د هغوی دلائل رانقل کړو ، او بيا به په دې اړه راجح نظر او د هغې دلائل په ګوته کړو.

*** لومړی صورت: دا چې د مېړه اوبه ( مني ) له رحم ځخه بيرون د هغه د ميرمنې له اوبو (بيضې) سره تلقيح کړای شي، او بيا د نوموړي سړي د دويمې ميرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي.**

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص ـ426 .
[2]) بکر ابوزيد ، **فقه النوازل قضايا فقهية معاصرة التشريح وزراعة الاعضاء** ج ـ 1 ، ص ـ 269. او **اطفال الا نابيب بين العلم و الشريعة** ، ص ـ81.
[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص -426 .
[4]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص -426 .

د صناعي تلقېح د نوموړي صورت د حکم په اړه د معاصرو ، فقهاؤ ترمنځ اختلاف موجود دی ، چې به مجموع کې درې نظريې شتون لري:

**لومړۍ نظريه:** زياتره علماء په دې نظر دي چې دا ډول صناعي تلقېح مطلق حرامه ده. او دوی په هغه دلائلو استدلال کړی دی ، کوم چې مو مخکې د صناعي تلقېح د اتفاقي حرامو بڼو په هکله ذکر کړي دي ، نو هلته دې وکتل شي.

**دويمه نظريه:** ځينې علماء په دې نظر دي ، چې دا ډول صناعي تلقېح مطلقه روا ده. او د دې نظريې پر اساس د اسلامي عالم د ټينګښت د اسلامي فقه مجمع په 1404 ﻫ کال د اوومې دورې په پنځم قرارکې فيصله کړې ده.

همدغه مجمع په 1405 ﻫ کال کې د اتمې په دويم قرارکې له دې خپلې مخکنۍ پرېکړې څخه په شاه تګ کړی ، او د دې ډول صناعي تلقېح په اړه يې د حرمت پرېکړه کړې ده ، او بيايې په 1410 ﻫ کال کې د اتمې دورې په قرار کې د دې ډول صناعي تلقېح په حرمت باندې تأکيد کړی دی([1]).

**د دې نظريې د خاوندانو دلائل:**

دوی وايي چې دواړه ښځې د يوه سړي ميرمنې دي ، او د دويمې ميرمنې په رحم کې چې کومې اوبه دي هغه د دې د مېړه دي نه د کوم پردي سړي([2]).

**د دې استدلال ځواب:** کولای شو چې دا استدلال په لاندې دوه ځوابونو سره رد کړو.

1. اګر که هغه تلقېح شوې بيضه چې د ميرمنې په رحم کې ځای پرځای کېږي ، د نوموړې ښځې د مېړه په اوبو سره تلقېح شوې ده ، خو کله چې دا بيضه د مېړه د دويمې ميرمنې ده ، نو دلته دريېم لوری په کې را ګډ شوی دی ، کوم چې د نوموړې ميرمنې بن ده.
2. په هغه دلائلو سره هم د دې استدلال څخه ځواب کولای شو ، کوم چې د صناعي تلقېح په اتفاقي حرامو بڼو کې تېرشوی دی.

**دريېمه نظريه:** ځينې علماء په دې اند دي ، که چېرې د سړي دويمه ميرمن د مبيض (هګۍ جوړولوځای) د مرض له کبله نشي کولای ، چې ماشوم وزېږوي نو جواز لري([3]).

---

[1]) الدكتور اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص - 428. نقلاُ عن قرارات مجلس المجمع الفقهى الاسلامى لرلبطة عالم الاسلامي لى دوراته العاشرة والاحادية عشرة و الثانية عشرة ص ـ 119.

[2]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -429 ، نقلاً عن مجلة مجمع الفقه الاسلامى عدد 3، ج ـ 1، ص ـ 497.

[3]) دی نظرته دوکتورعلي المحمدى تګ کړی دی . الدكتور اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية**، ص ـ428.

**د دریېمې نظریې د خاوندانو دلائل:**

دوی وایي چې د صناعي تلقېح په دې بڼه کې د نسبونو ګډوډي نه را منځ ته کېږي ([1]).

**له دې استدلال څخه ځواب:**

1. له دې استدلال څخه کولای شو ، چې داسې ځواب ورکړو ، چې په هغه صورت کې هم کله چې د مېړه او ښځې به اوبو سره تلقېح شوې بیضه د پردۍ ښځې په رحم کې ځای پرځای کړای شي ، د نسبونو ګډوډي نه را منځ ته کېږي. او هغه بڼه تاسو هم حرامه ګڼئ.
1. همدا ډول که چېرې دویمه میرمن د ماشوم په زېږېدو باندې قادره وي ، د نسبونو ګډوډي نه رامنځ ته کېږي ، نو تاسې ولې هغه حرامه بولئ.

**د صناعی تلقېح د دې بڼې د حکم په اړه راجح نظر:**

د صناعي تلقېح د دې بڼې د حکم په اړه د جمهورو علماؤ نظر راجح دی ، یعنې دا ډول تلقېح حرامه ده ، ځکه چې رحم د بیضې د خاوندې نه بلکې د پردې دی.

***دویم صورت : دا چې صناعي تلقېح د مېړه له وفات څخه وروسته خو د عدت د مودې له تیریدو څخه مخکې صورت ومومي:**

د دې ډول د صناعي تلقېح د حکم په اړه معاصرو علماؤ اختلاف کړی دی.

**لومړۍ نظریه:** جمهور علماء پدې نظردي ، چې دا ډول صناعي تلقېح حرامه ده.

**د دې نظریې خاوندانو په لاندې دلائلو استدلال کړی:**

د دې نظریې خاوندان په دې اند دي ، چې د مېړه له مرګ څخه وروسته د مېړه او میرمنې ترمنځ د زوجیت اړیکه پرې کېږي ، نو د دې نطفې حکم داسې دی ، لکه د پردي سړي د نطفې ([2]).

**دویمه نظریه:** ځینې علماء پدې نظر دي ، چې د عدت په موده کې ، د مېړه له مرګه وروسته دا ډول تلقېح جائز او روا ده.

---

[1]) ا اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص430. نقلاً عن زراعة الاجنة فی ضؤ الشریعة الاسلامیة ، ج - 3، ص - 79-80.

[2]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة** ، ص - 428.

**د دې نظريې خاوندانو په لاندې دلائلو استدلال کړی:**

دوی وايې چې د زوجيت دا ړيکې احکام په مرګ سره پای نه مومي ، بلکې د شرعي عدت په ختمېدو سره پای ته رسېږي ، نو په همدې اساس ښځه کولای شي چې د عدت په موده کې د خپل مړه مېړه اوبه (مني) خپل رحم ته داخلې کړي ، خو په دې شرط چې دا متيقنه وي چې دا مني زما د مېړه دي ، نه د بل چا.([1])

**د دې استدلال ځخه ځوابونه:**

1. ښځه دا حق نه لري چې د خپل مېړه له مرګه وروسته ، د هغه په اوبو (منيو) کې تصرف وکړي ، ځکه چې دا د مېړه ملک دی ، او د دې حق پکې يواځې مخکې د مېړه له مړينې څخه ثابت ؤ ، خو کله چې مېړه مړ شو د دې حق ساقط شو.

2. اسلامي شريعت چې د ښځې لپاره کوم عدت ټاکلی دی ، د هغه حکمت دا دی ، چې د ښځې رحم په دغه موده کې پاک شي ، نو په دې ډول صناعي تلقيح کې برخلاف رحم اشغال کېږي ، نو دا ډول تلقيح روا نده.

**د صناعي تلقيح د دې بڼې د حکم په اړه راجح نظر:**

د طرفينو دلائلو او د هغوی ځوابونو ته په کتو سره زما په نظر د جمهورو علماؤ نظر راجح دی ، په ځانګړي ډول د دوی دا دليل چې اسلامي شريعت د ښځې لپاره عدت په دې خاطر ټاکلی دی ، چې د هغې رحم په دغه موده کې پاک شي ، نو په دې ډول صناعي تلقيح کې برخلاف رحم اشغال کېږي ، نو دا ډول تلقيح به روا نوي ، زيات قوي دی.

***دريېم صورت: دا چې د مېړه او د هغه د ميرمنې د اوبو ترمنځ تلقيح د دوی د زوجيت د اړيکې په شتون کې ترسره کېږي.**

د صناعي تلقيح د دې بڼې د حکم په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف دی ، او په دې اړه څلور نظريې شتون لري.

**لومړۍ نظريه:** زياتره علماء پدې نظر دي چې دا ډول صناعي تلقيح د لاندينيو شرطونو په شتون کې شرعاً جائز او روا ده ، او دا شرطونه په لاندې ډول دي.

1. دا چې د مېړه او ميرمنې ترمنځ به د زوجيت عقد قائم وي ، بيا به دا ډول صناعي تلقيح ترسره کېږي.

2. دا چې مېړه او ميرمن به د دې کار په ترسره کولو خوښ او راضي وي.

---

[1]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ 82.

3. دا چې د دې طريقې د ترسره کولو لپاره به ، د حمل د اخيستلو اړتيا او حاجت شتون وي ، ([1]).
4. دا چې د ډاکټر غالب ګومان به دا وي ، چې د دې ډول عمليې د ترسره کولو پايلې به مثبتې وي.
5. دا چې د ميرمنې د عورت لوڅوالی به د اړتيا په اندازه ترسره کيږي.
6. دا چې په لومړي قدم کې به ، هڅه کيږي چې دا ډول کړنه د مسلمانې ښځينه ډاکټرې په وسيله ترسره شي ، خو که چېرته دا ناشونې وه ، بيا د کافرې ښځينه ډاکټرې په وسيله ، او که چېرته دا هم ناشونې وه ، بيا د مسلمان نارينه ډاکټر په وسيله ، او که دا هم ناشونې وه ، نو بيا د کافر نارينه ډاکټر په وسيله به په همدې ترتيب ترسره کيږي.
7. د معالج ډاکټر او د هغې ښځې تر منځ چې د هغې علاج کيږي ، يوځايوالی ، شرعاً حرام

دی ، مګر چې د نومورې ښځې مېړه او يا کومه بله ښځه ور سره شتون ولري.

8. دا چې د نسبونو د نه ګډوډېدو په برخه کې ، پوره او دقيق ضمانتونه په نظرکې نيول

شوي وي([2]).

**او د دې ډول صناعي تلقېح د روا والي په اړه د لاندېنيو فقهي مجامعو له لوري پريکړې(فيصلې) شوي دي.**

**لومړی:** فتوی لجنة الإِفتاء الكويتية.

**دويم:** ندوة الإِنجاب فی ضوء الاسلام.

**درېيم:** فتول دار الإِفتاء العام فی عمَّان.

**څلورم:** قرارت مجلس المجمع الفقه الاسلامی لرابطة عالم الاسلامی .

**پنځم:** قرار مجمع الفقه الاسلامی لمؤتمر مجمع الفقه الاسلامی.

**شپږم:** قرار لجنة الفقهية الطبية لجمعية العلوم الطبية الاسلامية فی الاردن.

**اووم:** قرارالاكاديمية المكبة المغربية فی الدورة الثانية للعام 1986م والتی كانت بعنوان:القضايا الخلقية الناجمة عن التحكم فی تقيات الإِنجاب([3]).

[1]) دا چې د ښځې اولاد نوی او د اولاد نشتون د دی لپاره څه روانی ستونزی او مشكلات منځ ته راوړی. مجلة مجمع فقه الاسلامی عدد 3، ج - 1، ص - 482.
[2]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -433. **فقه النوازل** ، ج - 1، ص - 270..
[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص -433..

د دې ډلې د علماؤ دلائل په لاندې ډول دي.

1. دوی وايي چې د دا ډول صناعي تلقیح په کارولو سره د ماشومانو لاسته راوړل یو ډول تداوي او له مشروع اسبابو څخه ګڼه پورته کول دي.

2. دوی وايي چې اولاد ته د ښځې اړتیا د ضرورت په څېرده ، ځکه چې کله د دې اولاد ونشي ، نو دا د یو ډول پرېښاني ، او له کورنۍ ستونزو سره لاس او ګریوان کېږي ، او که چېرې دا ماشومان وزېږوي ، د ما شومانو د راړولو غریزه یې پوره کېږي ، نو دې ته رواني سکون او آرامتیا حاصلېږي.( [1] ).

3. دا چې د ماشومانو نه زېږېدل ، یو ډول مرض دی ، چې د مېړه او د میرمنې دواړو لپاره د پریښانۍ لامل ګرځي ، او دوی په حرج او مشقت کې پرېوځي ، او حرج او مشقت دواړه شرعاً مرفوع دي.([2]).

4. کومه میرمن چې ماشومان یې نه زېږېږي ، د هغې او د هغې د مېړه ماشومانو ته اړتیا او حاجت یو شرعي غرض بلل کېږي ، نو د هغې علاج د صناعي تلقیح له لارې یوه مباح کړنه ده. ([3]).

5. ځینې اصولي قاعدې دي ( إذا تعارضت مفسدتان روعی أعظمهما ضرراً بارتکاب أخفهما). ([4]).ژباړه: کله چې دوه مفسدې را مخکې شي د کومې یوې چې ضرر لوی وي ، هغې ته به نظر کېږي. ( له هغې څخه به ځان ساتو) په تر سره کولو د هغې چې ضرر یې لږ وي.

**دویمه نظریه:** ځینې علماء په دې باور دي چې دا ډول تلقیح شرعاً ناروا ده. ([5]).

او دوی په لاندې دلائلو باندې استدلال کړی.

1. ﴿ **نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ وَقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ مُلَاقُوهُ وَبَشِّرِالْمُؤْمِنِينَ** ﴾.([6])ژباړه: ستاسو میرمنې ، ستاسو کښت دی ، ورشئ کښت خپل ته څرنګه مو چې خوښه وي ، او مخکې ولېږدوئ (څه خبر) د خپلو ځانونو لپاره ، او د الله (له نافرمانۍ )څخه ځان وساتئ ، او پوه شئ ، چې بېله شکه د هغه ( الله ) سره مخامخ کېدونکې یئ ، او زیری ورکړه مؤمنانو ته.

---

[1]) زياد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ 50 .

[2]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص ـ 437.

[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، ص ـ 437.

[4]) سيوطی ، **الاشباه و النظائر فی قواعد وفروع فقه الشافعية**، ص — 87. او د ابن نجيم **الاشباه و النظائر** ، ص ـ 88.

[5]) بكر ابوزيد ، **فقه النوازل قضايا فقهية معاصرة التشريح وزراعة الاعضاء** ج ـ 1 ، ص ـ 270.

[6]) سورة: البقرة ، آية 223 .

**په دې آيت باندې دوی داسې استدلال کړی:**

چې ستاسې مېرمنې ستاسې د کښت او نسل ځايونه دي ، او ستاسو بچيان د هغوی په رحمونو کې جوړېږي ، نو هغوی ته د نسل او د بچي د زږېدو له ځايه ورشئ ، او له دې ځخه پرته بلې خواته مه اوړئ. او دوی وايي چې د دې آيت معنا به دا سې شي ، چې د سړي اوبه ( مني ) د ښځې له اوبو (بيضې) سره تلقيح د کوروالي له لارې منځ ته راځي ، نو کومه تلقيح چې د لابراتواري ټيوب يا د کومې بلې طريقې له لارې منځ ته راځي ، د دې آيت سره په ټکر کې دی. ([1])

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

دغه آيت د تلقيح ځرنګوالی ندی مشخص کړی ، بلکې د مېرمنې سره يې د کوروالي او يوځايوالي

ځرنګوالی بيان کړی ، او د نوموړي آيت منطق د مېرمنې سره د مخې لخوا د کور والي امر کړی ،

او **وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ** مفهوم د آيت د مېرمنې سره په شا (دُبر) کې د کوروالي ځخه منع کړې.

2. ﴿ **فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ (5) خُلِقَ مِنْ مَاءٍ دَافِقٍ (6) يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ** ﴾.([2]) ژباړه: نو و د ګوري انسان چې له څه شي ځخه پيدا کړل شوی دی ، پيدا کړل شوی دی له ټوپ وهونکو اوبو ځخه ، چې له صلب او ترائب ځخه را وځي.

**په دې آيت دوی داسې استدلال کړی:**

چې کله ماشوم د تلقيح د دې طريقې له لارې پيدا شي ، او بيا لوی شي او د قرآن کريم دا آيت ولولي چې (**خُلِقَ مِنْ مَاءٍ دَافِقٍ**) نو دی به دا فکر کوي چې زما خلقت خو له دې آيت سره مخالف دی.

3. ﴿ **أَلَمْ نَخْلُقْكُمْ مِنْ مَاءٍ مَهِينٍ (20) فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَكِينٍ** ﴾.([3])

ژباره: آيا نه مو يئ پيدا کړي له کمزورو اوبو ځخه ، بيا مو ځای پر ځای کړئ ، په يوه ثابت(ساتونکي)ځای کې.

---

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** ، ص ـ438.

[2]) سورة: الطارق ، آية ، 5 – 6 – 7.

[3]) سورة: المرسلات ، آية ، 20 – 21.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کړی:**

چې کله ماشوم له دې طریقې څخه پیدا شي ، او بیا لوی شي ، او بیا د قرآن کریم دا ایت ولولي چې:﴿ **خُلِقَ مِنْ مَاءٍ دَافِقٍ** ﴾.([1]) نو دی به دا فکر کوي چې زما خلقت خو له دې آیت سره هم

په ټکر کې دی.

4. ﴿ **لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ (49) أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ** ﴾.([2])

ژباړه: یوازې الله لره ده ، پادشاهي د ځمکې او آسمانونو ، پیدا کوي څه چې وغواړي ، ورکوي چا ته چې وغواړي ښځینه ، او ورکوي چا ته چې وغواړي نارینه ، یا دوی ته جوړه کوي نارینه او ښځینه ، او ګرځوي څوک چې وغواړي شنډ ، بېله شکه چې دی (الله) پوه او توانا دی.

**په دې ایت باندې دوی داسط استدلال کړی:**

چې مومن د الله په قضا او تقدیر باندې خوښ ، او راضي وي ، نو همدا وجه ده چې الله دی عقیم (شنډ ) ګرزولی دی.([3])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

په دې ایت کې د﴿ **يَجْعَلُ** ﴾ او ﴿ **يَخْلُقُ** ﴾ الفاظو تر منځ توپیر شتون لري ، او هغه دا چې په خلقت کې بدلون نه راځي ، او په جعل کې بدلون راځي.([4])

5﴿ **...لَعَنَهُ اللَّهُ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا (118) وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا** ﴾.([5])

ژباړه: الله په ده ( شیطان ) باندې لعنت وکړ ، او ده وویل: چې زه به ستا له بندګانو څخه یوه ټاکلې برخه خپلوم ، او خامخا به دوی بې لارې کوم ، او خامخا به دوی ته آرزو ګانې ورکوم ، او خامخا به دوی ته امر

[1]) سورة: الطارق ، آية ، 6.

[2]) سورة: الشورى ، آية ، 49-50.

[3]) هاشم جميل عبد الله بحث منشور فى مجلة الرسالة ، **زراعتة الاجنه فى ضوء الشريعة الاسلامية**، ج ـ1 ، ص -97.

[4]) هاشم جميل عبد الله بحث منشور فى مجلة الرسالة ، **زراعتة الاجنه فى ضوء الشريعة الاسلامية**، ج ـ1 ، ،ص 97.

[5]) سورة: النساء ، آيه ، 118 — 119.

کوم ، نو دوی به پرې کوي غږونه د چارپایانو ، او خامخا به دوی ته امر کوم ، نو دوی به بدلوي ، پیدایښ د الله ، او څوک چې ونیسي شیطان په دوستۍ سره نو ښېله شکه تاوان يې وکړ ښکاره تاوان.

**په دې ایت باندې دوی داسې استدلال کړی:**

**چې له دې ځای** ﴿ ...**وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ...**﴾. څخه معلومېږي چې شیطان دا هوډ لري

چې د الله په بندګانو به د ده د خلقت او پیداکولو په چارو کې صفتاً او صورتاً بدلون راولي ، نو په صناعي تلقېح کې د سړي له خپلې مېرمنې سره په کوروالي کې صفتاً بدلون راوستل دي.

**له دې استدلال څخه ځواب:**

صناعي تلقېح د انجاب یوه نوې لاره ده او پدې کې د انجاب صفت بدلون نکوي ځکه چې انجاب د سړي د اوبو ( مني ) د هغه د مېرمنې له اوبو ( بیضې ) سره د تلقېح په پایله کې را منځ ته کېږي ، نو حمل او ولادت دواړه د الله په فضل سره ترسره کېږي.

5. **په دغه فقهي قاعده باندې (درأُلمفاسد مقدم علي جلب المصالح.**([1])

ژباړه: د مصالحو( ښېګڼو ) له لاسته راوړولو څخه د مفاسدو ( خرابي کونکو ) لرې کول وړاندې دي.

**پدې قاعدې باندې دوی داسې استدلال کړی:**

چې په صناعي تلقېح کط اګر چې ځینې مصالح او ګټې نغښتې دي ، مګر هم مهاله پکې یو شمېر زیاتې ستونزې او خرابوالی هم شتون لري ، او د دې قاعدې پر اساس باید د دغو خرابیو او ستونزو د مخنیوي په خاطر له دغو ګټو او مصالحو څخه تېر شو.

**درېیمه نظریه:**

ځینې علماء پدې باور دي چې دا ډول صناعي تلقېح داخلي روا او خارجي نا روا ده.([2])

دوی داخلي صناعي تلقېح ته ، د جواز ورکولو لپاره په هغه دلائلو استدلال کوي ، کوم چې د لومړۍ نظریې خاوندانو وړباندې استدلال کړی وو ، او د خارجي صناعي تلقېح د حرمت په اړه دوی داسې

[1]) سیوطی ، **الاشباه و النظائر فی قواعد وفروع فقه الشافعیة،** ص ـ 89. او د ابن نجیم **الاشباه و النظائر** ، ص -90.
[2]) بکر ابوزید ، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء،** ج ـ 1، ص ـ 270.

استدلال کوي ، چې پدې کې زیات شمیر داسې خطرونه شتون لري ، کوم چې په داخلي کې نشته ، ځکه چې په خارجي کې دا امکان شته چی یا د سړي او یا د ښځې اوبه د بل چا سره بدلې کړای شي.([1])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

دوی چې کومه ادعا کوي ، چې په خارجي صناعي تلقیح کې دا احتمال شته ، چی کېدای شي د زوجینو اوبه د بل چا له اوبو سره اشتباه او بدلې شي ، مونږ ورته ویلی شو ، چې دا ډول تلقیح د هغه شرطونو د رعایت کولو په صورت کې ، کوم چې وړاندې یادونه ترې وشوه ، دا یو لرې احتمال دی ، او که چېرې مونږ په هر څه کې لرې احتمالاتو ته اعتبار ورکوو ، نو په انسانانو باندې به د ژوند کړی را تنګه شي.([2])

**څلورمه نظریه:**

ځیني علماء په دې باور دي چې دا ډول صناعي تلقیح د ضروریاتو او حاجاتو لپاره تر سره کېږي, نو په دې ډول کړنو کې ، د عامې فتوا ورکول ، چې روا او یا ناروا دي ، صحیح خبره نده. بلکې کوم کس چې له داسې ستونزو سره لاس او ګریوان وي ، او د دې عملیې د ترسره کولو لپاره مجبور وي ، هغه ته پکارده ، چې د دې کړنې د ترسره کولو په هکله له یوه دین داره او با علمه شخص څخه پوښتنه وکړي.([3])

**دوی په دې قاعدې باندې استدلال کړی:**

(ان مواطن الحاجات والضرورات قد لایفتی بها فتوی عامة , وانما اذا ابتلی المکلف استعلم من تسوغو فتیاه لدینه وعلمه).([4]) **ژباړه:** د حاجاتو او ضروریاتو په ځایونو کې ، به په عامې فتوی سره فتوا نه ورکول کېږي بلکې یوازې هغه کس چې له دې ستونزې سره لاس او ګریوان دی ، له هغه چا څخه چې د هغه فتوا د ده د دینداری او علمیت له وجهې چلېږي ، خپل ځان پوه او خبرکړي.

**له دې استدلال څخه ځواب:**

ډېر داسې د حاجاتو او ضروریاتو ځایونه شتون لري چې علماؤ په هغه کې فتوا ورکړې ، او خپل نظر یې څرګند کړی دی ، ان تر دې چې دوی د همدغې مسئلې په اړه زیات شمیر مؤتمرات او ندوات او مجامع منعقد کړي ، او په دې اړه یې بېلابېلې پریکړې او توصیې او فتواګانې صادرې کړي دي.

---

[1]) النتشة ، مُحَمَّد عبدالجواد ، **المسائل الطبیة المستجدة فی ضوء الشریعة الاسلامیة**، ج - 1، ص - 192.

[2]) مجلة مجمع الفقه الاسلامی عدد 3 ، ج - 1، ص - 508.

[3]) بکر ابوزید ، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء** ، ج - 1، ص - 270.

[4]) بکر ابوزید ، **فقه النوازل قضایا فقهیة معاصرة التشریح وزراعة الاعضاء** ج - 1، ص - 250.

**د صناعي تلقيح د دې بڼې د حکم په اړه راجح نظر:** وروسته له  دې کله چې مونږ په دې اړه د علماؤ بېلابېل نظرونه او د هغوی دلائل او د هغوی د دلائلو مناقشه په نظر کې ونيسو ، الله ښه پوهېږي خو زما په نظر راجح نظر به دا وي ، چې دا ډول صنايع تلقيح شرعاً جائز او روا ده ، ځکه د مجوزينو دلائل قوي دي ، او د مخالفينو په وړاندې يو سلسله ردونه هم شتون لري ، او له بله اړخه په دې ډول صناعي تلقيح کې د هغه شرطونو په رعايت کولو سره کوم يې چې مجوزين لازم او ضروري بولي ، د ماشوم نسب ته کومه ګډوډي نه پيښېږي.

***څلورم صورت: دا چې مېړه او ميرمن دواړه د ماشوم د جنسيت د انتخابولو لپاره صناعي تلقيح ترسره کړي.**

د الله په لورولي فضل سره ډاکټران اوس په دې باندې توانيدلي دي ، چې د ماشوم جنس د صناعي تلقيح د کړنې له لارې وټاکي ، يعنې مخکې له دې چې تلقيح شوي بيضه په رحم کې ځای پرځای کړي ، لومړی ډاکټران د مېړه اوبه ( مني ) را اخلي او x او يا y اسپرمونه سره جلا کوي ، او وروسته د مېړه او د مېرمنې د غوښتنې مطابق اسپرم را اخلي او بيايې د مېرمنې له اوبو ( بيضيه ) سره تلقيح کوي ، او بيايې د مېرمنې په رحم کې داخلوي.

**د صناعي تلقيح د دې بڼې حکم د هغې د ترسره کولو په موخه پورې تړاو لري :**

دا ډول صناعي تلقيح د دوو موخو لپاره ترسره کېږي.

**لومړی موخه:** دا ډول صناعي تلقيح ځينې وختونه د ځينې وراثي ناروغيو د مخنيوي په موخه ترسره کېږي ، يعنې ځينې وختونه ښځه له داسې حالاتو سره لاس او ګريوان وي ، چې دا په هغې حالاتو کې د دې لپاره مناسب نوي چې نارينه ماشوم حمل او وزېږوي ، او که چېرې په دغه حالاتو کې نارينه ماشوم حمل کړي ، کېدای شي چې حمل شوی ماشوم د مرګ او يا هم د ځينو نارغيو د ګواښ سره مخامخ شي. او کله دا له داسې حالاتو سره لاس او کريوان وي چې په هغو حالاتو کې د دې لپاره مناسب نوي ، چې ښځينه ماشومه حمل کړي او که چېرته ښځينه  ماشومه حمل هم کړي نو بيا کېدای شي چې حمل شوې ماشومه له مرګ او يا له ځينو نارغيو سره مخامخ شي.([1])

نو د دې موخې لپاره د ماشوم د جنس ټاکل له ضرورياتو څخه شمېرل کېږي ، او دا يو ډول تداوي او معالجه ده کومه چې اسلامي شريعت ورباندې امر کړی ، او د دې جواز اتفاقي خبره ده ([2])

---

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ 447.

[2]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ 448.

**دویمه موخه:** دا چې د ماشوم د جنس د انتخابولو لپاره څه طبي او علاجي اسباب شتون ونلري ، او یواځې د دې لپاره چې نارینه او یا ښځینه ماشوم اختیار کړي ، او دا هم دوه صورتونه لري:

**لومړی: د امت په سطحه:** د امت په سطحه دا ډول صناعي تلقیح د علماؤ په اتفاق سره حرامه او ناروا ده. ([1])

**دویم: د وګړو په سطحه:** د وګړو په سطحه یعنې ځینې افراد داسې کار ترسره کولی شي ، او کنه ؟ نو په دې اړه معاصرو فقهاؤ په خپل منځ کې اختلاف کړی ، او په دې اړه دوې نظر یې شتون لري.

**لومړۍ نظریه:** اکثره معاصر فقهاء په دې باور دي چې دا ډول صناعي تلقیح د دې موخې لپاره شرعاً ناروا او حرامه ده.

**د دوی دلائل په لاندې ډول دي:**

1. **﴿ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ (49) أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ﴾.**([2])

ژباړه: یوازې الله لره ده پادشاهي د ځمکې او آسمانونو ، پیدا کوي څه چې وغواړي ، ورکوي چا ته چې وغواړي ښځینه او ورکوي چا ته چې وغواړي نارینه ، یا جوړه ورکوي دوی ته نارینه او ښځینه او ګرځوي څوک چې وغواړي شنډ ، بېله شکه چې دی ( الله ) پوه او توانا ذات دی.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دوی وایي چې که انسان ته د الله ﷻ له لوري زوی او که لور ورکول کېږي او یا شنډېږي ، دا هر څه د الله د تقدیر ، حکمت او مشیئت پر اساس ولاړ دي ، نو په دې کې لاس وهنه کول د الله په حکمت او مشیئت کې لاس وهنه ده. ([3])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

داسې یو تصور کول چې د مخلوق په توان کې دا شته چې د الله په اراده او علم او مشیئت کې لاس وهنه وکړي یو ناروا تصور دی ، بلکې هر څه چې په دې کائناتو کې ترسره کېږي ، دا ټول د الله په علم ، ارادې ، او مشیئت سره ترسره کېږي ، او همدا الله دی چې بشر ته یې دا علم او پوهه ورکړې.

[1]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية**، ص - 448.

[2]) سورة: الشورى ، آية ، 49 – 50.

[3]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية**، ص450. او اياد احمد ابراهيم ، **الهندسة الوراثية بين معطيات العلم وضوابط الشرع**، ص - 127 - 128.

2. ﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴾.[1]

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دوی وايي چې دا آيت د جاهليت د اخلاقو په بدوالي دلالت کوي ، کوم چې مشرکينو به زامنو ته په لورګانو باندې بهتري ورکوله ، نو اوس چې کوم خلک د صناعي تلقيح له لارې د ځانګړي جنس بچيان لاس ته راوړي ، نو دا هم د جاهليت په څېر اخلاق دي ، او داسې کړنې له ايمان سره په ټکر کې دي.[2]

3. ﴿ **وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ**

**وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا** ﴾[3] ژباړه: او خامخا به دوی بې لارې کړم ، او خامخا به دوی ته آرزو ګانې ورکوم ، او خامخا به دوی ته امر کوم نو دوی به پرې کوي غوږونه د چارپايانو ، او خامخا به دوی ته امر کوم نو دوی به بدلوي پيدايښت د الله او څوک چې ونيسي شيطان په دوستۍ سره ، نو بېله شکه تاوان يې وکړ ښکاره تاوان.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دا آيت په دې دلالت کوي چې د الله په خلقت کې تغيير را وستل د شيطان کړنه ده ، او د ځانګړي جنس ماشوم انتخابول د الله په خلقت کې بدلون راوستل دي ، نو دا حرام دی.[4]

**له دې استدلال څخه ځواب:**

د ځانګړي جنس ماشوم انتخابول او د هغه د لاسته راوړلو لپاره دا ډول کړنه ترسره کول د الله په خلقت کې تغيير راوستل ندي ، ځکه چې اسپرم هماغه اسپرم دی او بيضه هم هماغه بيضه ده کوم تغيير پکې ندی راغلی.[5]

**دويمه نظريه:** ځينې علماء په دې نظر دي چې د صناعي تلقيح دا ښه د همدې موخې په خاطر شرعاً جائز او روا ده ، او دوی په يو شمېر دلائلو استدلال کړی چې ځينې يې په لاندې ډول دي.

---

[1]) سورة: الزخرف ، آية ، 58.

[2]) اياد احمد ابراهيم ، **الهندسة الوراثية بين معطيات العلم وضوابط الشرع**، دارالنشر: ادرالفتح للدراسات والنشر. ص - 130.

[3]) سورة: النساء ، آيه ، 119.

[4]) الدكتور اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية**، دار ابن الجوزي المملكة السعوديه الدمام ، ص - 453.

[5]) الدكتور اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحكامها الفقهية** ، دار ابن الجوزي المملكة السعوديه الدمام ، ص - 453.

1. ﴿ وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا (5) يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ﴾.([1]).

**په دې آيت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دا آيت په دې دلالت کوي چې نارينه بچي د غوښتلو لپاره دعا کول شرعاً جائز او روا کار دی ، او دا یوه منل شوې خبره ده ، چې د کوم شي غوښتنه روا وي د هغه د لاس ته راوړلو لپاره کړنه هم روا وي ، نو په همدې اساس په اولاد کې د يو مشخص او ځانګړي جنس اختيارول شرعاً جائز دي. ([2])

2. دوی په دې فقهي قاعدې باندې استدلال کړی چې ( **الاصل فی الاشياء الاباحة** ). ([3])

ژباړه: اصل په شيزونو کې اباحت دی.

دوی په دې قاعدې باندې داسي استدلال کوي ، چې د دې قاعدې پر اساس د نارينه او يا ښځينه اولاد د اختيارولو لپاره کوم شرعي مانع شتون نلري ، نو که چېرې يو څوک د هغو شرطونو په رعايتولو سره ، کوم چې مخکې بيان شوي دي ، دا ډول کړنه ترسره کړي ، نو پر وراندې به يې کوم شرعي خنډ نوي موجود.([4])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

دا خو بالکل ټيک خبره ده چې په اولاد کې د نارينه او يا ښځينه جنس د اختيارولو په برخه کې کوم شرعي موانع شتون نلري ، خو دا هغه وخت چې په خپله د اختارولو اسلوب او روش جائز او روا وي ، او د هغې کارول د يو سلسله خطرونو او ستونزو لامل ونه ګرځي.

**د صناعي تلقيح د دې بڼې د حکم په اړه راجح نظر:** الله تعالی د پوره علم خاوند دی خو مونږ چې کله پورتنيو نظريو او دلائلو او د هغې يو له بل سره پرتله کولو ته ګورو ، دا راته ښکاري چې په دې کې تفصيل دی ، او ويلی شو که چېرې د يو چا ټول اولادونه ښځينه وي او نارينه اولادونو لپاره يې شوق او علاقه زياته وي او صبرهم نشي کولای ، يا برخلاف د يو چا اولادونه ټول نارينه وي او ښځينه اولاد يې نوي نو که چېرته دغه ډول صناعي تلقيح ترسره کړي نو شرعاً به دا ډول صناعي تلقيح ستونزه ونلري ، او که يو سړی نارينه او ښځينه دواړه جنسه اولادنه ولري او بيا دا ډول صناعي تلقيح ترسره کوي نو دا به شرعاً ښه خبره نوي ، ځکه چې دوی په دې صورت کې دې ډول کړنې ته هيڅ حاجت او اړتيا نلري ، او کوم چې لومړی شخص ؤ د هغې لپاره يو څه حاجت خو ليدل کېږي.

---

[1]) سورة: مريم ، آيه ، 5 – 6.

[2]) اياد احمد ابراهيم ، **الهندسة الوراثية بين معطيات العلم وضوابط الشرع**، ص ـ 123 -124.

[3]) سيوطی ، **الاشباه و النظائر فی قواعد وفروع فقه الشافعية**، ص ـ 60. او د ابن نجيم **الاشباه و النظائر** ، ص 66.

[4]) اياد احمد ابراهيم ، **الهندسة الوراثية بين معطيات العلم وضوابط الشرع**، ص ـ 125.

## څلورم مبحث: د صناعي تلقیح له لارې د زیږیدلي ماشوم نسب

د صناعي تلقیح له لارې د زیږیدلي ماشوم د نسب په هکله باید ووایو ، چې د صناعي تلقیح په ځینو صورتونو کې مور او پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت تر هیڅ کوم اشکال او ستونزو لاندې نه راځي ، خو په ځینو صورتونو کې مور او پلار ته د ماشوم د نسب ثبوت تر اشکال لاندې راځي ، نو مونږ به لومړی د صناعي تلقیح له لارې د زیږیدونکي ماشوم نسب پلار ته وڅیړو ، او دویم به د صناعي تلقیح له لارې د زیږیدونکي ماشوم نسب د هغه مور ته وڅیړو ، چې په هغه کې د ماشوم نسب تر اشکال لاندې راځي.

### لومړی مطلب: پلار ته د صناعي تلقیح له لارې د ماشوم نسب

**لومړۍ بڼه:** کله چې د مېړه او د مېرمنې ترمنځ د زوجیت رابطه قائمه وي ، او د مېړه اوبه ( مني ) او د مېرمنې اوبه ( بیضه ) سره تلقیح کړای شي ، که داخلي تلقیح وي ، او که خارجي. نو د ماشوم د نسب په اړه هیڅ ستونزه او مشکل نشته ، ځکه اوبه ( مني ) د مېړه او ( بیضه ) د هغه د مېرمنې ده ، او رحم هم د مېرمنې دی ، نو مور او پلار دواړه معلوم دي.([1])

نو په دې صورت کې چې کله د مېړه او د مېرمنې ترمنځ د زوجیت رابطه شتون ولري ، نو سم دستي د ماشوم نسب د ښځې مېړه ته پرته له کوم اشکاله څخه ثابتېږي.

**دویمه بڼه:** کله چې د مېړه د مېرمنې اوبه ( بیضې ) د پردي سړي له اوبو ( منیو ) سره تلقیح کړای شي او په پایله کې یې ماشوم وزیږیږی اګر که دا کار ناروا دی ، خو که چېرې دا ناروا کار تر سره شو ، د نوموړی ماشوم نسب د شیعه وګړو د شخصی احوالو د قانون پر بنسټ د نطفی خاوند ته منسوبیږی ، نوموړی قانون په دی اړه داسی صراحت کوی: ( داجنبی نارینه او اجنبیه ښځی دنطفی ترکیب په آزمایشګاه کې جواز لری ، خو د ښځی رحم ته دباروور شوی تخمک لیږد ممنوع دی او دلیږد په صورت کې پیداشوی ماشوم د نطفی په خاوند پوری اړه لری ، په دغه صورت کې د نسب دالحاق ، قرابت ، او ارث حکمونه وربآندی جاری کیږی). ([2]) خو که مونږ حدیث ته نظر وکړو نو دهغه پر بنسټ د زیږیدلي ماشوم نسب د مېرمنې مېړه ته ثابتېږي ، ځکه رسول الله ﷺ فرمایی: «**الولد للفراش وللعاهر الحجر**».

ژباړه: زوی د فراش ( د مېرمنې د خاوند) دی ، او زاني لره تېږه ده. خو که چېرې د مېرمنې مېړه د نوموړي ماشوم له نسب څخه انکار وکړي ، په ده باندې به د نوموړي ماشوم نسب نه تحمیل کېږي.  او د نوموړي ماشوم د نسب سره د اوبو خاوند هیڅ تړاو نه لري ، ځکه چې دا ډول صناعي تلقیح د زنا په حکم کي راځي ،

---

[1]) مُحَمَّد یحیی بن حسن النجیمی ، **الانجاب الصناعی بین التحلیل والتحریم**، ص ـ 244. او مُحَمَّد المریسی زهرة ، **الانجاب الصناعی احکامه القانونیة وحدوده الشرعیة**، ص - 333.

[2]) د عدلی وزارت ، **د افغانستان د شیعه وګړو د شخصی احوالو قانون**، 174 د عدلی وزارت ، ماده.

او د زنا له لارې د زېږېدلي ماشوم نسب د زنا کار لپاره ، کله چې د ښځې د زوجيت اړيکه له بل چا سره قائمه وي ، په اتفاق د علماؤ سره نه ثابتېږي. ([1])

### راجح نظر:

زما په اند راجح نظر به دا وی چې په دی صورت کې به ماشوم د مېړه اړ وند وی څکه چې حديث په همدې دلالت کوی.

**درېيمه بڼه:** دا چې د مېړه اوبه ( مني ) د ده د يوې مېرمنې له اوبو ( بيضې ) سره بيرون تلقيح کړای شي ، او بيا د نومورې مېړه د دويمې مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي ، اګر چې د اکثره علماؤ په وړاندې دا کار ناروا او حرام دی ، خو که چېرې دا کار ترسره شو نو د دې ډول صناعي تلقيح په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب پرته له کومې ستونزې د اوبو خاوند ته ثابتېږي.

**څلورمه بڼه:** دا چې د مېړه په ژوند کې له هغه څخه مني را واخيستل شي ، او بيا د هغه له مرګ څخه وروسته خو د عدت د مودې له تېرېدو څخه مخکې د هغه د مېرمنې له بيضې سره صناعي تلقيح ترسره شي. لکه څرنګه مو چې مخکې بيان کړل ، چې د صناعي تلقيح د دې بڼې د جواز په هکله د علماؤ تر منځ اختلاف دی ، خو که چېرې دا کار تر سره شو او د صناعي تلقيح د دې بڼې په پايله کې ماشوم وزېږېدو ، نو د دې ماشوم نسب به هغه وخت مېړه ته ثابتېږي چې ماشوم د مېړه له مرګ څخه وروسته د يوه کال څخه په کمه موده کې زېږېدلی وي ، لکه څرنګه چې د افغانستان مدني قانون په دې هکله داسې صراحت کوي:

**220 ماده:** که د طلاق يا وفات معتده د مېړه د طلاق يا وفات څخه وروسته د يوه کال څخه په زياته موده کې وزېږېږي د داسې معتدې د نسب دعوا نه اورېدل کېږي, مګر دا چې د طلاق په صورت کې په خپله مېړه او د وفات په صورت کې د مېړه ورثه د ماشوم نسبت خپل ځانته وکړي.([2])

### دويم مطلب: د صناعي تلقيح له لارې مورته د ماشوم نسب

په صناعي تلقيح کې ځينې داسې بڼې وجود لري ، چې د هغې د کارولو په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب پرته له کومې ستونزې څخه مور ته ثابتېږي ، مګر ځينې داسې بڼې هم پکې شته چې د هغې د کارونې له لارې د زېږېدلي ماشوم د نسب ثبوت مورته يو څه ستونزې لري. چې مونږ به يې په لاندې ډول بيان کړو.

**لومړۍ بڼه:** کله چې په صناعي تلقيح کې د مېرمنې خپلې اوبه ( بيضه ) د هغې د مېړه له اوبو (مني ) سره تلقيح کړای شي ، او بيا د نومورې ميرنې په رحم کې ځای پر ځای کړای شي ، پرته له کومې ستونزې څخه د دا ډول صناعي تلقيح په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب د بيضې خاوندې ته ثابتېږي.

---

[1]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ148.

[2]) د عدلی وزارت ، **مدنی قانون**، ج ـ 1، ص ـ 61، 220 ماده.

**دویمه بڼه:** کله صناعي تلقیح په داسې بڼې سره ترسره کېږي ، چې تخمه د یوې ښځې وي او رحم د بلې ښځې وي ، نو د دې ډول صناعي تلقیح په پایله کې د زېږېدلي ماشوم د نسب ثبوت یو څه ستونزې لري. چې ایا د نوموړي ماشوم مور به د بیضې خاونده وي ، او که به هغه ښځه وي چې د هغې په رحم کې یې د جینینتوب پړاو تیر کړي او له هغې څخه زېږېدلی دی ؟

د دې مسئلې په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف شتون لري ، چې مونږ به د دوی نظریې او دلائل په لاندې ډول را نقل کړو.

**لومړۍ نظریه:**

ځینې علماء په دې باور دي ، چې د دې ډول صناعي تلقیح په پایله کې د زېږېدلي ماشوم نسب د بیضې خاوندې ته کېږي. او په لاندې دلائلو باندې استدلال کړي.

**1:** دوی وایي چې د زېږېدلي ماشوم مور د بیضې خاونده ده. دا ځکه چې علم ثابته کړې ، چې همدا بیضه ده چې له یو نسل څخه بل نسل ته هغه صفات او ځانګړتیاوې چې الله ﷻ په هغې کې ځای پر ځای کړي لېږدوي. او د ماشوم سره د رحم واله ښځې اړیکه او رابطه د هغې ښځې ( رضاعي مور ) په شان ده ، چې ماشوم ته شېدې ورکوي او پالنه یې کوي ، ځکه چې د دې په نس کې نوموړي ماشوم د دې په وینو سره تغذیه کېږي ، او په رحم کې یې ساتل کېږي.([1])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

دوی چې کوم استدلال کړی چې له یو نسل څخه بل نسل ته وراثي صفات او ځانګړتیاوې د بیضې په وسیله لېږدول کېږي ، نو په همدې اساس باید د ماشوم نسب هم د بیضې خاوندې ته ثابت شي.اګر که دا استدلال په یوه علمي حقیقت باندې ولاړ دی ، خو دغه علمي حقیقت په یواځې توب سره نشي کولای چې د شرعي دلیل اعتبار او باور خپل کړي. او که چېرې داسې شي نو بیا خو د زنا له لارې د زېږېدلي ماشوم نسب د دې علمي حقیقت پر اساس باید زاني ته ثابت شي. خو شرعاً داسې نده بلکې د زنا له لارې د زېږېدلي ماشوم نسب د زانیې مېره ته ثابتېږي.

**2:** دا چې رحم واله ښځه ماشوم ته هېڅ یو وارثي صفت او ځانګړتیا نه شي ورکولی ، یواځې خواړه ورکوي.([2])

---

[1]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -135.

[2]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص -135.

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

لکه څرنګه مو چې مخکې وويل چې د وراثي صفاتو په لېږد باندې استدلال يو علمي حقيقت دی ، خو دغه علمي حقيقت په يواځې توب سره نشي کولای چې د شرعي دليل اعتبار او باور خپل کړي.

3: دوی وايي لکه څرنګه چې پلار ته د ماشوم نسب د نطفې له لارې ثابتېږي ، نو همدا ډول به مور ته هم د ماشوم نسب د بيضې له لارې ثابتېږي([1])

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

په قرآن کريم او احاديثو کې داسې ډېر نصوص شتون لري ، چې مور ته د ماشوم نسب د ولادت له لارې ثابتېږي ، لکه څرنګه چې الله فرمايي:

﴿...**إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ**...﴾([2]) **او دا ډول** نصوص به د دويمې نظريې په دلائلو کې په تفصيل سره بيان کړو.

4: لکه څرنګه چې د ماشوم نسب رضاعي مور ته نه ثابتېږي ، ولوکه د هغې په شېدو تغذيه او لوی شوی هم وي ، نو همدا ډول به د رحم خاوندې ته هم نه ثابتېږي.([3])

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

دا ډول استدلال کول قياس مع الفارق دی ، ځکه چې حمل کوونکې او زېږوونکې مور له رضايي مور سره زيات توپير لري.

**دويمه نظريه:** ځينې علماء په دې باور دي چې د نوموړي صناعي تلقيح په پايله کې د ماشوم نسب هغې ښځط ته ثابتېږي ، چې د هغې په رحم کې ماشوم تغذيه او له هغې څخه زېږېدلی دی ، او دوی د خپلې ادعاء د ثبوت لپاره په لاندينيو دلائلو باندې استدلال کوي.

1: په اسلامي شريعت کې هر هغه ماشوم چې له ناروا لارې څخه منځ ته راغلی وي ، د هغه نسب په زور سره پلار ته نه منسوبېږي ، بلکې هغې ښځې( مورته ) منسوبېږي چې هغې حمل کړی او زېږولی وي ، لکه د زنا له لارې ، نو دلته به هم همدغه مور ته منسوبېږي چې زېږولی يې دی.([4] )

---

[1]) محمد يحيى بن حسن النجيمى ، **الانجاب الصناعى بين التحليل والتحريم** ، ص -245.

[2]) سورة: المجادله ، آيه ، 2.

[3]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص -136.

[4]) زياد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص -136.

2: د ماشوم حقیقي مور هغه ښځه ده چې ماشوم یې حمل کړی دی ، ځکه چې د ماشوم خواړه او تنفس د دې له بدن څخه ترلاسه کېږي ، او د دې په وینو او غوښو سره تغذیه کېږي ، نه هغې ښځې ته چې له هغې څخه بیضه اخیستل شوې ده.([1])

**3:** ښځې ته د ماشوم نسب په ولادت سره ثابتېږي ، لکه څرنګه چې امام الکاساني فرمایي ( ان انسب فی جانب الرجال یثبت بالفراش ،وفی جانب النساء یثبت بالولاده ولا تثبت الولاده الا بد لیل و ادنی الدلیل علیها شهاده القابله ).([2])

ژباړه: بې له شکه چې د نارینوو له اړخه نسب په فراش سره ثابتېږي ، او د ښځینوو له اړخه په ولادت سره ثابتېږي ، او ولادت نه ثابتېږي ، مګر په دلیل سره او په ولادت باندې کوچنی دلیل د قابلې ګواهي ده.

4: په قران کریم او احادیثو کې ځینې نصوصو اشاره کړې ، چې مور هغه ښځه ده چې هغې ماشوم حمل کړی او زېږولی وي:

أ - ﴿ ...إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ... ﴾.([3])

ژباړه: ندي مورګانې د دوی مګر هغه چې دوی یې زېږولي دي.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

چې الله تعالی د قصر په هغه قوي طریقې سره چې نفي او اثبات ده ، په خپل کتاب کې په دې باندې صراحت کړی ، چې د ماشوم مور هغه ښځه ده چې ماشوم یې زېږولی وي.([4])

**ب - ﴿ ... لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا... ﴾.([5])**

ژباړه: ضرر دې نه رسول کېږي زېږوونکې ته د هغې د بچي په وجه.

---

[1]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة،** ص - 136.
[2]) الکاسانی ، **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع،** ج - 6. ص - 253.
[3]) سورة: المجادلة ، آیة ، 5 .
[4]) زیاد احمد ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة،** ص - 137.
[5]) سورة: البقرة آیت 233.

**په دې آيت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

په دې آيت کې الله تعالی د ماشوم زېږونکې والده نومولې ده ، او د والدې يوه معنا حقيقي ده ، او بله يې هم مجازي نو حقيقي معنا په مجازي معنا باندط مقدمه ده ، نو د والدې حقيقي معنا په هغې ښځې باندې اطلاق کېږي چې ماشوم يې زېږولی وي.([1])

**ج – ﴿...لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ...﴾.([2])**

ژباړه: شته نرانو ته برخه له هغه شي څخه چې مور او پلار او خپلوانو يې پرې اېښي دي ، او شته ښځو ته برخه له هغه شي څخه چې مور او پلار او خپلوانو يې پرې اېښي دي.

**په دې آيت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

له دې آيت څخه معلومېږي چې ماشوم له هغه مور څخه ميراث وړي ، چې هغې زېږولی وي ، نو معلومه شوه چې د ماشوم حقيقي مور هغه ده چې دی يې زېږولی وي.([3])

**د- ﴿...حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا...﴾.([4])**

ژباړه: حمل کړی يې دی په سختۍ سره ، او زېږولی يې دی په سختۍ سره.

**په دې آيت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

په دې آيت کې الله تعالی فرمايلي دي ، چې د ماشوم مور هغه ښځه ده چې ماشوم يې حمل کړی او زېږولی وي.([5])

**هـ- (عن عبد الله ابن مسعود قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق * إن أحدكم يجمع خلقه في بطن أمه أربعين يوما ثم يكون في ذلك علقة مثل ذلك ثم يكون في ذلك مضغة مثل ذلك ثم يرسل الملك فينفخ فيه الروح...).([6])**

ژباړه: د عبد الله ابن مسعود څخه روايت دی ، چې مونږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل ، او دی رېښتينی او رېښتونی کړای شوی دی ، چې بېله شکه له تاسې څخه د هر يوه خلقت د مور په نس کې څلوېښت ورځې

[1]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة** ، ص ـ 137.

[2]) سورة: النساء ، آيت 9 .

[3]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ 137.

[4]) سورة: الاحقاف ، آية ، 10 .

[5]) زياد احمد ، **اطفال الانابيب بين العلم والشريعة**، ص ـ 138.

[6]) مسلم ، **صحيح المسلم** ، كتاب القدر ، باب كيفية الخلق الاد مى فى بطن امه ... شماره ، 2643 .

را جمع کېږي ، بیا په همدغه (ځلوېښت ورځو) کې د وینې ټوټه کېږي ، همدا رنګه ، بیا په همدغه (ځلوېښت ورځو) کې د غوښې ټوټه کېږي ، همدا رنګه ، بیا ملک رالیږل کېږي ، نو په ده کې روح پوه کوي.

**په دې حدیث باندې دوی داسې استدلال کوي:**

رسول الله ﷺ په صراحت سره فرمایلي دي ، چې د رحم د خاوندې په نس کې جنین جوړېږي ، او په هغې کې د خلقت بېلابېلې مرحلې او پړاوونه ترسره کېږي ، او د بیضې د خاوندې په نس کې له دغو پړاونو څخه یو پړاو هم نه ترسره کېږي.([1])

و- ﴿ **وَاللَّهُ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا...** ﴾.([2])

ژباړه: او الله تعالی را اېستلي يئ تاسو د مور ګانو له نسونو څخه ( په داسې حال کې ) چې په هېڅ هم نه پوهیدئ.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دې آیت په دې باندې صراحت کړی چې د ماشوم مورګانې هغه ښځې دي چې د هغه له نسونو څخه ماشوم را اېستل شوی وي.([3])

ز- ﴿ **...يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ خَلْقًا مِنْ بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ...** ﴾.([4])

ژباړه: پیدا کوي مو ستاسو د مورګانو په نسونو کې پیدا کول وروسته له پیدا کولو څخه په درېیو تیارو کې.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کوي:**

دې آیت په دې باندې صراحت کړی چې د جنین توب پړاو د کومې ښځې په نس کې تېرېږي هغه د ماشوم مور ده.([5])

---

[1]) زیاد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص ـ138.
[2]) سورة: النحل آیة ، 78 .
[3]) زیاد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص ـ138.
[4]) سورة: الزمر ، آیة ، 6.
[5]) زیاد احمد عبدالنبي سلامة ، **اطفال الانابیب بین العلم والشریعة**، ص ـ138.

**د صناعي تلقیح د دې بنې په پایله کې  د زېږېدلی ماشوم د نسب په اړه راجح نظر:**

په دې مسئله کې راجح نظر دا دی ، چی د دې ډول صناعي تلقیح په پایله کې نظر هغه دلائلو ته په کتو سره کوم چې مخکې بیان شول ، د زېږېدلي ماشوم مور هغه ښځه ده چې د هغې په رحم کې یې د جینین توب دوره تېره کړې او له هغې څخه زېږېدلی وي.

# خلورم فصل

## دبدن دغړو دزرعې، او استنساخ په پایله کې دماشوم دنسب ثبوت

**د بدن د غړو د زرعې، او استنساخ په پایله کې د ماشوم نسب**

لکه څرنگه چې گورو په نني عصر کې طب او تکنالوژۍ ډېر پرمختگ کړی ، او ډاکټران په دې باندې توانېدلي دي ، چې د یوه انسان له بدن څخه یو غړی را وباسي ، او د بل انسان بدن ته یې ولېږدوي. او د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو په روغتونو نو کې دا ډول کړنې ترسره کېږي. خو د دغه غړو د لېږدولو په سلسله کې ځینې داسې غړي هم دي ، چې هغه د ماشوم له نسب سره نېږدې اړیکې لري ، او ځینې نور داسې غړي دي چې د هغې له نسب سره هیڅ اړیکه نشته.

همدا ډول ډاکتران په دې هم توانېدلي چې د یوه انسان له پوره بدن او یا یې د یوه غړې نسخه او کاپي واخلي

مونږ یواځې د هغو غړو په اړه څېړنه کوو ، کوم چې د هغوی له نسب سره اړیکه ده. نو مونږ به په دې څپرکي کې دوه مبحثونه په نظر کې ونیسو ، چې لومړی به د غړو د زرعې او لېږد په اړه څېړنه وکړو ، او دویم به د استنساخ په اړه څېړنه وکړو.

**لومړی مبحث: د تناسلي غړو د لېږد په پایله کې د نسب ثبوت**

د موضوع ماهیت ته په کتو مونږ دغه مبحث په درېیو مطالبو وېشو ، چې په لومړي مطلب کې

به د بدن د غړو د لېږد تعریف ، تاریخچه ، ډولونه ، او د تناسلي غړو پېژندنه ، او په دویم مطلب

کې به له یوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي غړیو د نقلولو حکم ، د تناسلي غړو د لېږد په پایله کې د زیږېدلي ماشوم د نسب څرنگوالی ، وڅېړو.

**لومړی مطلب: د بدن غړو د لېږد تعریف، تاریخچه، ډولونه، او د تناسلي غړو پېژندنه**

**لومړۍ فرعه: د بدن د غړو د لېږد پېژندنه**

د غړو لېږد ته په عربي ژبه کې د نقل الاعضاء اصطلاح کارول کېږي ، چې مونږ به لومړی نقل ، او بیا اعضاء تعریف کړو.

**نقل په لغت کې:** له یوه ځای څخه بل ځای ته د یوه شي لېږدولو ته نقل ویل کېږي.[1]

**اعضاء په لغت کې:** اعضاء د عضو جمع ده ، چې په پښتو کې ورته غړي ویل کېږي.

[1]) ابن منظور ، **لسان العرب** ، ج - 11، ص - 674. مادة النقل .

او ځینو علماؤ یې داسې تعریف کړی(هو کل عظم وافر بلحمه).([1]) ژباړه: هغه هډوکي دي، چې په خپله غوښه سره پوښلې شوي وي.

د دې تعریف پر بنسټ عضو یواځې د بدن هغې برخې ته ویل کېږي، چې هم له غوښې څخه او هم له هډوکي څخه جوړه شوې وي. لکه پښې، لاسونه او داسط نور، پرته له زړه، ځیګر، سږو، بډوډو او داسې نورو څخه.

د عضو(غړي) په اړه، د فقهاؤ د اصطلاحي تعریف په اړه راته معلومات نشته. خو د فقهې په کتابونو کې دوی د غړو لپاره په بېلابېلو ځایونو کې ځینې بېلګې ورکړي دي. لکه، سر، سترګې، ژبه، ځیګر، پوزه، غوږونه، شونډې، او داسې نور.

خو د لغت په ځینو کتابونو کې د عضو(غړي) تعریف داسې شوی دی (هو جزء من مجموع الجسد كاليد والرجل والأذن).([2]) ژباړه: د ټول بدن یوه برخه لکه: لاس، پښه، او غوږ غړي دي.

**د غړي او عضو طبي تعریف:**

طب پوهانو د غړي تعریف داسې کړی دی (هو کل حزءٍ من جسم الانسان یتمیز عن غیره من الاجزاءِ وتکن له وظیفة محددة ومثاله : القلب، اللسان، الانف، العین).([3])

ژباړه: د انسان د بدن هر هغه برخه چې له نورو برخو څخه جلا وي، او یوه ځانګړې دنده ولري، لکه: زړه، ژبه، پوزه، سترګې غړي بلل کېږي.

**دویمه فرعه: د عضو(غړي) د نقل یا کرلو تاریخچه**

د انسان د بدن د غړو کرل او لېږدول کومه نوې خبره نده، بلکې دا له ډېرې پخوا زمانې څخه کړنه پېژندل شوې، او کارول شوې ده. حتی پخوانیو مصریانو د اسلام څخه په پیړیو مخکې د غاښونو د کرلو عملیه پېژندله او کاروله، چې وروسته له دوی څخه یونانیانو او رومانیانو دا عملیه زده کړه.([4])

او همدا رنګه د هند پخوانیو جراحانو، د پرېکړې پوزې، غوږ، او یا د مرض په وجه د خرابو غړیو د جوړلو په اړه په ډېر دقت سره څرګندونې کړې، او د پوستکي له یوه ځای څخه بل ځای ته د لېږد په اړه یې معلومات وړاندې کړي، او دا هر څه له میلاد څخه مخکې ترسره شوي.([5])

---

[1]) ابن منظور، **لسان العرب**، ج ـ 15، ص ـ 68. مادة النقل.
[2]) إبراهيم مصطفى، **معجم الوسيط**، ص ـ 607.
[3]) احمد كنعان، **الموسوعة الطبية الفقهية**، ص ـ 711.
[4]) اسماعيل مرحبا، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة**، ص ـ67.
[5]) اسماعيل مرحبا، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة**، ص ـ67.

او همدا ډول کله چې د بدر په غزا کې د قتادة ابن نعمان سترګه زیان منه او له خپل ځای څخه بهرشوه ، نو ځینو اصحابو کرامو وویل ، چې دا به ترینه پرې کړو ، خو کله چې رسول الله ﷺ له دغه کار څخه خبرشو ، نو دوی یې له دغه کار څخه منع کړل ، او بیایې دعا ورته وکړه ، او سترګه یې بېرته په خپل ځای کې ورته ځای پرځای کړه ، او دا سترګه داسې جوړه شوه چې له بلې سترګې سره یې هېڅ توپیرنه لېدل کېدو.([1]) او د لا ښه تفصیل او وضاحت لپاره د البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة ، کتاب له 67 تر70 پاڼې پورې مطالعه کړای شئ.

**درېیمه فرعه: د انسان د غړو د نقل او زرعې ډولونه**

د انسان د غړو نقل او زرعه په دوه ډوله ده: لومړی: ذاتي دویم: غیر ذاتي

**لومړی ذاتي:** د انسان له بدن څخه د یوه غړي را اخېستل ، او د همده د بدن په بل ځای کې ځای پر ځای کول. دا ډول نقل او زرعه د معاصرو علماؤ په اتفاق سره جائز او روا ده.([2])

**دویم غیرذاتي:** د انسان له بدن څخه د یوه غړي را اخېستل ، او د بل انسان د بدن په مناسب ځای کې ځای پر ځای کول. او د دې تقریباً شپږ صورتونه دي .

**لومړی صورت:** د مهدرالدم شخص څخه غړي اخېستل ، او د بل کس په بدن کې ځای پر ځای کول.([3])

**دویم صورت:** د ناقص الاهلیت کس څخه د غړي را اخېستل ، او د بل کس په بدن کې ځای پر ځای کول.

**درېیم صورت:** له یوه انسان څخه بل انسان ته د هغه غړي نقلول ، چې په هغه باندې د انسان ژوند ، او یا د ژوند اساسي د نده ولاړه وي .

**څلورم صورت:** له یوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي غړو نقلول.

**پنځم صورت:** له یوه انسان څخه د ناروغۍ له وجهې داسې یو غړی را اېستل چې ده ته په کار نه ورځي ، او که چېرې د ده په بدن کې پاتې هم شي له کاره لوېږي بلکې مضره تما مېږي. او بیا د بل چا په بدن کې ځای پرځای کول.

[1]) البیهقي ، **الاعتقاد للبیهقي،** ج ـ 1 ، ص -289 ، شماره ، 295.
[2]) الشنقطی ، **احکام الجراحة الطبیة والاثار المترتبة علیها ،** ص - 313.
[3]) مهدرالدم ، هغه شخص دی چې دهغه وینه قیمت ونلری لکه قاتل او مرتد.

**شپږم صورت:** د غير مهدرالدم شخه په داسې حال کې چې کامل اهليت ولري, داسې غړي بل چا ته نقلول چې په هغې باندې ژوند نوي ولاړ ، او له تناسلي غړو شخه هم نوي, او د کومې ناروغۍ له وجهې هم ترينه نوي اېستل شوي.([1])

د دغو صورتونو د حکم په اړه د **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية** له 85-170 پاڼو پورې د ښه وضاحت لپاره مطالعه کړای شئ, او کوم صورت چې زمونږ له موضوع سره تړاو لري ، هغه د يوه انسان له بدن شخه بل انسان ته د تناسلي غړو نقلول دي, مونږ به ان شاء الله په دې اړه لاندې څېړنه ترسره کړو.

**څلورمه فرعه: د تناسلي غړو پېژندنه**

تناسلي اعضاء يا غړي عبارت دي ، له هغه غړو شخه چې د اخصاب توکي(عناصر) منځته راوړي ،

کوم چې د کوروالي او جماع محل(ځای) دی.([2])

د تناسلي غړو ترکيب او جوړښت ، نظر د نارينه او ښځينه جنس ته په کتو فرق کوي ، چی د نارينه په بدن کې پنځه ، او د ښځينه په بدن کې څلور تناسلي غړي شتون لري ، چی په لاندې ډول دي.

- **د نارينه په بدن کې تناسلي غړي:**

1-خصيې ، دا هغه غړي دي چی د نارينه په بدن کې اسپرم توليدوي.

په خصيو کې حتی د جنين له تولد شخه مخکې يو ډول لومړی درجې واله حجرې شتون لري, کومې چې له بلوغ شخه وروسته د نارينه په بدن کې اسپرمونه جوړوي ، نو کله چې له يوه انسان شخه بل انسان ته خصيه نقل کړای شي ، ګويا چې د لومړي سړي د اسپرمونو د جوړولو آله دويم سړي ته نقل شوې ده.([3])

2- هغه کانالونه يا تونلونه ، کوم چې په هغې کې له خصيو شخه اسپرمونه بهر ته راوځي.

3- د پروستات غده يا غړی ، دا هغه غړی دی چی 20٪ هغه بهېدونکې مواد افرازوي ، کوم چې له منيو سره بهر ته را وځي.

4- د منيو حويصلاتو غدې يا غړي ، دا هغه غدې دي کومې چې د پروستات جلاندين ، قند ، او هرمون لرونکي توکي(مواد) افرازوي.

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ85.
[2]) احمد کنعان ، **الموسوعة الطبية الفقهية**، ص ـ 87.
[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ98.

5- قضيب.

- **د ښځينه په بدن کې تناسلي غړي:**

لکه څنګه مو چې مخکې وويل ، چې د ښځينوو په بدن کې څلورغړي دي ، چې په لاندې ډول دي.

1- مبيضونه(تخمدانونه) هره ښځه دوه مبيضونه لري ، او د بيضو(هګۍ) جوړولو دنده ترسره کوي ، کومې چې د نارينه د خصيو په مقابل کې قرار لري.
2- رحم ، دا هغه ځای دی ، چې ماشوم د جنين توب پړاو په کې سرته رسوي.
3- د رحم کانالونه يا تونلونه ، دا هغه تونلونه دي ، چې بيضې له مبيضونو څخه له همدې لارې بهر کېږي.
4- مهبل او فرج.

د ښځې په بدن کې بيضې هغه څه دي ، چې د دې له تولد څخه مخکې د دې په مبيضو کې پيدا شوې وي ، او په ابتداء کې د هرې ښځې په مبيضو کې د بيضو شمېره تقريباً يو مليون ته رسېږي ، او بيا د زمان په تېرېدو سره را کمېږي ، چې د بلوغ مرحلې ته د رسېدو په وخت کې د دوی شمېر د څلور بيضو په شاوخوا کې وي ، خو بالآخره د دوی شمېره نوره هم را کمېږي ، چې د اخصاب وړ بيضو شمېره په هره ښځه کې سلو ته را ټيټېږي.

نو کله چې له يوې ښځې څخه مبيض را واخلو ، او د بلې ښځې په بدن کې يې ځای پر ځای کړو ، په حقيقت کې مونږ هغه مبيض را اخيستلی دی ، چې په هغې کې د لومړۍ ښځې هغه بيضې چې په هغې کې د نومورې ښځې ټول وراثي صفات او ځانګړتياوې موجودې دي.([1])

**دويم مطلب: له يوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي غړو د نقلولو حکم**

له يوه انسان څخه بل انسان ته د تناسلي غړو د لېږد د حکم په اړه د معاصرو علماؤ ترمنځ اختلاف دی ، او مونږ به دغه تناسلي غړي د لا ښه وضاحت لپاره تقسيم کړو. تناسلي غړي د وراثي صفاتو د لېږد له حيثه په دوه ډوله دي:

**لومړی ډول:** هغه تناسلي غړي چې له يوه انسان څخه بل انسان ته وراثي صفات نقلوي ، چې دا ډول تناسلي غړي په نارينوو کې خصيې او په ښځينوو کې مبيضونه دي.

**دويم ډول:** هغه تناسلي غړي چې له يوه انسان څخه بل انسان ته د وراثي صفاتو او ځانګړتياؤ په لېږد کې هېڅ ونډه نه لري ، او دا په نارينه و کې د خصيو څخه پرته هغه څلور غړي دي ، کوم چې مو پورته

[1]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ 99.

بیان کړل. او زمونږ د موضوع اړوند کوم غړي چې دي ، هغه خصیې او مبیضونه دي ، نو په همدې اساس به مونږ یوازې له یوه انسان څخه بل انسان ته د خصیو او مبیضونو حکم دلته وڅېړو.

د خصیو او مبیضونو د حکم په هکله د معاصرو علماؤ اختلاف دی, چې په ټوله کې درې نظریې شتون لري:

**لومړی نظریه:** زیاتره علماء په دې باور دي چې د دې ډول غړو لېږد مطلق حرام دی.([1])

**دوی د خپلې ادعاء د ثبوت لپاره په لاندې دلائلو استدلال کړی:**

1. ﴿ ...لَعَنَهُ اللَّهُ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا (118) وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ

**آذَانَ الْأَنْعَامِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا ﴾.([2])**

ژباړه: الله په ده(شیطان)باندې لعنت وکړ ، او ده وویل چې زه به ستا له بندګانو څخه یوه ټاکلې برخه خپله کړم ، او خامخا به دوی بې لارې کړم ، او خامخا به دوی ته آرزو ګانې ورکوم ، او خامخا به دوی ته امر کوم ، نو دوی به پرې کوي غوږونه د چارپایانو ، او خامخا به دوی ته امر کوم نو دوی به تغیروي پیدایښ د الله ، او څوک چې ونیسي شیطان په دوستۍ سره ، نو ښېله شکه تاوان یې وکړ ښکاره تاوان.

**په دې آیت باندې دوی داسې استدلال کړی دی:** چې له یوه انسان څخه بل انسان ته د خصیو او مبیضونو د لېږد په صورت کې د الله په خلقت کې تغیر او بدلون منځ ته راځي ، کوم چې په دې آیت کې یې مذمت او بدي بیان شوې ده.

2: عن عبدالله ابن مسعود قال: **كنا نغزو مع رسول الله ﷺ ليس لنا نساء فقلنا الا نستخصي فنهانا عن ذلك.**([3])

ژباړه: د عبدالله ابن مسعود نه روایت دی ، وایي: چې مونږ د رسول الله ﷺ سره غزا کوله او زمونږ سره مېرمنې نه وې ، نو مونږ وویل اې د الله رسوله ایا مونږ خپل ځانونه خصینه نکړو؟ نو ده له دې کار څخه منع کړو.

[1]) الدکتور محمد سیدطنطاوی ، الدکتورمحمدشبیر ، الدکتور محمد الاشقر ، لدکتور محمداحمد جمال ، الدکتور محمد طیب النجار ، او الدکتورعبد الجلیل شلبی ، او داسی نور ډېر علماء دی ، وګوره ، د الدکتور اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبیة البشریة واحکامها الفقهیة**، هامش ص 100.99 .

[2] سورة: النساء ، آیه ، 118 – 119.

[3]) مسلم ، **صحیح مسلم** ، کتاب النکاح ، باب نکاح المتعة شماره ، ، 1404.

3- دوی وايي له کوم انسان څخه چې خصيې او مبيضونه لېږدول کېږي, د هغه په خلقت کې خرابي را منځته کېږي ، نو دا ډول کړنه شرعاً حرامه ده.([1]).

4.دوی وايي: لکه څرنګه چې د پردۍ ښځې بيضه او د پردي سړي سپرم د مېرمنې په رحم کې ځای پر ځای کول حرام دي, نو قياساً د مبيضو او خصيو لېږد هم حرام دی.([2])

5. دوی وايي چې کله له يوه انسان څخه بل انسان ته خصيې او مبيضونه انتقالېږي ، نو خامخا به ځينې اسپرمونه او بيضې به پکې باقي پاتې وي, او په دې سره به د نسبونو ګډوډې رامنځته شي نو دا کار شرعاً حرام دی .([3])

**دويمه نظريه:** شيخ سيد سابق په دې اند دی ، چې د مبيضو او خصيو لئږد له يوه انسان څخه بل انسان ته جائز او روا دی.([4])

نو دوی د خپلې اعاء د ثبوت لپاره په لاندې دلائلو استدلال کړی:

1. دوی وايي چې کوم کس ته خصيه نقل شوې ده, او د هغه څخه چې کومې اوبه(مني)را وځي ، هغه په حقيقت کې د همدغه کس اوبه دي ، نه د خصيې د اصلي څښتن ، او وايي چې خصيه يوازې د سړي د اوبو(منيو)د تنظيمولو لپاره يوه آله ده ، نو د دې په نقلولوکې هيڅ ستونزه نشته.([5])

**له دې استدلال څخه ځواب:**

دوی چې کوم استدلال کړی ، چې خصيه يوازې د اوبو د تنظيمولو دنده پر غاړه لري ، دا استدلال صحيح ندی ، ځکه چې دا کومه علمي او منل شوې خبره نده ، ځکه چې خصيه د اوبو (اسپرمونو)

په پيدا کولو کې فوق العاده اثر لري.

2. دوی وايي ، چې کوم شخص ته د بل سړي خصيې او مبيض نقل شو په حقيقت کې هغه يې مالک شو ، نو مونږ ته نده پکار چې دويم کس ته د دغه غړيو د مالکيت د لېږد څخه وروسته اصلي شخص ته نظر وکړو ، بلکې مونږ ته پکار ده چې ووايو ، چې دا د دويم سړي خصيې دي ، برابره خبره ده که وراثي صفات نقل کوي او کنه .([6])

[1]) الشنقطی ، احکام الجراحة الطبية والاثار المترتبة عليها ، ص ـ 368.
[2]) مجلة الفقه الاسلامی ، عدد 6 ، ج ـ 3 ، ص -2136ـ2137.
[3]) الشنقطی ، احکام الجراحة الطبية والاثار المترتبة عليها ، ص ـ 373.
[4]) د سيد سابق دا خبره ما له الا حکام الجراحة الطبيية، څخه را نقل کړېی ، ص - 368.
[5]) الشنقطی ، احکام الجراحة الطبية والاثار المترتبة عليها ، ص ـ 369.
[6]) الشنقطی ، احکام الجراحة الطبية والاثار المترتبة عليها ، ص - 368.

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

دويم شخص ته د خصيې د ملکيت د لېږد په اړه بايد د شارع اذن او اجازه شتون ولري ، او په دې هکله د شارع اجازه او اذن شتون نلري .([1])

**درېيمه نظريه:**

ځينې علماء په دې باور دي چې له يوه انسان څخه بل انسان ته د دواړو خصيو او مبيضونو لېږدول حرام او ناروا دي ، خو که چېرې يوه خصيه او يو مبيض نقل کړای شي ، نو دا روا دی.([2])

**دوی د خپلې ادعا د ثبوت لپاره داسې استدلال کوي:**

1. چې د دواړو خصيو او مبيضونو نقلول ځکه حرام دي ، چې په دې صورت کې د ورکونکي کس د نسل پرېکول منځ ته راځي ، او دا کار شرعاً ناروا دی ، او که چېرې يوه نقل شي او بله باقي پاتې شي ، نو په دې صورت کې کومه شرعي ستونزه نه لېدل کېږي.

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

کوم دلائل مو چې د حرمت لپاره ذکر کړل ، هغه يواځې د دواړو خصيو او مبيضونو د لېږد په حرمت دلالت نکوي ، بلکې د يوې په حرمت باندې هم دلالت کوي.

2. دوی خصيې او مبيضونه په بېوړو باندې قياسوي ، او وايي لکه ځرنګه چې د دواړو بېوړو لېږد له يوه انسان څخه بل انسان ته ناروا او د يوه بېوړې نقلول روا دی ، نو په همدې اساس د يوې خصيې او د يوه مبيض لېږدول روا او د دواړو ناروا دی ، او د دواړو ترمنځ چې کوم علت دی هغه اړتيا يا ضرورت دی.([3])

**له دې استدلال ځخه ځواب:**

دا ډول قياس ته مع الفارق قياس ويل کېږي ، کوم چې پکې اصل او فرعه توپير لري ، ځکه چې بېوړې د نسب د اختلاط او ګډوډۍ په برخه کې هېڅ اثر نلري ، خصيه او مبيض د نسب د اختلاط په برخه کې اثر لري.

---

[1]) الشنقطی ، **احکام الجراحة الطبية والاثار المترتبة عليها** ، ص ـ 371.

[2]) په دی هکله دی د شيخ عبدالقديم يوسف او شيخ عطية صقر داخبره په **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ 102 ، هامش کې وکتلای شي.

[3]) اسماعيل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص ـ 108.

**د دې مسئلې په اړه راجح نظر:**

د دې مسئلې د حکم په اړه چې مونږ کوم نظريات او دلائل او د هغوی له يو او بل سره پرتله کول ګورو. په حقيقت کې الله جل لاله ښه پوهېږي ، خو زمونږ په نظر لومړی نظر راجح دی ، ځکه چې دا غړي له يو نسل څخه بل نسل ته وراثي صفتونه لېږدوي ، نو د دې غړو لېږد يا انتقال له يوه انسان څخه بل انسان ته زما په نظر حرام دی.

او کومو علماؤ چې دې ته د جواز حکم ورکړی ؤ ، کېدلای شي دوی ته به دا طبي او علمي حقيقت نه وو څرګند ، کوم چې له هغوی څخه جوته کېږي ، چې اسپرمونه او بيضې د وراثي صفاتو له لحاظه اصلي شخص ته منسوبېږي نه دويم ته ، او که چېرته د دې په اړه دوی ته معلومات وي نو دوی به پرې خامخا د حرمت حکم کړی وو.

**درېيم مطلب: د تناسلي غړو د لېږد په پايله کې د زېږېدلی ماشوم نسب**

لکه څرنګه چې مو مخکې وويل ، چې د دې ډول تناسلي غړو له يوه انسان څخه بل انسان ته لېږدول حرام او نا روا دي ، اګر چې ځينې علماؤ ورته جواز ورکړی دی خو راجح نظر دا دی چې دا ډول کړنه ناروا ده ، خو که چېرې دا ډول کړنه ترسره شي ، او يو سړی د بل سړي خصيه په خپل ځان کې ولګوي ، او يا کومه ښځه په خپل ځان کې د بلې ښځې مبيض ولګوي ، او د دې کار د ترسره کولو په پايله کې ماشوم وزېږوي ، نو دا پوښتنه را ولاړېږي ، چې د ماشوم نسب به د خصې او مبيض اصلي څښتن ته ثابتېږي او که دويم شخص ته ؟ لکه څرنګه چې دا ډول غړي دوه ډوله دي چې يو يې خصيې او بل يې مبيضونه دي ، نو مونږ به دا موضوع په دوو موخو کې را ونغاړو. په لومړۍ موخه کې به د خصيو د لېږد په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب ، او په دويمه موخه کې به د مبيضونو د لېږد په پايله کې د زېږېدلي ماشوم نسب وڅېړو.

**لومړۍ فرعه: د خصيو د انتقال او لېږد په پايله کې د ماشوم نسب**

لکه څرنګه چې پوهېږو له يوه سړي څخه بل سړي ته د خصيو د انتقال او لېږد مسئله يوه نوې او تازه مسئله ده ، او د دې مسئلې په اړه د فقهي په پخوانيو کتابونو کې کوم بحث او څېړنه نه تر سترګو کېږي ، همدا ډول د افغانستان مدني قانون له نوموړې مسئلې څخه يادونه نه ده کړې ، او تر کومه چې زه معلومات لرم د معاصرو فقهاؤ په بحثونو او څېړنو کې هم د دې قضيې په اړه په څرګنده او واضح ډول څه نه تر سترګو کېږي. خو عمران عائشة په دې باور ده ، چې په دې قضيه کې د ماشوم نسب د فقهاؤ له انده ، دې قضيې ته د جواز او نه جواز په اختلاف پورې تړاو لري ، او وايي چې شايد د هغو علماؤ په اند چې د دې قضيې د ترسره کولو په جواز باندې قائل دي ، د ماشوم نسب د خصيې اصلي څښتن ته نه بلکې دويم سړي ته ثابت وي. او کوم علماء چې په دې باور دي چې د دې کار ترسره کول شرعاً ناروا او حرام دي ، شايد د هغوی په اند د ماشوم نسب دويم سړي ته نه ثابتېږي ، ځکه چې له کومو اسپرمونو څخه چې حمل صورت نيولی ، دا هغه اسپرمونه دي چې لا پخوا د لومړي سړي په بدن کې چې دغه خصيې ځای پر ځای وي موجود ؤ ، نو په

دې صورت کې به میرمنه د خپل مېړه په اوبو سره حمل نوي اخیستی ، بلکې د یوه پردي سړي په اوبو سره به حامله شوي وي.([1])

**راجح نطر:**

زما له نظره راجح به دا وی ، چې د دې کار د ترسره کېدو په پایله کې د زېږېدلي ماشوم نسب به ، له بیولوژیکي اړخه مختلط وي ، او شرعي نسب به یې دویم سړي ته د فراش د قاعده پر اساس ثابتیږي. و الله اعلم.

### دویمه فرعه: د مبیضونو د انتقال او لیږد په پایله کې د ماشوم نسب

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول ، چې ځني معاصر فقهاء په دې باور دي ، چې له یوي ښځې څخه بلې ښځې ته د مبیضونو انتقال او لېږد جائز او روا دی. او د دوی له نظره د دې عملیې د ترسره کولو په پایله کې د زېږېدلي ماشوم نسب به دویم سړي ته ثابتېږي. خو کله چې اوس طب دا حقیقت څرګند ، او کشف کړ ، چې بیضې یا هګۍ د ښځینوو په مبیضونو کې حتی د دوی له ولادت څخه تر مخه د دوی د خلقت او پیدایښت په درشل کې پیدا کېږي ، او بیا وروسته نوې بیضې نه تولیدوي ، نو په همدې اساس کله چې له یوې ښځې څخه مبیض لېږدول کېږي ، نو په نوموړي مبیض کې چې هغه بیضې یا هګۍ د لومړۍ ښځې په بدن کې پیدا شوي او جوړې شوي دي ، نو دغه بیضې او هګۍ د همغې لومړۍ ښځې وراثي صفات او ځانګړتیاوې درلودونکي دي ، نو په همدې اساس ویلی شو ، چې د دې کار ترسره کول شرعاً حرام او نا روا دي ، او دا ځکه چې د دې عملیې د ترسره کولو په پایله کې به د زېږېدلي ماشوم نسب غیر معلوم او مختلط وي.([2])

### دویم مبحث: د بشري استنساخ (Cloning) په پایله کې د زېږېدلي ماشوم نسب

په اوسنۍ زمانه کې بشري استنساخ هغه څه دي ، چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ، د طب په برخه کې په پراخه پیمانه کارول کېږي ، د لاښه وضاحت په موخه به مونږ دغه مبحث په څلورو مطلبونو کې راونغاړو ، په لومړي مطلب کې به  د بشري استنساخ تعریف ، او په دویم مطلب کې به د هغې ډولونه ، او په درېیم مطلب کې به د هغې د ترسره کولو شرعي حکم ، او په څلورم مطلب کې به د هغې د کارولو په پایله کې ، د زېږېدلي ماشوم د نسب ثبوت او څرنګوالی وڅېړو.

---

[1]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بین الشریعة ومستجدات العصر** ، ص - 358 دا خبره یی له محمّد سلیمان اشقر ، څخه را نقل کړي ده.

[2]) عمران عائشة ، **اثبات النسب بین الشریعة ومستجدات العصر** ، ص - 359.

## لومړی مطلب: د بشري استنساخ (Cloning) تعریف

### لومړی فرعه: د بشري استنساخ لغوي تعریف

د استنساخ اصل له نسخې څخه اخیستل شوی دی، او په لنډه توګه ویلی شو، چې نسخه د دوه معناګانو لپاره استعمالیږي، چې یوه معنا یې د یوه کتاب یا کوم بل شي هوبه هو لیکل او کاپي کول دي، او دویمه معنا یې ازاله او له منځه وړل دي، لکه څرنګه چې الله ج فرمایي: ﴿...**إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ**﴾. ژباړه: بې له شکه مونږ کاپي اخلو له هغه څه چې تاسو یې کوئ. یعنې مونږ هغه څه چې تاسو یې کوئ او ملائکې یې لیکي له خپل ځان سره یې کاپي کوو او ساتو یې. ([1]) دویمه معنا یې له منځه وړل او باطلول دي، لکه څرنګه چې الله ج فرما یي:﴿ **مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**﴾.([2]) ژباړه: کوم څه چې له منځه وړو، له کوم آیت څخه او یا یې هیروو، راوړو غوره له هغې څخه یا د هغې په مثل سره، آیا نه یوهیږئ چې بیله شکه الله په هر څه قدرت لرونکی ذات دی. نو په دې آیت کې له نسخې څخه مراد د مخکینې حکم له منځه وړل او باطلول دي.([3]) او په انګریزي ژبه کې د استنساخ د مفهوم لپاره (Cloning) اصطلاح چې له (Clone) کلمې څخه اخیستل شوې کارول کیږي، او بشري منسوب دې بشر ته او بشر انسان ته ویل کیږي، دا انسان که نارینه وي، که ښځینه وي، که یو وي او که ډیر لکه: څرنګه چې الله ﷻ فرمایي:

﴿ **فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ** ﴾. ([4]) ژباړه: نو دوی وویل چې آیا مونږ باور وکړو په هغه دوه انسانانو چې زمونږ په شان دي، او قوم یې زمونږ لپاره فرمان منونکي دي.

او همدا شان قرآن کریم کې زیات شمیر آیتونه شتون لري، چې په هغې کې د بشر اطلاق په انسان باندې شوی دی.

### دویمه فرعه: د بشري استنساخ اصطلاحي تعریف

د بشري استنساخ په اړه د زیات شمیر علماؤ لخوا اصطلاحي تعریفونه وړاندې شوي دي، چې له ټولو تعریفونو راجح تعریف دا دی: (انه عبارة عن نقل نواة خلية مخصبة – أی تحتوي علي 46 کروموساما – مکان نواة بيضة .أی تحتوي علي 23 کرومو سوما ) ([5]) ژباړه: بشري استنساخ ، د مخصبې حجرې د هستې

---

[1]) ابن منظور ، **لسان العرب**، مادة نسخ.

[2] سورة: البقرة ، آیه ، 106.

[3]) **المعجم الشامل** المادة (ن س خ).

[4]) سورة: المؤمنون ، ایه ، 47.

[5]) اسماعیل مرحبا ، **البنوک الطبية البشرية واحکامها الفقهية**، ص 416ـ 418. تکر الحاج موسی ، **القضايا المعاصرة المتعلقة بحفظ النسل دراسة مقاصدية**، ص ـ 276.

له نقلولو څخه عبارت ده - یعنې په کومه(هسته) کې چې 46 کروموسومونه موجود وي - د بیضې د هستې ځای ته – یعنې په کومه(هسته) کې چې 23 کروموسومونه موجود وي.

نو له دې تعریف څخه څرګندېږي ، چې د استنساخ د کارونې لپاره د هغه کس چې د هغې استنساخ یا کاپي اخیستل کېږي ، د ده له بدن څخه د جسمي حجرې هسته کومه چې 46 کروموزومونه لري را اېستل کېږي, او بیا د یوې ښځې له بیضې څخه جنسي هسته کومه چې 23 کروموزومونه لري اېستل کېږي ، او د هغې پرځای د نوموړي کس جسمي هسته پکې ځای پرځای کېږي.

### دویم مطلب: د استنساخ ډولونه.

د بشري استنساخ د عملیې ډولونه د هغې د کارونې په موخو پورې تړاو لري ، او دا ډول عملیه د دوو موخو لپاره کارول کېږي ، چې یوه موخه یې د یوه انسان کاپي اخیستل یا د هغه په ډول د بل انسان منځ ته راتګ ، او یا د نسل زیات والی دی, او دویمه موخه یې د یوه ناروغه غړي علاج کول دي ، نو په همدې اساس بشري استنساخ په دوه ډوله دی ، چې یوې ته یې د تکاثوري استنساخ ، او بلې ته یې علاجي استنساخ ویل کېږي ، او دا په لاندې ډول دي.

#### لومړی فرعه: تکاثري استنساخ

د تکاثري استنساخ د طریقې د ترسره کولو لپاره د هغه کس ، چې د هغه د بدن نسخه ، او کاپي کول هدف وي ، نو د هغه د بدن د مخصبې حجرې د هستې ، - یعنې په کومه(هسته) کې چې 46 کروموسومونه موجود وي - د یوې ښځې بیضې ته ، چې مخکې له هغې څخه هسته اېستل شوې وي پکې ځای پر ځای کېږي ، او بیا وروسته په لابراتواري آلې کې اېښودل کېږي ، او د برېښنایي (برقي) حرکاتو او فشارونو په وسیله نمو او ودې ته چمتو کېږي. او کله چې ودې او نمو ته برابره او چمتو شوه ، د ښځې رحم ته دننه کېږي ، او بالآخره کله چې د حمل موده پوره شي ، په پایله کې یې داسې ماشوم دنیا ته راځي ، چې ګواکې د هغه جسمي حجرې خاوند دی ، چې له هغې څخه د دې عملیې د تر سره کولو لپاره د جسمي حجرې هسته اخیستل شوې وه.([1])

او تکاثري استنساخ بېلابېلې بڼې او شکلونه لري ، چې مونږ به یې په لاندې توګه بیان کړو.

**لومړی بڼه:** دا چې د یوې ښځې د جسمي حجرې هسته را واېستلی شي ، او د همدې په هغه بیضه کې چې هسته یې ترینه مخکې اېستل شوې ده ، ځای پرځای کړلای شي ، اوبیا د همدې ښځې رحم ته وردننه کړای شي ، او په پایله کې یې ماشوم وزېږېږي.

[1]) صالح فواز ، **الاستنساخ البشري من من وجهة نطر قانونية**، ص ـ 80. تكر الحاج موسى ، **القضايا المعاصرة المتعلقة بحفظ النسل دراسة مقاصدية**، ص ـ283.

**دویمه بڼه:** دا چې د مېړه جسمي حجره را وا خیستلای شي ، او د ده د مېرمنې په هغه بیضه کې چې مخکې ترینه هسته اېستل شوې ځای پر ځای کړای شي ، او بیا د همدغې مېرمنې په رحم کې

ځای پرځای کړلای شي.

**درېیمه بڼه:** دا چې د پردي سړي د جسمي حجرې هسته را واخیستلای شي او د پردۍ ښځې په هغه بیضه کې چې هسته یې ترینه مخکې اېستل شوې ځای پر ځای کړای شي ، او بیا د همدغې ښځې په رحم کې ځای پر ځای کړلای شي.

**څلورمه بڼه:** دا چې د یوې ښځې د جسمي حجرې هسته را واخیستلای شي ، او د بلې ښځې له هغه بیضې سره چې هسته ترینه اېستل شوې ده تلقېح کړای شي ، او بیا د بلې درېیمې ښځې په رحم کې ځای پرځای کړلای شي.

**پنځمه بڼه:** دا چې د یوې ښځې د جسمي حجرې هسته را واخیستلای شي ، او د بلې ښځې له هغه بیضې سره چې هسته ترینه اېستل شوې ده تلقېح کړای شي ، او بیا له همدغه دوو ښځو څخه د یوې په رحم کې ځای پرځای کړلای شي .

**دویمه فرعه: علاجي استنساخ.**

علاجي استنساخ داسې تر سره کېږي ، چې د هغه کس له بدن څخه چې علاج یې ترسره کېږي ، د یوې جسمي حجرې هسته را اخیستل کېږي ، او بیا له یوې داسې بیضې سره چې هسته یې ترینه مخکې اېستل شوې وي تلقېح کېږي ، او کله چې تلقېح ترسره شي ، نو دغه جنین د نمو او تکامل لپاره په یوه لابراتواري ټیوب کې اېښودل کېږي ، او په دې حال کې تقریباً اته ورځې ورباندې تېرېږي ، بیا له دغې حجروي کتلې څخه هغه داخلي حجرې را اېستل کېږي ، کومې چې د جنین د جوړښت لپاره منځ ته راغلې وي ، او جنین همدلته له منځه وړل کېږي ، او بیا همدغه داخلي حجرې د نوموړي شخص د ناروغه غړي په مناسب ځای کې ځای پرځای کېږي ، تر څو په همدغه غړي کې د اساسي او جوړوونکو حجرو لپاره زمینه مساعده ، او ناروغه غړي بیاځلي په خپلو پښو باندې ودرېږي.([1])

د دې کار د کړنې په پایله کې یو شمېر زیاتې اساسي او جوړوونکې حجرې ترلاسه کېدلای شي ، او

